د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې
د درېيمې کالیزې په ویاړ

# دویمه سقاوي

(د نويو سندونو له مخې له نويو زياتونو سره)

سمسور افغان

۱۳۷۹ل-۲۰۰۱م کال

# دويمه سقاوي

(د نويو سندونو له مخې له نويو زياتونو سره)

شمسور افغان

۱۳۷۹ل-۲۰۰۱م كال

# كتاب پېژندنه


نوم : دويمه سقاوي (له نويو زياتونو سره)

ليكوال : سمسور افغان

خپرندوی : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني

کمپيوټرچاری : نجيب الله وصال

د خپرونو لړ : (۱)

لومړی چاپ : ۱۳۷۷ل ، ۱۹۹۸ع کال.

دويم چاپ : ۱۳۷۹ل، ۲۰۰۱ ع کال.

د دويم چاپ شمېر: ۲۰۰۰ ټوکه

بيه : په افغانستان کې سل زره افغانۍ.
په پاکستان کې ۱۰۰ کلداري.
په نورو هېوادو کې ۱۰ امريکايي ډالره
او يا د هغو انډول.

مننه

ددې کتاب په چاپ لګښت کې نښاغليو ډاکټر محمد جاويد
وردګ، مطيع الله رووفي او سيد نعيم سيدزي ونډه
اخيستې چې مننه ترې کوو او کور ودانی ورته وايو.


## يادونه


د چاپ ټول حقوق له خپروندويې ټولنې سره خوندي دي.

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیولیک

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| ☆ دویمه سقاوي او د دویم چاپ سریزه | ۱ |
| ☆ پیلامه | ۷ |
| ☆ لومړی سقاوی ته یوه کتنه | ۱۰ |
| ☆ په حاکمیت کې محکومیت | ۳۱ |
| ☆ اقلیت د اکثریت په رول کې | ۳۹ |
| ☆ کارمل: پېژندنه او د شخصیت شننه | ۴۴ |
| ☆ پرچمواکي: پښتو او پښتانه | ۶۵ |
| ☆ د ډاکټرنجیب الله حاکمیت او د پښتنو محکومیت | ۸۱ |

☆ طاهر بدخشي او د ستميانو جوړښت ۱۰۴

☆ "برابر مليتونه" او د هغو تعبيرونه ۱۱۷

☆ دويمه سقاوي ۱۲۴

☆ رباني د کارمل په فکري او دبچه سقاو په عملي... ۱۳۶

☆ مسعود د يو اتل په څېره کې يو ګوډاګی او... ۱۵۱

☆ د هېواد اقتصادي ويجاړي او د پيسو انفلاسيون ۱۷۷

☆ ټولنيز حالات ۱۹۵

☆ قومي، سيمه ييزه او ژبنۍ کينه ۲۰۸

☆ د هېواد فرهنګ ته اړول شوي زيانونه ۲۲۱

☆ اقليتونه، سياستونه او سازشونه ۲۳۴

☆ د  درېيمې سقاوۍ د مخنيوي او د افغانستان ... ۲۷۱

☆ اورنۍ لسيزه (د ۱۳۷۰-۱۳۷۹ ل کلونو مهمې پېښې) ۲۸۰

☆ اخځونه ۴۰۸

# "دویمه سقاوي"

# او

# د دویم چاپ سریزه

د ۱۳۴۳ ال کال د اساسي قانون له جوړېدو وروسته چې په افغانستان کې د ملت جوړونې بهیر ته څه ناڅه پاملرنه وشوه او د یوه واحد ملت د رغنده توکي په توګه پښتو ژبه په اساسي قانون کې درج شوه نو ورسره افغان ضد کړونې هڅې او بهرنی لاسوهنې هم ګرمې شوې، البته تر دې وړاندې هم دا ډول هڅې وې خو څرنګه چې پښتانه د افغان ملت د اساسي او رغنده ستنې په توګه له خپلو ژبنیو حقوقو څخه بې برخې وو او د واك کومې شعوري سرچینې هم هغوی ته د خپلو دغو حقوقو

د ورکړې لټه نه کوله نو ځکه خو هر څه همداسې پټ په پټه پاتې وو.

کله چې ټولنه له ګړنې قانون څخه لیکنې قانون ته راوتله نو د ژبې مسله هم په کې رابرسېره شوه. د وخت حکومت چې څه ناڅه د اکثریت د هیلو څرګندوی و د خپلې ملي فریضې په توګه یې پښتو د قانون له مخې د افغانستان د ملي او رسمي ژبې او دري د رسمي ژبې په توګه ومنلې.

روسانو چې د افغانستان د اشغال لپاره یې اوږده ستراتیژي لرله، تر هرڅه وړاندې له دې کار څخه ځنګزنې خوابدي څرګنده کړه او د خپلې رادیو له لارې یې وویل چې: "د افغانستان حکومت پالیسي د پښتونیزم پر لوري روانه ده". له هغه وروسته په لومړي ګام کې روسان او په دویم ګام کې ایرانیان په دې لټه کې وو چې په افغانستان کې د یو واحد ملت (افغان ملت) د جوړونې بهیر ټکنی او ځنډنی کړي او یا یې په بشپړ ډول له ناکامۍ سره مخ کړي.

دوی "د ثور انقلاب د نوي او بشپړتیا یې پړاو" په راتګ سره له خپلو لاسپوڅو سره یو ځای د عمل ډګر ته راودانګل او بیا یې دا غمیزه راوتوکوله چې دا دی عمر یې دوه نیمو لسیزو ته نږدې کېږي.

که څوك د افغانستان د اوسنۍ غمیزې تل ته متوجه شي نو د روسانو یو اساسي هدف دا و چې څنګه کولای شي د کمونیزم تر چتر لاندې یو واحد ملت تجزیه او یو تاریخي

هېواد سره وياشي. د دې کار لپاره هغوی ډېرې هڅې وکړې او ډېرې يې لا دوام لري.

ما د څو کلونو په ترڅ کې، هېواد ضد او افغان ضد دا ډول بېلابېلې هڅې او د هغو لوبغاړي سره وڅېړل او "د دويمه سقاوي" په نوم مې د ليکنو يوه ټولګه ورڅخه جوړه کړه، دوه کاله وړاندې په جرمني کې مېشتې (د افغانستان کلتوري ودې ټولنې) له خوا دا کتاب په ۱۷۵ مخونو کې د (۵۰۰) ټوکونو په شمېر په پېښور کې چاپ شو. ټولنې لا دا کتاب پوره وېشلی نه و چې کوم بل چا نور هم ورپسې چاپ کړ.

کله چې دا کتابونه ووېشل شول نو ګڼ شمېر موافقين او مخالفين يې پيدا کړل، دواړو غاړو د کتاب د زيات شمېر چاپ هيله څرګنده کړه. بيا نو په پېښور کې د خپرندويې ټولنې له اجازې پرته دا کتاب څو ځله چاپ شو، چې شمېر (؟) تر لسو زرو ټوکو هم اوړي. په مسکو کې هم دوه زره ټوکه چاپ او ووېشل شو او ځينو نورو ځايونو کې هم چاپ شو. په هالنډ کې هم د نباغلي ډاکټر خليل الله وداد بارش په نوم يو دري ژبي افغان په هر نيت چې و دا کتاب په دري وژباړه، خو هېچا هم د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې څخه د دې کتاب د بيا چاپ او يا ژباړې اجازه نه ده اخيستې، هرچا د خپل مقصد او ګټې لپاره دا کتاب بيا بيا چاپ کړ او د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونو ته يې ورساوه.

په ګڼ شمېر افغان پالو، هېواد پالو او افغان ضد خپرونو کې د دې کتاب پر پلوي او ضد په لسګونو ليکنې وشوې او

ځینو ستمي لیکوالو خوا ن ددې ګوابن هم وکړ چې ددې کتاب پر ضد به ځانګړی کتاب او کتابونه ولیکل شي او لیکوال (سمسور افغان) ته به غابن ماتونکی ځواب(!) ورکړ شي.

دا چې دې کتاب ولې دومره مینه وال او مخالفین پیدا کړل زه پرې ډېره اوږده تبصره نه کوم خو په لنډیز سره دومره وایم: دا کتاب چې د کوم (ملي ارمان) په هیله لیکل شوی همغه هدف ته رسېدلی دی. ملت پاله افغانان پرې خوشحاله شوي او ملت ضد عناصر پرې خپه شوي او بوږنېدلي دي. ځکه خو نو افغان ضد عناصرو ددې کتاب پر ضد ګڼ شمېر لیکنې وکړې او کوي یې. ما چې تراوسه پورې د دې کتاب پر ضد د مخالفینو کومې لیکنې لوستلي همغه ټولې یوه د بلې ضد دي او په خپله یوه بله نفې کوي. په دې لیکنو کې اکثره څنګزنې موضوعات مطرح شوي او انتقاد کوونکي د کتاب د اصلي موضوع او منځپانګې له شنلو نه څنګزنې تېر شوي دي. د کتاب د محتوا پر ځای زیاتې خبرې پر دې شوي چې دا کتاب دغه یا هغه لیکوال یا لیکوالو او یا په اصطلاح سازمانونو لیکلی دی. نو ځکه زه نه غواړم د دوی لیکنو ته څه ځواب ووایم او یا پرې تبصره وکړم، خو کېدای شي بیا هم په راتلونکې کې د دوی څه داسې لیکنې وي چې ځواب ته یې اړتیا وي نو هغه به بیا همغه وخت ځواب کړم. له دوو کلونو وروسته د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه غواړي دا کتاب یو

ځل بیا چاپ کړي، له ما نه یې هیله وکړه چې نوري زیاتونې هم په کې وکړم.
ما کتاب له سره وکوت او د یو شمېر نویو اسنادو، مدارکو او لاسوندونو په رڼا کې مې په دې کې یو لړ زیاتونې هم وکړې، یوه بله ځانګړې ضمیمه مې هم ورسره مل کړه چې په هغې کې د افغانستان د وروستیو لسو کلونو (۱۳۷۰ - ۱۳۷۹) د مهمو پېښو، لنډیز بیان شوی دی. سره له دې چې دویمه سقاوي د ۱۳۷۵ ل کال د تلې پر ۶/۵ نېټه په کابل کې پرځېدلې او مشران یې د هېواد نورو برخو په تېره بیا شمال ته تښتېدلي دي، خو مقاومت او د قدرت جنون یې لا تر اوسه پورې پوره ختم شوی نه دی، نو ځکه د هېواد د وروستي لسیزې پېښې که ټولې نه وي نو اکثره خو یې له دوی سره تړاو لري. لوستونکي چې دا پېښې ولولي نو د هېواد د جنګي ډلو مشرانو او په تېره بیا د رباني او مسعود څېرې او د هغوی عملونه ورته په ډېر ښه ډول څرګندېدی شي. هیله ده دا کرونولوژي د درنو لوستونکو د پام وړ وګرځي او هغو لیکوالو ته هم یو لړ مواد په لاس ورکړي چې په راتلونکي کې غواړي د هېواد ددې مهال تاریخ ولیکي. لیکوال د کلتوري زغم او ښتیني دیموکراسۍ د اصل له مخې د هر هغه ښتیني، اصولي انتقاد، اعتراض او سمون منلو ته حاضر دی چې د دې کتاب د محتویاتو په اړه وي. د څنګزنو او فرعي موضوعاتو مطرح کول او د اصلي موضوع پرځای د نورو

موضوعاتو رامنځته کول د تولو د وخت د ضایع کېدو سبب ګرځي نو ځکه سرګرول پرې په کار نه دي.

د دې خبرې ډاګیزول هم ضروري دي چې د رباني- مسعود د جنجالیزې ادارې یا د سقاویانو او سقاوپلو کسانو او د هغوی د عملونو غندل د طالبانو او یا د طالب نظام د ستاینې او تائیدونې په مانا نه دي، طالبان د هېواد د تاریخ د وروستیو څو کلونو یو ځانګړی باب دی چې پر ښېګڼو او بدګڼو یې کتاب او کتابونه لیکل شوي او نور هم لیکل کېدی شي.

چې زما د کور اغزي ته کاږه ګوري

ماته یو دی که مغل دی که افغان

د سرلوړي، غښتلي، یو موټي، اباد، ښېراز او سوکاله افغانستان

په هیله

په درناوي

سمسور افغان

# پیلامه

د افغانستان د وروستیو شلو کلونو تاریخ ډېر په وینو لړلی او غم لړلی دی. (۱۳۷۱-۱۳۷۵) کلونه د دغو غم لړلو پښتو یو بل باب دی چې باید نه وای راغلی، خو راوستل شو. په دې کلونو کې هغه مانیزه او مادي شتمني هم لوټ او تالان شوه چې زموږ ولس لا هغې ته هیلې لرلې او د تېرې قربانۍ ډاډ او تسل یې په همدې کاوه. هیله یې وه چې ځه د خپل واك او خپل اختیار یو ملي او اسلامي حکومت به جوړ کړي، د توري، وجدان او سرونو په زور ګټلی حیثیت به یې خوندي پاتې شي او د متمدنو ملتونو په څېر به په نړیوالو چارو کې خپله برخه او ونډه ولري. له همدې کبله یې د نړۍ په تاریخ کې د قربانۍ او اتلولۍ داسې بې ساری ریکارډ ټینګ کړ چې نه د نړۍ په جګړه ییز تاریخ کې ساری لري او نه د ملتونو د قربانۍ په بېلګو کې؛ یو تش لاسي ولس یو اتومي او ذروي زبرځواك سره ډغره ووهله او هغه یې اتم بم په لاس د نړۍ له سیاسي صحنې څخه ځنډې ته کړ، خو هغوی هم په آرامه کېنناستل، د خپلو

پوځي ماتو د جبران او خسماني لپاره يې يو ځل بيا هغه اصل او وسلې (بېل او ايل) ته مراجعه وکړه چې له دوی څخه پنځوس کاله دمخه انګرېزانو کارولې وه.

تاريخ او سياسي قضاوت د انګرېزانو په باب ليکلي چې: "هغوی له افغانستان نه په پوځي ډګر کې مات، خو په سياسي برخه کې بريالي ووتل." يوازې څو کاله وروسته انګرېزانو د يوې ملي توطيې (لومړی سقاوی) له لارې د افغانانو ځوان او پرمخيال حکومت له پښو وغورځاوه او د يو متمدن دولت نوې راټوکېدلې هڅې او برياوې يې ټولې شنډې کړې.

روسان هم د انګرېزانو په شان له افغانستانه په پوځي ډګر کې مات، خو په سياسي برخه کې بريالي ځکه ووتل چې نه پرې چا د ملامتۍ پړه واچوله، نه چا د جنګي جرمونو محکمې ته راکاږل او نه ترې چا د جګړې د زيان جبران وغوښت. هغوی د "جهاد" په ليکو کې ځان ته داسې استحکامات جوړ کړي وو چې هغه د دوی له ښکاره لاسپوڅو حکومتونو او پلويانو څخه هم وفادار وو او په زياته ګټه ورته تمام شول. روسانو پر افغانانو (د دويمې سقاوۍ) په بڼه يو بل ناورين او ناتار تحميل کړ، چې په ورانۍ او ويجاړۍ کې لا تر هغه بل څو چنده زيات دی. روسان سره له دې چې د افغانستان د جګړې له امله په نړۍ کې له سياسي او پوځي پلوه ګوښه شوي، خو اوس يې هم افغانانو ته پام دی او د يو داسې دښمن په سترګه ورته ګوري چې ټول شان او شوکت يې ورته له خاورو سره برابر کړی دی. روسانو د دغې عقدې غچ د خپلو څو تنو پټو او اوس د ښکاره لاسپوڅو په واسطه له افغانانو واخيست او لا يې اخلي.

په دې اثر کې ځينې هغو ټکو او مسايلو ته اشاره شوې چې د دغه وروستي (۱۳۷۱-۱۳۷۵) پنځه کلن ناورين د رامنځه کېدو

سبب شوي او هم د دې ناورين په څرنګوالي، د هغه په لوبغاړو او له هغه څخه د راپيدا شويو زيانونو په اړه يو لړ مسايل او حقيقتونه بيان شوي دي.

دا چې ولې دا اثر "دويمه سقاوي" ونومول شو، وجه يې دا ده چې د پېښو د تکرار ورتوالی سره زيات دی. دا نوم "دويمه سقاوي" په قصدي توګه د رباني او مسعود د اداري لپاره نه دی کارېدلی، بلکې هغوی په خپله هم په دې نوم افتخار کاوه، او وياړېدل پرې. کله چې يو څوك پر يوه خبره وياړي، نو روح او روان يې د هغې له مانا سره پوره اړخ ا څوي. زموږ عام ولس او زيات روښنفکران هم د رباني- مسعود جنجاليزه واکمني د (دويمې سقاوی) په نامه يادوي او پر همدې مانا يې پېژني. خپله مسعود او رباني هم د حبيب الله کلکاني (بچه سقاو) د لارې لاروي دي او د هغه پر نامه وياړي، نو ځکه مې د اکثريت له غوښتنې سره سم دې اثر ته "دويمه سقاوي" نوم غوره وباله.

که په دې اثر کې څه داسې حقيقتونه او ناويلې خبرې بيان شوي وي چې هغه زموږ د ولس د ذهن په روښانتيا او د خپل هېواد په باب د هغو د ويښولو په برخه کې څه اغېز او ګټه وکړي، نو دا به زما لپاره د خوښۍ سبب او لامل شي.

په درنښت

سمسور افغان

# لومړی سقاوی ته یوه کتنه

کله چې انګرېزانو له افغانانو څخه په درېو سترو جنګونو کې د ماتې مزه وڅکله، نړیوال پر ستیژ او حیثیت یې کمزوری او پیکه شو، نو له افغانانو نه د یو ډول غچ اخیستلو په لټه کې شول. هغوی په افغانستان کې د لاسوهنې او کور ورانۍ ښه پخه تجربه لرله. پر ۱۹۱۹م کال چې انګرېزانو په رسمي ډول په نړیواله کچه خپله ماتې ومنله او د افغانانو بری یې تصدیق کړ، نو په افغانستان کې د یو نوي، ښکلي او ښېرازه تمدن د زرغونېدو او ټوکېدو هیلې پیدا شوې، په نړیواله کچه د افغانستان نوم او نښان څرګند شو، په ټوله نړۍ کې زموږ هېواد د یو ځانګړي حیثیت، ویاړ او پرتم خاوند شو. افغانستان په ډېرې چټکۍ سره د تمدن او پرمختګ پر لوري ګامونه واخیستل.

انګرېزانو سره له دې چې په رسمي ډول د افغانانو سیاسي خپلواکي او خپله ماتې منلې وه، خو بیا یې هم له لاسوهنو څخه لاس

نـه اخيسـتـه، دا ځل د يـوې بلـې تجربـې د ازمـېښت پـه لـټه کـې شـول. دوی د دې کـار لپـاره دا وار داسـې يـو شـخص وټاکـه چـې هـم سـاده او امپـړ و او هـم يـو لـړکـي قـوم تـه منسـوب و، انګرېزانـو دا ټسـټ کـاوه چـې د لـړکيو د حکومت ظرفيـت څومـره دی، ايـا دوی هـم پـه راتلونکـي کـې د واك د يـو کـانديد او فکتـور پـه تـوګه مطـرح کـېدی شـي او کـه نـه؟

د انګرېزانـو ګټـې تضمينـولای او پـاللای شـي کـه څنـګه؟ د حکومت کولـو او د هـېواد د کنـټرول ظرفيـت يـې څومـره دی؟ پـه ټولنيز ثبـات او بـې ثباتـۍ کـې يـې ونـډه څومـره ده؟ همدغـو پوښتنـو تـه د ځواب موندلـو، د يـو نـوي تمـدن د پرشـا تمبولـو او پـه يـوه بلـه بـڼه لـه افغانـانو څخـه د غـچ اخيسـتلو لپـاره انګرېزانـو [حبيـب الله کلکـانی ربچـه سقاو] انتخـاب کـړ. پـه خپلـو مرسـتو او د کورنـۍ ارتجـاع پـه ملتيـا يـې هغـه د دې جـوګه کـړ چـې لومـړی ګړ و بـړ جـوړ کـړي او بيـا نوی راټوکېدلی تمدن لـه سـقوط سـره مخـامخ کـړي.

"حبيـب الله کلکـانی د اميـن الله زوی پـر ۱۸۹۰م کـال زېږېدلـی دی"(۱) "هغـه د شـمالي د کلکـانو د ډکـو د کلـي اوسـېدونکی و، پـلار يـې څه مهال مالونـه پـوول بيـا يـې سقاوي غـوره کـړه، غوښـتل يـې چـې زوی يـې څه درس مکتـب ووايي، خـو ويـې نـه وايـه، لـه بـدو او اوباشـو هلکـانو سـره يـې ناسـته ولاړه شـوه، پـه غـلا، قماربـازۍ ور روږدی شـو، پـر ۱۹۲۶ کـال پـه شـاهي پـوځ کـې عسـکر شـو او د يـوه عـادي عسـکر پـه تـوګه يـې دنـده سرته رسـوله، يـو ځل يـې د لسـو ورځو لپـاره رخصت واخيسـت او کـور تـه لاړ، لـه ځان سـره يـې سـرکاري وسـله هـم پـه پـټه يـوړه، کلـه چـې لـه کـابل څخـه نهـه ميلـه لـرې د حـاجي کـلا کوتـل تـه ورسـېد، دري غلـه پـه لار کـې پـرې راپورتـه شـول، [د چـا خبـره پـر غلـه، غلـه پـېښ شـول] لـه هغـوی سـره يـې مقابلـه وکـړه او يـو غـل يـې وواژه، کلـه چـې لـه رخصتـۍ وروسـته بېرتـه کـابل تـه راغـی، نـو بيـا پـه پـټه د

وسلې په وړلو او د غله د وژلو په تور تر پوښتنې لاندې راغی، له پنځو میاشتو سزا وروسته خوشې شو او پېښور ته راوتښتېد، د قصه خوانۍ په بازار کې یې له محمد صدیق بوټ خرڅوونکي سره مزدوري کوله، پر ۱۹۲۷کال یې له سماوارچي سره کار کاوه، د ۱۹۲۷کال د دسمبر پر شلمه ده ته له کابله خبر راغی، په پرده او بدله څېره خپلې سیمې ته ورسېد او په داړه ماری یې پیل وکړ."(۲)

ځینې نورو څېړونکیو د هغه په باب ویلي چې هغه یو ډېر کورمغزه وګړی و، د حافظې ځواك یې نه درلود، ځکه خو یې "په درېیو کلونو کې له څو ملایانو څخه د بغدادۍ قاعده هم زده نه کړای شوه، کله چې یې پلار د هغه له زده کړې څخه بېخي مایوسه شو، نو هغه یې له ملك محسن خان کلکاني سره چې د کلکانو یو غټ خان و، مزدور کړ، خو له یو څه ځنډ وروسته یې دا کار هم پرېښود او د سیمې د داړه مارانو له ډلې سره یو ځای شو، وروسته یې د افغانستان په ځینو نورو سیمو کې هم پر چور او چپاول لاس پورې کړ، کله چې پوه شو نور نو د خلکو اوسېله تنګه ده او دولت د ده د نیولو په هڅه کې دی، پر ۱۹۲۶ کې له محمد اعظم خان سره د افغانستان خاوره پرېښوده او د غلا بازار یې ګرم کړ، وروسته د ده او دده د صمیمي ملګري محمد عظم خان تر منځ مخالفت پیدا شو، د سقاو زوی پېښور ته راغی او دلته له محمد صدیق بوټ خرڅوونکي سره مزدور شو. څرنګه چې د غلا په وجه دی دلته هم تر څارنې لاندې و، نو د محمد اعظم خان بېلتون او خپګان ده ته ډېر ګران تمامېدل، نو ځکه خو پاړه چنار ته لاړ او هلته له هغه سره پخلا شو."(۳)

ځینې کتونکي او څېړونکي په دې نظر دي چې سقاو زوی په پېښور کې د اوسېدو پر وخت "د برتانیې له استخباراتو سره

تماسونه لـرل، مثـلاً پـر ۱۹۲۶م (۱۳۰۵ل) کال یـې پـه پـېښور کـې د سـرحدونو د پولیسـو لـه ریـس پـیراون سـره اوږدې لیدنـې کتنـې لرلـې. ځینـې نـور څېړونکـي نظـر څرګنـدوي چـې د کـابل د اشـغال پـه لومړیـو هـڅو کـې د سـقاویانو د فعـالیت پـه سـاحو کـې برتـانوي اسـتازي هـم موجـود وو او د سـقاو زوی، د برتـانیې لـه نمـاینده ام فرنیـس سـره شـخصي تماسونه درلـودل."(۴)

مـیر غـلام محمـد غبـار لیکـي: "بعـد از آنکـه در مـاورای خـط دیورنـد بـه دزدی در پـاره چنـار متـهم و محکـوم بـه یـازده سـال حبـس گردید، دفعتـاً بطـور مرموز رهـا شـد و بـه افغانسـتان بـرگشـت."

کلـه چـې افغانسـتان تـه راوسـتول شـو، نـو د کـابل شـمال د کوهدامـن سیمه کـې یـې نـور غلـه او داړه مـارن هم پـر ځان راټول کـړل، د لارې پر شـکولو، لـوټ او تـالان یـې لاس پـورې کـړ، لـه خپلـو غلـو سـره د مرکزي دولـت پـر وړانـدې ودرېد، کورنـۍ ارتجـاع، ځینـې تنګنظـره روحـانیون او انګلیسـي اسـتخبارات ټول سـره یـو ځای شـول او د کـابل د نیولـو پلان یې جوړ کـړ.

د ۱۹۲۸کـال پـه نوامـبر (۱۳۰۷ل کـال د عقـرب پـه پـای) کـې یـې د کـابل او د هـېواد شـمال ولایتونـو لاره قطـع کـړه، د ۱۳۰۷ل کـال د لیندۍ پـر ۲۲ مـه یـې د سـرای خواجـه سـیمه یـیز حکومـت لـه منځـه یـوړ، حبیـب الله کلکـاني د ۱۹۲۸م کـال د دسـمبر پـر ۱۳مـه (۱۳۰۷ لیندۍ) د بریـد لپـاره د کـابل شـمال تـه راغـی، د خیرخـانې لـه کوتلـه راواوښت او پـه شـهر آرا کـې ودرول شـو. د جنـورۍ پـر ۱۳مـه غـازي امـان الله خـان لـه سـلطنت نـه خپلـه خلـع اعـلان کـړه او د جنـورۍ پـر ۱۵مـه سردار عنـایت الله خـان پـه داسـې حـال کـې چـې د سـقاو زوی د ده کـېپـک سـیمه نیولـې وه او کـابل یـې محـاصره کـړې و، د پادشـاهۍ اعـلان وکـړ، د جنـورۍ پـر ۱۷ بېرتـه خلـع او واك د سـقاو زوی تـه

ورسېد ، د جنوري پر ۱۸مه د مازيګر ۵ بجې (۱۳۰۷هـ ش د مرغومې ۲۸) د سقاو زوی هم ارګ ته راغی او د ګلخانې په ماڼۍ کې کېناست او په دې ترتيب د افغانستان د تاريخ يوه توره دوره پيل شوه.



## د سقاو زوی د واکمنۍ پر مهال

غلام محمد غبار په دې اړه ليکي "شخص حبيب الله طبعاً از اداره يك كشور نی بلكه از اداره حسابی يك قريه هم عاجز بود"

"اينها چون از عصر و حتی محيط كابل عقب مانده افتاده تر بودند و هرجا سری می يافتند در صدد بريدن آن می شدند ، تا

دریك عرصه در شده هیچ سری باقی نماند و آنها به تنهایی سر افرازند، پس به شمشیر و زنجیر و اعدام تکیه می کردند."

"انقراض سلطنت شان امان الله با استقرار حکومت اغتشاشی بچه سقاو توام بود، و این واقعه در افغانستان به حیث یک "فاجعه" تلقی گردید، مخصوصاً در بین طبقه روشنفکر. وحدت ملی افغانستان به واسطه تولید نفاق عمومی بنامهای پشتون و تاجک، هزاره و ازبک، سنی و شیعه و امثال آن بر هم خواهد خورد، و بالاخره فضای دیگر و قشر دیگر ایجاد خواهد گردید که با منافع و مصالح مردم افغانستان ارتباط نداشته و بساز دیگران خواهد رقصید."(۵)

د سقاو زوی په واکمنۍ سره په ټول هېواد کې یوه سراسري انارشي رامنځته شوه، نوی راټوکېدلی تمدن پر شا وتمبول شو، د خلکو عزت، حیا، سر او مال په خطر کې شو، پوهې او کلتور او د پرمختګ دروازې وتړل شوې. ان تر دې چې بچه سقاو لومړی کار دا وکړ چې: "په خپله کابینه کې یې د معارف او عدلیې وزارت ته ځای ورنه کړ."(۶)

نو هغه حکومت چې نه په کې عدل وي او نه هم د علم ډیوه، سړی خپله اټکل کولای شي چې هغه به څومره د جهل، تیارو او فساد سرچینه وي.

د لومړي سقاوي د حالاتو د روښانتیا لپاره به ښه دا وي چې د هغه وخت لیکوالو ځینو لیکنو او یادښتونو ته مراجعه وشي، چې په دې اړه په کې معلومات راغلي دي، په دې یادښتو کې مهم "د سراج التواریخ د لیکوال فیض محمد کاتب یادښتونه دي، چې څه یې په سترګو لیدلي هغه یې د نېټې په قید یادداشت کړي او داسې ښکاري چې وروسته یې پر خپلو یادښتونو د بیا کتنې وخت هم نه دی پیدا کړی، ځکه چې د سقاو د زوی جلادانو هغه دومره وهلی و

چې ډېر سخت ناروغ شو او څه کم یو نیم کال وروسته د هغو وهلو له لاسه وفات شو. دا یادښتونه افغانستان ته د روسانو له راتګ څخه وروسته پر ۱۹۸۱ کال یوه روسي لیکوال د افغانستان له ملي آرشیف څخه اخیستي، په روسي یې ترجمه کړي او بیا وروسته یوه امریکایي لیکوال رابرټ میک چیسني پر (۱۹۹۹) کال په انګلیسي ژبه ترجمه کړي او د "کابل په محاصره کې" کتاب په نوم یې چاپ کړي دي.

د دې کتاب هره پاڼه د سقاوي رژیم له جنایاتو او تباهیو څخه پرده پورته کوي، خو موږ یې صرف ځینې برخې د خپلو لوستونکیو لپاره په دې منظور رااخلو چې هغوی دا قضاوت وکړای شي چې اوس هم دغه رژیم ته د ځوانمردانو او عیارانو نظام ویل کېدای شي که نه؟ فیض محمد کاتب د خپل کتاب په یوه برخه کې د سقاویانو په اړه لیکي چې دوی ته صرف د مذهب، دولت او مسلمانانو د تباه کوونکو نوم ورکول کېدلای شي. د دوی د وحشت د بیانولو لپاره نور کلمات او تعریفونه نه شته. امیر حبیب الله چې هر څومره فرمانونه صادر کړي او په هغوی کې یې ځان د مذهب خادم معرفي کړی دی دا صرف د خلکو د غولولو لپاره دي. دوی (سقاویانو) د حکومت ټوله هغه شتمني چې له هېواد څخه د دفاع لپاره ذخیره شوې وه، لوټ کړه. پر دې سربېره خلک په وچ زور بې له تنخوا د امیر حبیب الله په پوځ کې برتي کېږي. دا په حقیقت کې د شیطان پوځ دی، چې ودانۍ تباه کوي او کورونه چوروي، مګر سره له دې هم فاسد وزیران، حضرتان او تش په نامه ملایان او نور بې دینه خلک دا غم لړلې وضع چې د دوی له لاسه پر خلکو راغلې ده، عادي بولي او وایي چې خیر او خیریت دی. (فیض محمد کاتب- **۵۷**مخ)
فیض محمد کاتب وروسته لیکي چې دوی د هغو نجونو لیستونه

پیدا کړل چې ښوونځي ته تللې او هغوی ته یې امر وکړ چې هره یوه باید یوه کوهستاني یا کوهدامني غله ته واده شي او د اسلام په نوم یې پر وطن باندې داسې فاجعه راوستله چې تصور یې نه شي کېدلای. (هغه کتاب- ۵۹ مخ)

سقاویان ګواکې کابل ته صرف د چور لپاره راغلي وو او په دې لاره کې یې پر هېڅ شي صرفه نه کوله. فیض محمد کاتب لیکي چې هره ورځ به جار وهل کېده چې خلك باید خپل دوکانونه خلاص کړي او هر څوك چې چور کوي هغه به اعدام شي. مګر د غلو دې ډلې هېڅ وخت دوکاندارانو ته پیسې نه ورکولې او چې هر څه یې خوښ وو، هغه یې په توبرو کې اچول او په خپله مخه تلل (هغه کتاب- ۵۹ مخ). هغوی د وسلو د پیدا کولو په پلمه کورونه تلاشي کول او چې څه یې لاس ته ورتلل هغه یې وړل. (هغه کتاب ۶۰ مخ)

د کابل خلکو هر څه د سر په سترګو لیدل، خو چا له وهمه سر پورته کولای نه شو. فیض محمد کاتب لیکي، حبیب الله په دې عقیده و چې د کابل خلکو د یوه غله په حیث ځکه دده حمایه وکړه چې د امان الله له فاسد حکومت څخه په تنګ وو، مګر کله چې دی په خپله پاچا شو او د خلکو په وهلو او چورولو او پر ناموس باندې په تېریو کولو یې بنا وکړه نو خلك هم دده مخالف شول او له خدای څخه یې د هغه د تباه کېدلو غوښتنه کوله (هغه کتاب- ۸۰ مخ)

د سقاو زوی خپل وزیر جنګ سید حسین او خپل ورور حمیدالله ته چې دده وکیل السلطنه وو، تام واك اختیار ورکړی و او د هېڅ شي پوښتنه یې نه ورځخه کوله. فیض محمد کاتب لیکي چې سید حسین او د حبیب الله ورو حمید الله چې په دې تازه شپو کې یې د وزیر جنګ او سردار اعلی اونایب السلطنه لقبونه اخیستي وو، له ښځو او هلکانو سره په عیش او نوش لګیا وو او

کله چې د تګاو د خلکو له قیام څخه خبر شول نو سملاسي یې خپلو باوري کسانو ته امر وکړ چې پر دفاعي کارونو لګیا شي (هغه کتاب ۱۱۴مخ). د ژوندیو انسانانو څلور ځایه کول، د ښځو او هلکانو پر عزت تېری کول، بېګناه انسانان په زندانونو کې اچول، غرغره کول او په ناحقه د خلکو د وینو تویول د سقاویانو ورځني کارونه وو (هغه کتاب- ۱۱۷ مخ) د سقاو د زوی ورور حمید الله د کابل والي ملك محسن ته ځکه سزا ورکړه چې ویل یې د مرحوم خزانه دار محمد سرور خان د کور د ضبطولو پر وخت یې څلوېښت زره روپۍ ځان ته ګرځولي دي. حمید الله دغه راز د امیر امان الله خان د خارجه وزیر غلام صدیق خان، د دربار د وزیر محمد یعقوب، د دفاع د وزیر عبد العزیز. محمد خان یاور، حیات الله خان عضو دوله او تقریباً نورو دوو سوو تنو له کورونو څخه پیسې او قیمتي شیان پټېکړل (هغه کتاب- ۱۲۴مخ). د حبیب الله ورور حمید الله د خپل ورور په امر د کابل والي ملك محسن او د دربار وزیر شېرجان او نورو غلو څخه دوه سوه زره روپۍ چې له خلکو څخه یې په زور اخیستي وې واخیستلې (هغه کتاب- ۱۳۵ مخ).

فیض محمد کاتب د سقاو د زوی د حکومتي اجرااتو یوه په زړه پورې کیسه کوي او وایي چې د مې پر څلورویشتمه د کابل ګورنر ملك محسن د کابل د پخواني والي میر زمان الدین په کور د شپې بې خبره ورننووت. د کور ټول قیمتي شیان او پیسې یې یوورې او د هغه دوو زامنو او کونډې ته یې وویل چې په کور کې هېڅ شي ته لاس ورنه وړي او دی سبا د موجودۍ لپاره بېرته راځي. د جون پر دویمه د میر زمان الدین کونډې خادم دین رسول الله ته عریضه ورکړه او ورته ویې لیکل چې د هغه والي ملك محسن د هغې کور ته لوېدلی اود هغې له کور څخه یې پنځه ویشت زره

روپـی، قـالینې، د ښځو ګاڼې او دوه ټوپکونـه وړي دي، امـیر د هغـې د عریضـې پـه ځواب کـې پـه خپلـه ملـك محسـن تـه وظیفـه ورکـړه چـې د دغـې قضیـې پـه بـاره کـې تحقیقـات وکـړي، کـه څه هـم چـې ملـك محسـن د مـیر زمـان الدیـن د کـور د لوټلـو پـه شـپه پـه خپلـه امـیر حبیـب الله تـه د ښځو ګاڼې راوړې وې. د کـابل والـي ملـك محسـن د مـیر زمـان الدیـن کونـډه تـهدید کـړه او هغـې وروسـته پـه یـوه بـل مکتـوب کـې حبیـب الله تـه ولیکـل چـې د هغـې لـه کـور څخـه صـرف دوې قـالینې ورکـې شـوې دي. سړی بـه د غلـو لـه حکومـت څخـه د بـل څه شـي انتظـار ولـري. (هـمـه کتـاب- ۱۳۴ ۱۳۵ مخونـه)

زمـوږ ځینـې هغـه لیکـوال چـې لـه بـده مرغـه د سـقاو د زوی د وحشـت دوره یـې پـه سـترګو لیدلـې ده، بیـا هـم هغـه تـه د عیـار او ځوانمـرد خطـاب کـوي. فیـض محمـد ددې ځوانمـرد د نـاموس دارۍ پـه بـاره کـې چـې د عیـارۍ د مسـلك اسـاس دی، داسـې لیکـي: "حبیـب الله چـې پـه ډېرو لـږو ورځو کـې یـې د ښځو یـو لـوی حرم ځانتـه جـوړ کـړی و، د اپرېل پـر لومړۍ نـېټه فیصلـه وکـړه، چـې د سـردار نصـرالله خـان او سـردار امیـن الله خـان چـې دا وخـت بندیـان وو، لـوڼې خپـل ځان تـه کېنـوي. خـو کلـه چـې خـبر شـو هغـوی واده شـوې دي، نـو لاس یـې تـرې واخیسـت او د سـردار محمـد علـي د ښایسـتې لـور د واده کولـو فیصلـه یـې وکـړه. هغـې نجلـۍ د سقاو لـه زوی سـره تـر واده کولـو مـرګ بـهتر وبالـه او زهـر یـې وخـوړل. مـګر د خـدای پـه فضـل زهـرو مـړه نـه کـړه او ژونـدۍ پاتـه شـوه. (هغـه کتـاب- ۱۴۴مـخ)

فیـض محمـد کـاتب وروسـته لیکـي چـې د سـقاو د زوی مرسـتیال حسـین د اپرېل پـر اوویشـتمه وروسـته لـه هغـه چـې یـوه معصومـه نجلـۍ یـې پـه خپـل کـور کـې پـه زوره بـې سـیرته کـړه، نـو امـر یـې وکـړ چـې د امـیر عبدالرحمـن خـان او امـیر حبیـب الله خـان د کورنیـو لـه ښځو سـره

دې هغه سلوك وشي چې هغوی د هزاره ګانو له ښځو سره کاوه. څو چې د نورو خلکو عبرت شي. البته سيد حسين د سردارانو پر مال او ناموس باندې د سقاو د زوی په اشاره تيری کاوه (هغه کتاب- ۱۴۵مخ)

د سقاو زوی د ټولو خلکو په تېره بيا د هغو کسانو مال ځان ته حلال باله چې ده ته يې بيعت نه و ورکړی. هغه د شينوارو، خوګيانيو او سليمان خېلو د قبايلو ملکانو او خانانو ته چې له ده څخه يې د پيسو او وسلو غوښتنه کوله، د اپرېل پر دېرشمه ويل چې هزاره ګانو ده ته بيعت نه دی کړی. د هغوی شتمني، ځمکې، ښځې او کوچنيان ټول د دوی مال او په دوی پورې اړه لري. هغه يوه ورځ وروسته د دريو تنو هزاره ګانو سرونه چې په اور يې بريان کړي او پر لرګيو يې مېخ کړي وو او نولس تنه هزاره بنديان په بازارونو ګرځول او خلکو ته يې ورښودل چې هر څوك له خادم دين رسول الله سره مخالفت وکړي عاقبت به يې دغه وي. (هغه کتاب- ۱۵۲-۱۵۳مخ.)

فيض محمد کاتب وروسته ليکي چې د مې په وروستيو شپو ورځو کې حبيب الله امر وکړ چې د کوچي پښتنو هغه دوولس زره کورنۍ دې په بتخاك کې راوګرځول شي چې له پېښور او جلال آباد څخه هزاره جات ته روانې دي. د هغوی ټول بار وړونکي حيوانات او نور خاروي او ټول تجارتي مالونه يې ورڅخه واخيستل او امر يې وکړ چې د هغوی بار وړونکي حيوانات دې د وسلو او مهماتو د وړلو لپاره قطغن، بدخشان، مزار شريف، هزاره جات، کندهار او جنوبي ته واستول شي. هغه وروسته د کوچيانو مشران وروبلل او ورته ويې ويل چې که پر هزاره ګانو باندې حملې وکړي، نو د هغوی ځمکې او شتمني به دوی ته ورکړي. مګر په دې نه و خبر چې ده له پښتنو څخه قدرت غصب کړی دی او ټول پښتانه يې د ځان دښمنان

کړي دي او غواړي پښتانه له هغو هزاره ګانو سره وجنګوي، چې هغوی د پښتنو د ملاتړ لپاره د جنګ میدان ته وتلي دي. دی غواړي په دې توګه قدرت په خپل لاس کې وساتي، مګر دی یو جاهل دی او په دې نه پوهیږي چې مملکت څرنګه اداره کیږي. (هغه کتاب- ۱۵۳ مخ)

فیض محمد کاتب د خپلو یادښتونو په سلسله کې د سقاو د زوی د ورور حمید الله، چې د ده نایب السلطنه و، د چور او تالان کیسه کوي او وایي چې د جولای پر لومړۍ نېټه حمید الله او د هغه پوځیانو پر سره چشمه باندې حمله وکړه. د تاجك او هزاره ګانو توپیر یې ونه کړ او کورونه یې لوټ کړل. څاروي یې ورسره بوتلل او بالاخره یې د کورونو دروازې وایستلې. ویل کیږي چې حمید الله او د هغه سړیو د یو نیم میلیون روپیو په ارزښت مالونه لوټ کړل. حمید الله ۳۴ نارینه او څلوېښت ښځې کابل ته ورسره بوتلې، نارینه یې بندیان کړل او خپلو سړیو ته یې امروکړ چې ښځې خرڅې کړي (هغه کتاب- ۲۵۷ مخ) ملك محسن د اګست د میاشتې پر اوله د هغې ښځې مېړه غرغره کړ چې حامله وه د ماشوم د زیږېدلو تر وخته پورې یې په بندیخانه کې وساتله او وروسته یې حکم وکړ چې ښځه او ماشوم دې دواړه ووژل شي. قاضي اعتراض وکړ او ویې ویل چې دا د شرعي شریفې خلاف کار دی، خو ملك محسن وویل چې که د شرعې خلاف وي او که نه وي، دا زما حکم دی او باید چې عملي شي، نورې خبرې په کار نه دي (هغه کتاب- ۲۳۴ مخ).

د سقاو زوی د برچې په زور خلك په خپل پوځ کې ساتل او چې چا د تېښتې تکل کاوه، هغه یې ځای پر ځای اعدماوه. ملك محسن کله چې له لوګریانو سره جنګ ته روان و، په لاره کې هغه څلور تنه عسکر ځای پر ځای وویشتل چې له پوځ څخه تښتېدلي

وو. د سقاو زوی د جولای پر څلورویشتمه شپاړس تنه عسکر بې وسلې او اعدام کړل. د سقاو زوی د ابوالقاسم په نوم شیعه سید چې ده ته یې په وزیر آباد کې د جنګ محاذ ته یو پوخ کړی پسه، ډوډۍ، شلومبې او نور خوراکي شیان وروړي وو، د دې رپوټ پر اساس چې ویل یې هغه په خپل کور کې یاغي هزاره ګانو ته ځای ورکړی و، په خپل لاس اووه مرمۍ وویشت. د هغه کور یې چور کړ، د هغه دوه ښځې او یوه نامزده لور یې خپلو کوهدامنیو ته په نکاح کړې، د هغه کور او جایداد ته یې اور واچاوه او بیا نو د غله امیر ورور حمید الله د هغه د مېرمن له غېږې څخه اته میاشتنی ماشوم زوی واخیست، د هغې مخې ته یې پر ځمکې وویشت او ځای پر ځای یې مړ کړ. (هغه کتاب- ۲۴۷- ۲۴۸ مخ)

لوستونکي ته ښایي د فیض محمد کاتب خبرې د یوه سړي قضاوت ښکاره شي او داسې فکر وکړي چې د یوه سړي د شخصي قضاوت پر اساس د بشپړ نظام محکومول له واقعیت او حقیقت څخه لرې خبره ده. خو له نېکه مرغه چې د سقاو د زوی د پاچهۍ پر وخت نورو کسانو هم د خپلو سترګو لیدلي حالات لیکلي دي. البته فیض محمد کاتب د یوه هوښیار او تېزبین لیکوال په حیث خپله وظیفه په ډېره ښه توګه سرته رسولې او پېښې یې په تفصیل بیان کړي دي. د افغانستان مشهور ژورنالیست او لیکوال غلام محی الدین انیس چې د پېښو پر لومړیو شپو ورځو په کابل کې و داسې لیکي: "... په کابل کې د ظلم او تېریو یو قیامت جوړ و او د شمالي خلك د یوه کرنیل، یا برګډ او یا خودمختار نایب سالار تر قوماندې لاندې د کابل د مشهورو خلکو او عالي رتبه مامورینو کورونو ته ننوتل او د وسلو او یا سرکاري مالونو د پیدا کولو په پلمه یې کورونه تلاشي کول او د وهلو ټکولو او د ټوپك د قنداق په واسطه

يې هغوی مجبورول چې څه په کور کې لري ټول حاضر کړي، بيا يې نو چې زړه غوښت هغه يې اخيستل او په خپله مخه به تلل. (بحران و نجات ۹۸ مخ). بل ځای ليکي: ... قلم د هغه څه له تصويرولو څخه عاجز دی چې د کابل پر خلکو تېر شول او نه غواړم په دې کتاب کې هغه فجايع بيان کړم چې په دغو خطرناکو او بېروونکو لحظو کې د کابل پر ښار باندې تېر شول. فقط دومره به ووايو چې غالبه ډله د عوامو او جهالو يو ټولی و او مغلوبه ډله عسکر او صاحب منصبان وو... دې غلو دومره چور وکړ او د کابل خلك يې دومره لوڅ کړل چې حتی د سقاو د زوی هم پر خلکو زړه وسوزېد... "هغه کتاب- ۹۸- ۹۹ مخونه) غلام محی الدين انيس بل ځای ليکي: "... د سقاو د زوی منصبدارانو خصوصاً خودمختارانو پر ښار قيامت جوړ کړی دی... مګر که د امنيت مسئلې ته وګورو نو امنيت خو معمولاً غله او لوچکان خرابوي، مګر څرنګه چې اوس په خپله دغو غلو ته د ملك د پاچاهۍ وظيفه ورترغاړې شوې ده، نو ويلای شو چې په ملك کې امنيت ټينګ دی، خو د امنيت پر ځای بل قيامت جوړ دی او هغه دا چې د دغه ښار خلك د دغو بدبختو خودمختارانو له لاسه د شپې آرام خوب نه لري. هغوی د وسلو او سرکاري مالونو د پيدا کولو په پلمه کورونو ته ننوزي او خلکو ته آزار ورکوي. د دې خودمختارانو تر ټولو خندوونکی کار دا دی چې وړې وړې صندوقچې په خلکو خلاصوي او وايي مبادا ټوپکونه مو پکې پټ کړي نه وي او بيا نو چې څه پيسې او جواهر پيدا کوي هغه چوروي. (هغه کتاب- ۱۰۰ مخ) بل ځای ليکي چې د سقاو زوی او د هغه حکومت په ډېره کوچنۍ ګناه خلك اعدامول او چې په چا کې به يې د مخالفت نښه وليده، هغه به يې واژه او يا يې ډېرې سختې سزاګانې ورکولې (هغه کتاب ۱۰۶ مخ)

د تاریخ پروفیسر مرحوم محمد علي، چې د سقاو د زوی د نظام پر لومړیو شپو ورځو په کابل کې حاضر و، لیکي چې د کابل پر ښار باندې بېحده زیات ظلمونه وشول ارګ د داسې ظالمانو لاس ته ورغلی و، چې د هېڅ ډول قانون مراعات یې نه کاوه، ښوونځي پوهنځي او مفیدې موسسې ټولې وتړل شوې، کتابخانې، لابراتوارونه او شاهي میوزیم چور شو او نادر کتابونه تباه شول، وسوزول شول او یا په ډېره نازله بیه خرڅ شول. د سقاو زوی اشراف او پوهان په ډېره بې ادبۍ له کورونو څخه را ایستل، په بازارونو یې ګرځول، شکنجې یې ورکولې او په زور یې پیسې ورځخه اخیستلې، د سقاوله زوی سره راغلي غله او داړه ماران هر یو پاچا و او حتی یوه عسکر هم ځان مستقل باله او چې څه یې زړه غوښتل هغه یې کول. د کابل تاجرانو ته یې وویل چې حکومت ته ډېرې زیاتې پیسې ورکړي، که نه نو سخت عذابونه او شکنجې یې تر خوا دي. دا بېسواده مستبد پر ټولو شتمنو او متنفذو خلکو بدګومانه و. د دې وینې څښونکي پاچا د قهر تنده د سرېدلو نه ده او چې پر هرچا بدګومانه شو، هغه به دده د غضب قرباني کېده. نه چا څه ویلای شول او نه چا ته د څه ویلو مجال ورکول کېده. اکثر بدمرغه قربانیان یا په توپونو کې والوزول شول یا وویشتل شول، یا ووهل شول، یا په نېزو ټوکر ټوکر شول او یا په لوږه قتل شول. په ایشېدلو تېلو شکنجه کول، د اوسپنې په قفسونو کې د خلکو اچول، د لاسونو او حتی د وجود د ټولو اندامونو یو په یو پرې کول د هرې ورځې عادي خبرې وې.

انګرېز ژورنالست رانالډوایلډ، چې په دغو شرایطو کې زیاتره وخت په کابل کې و، لیکي چې د سقاو زوی لکه ځناور په وهلو ټکولو کې لوی شوی و او کله چې قدرت ته ورسېد نو داسې ظلمونه

يې وکړل چې په تاريخ کې يې چنداني ساری نه درلود. په لومړي سر کې د کابل خلك ورته خوشحاله وو او چې ده ځينو کسانو ته چې د کابل خلکو ښه خاطره نه ورځخه درلوده سزاوي ورکولې، نو هغوی به ويل چې ښه کوي چې ظالم ته سزا ورکوي. خو کله چې د کابل خلکو ته څرګنده شوه چې هغه د انسانانو له کړاو او شکنجه کېدلو څخه خوند اخلي او چې هر څومره ظلم کوي زړه يې نه سړېږي، نو د کابل خلك پښېمانه وو او له خدايه څخه يې پخواني حال غوښت. په لومړي سر کې يې هغه ښځې او ماشومان په زندانونو کې واچول چې په پخواني دربار پورې يې اړه درلوده. خو وروسته خلکو ته معلومه شوه چې هغه له ظلم او قساوت سره مينه لري او صرف ګناهکارانو ته نه بلکې هر چا ته چې زړه يې شي سزا ورکوي او کړوي يې. (رانالډوايلډ ۲۵۶-۲۵۷م) بل ځای ليکي چې په کابل کې د حبيب الله د امارت له اعلانېدلو سره د ښار خلك يا مړه شول او يا د مرګ په انتظار ناست وو، له غرغرو څخه به مړي لرې شوي نه وو چې بيا به نور ورباندې وځړېدل. خلك مېخ کېدل او په دار کېدل او د ښار پر دېوالونو باندې د انسانانو سرونه ځړېدل. په کابل کې د سقاو د زوی له پاچا کېدلو سره خلکو د انسانانو د غوښو د سوزېدلو د بوی او د نېزو پر سرونو باندې د سرونو له ليدلو سره عادت ونيو. سقاويانو د انتقام د اور د سړولو لپاره د منځنيو پېړيو شکنجې بېرته رواج کړې. انسانان په تېلو کې ايشول کېدل او کابل رښتيا هم تاريکو پېړيو ته ولاړ.

میر غلام محمد غبار، چې پر دغه وخت په کابل کې هر څه د سر په سترګو لیدلي دي، لیکي چې دوی (سقاویانو) قاضي عبدالرحمن، چې د مولوي عبدالواسع په شان د نوي فکر څښتن قاضي و، د کابل پر چوك باندې بند پر بند پرې کړ او په جنګ کې د وژل شویو کسانو سرونه یې د پل خشتي په بازار کې پر دېوالونو وځړول او په دې توګه یې په ښار کې وحشت ایجاد کړ. (هغه کتاب-۸۲۸ مخ)

له بده مرغه چې مرحوم غبار خپلې هغه خبرې چې صرف یوه پانه مخکې یې لیکلې دي هېروي او په بله پانه کې د سقاویانو په باره کې ډېر کمزوری او غیر عادلانه قضاوت کوي او وایي چې هغوی د تودو له منځه راپورته شوي وو، له چل او توطیې او خلکو غولولو څخه یې نفرت درلود، مالونه یې تړول، مګر خسیس نه وو او هغه څه چې یې تر لاسه کول هغه یې په نورو مصرفول او د اوسنیو عصري غلو په شان د طلا او نقرې له ذخیره کولو او تجارت او سودخورۍ سره بلد نه وو.

مرحوم غبار ګواکې په دې عقیده دی چې که څوك له غیر مشروع لارو لاسته راوړې پیسې پر خپلو داړه مارانو ولګوي او د عیش او عشرت محفلونه ورباندې جوړ کړي، نو بیا چندانې پروا نه لري. مرحوم غبار فکر کوي چې که څوك د خلکو له منځه راووزي هغه چې هر څه جنایتونه کوي باید چې یوڅه له اغماض څخه کار ورسره واخیستل شي.

البته حقیقت د لمر په شان روښان دی. د فیض محمد هزاره او نورو تولو هغو کسانو له یادښتونو ځخه چې هرڅه یې د سر په سترګو لیدلي دي، ځرګندده ده چې په کابل کې د ۱۹۲۹ کال له جنوري ځخه د اکتوبر تر نیمايي پوري د غلو، داړه مارانو او قاتلانو حکومت و او له سر او مال ځخه نیولې د خلکو تر ناموس پوري یې پر هرڅه باندې تجاوز وکړ. څه یادښتونه چې زموږ لاس ته راغلي او تر موږ پوري رارسېدلي دي، هغه زیاتره د کابل په باره کې دي. د ولایاتو په باره کې لاچا څه لیکلي نه دي او سړی د کابل له وضعې ځخه دتولو ولایاتو د وضعې اټکل کولای شي.(۶)

سردار فیض محمد خان زکریا وایي: "من شخصاً بچه سقاو را از نقطه نظر اینکه پسر یکنفر سقاو بود انتقاد نمی کنم [باشد متاع نیکو ازهر دکان که باشد] لیکن اعمال بچه سقاو، ظلم و ستمگاری بچه سقاو، جهالت و وحشت بچه سقاو را ننگ و عار بشریت میدانم و در عصر بیستم سلطهء جهل و وحشت در افغانستان یک حادثه بس ناگوار و انفعال انگیز است.(۷)

مارشال شاه ولي خان وایي: "اگر این شورش دوام میکرد، شیرازه وحدت کشور بهم می خورد."(۸) ځکه خود هېواد غازیان د جهل او تیارو د واکمنۍ د له منځه وړلو لپاره خپل ملي مسوولیت او رسالت ته متوجه شول او د هغو د راپرځولو په لټه کې شول. سپه سالار غازي محمد نادر خان د دغو غازیانواو هېوادپالو سرلښکر و چې دا انارشي او سراسري ګډوډي یې ونه شوه زغملای نو ځکه یې د هغې راپرځولو ته ودانګل، غازي محمد نادر خان پر هغه وخت د



د سقاو زوی تر واکمنۍ وروسته

دې سقاوي انارشۍ په باب وايي: "اگر این حالت دوام کند ، مملکت ویران، اوضاع خطرناک و استقلال که با قربانی های متوالی بدست آمده ا زدست خواهد رفت، آنگاه زندگی برای ما چه معنی خواهد داشت؟"(۹)محمد نادر خان او نورو افغان مشرانو او غازيانو د جهالت، وحشت دغه واکمني د افغانستان او زمونږ د خلکو لپاره يوه خطرناکه ناروغي وبلله چې هم يې د هېواد ژوند تهديداوه او هم د ولس ژوند ، نو ملي لښکر يې راټول کړ، سره له

دې چې په دې وخت کې دده د کورنۍ ځينې غړي له سقاو زوی سره اسيران وو او د محمد نادر خان د مبارزې له کبله ورته هره شېبه د مرګ خطر و او د سقاو زوی به همدا اخطارونه ورکول "من از سلطنت دست نمی بردارم، ملتفت باشيد که اگر بکابل تيايد و امر مرا نشنويد عايله شما تا اکنون در کمال احترام ميباشد امر ميدهم که بصورت بسيار فجيع کشته شوند"(۱۰) خو غازي محمد نادر خان د دې خبرو او اخطارونو پروا ونه کړه، ځای پر ځای يې سقاويانو ته ماتې ورکړه.



سقاو زوی او د هغه ځو تنه ملګري د دار ځړولو پر وخت

د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر پر ۱۵مه غازي محمد نادر خان د ارګ سلامخانې ماڼۍ ته ورسېد، د سقاو زوی (۹) مياشتنی

واکمنی یې ختمه کړه، هغه او د هغه ځینې نږدې یاران یې په دار وځړول او افغانستان یې له دې ناروغۍ څخه وژغوره.

## اخځونه:


۱- دوکتور خلیل الله وداد بارش، امیر حبیب الله کلکانی مردی در حریق تاریخ، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۶۶ مخ او نور بېلابېل مخونه.

۲- کابلي والا، د مولانا محمد صادق حسین صادق صدیقي اثر، د پوهندوی عبدالخالق رشید تبصره، هیله مجله، ۱۳۷۶ل کال، ۶مه گڼه، ۱۱۰ مخ.

۳- مولانا اغا رفیق بلند شهری، رویداد های بغاوت افغانستان، مترجم اراکوزیوال، کراچۍ، ۱۳۷۴کال، ۴ مخ، ۶ مخ.

۴- تاریخ معاصر افغانستان، از استرداد استقلال تا انقلاب ثور، کابل، ۶۶مخ.

۵- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۱۳۴۶ل کال، کابل، بېلابېل مخونه.

۶- عبدالباري جهاني، هیله مجله، ۱۳۷۸ل کال، ۳ گڼه، ۵-۱۴ مخونه)

۷- دوکتور خلیل الله ودادبارش، هماغه اثر، ۱۱۶مخ.

۸- مارشال شاه ولي خان، یادداشت های من، کابل، د سردار فیض محمد خان زکریا سریزه. ج مخ.

۹- مارشال شاه ولي خان، پورتنی اخځ، ۲ مخ.

۱۰- سپه سالار محمد نادرخان، // // ۳۹ مخ.

۱۱- حبیب الله کلکانی (بچه سقاو) // // ۴۷ مخ.

# په حاکمیت کې محکومیت

له کلونو راهیسې او په تېره بیا په دې تېرو دوه درې لسیزو کې د هر ځله دا خبرې اورېدل شوي، تحریك شوي او یا په شعوري او ناشعوري ډول ورته لمن وهل شوې چې ګنې [له سوونو کلونو راهیسې پښتنو پر افغانستان حکومت کړی، تول "حاکمیت" د دوی و او واړه قومونه او لږکي ترې محروم وو.]!؟

ظاهراً خو دا خبره د ځینو ذهن تېر ایستلای شي ځکه چې د پښت (نسل) له پلوه له لوی احمد شاه بابا څخه رانیولې بیا تر اوسه پورې د بچه سقاو، ببرك کارمل او برهان الدین رباني له نیمواکو او ترینګلو حکومتونو پرته چې کارمل یې کشمیری او دوه نور یې تاجکان دي، بل چا پر افغانستان حکومت نه دی کړی، خو که لږ ځیر شو خبره داسې نه ده. په حقیقت کې په یوه وخت کې دوو متوازي حکومتونو د یوه حکومت په نوم حکومت کړی‌دی؛ یو

حکومت هغه و چې سیاسي، دفاعي، ټولنیزې او نورې چارې یې سرته رسولې او ظاهراً اکثره پښتانه یې په حساسو پوستونو کې مقرر وو. بل دفتري او ژبنی حکومت و چې هغه ټولې چارې یې په دفتري قلمرو کې شاملولې او د کتابت او نورې چارې یې سمبالولې. په دویم حکومت کې پښتانه هم وو تاجکان هم، قزلباشان او نور واړه قومونه هم، خو که هر څوك وو هغو ټولو دفتري چارې په فارسي ژبه سرته رسولې. له عملي پلوه دا حکومت د فارسي ژبو په لاس کې و، دا چې د پښت له پلوه هر چا په دې حکومت کې کار کړی او یا یې کاوه که هرڅوك وو خو څرنګه چې ټول د فارسي ژبې د پرمختګ او حاکمیت سبب ګرځېدل، عملاً فارسیوانان یا فارسي ژبي ګڼل کېدی شي. له همدې کبله زیاتو فارسي ژبو ورو ورو دربارونو ته مخه وکړه او له ډېرو هغو ستونزو څخه څه ناڅه بېغمه شول چې د هېواد لوی اکثریت ورسره مخ و.

په دې کې شك نه شته چې ځینې وختونه به ځینو شاهانو او دربارونو پښتو ژبې او پښتني فرهنګ ته هم څه ناڅه پاملرنه کړې وي، لکه شاه حسین هوتك، امیر شېرعلي خان، امیر عبدالرحمن خان، غازي امان الله خان او غازي محمد نادر خان، خو دا کار هېڅکله هم د اکثرو دربارونو له خوا د فارسي ژبې له حاکمیت او هغې ته له شوې پاملرنې سره پرتله کېدلای نه شي. د ساري په توګه "امیر شېر علي خان د یوه فرمان په ترڅ کې عسکري چارې، اصولنامې، نومونه او نور له انګرېزي څخه په پښتو کړل"(۱) چې تر ننه پورې دوام لري، خو له احمد شاه بابا څخه وروسته په دې دومره کلونو او واکمنۍ کې هېڅ‌چا هم داسې دربار ونه لید چې د فارسي په شان دې بشپړ پښتو وي.

همدغه فرهنګي او ژبني جفا، ښکېلاك او زبېښناك ددې سبب شوي چې زموږ د ټولنې ملي ادانه لکه څنګه چې لازمه وه هغسې غښتلې نه شي او له خپلو شاهانو او واکمنو څخه د پښتنو دابدي ګيلې او خواشينۍ ځای پرېږدي. دغه کار په افغانستان کې د يو واحد ملت د جوړونې په برخه کې هم يو لړ ستونزې راولاړې کړې دي.

د همدغو واکمنو د دې عمل په پايله کې پښتو ژبه او پښتانه له دربار او دفتري چارو څخه لرې کړای شول او فارسي ژبو يې ځای ونيو. دې عمليې ډېر کلونه دوام وکړ او داسې وخت هم راورسېد چې د محمد ګل خان بابا په خبره له درباره د پښتو او پښتنو "مړستون" (قبرستان) جوړ شو. په دې مانا چې پښتون به په درېيم نسل له معنوي (ژبني) پلوه ختم شو. هر پښتون به چې په دربار کې کوم غټ مقام ونيو نو په خپله خو به يې پښتو زده وه خو د ليکلو امکانات يې نه وو، خو بيا به يې هم څه ناڅه د وينا خپلمنځي ژبه وه. د هغه زوی به چې رالوی شو نو د هغه به ګوډه ماته پښتو زده وه، په دې ډول به پښتو له ليکه په بشپړ او له وينا نه په نيمه ډول ولوېده او کله چې به د هغه لمسی رالوی شو نو هغه به په بشپړ ډول فارسي ژبی شو او په دې ډول به پښتو هم له وينا او هم له ليك څخه ولوېده.

اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد د يو يادښت په ترځ کې د دې ډول اشخاصو يو څو بېلګې رړاندې کوي وايي: "متين خان اندړ راته وويل: يو وخت زه د کابل په چهاردهي کې جبارخان کلا ته ولاړم چې له ريس تميز عبدالرب خان اندړ سره ووينم، کلا ته نږدې دده زوی په مخه راغی، د پلار پوښتنه مې ځنې وکړه، ده راته وويل: "او کتی قومايش در مهمان خانه نششته" تاسې وګورئ د پلار

قومیان دده قومیان نه شول، ځکه چې هغه په پښتو خبرې کوي، دی پارسي وايي او په پښتو نه پوهېږي، یانې نه يې وايي. ده دریشي اغوستې ده او هغو خپل پښتني کالي- هغو پګړۍ تړلې دي او دی لوڅ سری دی."

پوهاند رشاد زیاتوي: [یو وخت زه په لېننګراد کې وم، د ختیځ پېژندنې له پوهنځي څخه ټلیفون راته وشو: "یو ډاکټر د عالي تحصیلاتو په نیامت له افغانستان (کابل) څخه دغه اوس رارسېدلی او ستا په لټه کې دی" ما چې په ټلیفون کې له نوي مېلمه سره خبرې وکړلې ومې نه پېژانده خو د وطنداري په خاطر مې ورته وویل: "دغه دی دستي دررسېږم زما لاره څاره" زه چې پوهنځي ته ورغلم له نوي راغلي وطندار مېلمه سره مې روغبړ وکړ، اب شي ژيت (لیلیې) ته مې بوته، ځای مې ورونیوه ښاغلي ډاکټر... چې خدای پامانې راسره کوله، تر کور ودانې وروسته يې دا هم راته وویل: "مادرکلان مه نورزايي بود](۲) دغه راز په سلګونو او زرګونو بېلګې نورې هم شته.

د پښتو ژبې یو وتلي لیکوال او څېړونکي (پریشان ختک) یوه ورځ په پېښور کې د احمد شاه بابا په یاد د جوړ شوي سیمینار په ترڅ کې د پښتنو پورتنۍ نیمګړتیا، بې تفاوتۍ او د نورو ژبنې ښکېلاك ته اشاره وکړه او ويې ویل: "دا پښتون پر درېیم نسل ختم دی، میرویس نیکه. شاه محمود هوتك او په شاه اشرف ختمه شوه، احمد شاه بابا، تیمور شاه او په شاه زمان ختمه شوه. عبدالرحمن خان، حبیب الله خان او په امان الله خان ختمه شوه. نادر خان، ظاهرخان او په داود خان ختمه شوه." د ده په نظر ددې خبرې څېړنه پکار ده چې ولې پښتون په درېیم نسل ختمېږي؟ دا رنځ په دې دوه دونیم سوو کلونو کې روان دی، په همدې بهیر کې پښتانه فارسي

ژبي کېږي. دا ناروغي هغه وخت لا پسې زياته شوه چې تيمورشاه د هېواد مرکز له کندهاره کابل ته راولېږدوه او دلته قزلباشان او نور فارسي ژبي د هغه پر شاوخوا راټول شول او دفتري چارې يې انحصار کړې. دا لړۍ همداسې په لړ او ډېر زور سره تر دې نږدې لسيزو راورسېدله. بيا به هر پښتون په کابل کې په دريم نسل ختمېده، نو څکه خو وزير صاحب محمد گل خان مومند بابا کابل ته د "پښتنو مړستون" نوم ورکړ.

ددې ژبنۍ غميزې په بهير کې يو شمېر پښتانه هم فارسيوانان شول او ځينو نورو نافارسي ژبو ورو قومونو هم خپله ژبه هېره او فارسي ته مخه کړه. دغه راز د تزاري روسيې له ناتار او د روسيې (اکتوبر) انقلاب له برې وروسته له مرکزي آسيا څخه يو زيات شمېر خلکو افغانستان ته پناه راوړه او د فارسي ژبو د شمېر په زياتوالي کې يې برخه واخيسته. څرنگه چې دربار او دفتري چارې دوی خپل حق گانه نو هرچا ان که واکمنو هم د پښتو ژبې د رسمي کولو او يا دفتري کولو هڅه کوله دوی پرې د نشنليست، ژبپال او فاشيست تاپې لگولې.

د پښتو پر ځای په فارسي ژبې تعليمي او تحصيلي بهير هم د ډېرو پښتنو ژبه پرې کړه او د فارسي ژبو په ليکه کې يې ودرول. "يو الماني څېړونکي په خپله يوه اوسنۍ څېړنه کې څرگنده کړې ده چې په افغانستان کې د لوړو تحصيلاتو احصائيه ښيي چې تاجکيان ۳۹% ونډه لري او پښتانه چې د نفوسو له مخې ۵۰% دي په دويم رديف کې راځي، يانې په لوړو تحصيلاتو کې د دوی برخه ۳۳% ده. دغه څېړونکی وايي چې که ژبه په نظر کې ونيسو، نو دا توپير افراطي بڼه غوره کوي. په هرو شپېتو پښتنو کې چې د لوړو

تحصیلاتو خاوندان دي، څلوېښت یې له پښتو ژبې سره اشنایي نه لري. ۱۴٪ د عالي تحصیلاتو خاوندان نورو قومونو ته منسوب دي او ۱۴٪ نور یې له ساداتو سره تعلق لري. دا علمي څېړنه ښیي چې پښتنو په افغانستان کې مطلق حاکمیت نه درلود، بلکې په اقتدار او بیروکراسۍ کې یې له نورو څخه ونډه کمه وه. دا ټولو ته معلومه ده چې د اقتدار هغه خاوندان چې پښتنو ته منسوبېدل، د ژبې او فرهنګ له مخې یې له پښتنو سره فاصله څرګنده وه. باید ووایو په هره ټولنه کې بیروکراسي د یو جلا قشر په شکل تبارز کوي. که هغه د یو ملي یا واقعي اسلامي دولت ماشین وچلوي خیر یې ټولو ته رسېږي او که د مستبدو حکومتونو په لاس کې ولوېږي نو د یو ملت د افرادو د مشکلاتو بار درنوي."(۳)

د دغه ژبني ښکېلاك په بهیر کې ځیني پښتانه فارسیوانان شول. د استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په وینا "د ملګرو ملتو د یو رقم له مخې په افغانستان کې په سلو کې لس پښتانه فارسیوانان شوي دي." ځینو خپلواکو او مستقلو څېړنو هم د ملګرو ملتونو دا احصائیه واقعیت ته نږدې ګڼلې ده. په پېښور کې د "واك فونډېشن د افغانستان لپاره" یوه سروې (شمېرنه) چې د شپږو کلونو په موده کې یې ترسره کړې ده ښیي چې د افغانستان په ټول نفوس کې له ۶۲,۷۳ فیصدو پښتنو څخه ۵۵ فیصدو خپله ژبه ساتلې او ۷,۷۳ فیصده پښتانه فارسیوانان شوي دي، چې دا د هېواد د ټول نفوس په سلو کې ۸.۷ فیصده په شاوخوا کې نفوس جوړوي، یانې د پښتنو په سلو کې ۱۲,۷ فارسي او په سلو کې ۸۷,۳ پښتو وایي. دا ستم یوازې پر پښتو نه دی شوی، بلکې پر نورو لږکیو قومونو هم

شوی دی. "د واك فونډیشن د افغانستان لپاره" د خپلې سروې په ترڅ کې د افغانستان د قومي او ژبني جوړښت څرنګوالی په دې ډول په ګوته کړی دی:

| ګڼه | قومونه | د ختې په نسبت د قومونو فیصدي | د ژبې په نسبت د قومونو فیصدي |
|---|---|---|---|
| ۱ | پښتون | ۶۲,۷۳ | ۵۵ |
| ۲ | تاجك | ۱۲,۳۸ | ۳۳ |
| ۳ | هزاره | ۹,۰۰ | ۰,۰۰ |
| ۴ | ازبك | ۶,۱۰ | ۵,۸۰ |
| ۵ | ترکمن | ۲,۶۹ | ۱,۴ |
| ۶ | ایماق | ۲,۶۸ | ۰ |

(۴)

په دې ډول د ژبې پر بنسټ دې جوړ شوي تشکل د دولتونو حساس پوستونه اشغال کړل او بیا یو وخت داسې هم راغی چې نور یې د "اقلیتونو د حقوقو" په نوم بیرغونه ورپول او ځان ته یې د حکومت د جوړېدو غوښتنې پیل کړې، دا خبرې یې هم له خولو څخه راووتې چې "پښتنو پر افغانستان دوه نیم سوه کاله حکومت کړی او نور نو زموږ (اقلیتونو) نوبت دی" په همدې نیت یې خونړي جنګونه پیل کړل او په اصطلاح د اقلیتونو د حقوقو(!) خبره یې د هرچا تر غوږونو ورسوله، خو د هغه ژبني نري رنځ خبره د هېچا له خولو وانه ورېدل شوه چې په مرموز او تدریجي ډول یې د پښتنانه قام هویت او پېژندنه تحدیدوله، په هرځای د هرچا په خولو کې د هغه د حاکمیت خبرې تاوېدې خو د محکومیت خبره یې هېچا هم ونه کړه.

# اخځونه

۱- پوهنوال ډاکټر زېورالدین زېور، د پښتو معاصر ادبیات، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی پښتو څانګه.

۲- د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه، محمد اسمعیل یون ۱۳۷۳ل کال، پېښور چاپ، ۳۶-۳۷ مخونه، د پوهاند رشاد یادښت.

۳- عبدالجلیل وجدي، افغانستان د لویې لوبې ستېج، د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۶ل کال، ۱۰۰-۱۰۱ مخونه.

۴- د افغانستان قومي جوړښت، واك فونډېشن د افغانستان لپاره، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۷۷ل کال، پېښور ۴مخ.

# اقلیت د اکثریت په رول کې!؟

کله چې په افغانستان کې "د پښتنو په حاکمیت" کې د پښتو ژبې پر ځای فارسي ژبې پرمختګ او بډاینه وموندله نو په اساسي مانا د دولت رګونه هم د دغې ژبې ویونکو لاسته ورغلل او دا یې د ژبې د حاکمیت په وجه او پلمه دومره محکم کړل چې بیا یې نو دربار او دفتر خپل مال ګاڼه. دې حالت په پټه له ډېرې پخوا دوام درلود. خو کله چې د اعلیحضرت محمد ظاهر خان د وخت لومړني اساسي قانون کې د ژبې مساله مطرح شوه او د افغانستان د اکثریت خلکو هیله دا وه چې نور نو باید د خپل هېواد د اکثریت او ملي ژبې خبره مطرح شي دا مساله یو ځل بیا له پردې راووته او ځینو لنډ فکرو په ښکاره ډول د پښتو ژبې مخالفت وکړ.

سره له دې چې د دنیا په هیڅ ملك کې د زیات وخت لپاره ځوك ددې بېلګه نه شي پیدا کولای چې د اقلیت ژبه دې رسمي او دفتري وي، خو پر پښتنو باندې له سوونو کلونو راهیسې د دې ژبني ظلم ژرندې ګرځېدلې دي. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د وخت اساسي قانون کې له پښتو ژبې سره د (ملي) کلمه هم یو ځای شوه او تر یوه تاکلي وخت پورې پښتو د دفتر ژبه پاتې شوه خو دې حالت بیا هم د ځینو کورنیو او بهرنیو توطیو له امله دوام ونه موند او بېرته فارسي ژبه دربار او دفتر ته رادننه کړای شوه، بیا نو له هغه راهیسې په وقفه یي توګه ځینې وختونه پښتو ژبې ته پام رااړول شوی او بیا له نظره غورځول شوې ده.

په دې توګه دربار او حکومت د هغه چا په لاس کې کېوتل چې ژبه یې دفتري وه. په دې کې شك نه شته چې د قوم، ختې، پښت او یا د تذکرې له مخې به ځینې داسې پښتانه هم وو چې د وخت د حکومت په حساسو او یا هم په لوړیو پوستونو کې مقرر وو، خو دا ټولو ته ځرګنده ده چې د هغو د اکثریت نه پښتو زده وه او نه یې پښتو ژبې ته پام کاوه. له دې ځخه دا ځرګندېږي چې اصلاً حکومت، په تېره بیا فرهنګي او ژبنی حکومت بل چا کاوه او د پردې پر مخ بل ځوك و. یو وخت نو بیا داسې هم راغی چې د ژبې پر بنسټ همدې (تشکل) د پښتنو د اکثریت واقعیت او حقیقت دروغ وګڼل. په اخبارونو، رسمي او نارسمي غونډو کې یې د پښتو ژبې او پښتنو د تاریخ د تحریف او رنګونې هڅې پیل کړې او دا خبرې یې له خولو راووتې چې نور نو زموږ نوبت دی، ځانونه یې د اکثریت په رول کې ودرول، د غلطو احصائیو او

ارقامو په خپرولو یې پیل وکړ. چا ځان ۳۰ فیصده، چا ۳۵ او چا هم له هغو څخه زیات وښود. هغو سیاسي ډلو چې ځانونه یې د هزاره قوم د حقوقو مدعیان ګڼل په خپلو خپرونو کې د پښتنو او هزاره ګانو شمېره په دې ډول ښوده: [۱- پشتون (افغان): نزدیک به ۴۰٪ باشنده افغانستان را اقوام افغان تشکیل میدهند که محل سکونت اصلی شان ولایات شرقی وجنوبی افغانستان بوده، ولی به اساس طرحهای کوچانیدن ها از سوی دولت وقت (از زمان عبدالرحمن خان جابر به اینطرف) به باقی نقاط کشور نیز پراگنده شده اند. ۲- هزاره: بطور عموم در سراسر مرکز افغانستان سکونت دارند و به اساس ظلم و بیداد گری عبدالرحمن خان جابر اکثریت شان کشته و یا از افغانستان به ترکستان اسلامی، ایران و پاکستان و نواحی شمال و شمال غرب افغانستان پراگنده شدند ولی با آنهم نزدیک به ۳۰٪ کل جمعیت افغانستان ازین قوم تشکیل گردیده است](۱)

د لړ کیو د حقوقو مدعیانو هرچا په خپله خوښه ځان ته احصائیه جوړه کړې ده. اوس که موږ د هزاره لړکي د حقوقو د مدعیانو همدا رقم د یوې فرضیې په توګه ومنو یانې د هېواد د ټول نفوس ۴۰ په سلوکې پښتانه او ۳۰ په سلو کې هزاره، نو که په انګلیز ډول لس په سلو کې واړه قومونه لکه ترکمن، نورستاني، قزلباش، پشه یي، بلوچ او نور محاسبه کړو، پاتې شل فیصده به تاجك او ازبك لړکي ته پاتې شي چې هغه په خپل منځ کې وویشل شي نو لس لس فیصده به شي، ایا د افغانستان تاجکان د هزاره ګانو دربیمه برخه دي؟ یانې په هرو پنځو ناپښتنو

افغانـانو کـې دوه هـزاره، يـو تـاجك، يـو اوزبـك او يـو بـل لـږکي قـوم تـه منسـوب دی. ايـا تاجکـان حـاضر دي د هـزاره ګانـو دا وړش ومنـي؟ زمـوږ دا ورونـه (افغـان) يـوازې (پښتـون) تـه وايـي او ځانتـه د افغـان نـوم هـم نـه کـلروي، د مذهـب پـه بـاب هـم دوی دېتـه ورتـه نظـر لـري: "۶۵ الـی ۷۰ % کـل جمعيـت افغانسـتان پـيرو مذهـب تسـنن حنفـی بـوده کـه از اقـوام و قبـايل مختلـف تشـکيل شـده اسـت. اقـوام پشـتون، ازبـک، ترکمـن، نورسـتانی، بلـوچ و اقليـت هـای محـدود هزاره، سنی مذهـب انـد...

۳۰ الـی ۳۵% کـل جمعيـت افغانسـتان را پـيروان تشـيع تشـکيل ميدهـد کـه از اقـوام هـزاره، ترکمـن، تـاجيک و پشـتون تشـکيل گرديـده"(۲)

د دې هـڅو او عملونـو پـه نتيجـه کـې د توطيـو او سازشـونو لـه لارې ښاغلـی احمـد شـاه مسـعود او ښاغلـی برهـان الديـن ربـاني د "اسـلامي دولـت"(!) پـه نـوم د يـوې جنجـاليزې او طـاعونيزې اداري د مشـرانو پـه تـوګه کـابل تـه رانـنوتـل او نـبغ پـه نبغـه يـې د "اقليتونـو د حقوقـو" او د "اقليتونـو د حکومـت" انـګازې پورتـه کـړې. کلـه چـې دوی د کـابل د تريـنګلـې نيمـواکـې واکمنـی پـر ګدی کېنـول شـول، نـو بيـا يـې د غلطـو احصـائيو لـه لارې ځان اکـثريت تـه قريـب کـړ، د دولتـي او سياسـي چـارو پـر مـخ بيـول يـې خپـل طبيعـي حـق(!) وګاڼه. عجيبـه خـبره خـو دا وه چـې ددوی د شـعارونو او عملونـو ترمنـځ يـو ښکـاره تفـاوت‌ځرګنـدېده، شـعارونه يـې د اقليتونـو د حقوقـو پـه بـاب وو خو امتيـازات يـې د اکـثريت غوښتـل. دوی دېتـه هـم فکـر نـه کـاوه چـې کـه چـېرې پـه يـوه هـېواد پـه تـېره بيـا افغانسـتان کـې دولتـي

جوړښت د قومي تناسب له مخې ووېشل شي (چې دا هېڅکله شونې نه ده خو که بیا هم د یوې فرضیې په توګه ومنل شي) نو د افغانستان لړکي چې ښاغلی رباني، مسعود، خلیلي او نور یې د حقوقو ادعا کوي د خپل قومي شمېر له مخې ددې مستحق ګڼل کېږي چې د ټول هېواد په کچه لومړنۍ پوستونه ونیسي؟ خو څرنګه چې دوی په هېواد کې د سیاسي واك د نیولو لپاره یو عقده یې چلند کاوه نو ځکه یې له ډېر تعقل نه کار نه اخیسته، خپله اقلیت و خو رول او امتیاز یې د اکثریت غوښته.

## اخځونه

١- حبل الله مجله، د ایران چاپ، ۱۳۶۵ل کال، ۳۱ مسلسله ګڼه، ۲۸ مخ.

۲- پورتنی اخځ ، // // // ۲۹ مخ.

# کارمل: پېژندنه او د شخصیت شننه

هره ټولنه او ولس ځانته د وياړونو، پرتمونو، نېکمرغيو، بدمرغيو، غميزو او کړاوونو شپې او ورځې لري. دا پېښې او يادونه د ولس په ذهن کې انځور شوي وي او له يوه نسل څخه بل ته انتقالېږي. څرګنده خبره ده چې پېښې په خپل سر نه رامنځته کېږي. هغه اشخاص چې د ذهني، فکري، اخلاقي، ټولنيزو او نورو ښېګڼو له پلوه کمزوري وي او لويو کارونو ته لاس اچوي نو نتيجه يې ډېره کرغېړنه راوځي. دا ډول اشخاص د منفي کرکټرونو په توګه د ولس په ذهن کې ځای نيسي او ولس ته د وراړول شوي زيان او درد له کبله د هغو د سختې کرکې سبب ګرځي. زموږ د هېواد د معاصر تاريخ تر ټولو بدمرغه ورځ د ۱۳۵۸ل کال د مرغومي شپږمه نېټه ده. ددې غميزې مرکزي کرکټر ببرک کارمل و چې پر نومړې نېټه د شوروي اتحاد د "۸۶"(۱) زره کسيز پوځ په زور د کابل پر تخت کېنول شو.

"ببرك كارمل د جنرال محمد حسين خان زوی د بگرامي د كمريو اوسېدونكی و. د ببرك كارمل د نيكه؛ محمد هاشم پلرونه هندوستانيان دي چې له كشمير نه پنجشېر ته راغلي دي. د بهرنيو چارو د پخواني وزير عبدالوكيل نيكه، د نوموړي پلار (محمد حسين) حربي ښوونځي كې شامل او وروسته يې خپله لور هم ورته وركړه. ببرك كارمل د كابل پوهنتون له حقوقو پوهنځي څخه فارغ شوی او بيا يې د پلان په وزارت او ځينو نورو دولتي اركانونو كې كار كړی دی. نوموړی د ۱۹۶۵ = ۱۳۴۳ كال د (خلكو ډيموكراتيك گوند) د لومړۍ كنگرې له غړو څخه و. وروسته يې د (پرچم) په نامه يوه بېله سياسي ډله جوړه كړه."(۲)

خو ددې جلا سياسي مبارزې تر څنگ يې له دربار سره هم پټه لار درلوده اود خپلو سياسي مخالفينو د ځپلو لپاره يې له دربار نه هم د يوې وسيلې په توگه كار اخيست. استاد پوهاند كاكړ په خپل كتاب رڼا او دفاع كې ليكي: "د محترم رشتيا په قول غبار د نور محمد تره كي په كوركې ببرك د يوې "دوه ويشت كسيزې كميټې په وړاندې" په دغو الفاظو مخاطب كړ: "تو پسر جنرال خاين، جاسوس دولت، كه بمظاهرات فرمايشي تعدادی از وطن پرستان را چندين سال بزندان انداختی، اگر چه خود هم به زندان امدی ولی شب و روزت معلوم نبود كه بكجا بودی. اكنون باز ميخواهی كه برای بادارت خدمت بداری و چند وطن پرست ديگر را روان زندان بداری"(۳)

ده د خپل سياست د پيل له كلونو څخه د شوروي اتحاد له سفارت سره لار درلوده په همدې وجه خو روسانو تر بل هرچا پر ده زيات باور درلود. دی د شوروي سفارت كاركوونكو ته دومره

نږدې و چې د هغوی په ډېرو خصوصي غونډو او مېلمستیاوو کې هم د ګډون بلنه ورکول کېده.

د (پلوشې) جریده په خپله یوه ګڼه کې د سردار محمد داود خان د وخت د کابینې د یوه غړي له خولې لیکي: "موږ په کابل کې د شوروي سفارت له خوا رسماً د ځینو خبرو لپاره نومړي سفارت ته بلل شوي وو. کله چې سفارت ته وردننه شوو، نو د سفارت کارکوونکو موږ ته هرکلی ووایه. دی (کارمل) هم لکه د سفارت د یوه غړي په توګه د هرکلي ویونکو په ډله کې ولاړ و"(۴)

جنرال الکساندر لیاخوفسکي په افغانستان کې جنګېدلی روسی جنرال په خپل کتاب (د افغان مېړانه او غمیزه) کې د ببرک کارمل په باب لیکي: (... هغه د کې، جي، بي سړی و. د خپلې (واکمنۍ) په وروستیوکلونو کې یې د شرابو څښل ډېر کړل. ان د کې، جي، بي مشر یوري اندروپوف چې د کارمل حامي او ملاتړی و په دې هکله هغه ته ډېر نصیحتونه وکړل خو ګټه یې ونه کړه. ورخ تر ورځې جوتېده چې کارمل په روغه لار د تګ وس نه لري خو بیا هم چا د هغه د ګوښه کولو تکل نه کاوه. ځکه چې ترشا یې کې، جي، بي ولاړه وه."(۵)

د نیکودوریانکوف په قول چې په مسکو کې د پښتو ادبیاتو متخصص و، د ["پرچم د سر هر کس په مسکو کې دوسیه لري" دا چې دغه لویان څوك وو، ښرګنده نه ده. خودا حقیقت دی چې کې، جي، بي د میاشتې ۳۵۰۰۰ روسي روبله کارمل ته ورکول چې د ګوند په چارو یې ولګوي. سربیا بها چې د پرچم غړي وه او د غذایي فقر د ناروغۍ په وجه مسکو ته د تداوي لپاره په شخصي لګښت تللې وه لیکي: د وریانکوف "ازعلت مریضي من پرسید. برایش گفتم که من فقر غذایي داشتم، حالا کاملاً وزن

گرفته صحتمند شده ام" سریا بها اضافه کوي چې "دوریانکوف خیلی متاثر شده و ناخود آگاه گفت: "ماهانه مبلغ سی و پنج هزار روبل را کارمل چه میکند؟... ما برای چه (باو) پول میفرستیم" سریا بها په کابل کې د همدغې موضوع او نورو موضعاتو په باب د انتقاداتو له امله د ببرك کارمل، میراکبر خیبر، سلطان علي کشتمند، ډاکتر اناهیتا راتب زاد، سلیمان لایق او نور احمد نور په مخ کې تر تحقیق لاندې ونیول شوه،د هغې په خپلو الفاظو "ببرک کارمل با عصبانیت گفت" "بگو جانم! تو را "سی آی ای چند میدهد که این چنین پروپاگند و تبلیغات را علیه من راه انداخته ای؟" " گفتم سی و پنج هزار روبل روسی"(۶)

د کې، جي، بي په سازمان کې د غړیتوب خبره خپله کارمل هم نه ده پټه کړې. پر ۱۳۶۴ل کال په کابل کې د کارمل رژیم له خوا د (کې، جي، بي) د تاسیس کالیزه نمانځل کېده. د هغه وخت د دولتي خدمتونو د لوی ریاست (خاد) د سیاسي چارو په ریاست کې چې (عارف صخره) یې ریس و، یوه ډېره لویه او ځانګړې غونډه جوړه شوې وه، کارمل تر غونډې مخکې (عارف صخره) ته په شفاهي او خصوصي خبرو کې په ډېر غرور او افتخار سره دا خبره وکړه. "من افتخار میکنم که در افغانستان اولین شخص بودم که عضویت پر افتخار این سازمان نجات بخش (کې، جي، بي) را حاصل کرده بودم".

"جګړن ولادیمیر کوزیچ کین چې په ایران کې د افغانستان په ارتباط د کې، جي، بي مامور و د ۱۹۸۲ کال د نومبر پر ۱۱ نېټه یې له بي، بي، سي سره د یوې مرکې په ترڅ کې دی (کارمل) د کې، جي، بي یو لوړ رتبه مامور وباله"(۷) د همدغو روابطو نتیجه

وه چې دی په چکوسلواکیا کې د افغانستان له سفارت څخه په مخفي ډول مسکو ته بوتل شو.

د کې، جي، بي د جاسوسۍ ضد مشر تورنجنرال لوکین وايي: "کې، جي، بي کولای شول چې د ټولنو او افرادو په خصوصي او عمومي تاريخ کې بدلون راولي او د کماندو داسې افراد يې په واك کې وو چې د شوروي له پولو بهر هم په هر ډول تهاجمي او تروريستي عملياتو لاس پورې کړي، له همدې قطعې نه يوه ډله چې په مستعار نامه (زينت) يادېدله، د سفارت د ساتنې په پلمه کابل ته ولېږل شوه او د جنرال ويکتورپاپوتين قوماندې ته ورکړل شوه."(۸)

جنرال لياخوفسکي هم په خپل کتاب (د افغان مېړانه او غميزه) کې قدرت ته د کارمل د رسېدو او د جدي د شپږمې نېټې په باب ليکي: "که څه هم افغانستان ته د شوروي لښکرو د منظمو فرقو د لېږلو لپاره د دسمبر ۲۵ (د مرغومې شلورمه نېټه) ټاکل شوې وه خو يو شمېر ضربتي ټولګي د امين د وژلو لپاره مخکې په شوروي سفارت کې ځای پر ځای شوي وو. د دسمبر پر ۲۵ نېټه د کابل د خواجه رواش په هوايي ډګر کې د افغانستان د وسلوال پوځ ټول روسي سلاکاران پټ جرګه شول، همدلته دوی ته امر وشو چې د افغانستان پوځ دې خنثی او د شوروي لښکرو خلاف د جنګېدو وړتيا دې ترې سلب شي.

د (تاج بېك) په غونډۍ کې د امين د استوګنځي د نيولو عملياتو ته د (شتورم ۳۳۳) مستعار نوم ورکړ شو او مشري يې د کې، جي، بي د افسر باياربنوف پر غاړه وه. د همدې مقصد لپاره بګرام نه د جګړن خال بايف په مشرۍ او شوروي مسلمانو وګړو نه جوړ په اصطلاح (مسلمان کنډك) هم په دارالامان واټ کې ځای پر

ځای شو. د عملیاتو وخت د جدي د شپږمې نېټې د شپې لس بجې ټاکل شوی و، خو وروسته د شپې نهو او په پای کې د ماښام اوه نیمو بجو ته رالنډ کړای شو" د لیکوال په عقیده د دې تغیر علت دا و چې امین د کې، جي، بي د نقشې خلاف په زهرو مړ نه شو او په کار وه چې بې ځنډه د عسکرو په زور له منځه یوړل شي. لیاخوفسکي لیکي چې:"افغاني عسکرو سخت مقاومت وکړ او سره له دې چې درنډې وسلې یې (مشاورینو) له کاره غورځولې وې تر پایه د شورویانو خلاف وجنګېدل. حفیظ الله امین دخپلو دوو صغیرو زامنو او نورو خپلوانو سره یوځای ووژل شول. د دوی مړي د تاج بېك غونډۍ ته څېرمه په کندو کې تر خاورو لاندې کړای شول."(۹)

تورن جنرال لوکین وایي: "د مرغومې پر پنځمه نېټه د کې، جي، بي له مشر اندروپوف سره ناست وم چې له کابل نه د کې، جي، بي نماینده د امین د وژلو او د عملیاتو د بریالیتوب خبر ورکړ. اندروپوف احساساتي شو او ویې ویل چې کارمل ژر پیدا او د بیانیې متن ورته جوړ کړئ!"(۱۰)

"بیا له تاشکند راډیو نه د حفیظ الله امین د وژلو اعلان له یو اشنا ستوني نه راووت او دا اعلان د مفصلې وینا په ترڅ کې د هغه له خوا د تاشکند راډیو په څپو کې څو ځلې تکرار شو، چې وروسته یې خپلې غلطۍ ته پام شو، کابل راډیو یې قطع او خپله خپرونه یې د کابل راډیو په نامه کړله."(۱۱) "کله چې کارمل د امین له مرګ نه پوره ډاډمن شو نو د کې، جي، بي له مېلمستون نه له خپلو تښتېدلو ملګرو سره بېرته کابل ته راوستل شو او پر تخت کېنول شو. برژنیف او روسي مشرانو ده ته د یو تلګرام په ترڅ کې د بریالیتوب مبارکي ورکړه."(۱۲)



"د افغانستان د خلك دموكراتيك گوند د مركزي كميتې عمومي منشي، د افغانستان د دموكراتيك جمهوريت د انقلابي شورا ريس او صدراعظم ببرك كارمل د شوروي اتحاد د كمونيست گوند په شپږويشتمه كنگره كې د وينا كولو په وخت كې.

متن سخنراني ببرک کارمل در بیست ششمین کنگره حزب کمونیست اتحاد شوروی

رفيق گرامي ليونيد ايليچ بريژنف: رفقا و دوستان عزیز!

از همه اولتر اجازه دهيد تا بمناسبت دعوتيکه از هيأت نمايندگی حزب ما برای شرکت در کنگره حزب پر افتخار لنين کبير بعمل آمده است از صميم قلب ابراز سپاسگزاري نمايم.

رفقا و دوستان عزیز!

ما حامل صميمانه ترين و پر شور ترين شادباشها و سلام ها، احساسات پاک، دوستی و احترام عميق کميته مرکزی حزب دموکراتيک خلق افغانستان، تمام اعضای حزب و زحمتکشان افغانستان بشما و از طريق شما به تمام کمونستهای شوروی و به همه خلق کبير کشور شوراها هستيم."

کله چې کارمل د کابل پر تخت کېنول شو بیا نو ده په زغرده د شوروي پر دوستۍ او اړیکو ویاړ کاوه، ان دا چې د یوه محفل په ترڅ کې یې د ګرمو احساساتو په وجه خپل هر څه په ډاګه کړل.

نوموړی د روسپالنې په مینه کې دومره ډوب و چې ان دخپل زوی نوم یې (واستوك) ایښی و او د شوروي اتحاد دوستي یې تلپاتې او خلل نه منونکې بلله.

سره له دې چې ده د جدي ۶ نېټې پېښه (د انقلاب نوی بشپړتیايي پړاو باله) خو د دې پړاو په بري کې یې د شوروي له رول څخه په خپله پرده اوچتوله، ده به ویل: "هرگاه کمکهای بی شایبه و برادرانه اتحاد شوروی سوسیالیستی نمیبود انقلاب پیروزمند ثور وارد مرحله نوین خود نمیگشت و امروز نه تنها در افغانستان بلکه در منطقه یک فاجعه عظیم تاریخ رخ میداد."(۱۳)

نوموړی د ګران هېواد د ویاړونو، پرتمونو او رمزونو د ماضي پاڼې نه وې لوستلې، د هېواد ژوند، بقا او پایښت یې په "ستر شوروي اتحاد" پورې تړلي ګڼل. په سلګونو ځله به یې په رسمي او خصوصي غونډو کې دا خبرې تکرارولې چې "که د شوروي اتحاد د محدودو قواوو شته والی نه وای نو زموږ هېواد به د امپریالیزم خولې ته لوېدلی وای".(۱۴)

"در حالی که استقلال ملی کشور ما را خطر جدی ناشی از تجاوزات امپریالستی تحدید می کرد یکبار دیگر دوست بزرگ و

آزموده شده مردم افغانستان اتحاد شوروی در کنار ما قرار گرفت."(۱۵)

ده د خپل هېواد عظمت، غیرت او همت ته نه کتل، یوازې جغرافیایي حدودو او نفوسو د شمېر ځومره والي او ځینو مادي وسایطو یې د ذهن سترګې ورپټې کړې وې ځکه یې نو په خپلو خبرو کې خپل هېواد (ډېر کوچنی) او خپل دوست هېواد یې (ډېر لوی) معرفي کاوه.

"کمک بلا عوض خلقهای شوروی به مردم افغانستان نمونه برجسته است در مناسبات بین المللی در رابطه کمک حسنه یک کشور بزرگ و کبیر با یک کشور کوچک...".

ده زیات زیار ایسته چې د ژوند په ټولو چارو کې د شوروي اتحاد له تجربو او کړنو نه ګټه پورته کړي هغه که د افغاني ټولنې له ژوند چارو سره سمون خوري او که نه؟ دا نو بېله خبره ده خو دده هڅه دا وه چې د دوو بېلابېلو ټولنو ژوند هماهنګ وښیي او په اصطلاح د شوروي اتحاد له تجربو څخه استفاده وکړي، نو ځکه به یې په زیاتو غونډو کې د شوروي اتحاد پر تجربو ټینګار کاوه. د ښځو یوې غونډې ته د خبرو په ترڅ کې د دې تجربو یادونه او د ځوانانو یوې غونډې ته د دې تجربو د یادونې تر څنګ د شوروي اتحاد د ځوانانو د کمسمول له سازمان څخه منننه څرګندوي: "بشریت مترقی تجارب ارزشمندی در ارتباط با جنبش زنان اندوخته است در زمینه بیش از همه تجربه تاریخی

کشورهای سوسیالستی و در درجه اول اتحاد شوروی ارزش والا و بزرگی دارد".(۱۶)

"اجازه راکړئ چې د هېواد د ځوانانو د دغې سترې غونډې او پیوستون په کار کې د زړه له کومې د ښو او لویو بریالیتوبونو هیله وکړم او یو ځل بیا د سوسیالستي هېوادونو د ځوانانو د بین المللي سازمانونو په سر کې د شوروي اتحاد د لېنني کمسمول سازمان مخکښو استازیو ته خپلې مننې څرګندې کړم"(۱۷)

ده به تل د خپلو خبرو په ترخ کې پرځو خبرو باندې ډېر ټینګار کاوه. "د افغان شوروي دوستي او د انقلاب نوی پړاو"، ده په دې یادونو کې د افراط تر وروستي بریده ځان رسولی و. "اگر مرحله نوین انقلاب صورت نمی گرفت اکنون افغانستان در نقشه سیاسی جهان وجود نمیداشت"(۱۸) "دورنمای دوستی افغان شوروی خلل ناپذیر و خدشه ناپذیر است و از یک پیروزی به پیروزی دگر موج به موج به طرف تکامل و استحکام خود پیش میرود"(۱۹)

دی د جدي له ۶ نېټې وروسته شوروي ته د خپل سفر اهمیت داسې څرګندوي: "د ثور انقلاب د نوي پړاو له بریالیتوب څخه وروسته په بین المللی لحاظ زموږ لپاره ستره سیاسي پېښه هماغه شوروي اتحاد ته زموږ د ګوندي او دولتي لوړې رهبرۍ د هیئت سفر او په مسکو کې د افغانستان او شوروي اتحاد د خبرو بریالي سرته رسول وو. د دغو خبرو اهمیت د اوسنۍ شېبې د خبرو له چوکاټ څخه ډېر لوړ دی او ځینو برخو کې د دوه اړخیزو اړیکو له چوکاټ څخه هم لوړ ځي".(۲۰)



"ببرك كارمل د سياسي او علمي پوهې په خپرونه او د افغانستان د دموكراتيك جمهوريت او شوروي اتحاد تر منځ دوستانه اړيكو په پياوړتيا كې د خپلې برخې اخيستنې په وياړ د شوروي اتحاد سياسي او علمي پوهې د خپرولو د ټولنې لوړ مډال (واويلوف) ترلاسه كړ. عكس ببرك كارمل ته ددغه مډال د وركولو د مراسمو يوه ګوښه چې د شوروي اتحاد پوه باسوف له خوا وركول كېږي ښيي"

كه په پورته عبارت كې د (چوكاټ) كلمې ته ځير شو ډېرې سپورې ماناوې ځنې راوځي؛ په عادي ورځنۍ محاوره كې هم له (چوكاټه وتل) په منفي مانا كارول كېږي،خو ده د كلمو پر ځاى كارونې ته هم پام نه دى اړولى، هغه دوستي چې له چوكاټه ووځي نو طبيعي ده چې نور څه ترې راولاړېږي.

بله خبره چې كارمل د هغې په باب بېلابېل متضاد نظرونه څرګند كړي هغه د شورويانو د راتګ مسئله وه. سره له دې چې موږ پورته يادونه وكړه چې ده به ويل: "هرگا كمك هاى بى شايبته

و برادرانـه اتحـاد جمـاهير شـوروى سوسياليسـتى نميبـود انقـلاب پيروزمند ثور وارد مرحلـه نويـن خـود نميگشـت"(۲۱) خـو بيـا بـه هـم ده کلـه کلـه ويـل چـې شـوروي پوځيـان د افغانسـتان- شـوروي د ۱۹۷۸ کـال د دسـمبر او د ۱۳۵۷کـال د قـوس د ۱۴ نـېټې د تـړون پر اسـاس چـې دده پـه قـول د دواړو هېوادونـو د حکومتونـو تـر منـځ شوی و راغلي دي. کلـه بـه يې ويـل چـې د ملګرو ملتونـو د منشـور د ۵۱ مـادې پر اساس راغلي خو کله چې بـه پرې تـر هـېواد دننـه او بـهر انتقادونـه او فشـارونه لـه حـده زيـات شـول نـو بيـا بـه يې ويـل چـې دا خـو "اميـن راوسـتي"(!) دا خـبره ده هغـه وخـت کولـه چـې نـور نـو پـر خپـل بـري او د روسـانو پر بـري ورتـه شـك پيـدا شـوی و. د خپـل قـدرت پـر لومـړي کـال خـو يـې ځان او شـوروي اتحـاد يـو وجـود بالـه او دا ويـاړ(!) يـې چـا تـه نـه ورکـاوه او همـدا بـه يـې ويـل: "درايـن دوسـتي و در ايـن روابـط ميتوانيـم بگويـم کـه هيـچ قـدرت در جـهان اعـم از ارتجـاع سـياه، امپريـاليزم جـهانى، شـوونيزم چيـن و دگر نيروهـاى طـاغوتى هـرگز نميتواننـد کـوچکترين خدشـه وارد سـازند".(۲۲)

"زنـده بـاد دوسـتي خلـل نـاپذيـر جمـهوری دموکراتيـک افغانسـتان و اتحـاد شـوروی دوسـت و بـرادر جـاودان و هميشـه گی مـا"(۲۳)

د اسوشـتيد پـرېس خبريـال لـه ده څخـه پوښتنـه وکـړه: "قسـميکه جلالتمـاب شـما فرموديـد و قبـلاً گفتيـد کـه اميـن ايجنـت امپريـاليزم امريکـا بـود پـس او چـرا قشـون شـوروى را در افغانسـتان دعـوت کـرد؟"

ځواب: "حفيـظ الله اميـن ايجنـت امپريـاليزم امريکـا از اتحـاد شـوروى طلـب کمک قطعـات محـدود نکـرده بـود بلکـه ايـن کمـک بـه

اراده و تصویب نزدیک به اتفاق ارای شورای انقلابی جمهوری دیموکراتیک افغانستان صورت گرفته است."(۲۴)

دلته که له انقلابي شوری څخه مقصد د نور محمد تره کي "انقلابي شوری" وي د هغه په ژوند خو روسان رانغلل نو د هغه له مرګه وروسته روسانو د هغه ترون عملي کاوه؟ او که د امین د وخت له "انقلابي شوری" څخه مقصد وي نو دی خو خپله هغه ردوي چې امین نه دي راغوښتي.

بله عجیبه خبره دا ده چې راغوښتي هغه دي(!) خو قدرت ته يې دی ورساوه؟(۲۵)

د کارمل د ګوډاګیتوب او د هغه د منفي شخصیت په باب خورا زیات اسناد او لیکني خپرې شوي، خو موږ دلته دده د خپلو خبرو او څرګندونو يو څو بېلګې راوړو. ښه به وي چې له دې بېلګوداستې يوه بله بېلګه هم زیاته کړو چې دی يې واك ته رسولی و. له دې بېلګې څخه د کارمل د هراړخیز شخصیت څرنګوالی څرګندېږي. دا بېلګه په افغانستان کې د ټولو شوروي پوځونو د لوی پوځي سلاکار الکساندر مایوروف له خوا دههغه وايي:

"کارمل، نجیب او اناهیتا مصنوعي خلك، په لاس جوړې شوي څېرې دي، مایوروف وايي: [يوه ورځ اناهیتا له جنرال ګل آقا سره زما لیدو ته راغله او راته يې وویل چې کارمل ناروغه دی او هیله لري له تاسو سره وګوري] زه د کارمل لیدو ته لاړم.

د ارګ په خوله کې د ببرك يوه ډېر دنګ یاور چې رتبه يې ډګروال وه زما هرکلی وکړ. دی لږ په روسي هم غږېدلی شو:

- د کتابتون شاته خونه کې ستاسې انتظار کوي.

په هر پوړ کې ساتونکي وو: زموږ څلور کوماندویان او سربېره پر دې په هر کنج کې دوه دیسانت ساتونکي. (تره کي او

امین هم پوره ساتونکي درلودل خو د بل په لاس له مړینې بچ پاتې نه شول).

او دا دی د ده دفتر. له څېړې جوړ عجیبه غونډې موبل (مېز او څوکۍ) نظر مې پر هغې پردې ونښته چې د استراحت ځای یې له دفتر نه جلا کاوه او لکه چې ماته وبرېښېده لږه نیم کښه شوه. لکه چې ملګری "او" زما په شك پوه شو. ببرك خپل رېږدېدلي لاسونه پورته نیولي وو او په چټکۍ زما خواته رانږدې کېده غبرې یې پرانستله او په چغو چغو یې غتې اوښکې راتویې کړې.

- شوروي، شوروي... تواریش (ملګری)... - دایې وویل او ژړل یې پرده بیا له ځایه وخوځېده او بیا پرې زما نظر ورپرېوته او ملګري "او" هم یو ځلې بیا خو دا ځل په ټینګار سره زما د نظر مخه ونیوله.

- شوروي، شووري... ته- ته- تو- تواري- تواریش، - دولت مشر همدا خبرې غبرګولې.

او ملګري "او" څرګندونې راته وکړې:

- هغه غمجن دی... د مزار شریف غمیزه... کندهار... هغه ډېر غمجن دی.

ببرك له ما نه ځان خلاص کړ، چټك یې له مېز نه د "سیمرفوف" شرابو بوتل راواخیسته او په بیړه یې راواړوه: څنګ ته، څه پرځمکه او څه پر مېز له تویولو وروسته یې درې کرستال ګیلاسونه ترې ډك کړل.

- شوروي- شوروي، ته- ته وا- ریش... دا وایې او ګیلاس په لاس (مننه- په ناسم روسي تلفظ. سم یې سپاسیبو دی (د.ج)...

کله مې دا فکر هم کړی و چې داسې له شرمه ډکه پېښه به ګنې په خپلو سترګو وینم؟ اوس له کلونو وروسته کېدی شي سړی

پر هر هغه څه وخاندي خو هغه وخت هرڅه خورا جدي وو. که څه هم پوهېدم چې ښايي د ېر څه رانه واخيستل شي، خو بيا مې هم سل زړونه يو کړل او ملګري "او" ته مې غوږ او په ډانګ پيبلي وويل: تولـه پـړه زه په خپلـه غاړه اخلم. هر تکى مې ورته رسا وژباړه:

- "زه ستر جنرال مايوروف دافغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې لوی پوځي سلاکار تاسې ببرك كارمل په ټينګه د شرابو له څښلو منع کوم او ټينګار کوم چې سملاسي له دغه كار نه لاس واخلئ".

د ملګري "او" رنګ سپين تښتېدلى او چوپ دی.

- امر کوم چې سملاسي ورته دا خبرې ووايه.

ملګري "او" لکه مخکې هسې چوپ دی ته به وايې خپله ژبه يې خوړلې ده دلته مې نو بيا خپله خبره او دا ځل ډېره کلکه راغبرګه کړه:

ملګري "او" تر شونډو لاندې وبونګېده. پرده يو ځلې بيا نيم کښه شوه. اوس نو زه په يقين سره پوهېدم او زړه مې هم دا راته ويل چې هلته اناهيتا ناسته ده...

- شوروي... شوروي....

ملګري "او" ته مې امر وکړ:

- او اوس ژر د ټينګ چای غم وخوره.

چې کله هغه ووت نو ببرك د ښښې په نظر زما سترګو ته وکتل او په مينه ناکه ژبه يې وويل: - سپا- سى- بو... پژالايسته... سپا- سيى- بو... او بيا يې په خپل ربړېدونکي لاس پر ګيلاس بريد وکړ.

- نه!

- هو، هو... سپاسی بو.

زه پرې ورسور شوم:

- ن- نه!

په دې کې ملګري "او" پتنوس په لاس راننووت. په پتنوس کې چاینك او پيالې وې الحمدلله: هغه وخت د چارو واکې بشپړې زما په لاس کې وې. باید په دغه شېبه کې ببرك مونبل شوی او مات شوی وای... هغه تريو او په غوسه و، خو بیا یې هم چای وڅښه.

له لږ انتظار وروسته مې يو ځلې بيا ملګري "او" ته امر وکړ چې خبرې مې ټکي په ټکي وژباړي داسې چې هر ټکی یې سم تلل شوی وي او د دولت رئیس یې په مفهوم پوه شي. ما وويل:

- ملګری د ا.خ.د.ګ، د مرکزي کمېټې عمومي منشي او د افغانستان د دیموکراتیك جمهوريت د انقلابي شورا رئیس تاسې خبر یاست چې په هر ولايت کې دجګړې اور بل دی. هېواد په اور کې سوځي. سلګونه افغان او شوروي عسکر مري...

ملګری "او" زما خبرې ژباړي، ببرك سر خوځوي او دا ټکي بیا بیا وايي:

- شوروي- شوروي... سپاسی بو... سپاسی بو...

او بيا مې لکه چې د هغه پر شرابي سر د تبر ګوزار کړی وي په ټينګ غږ وويل:

- او تاسې دا دی دويمه اووه نۍ ده چې... وژباړه! پر شراب څښلو بوخت یاست او هېڅ پرېکړې...

ببرك ټوپ کړ، ځمکه یې په پښو ووهله، چيغې یې کړې... او د ملګري "او" شونډې شنې شوې، لاسونه یې ورپېدل او په زاريو کېوت:

- هیله کوم...

- تکي په تکي ورته وژباړه: که دی، ببرك کارمل، همدا نن له شرابو څښلو نه لاس وانخلي نو زه به یوري اندروپوف او دیمتري اوستینوف ته خبرورکړم او هرڅه به په پای کې لیونید بریژنف ته ورسېږي. وژباړه! او بله دا چې- خو دا تاته وایم له دې ځایه به داسې والوزي چې خدای خبر چېرته به ځمکې ته راکوز شي...

ببرك ټولې خبرې واورېدې، وروسته چوپ او پوه شو چې خبره چېرته ده، دروند- دروند راپاڅېده، ماته ښه رانږدې شو، سترګې یې نمجنې وې.

شوروي- شوروي ... سپاسی بو، سپاسی بو...

او بیا پرانستې غبږ، درانده، درانده لاسونه،خو ورسره ورسره په کې د لږې هوسایی نښې وې ببرك او ساد چې ته کوم څه ویل او هغه وژباړل:

- دی پوښتنه کوي چې څه وکړم. هغه د اپریل (ثور) انقلاب لپاره هرڅه ته چمتو دی... ژوند ترې ځارولی شي... هرهغه څه به وکړي چې ملګري بریژنف، اندروپوف، اوستینوف، ګرومیکو... یې ورته ووایي.

- وژباړه... فکر کوم د اوس لپاره باید دی همدا سبا د کابل پر ټلویزیون وینا وکړي. د هېواد حالاتو او د انقلاب د بریاوو په ساتنه کې له دښمن سره د وسله والې مبارزې د بریالیتوبونو په اړه دې وغږېږي د شوروي اتحاد د دوستی او پوخ په اړه دې خبرې وکړي ملګري ببرك خو تجربه لرونکی سیاستوال دی. انقلابي دی، ژور نظریه جوړوونکی دی، مارکیسست- لیننست دی او پوهېږي

چې خپلو هېوادوالو ته څه ووايي او څنګه يې ووايي. د ببرك مخ وغوړېده- د چا غوږې خبرې نه خوښېږي؟

دويمه او بستيزه خبره بايد عسكري چونيو ته ورشي. له قوماندانانو، د تېرونو له مشرانو او د ولايتونو له واليانو سره وګوري. زموږ اټكل دى چې دغسې يوه غونډه د جلال آباد په سيمه كې جوړه كړو. هلته به حالات راكابو كړو. اووه- اته ورځې وروسته به هغه ځاى ته د الوتنې امكان وي. دا خبرې منې؟

ته به وايې ببرك په هوا دى:

سپا- سى- بو، پژالاى- ستا، سپا- سى- بو... او بيا يې پخپله ژبه هم يو څه وويل.

او ملګري "او" يې ژباړي:

دى له ټولو هغو څيزونو سره چې تاسې وړاندې كړل، موافق دى هرڅه به د ثور د انقلاب د دفاع او له شوروي اتحاد سره د دوستۍ لپاره ترسره كړي.

ملګرى عمومي منشي زما خبرې پايته ورسېدې. له كتنې او كاري خبرو نه مو مننه كوم.

ښايي دا ځل هسې په نظر راغله او ښايي نه- پرده بيا نيمكښه شوه.

ما او ببرك دمخه ښې غېږ سره وركړه او زه ترې ووتلم.

په ژوند كې مې احمقان، لټان او شرابيان نه خوښېدل. او دلته دا ټول صفتونه په يوه كس كې راټول شوي وو. او دا سړى بيا ګوندي لارښود او د دولت مشر و! له ارګ نه بېروحه راووتم. زه پوهېدم چې څه ناولې او خبيثه پېښه شوې ده."(۲۶)

درانه لوستونكي چې د مايوروف دا پورتنى متن په دقت سره ولولي د كارمل د شخصيت زياتې ځانګړنې به ورته څرګندې شي.

د افغانستان د معاصر تاریخ دې توري او ذلیلې خبرې په پای کې د خپل بادار په غېږه (مسکو) کې ساه ورکړه او مړی یې د افغانستان د بلخ ولایت د حیرتانو په سیمه کې خاورو ته وسپارل شو، خو د افغانستان سپېڅلې او غیرتي خاورې د ډېر وخت لپاره ونه شو زغملای او تر یوه تاکلي وخت وروسته د ځینو په قول کله چې د طالبانو د اسلامي تحریک سرتېري سیمې ته ورسېدل نو د ده مړی یې له قبره راوویست او د امو په دریاب کې یې گوزار کړ، د امو دریاب هغه له خپلې تولې کرغېړنې ماضي او بدرنگیو سره د خپلو اوبو تل ته بنکته کړ او په دې ډول د تاریخ یوه توره خېره د تل لپاره د تورو اوبو په تل کې ورکه شوه.



کارمل د مرگ پر مهال

# اخځونه


۱- وفا جریده، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۲ل کال، کال ګڼه.

۲- ۱. هارون،داود خان د کې، جي، بي په لومو کې، پېښور، ۱۸۵ مخ.

۳ پوهاند محمد حسن کاکړ. رنا او دفاع، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز. پېښور، ۱۳۷۷ کال، ۱۵۶ مخ

۴- پلوشه جریده، کابل، ۱۳۷۴ل کال، ۳ ګڼه.

۵- ډیوه لندن، ۱۹۹۵کال، د لیندۍ ګڼه، ۱۸ مخ.

۶- پوهاند محمد حسن کاکړ، رنا او دفاع، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۱۶۰- ۱۶۱ مخونه.

۷- ا. هارون، هماغه اثر، ۱۸۶ مخ.

۸- پورتنی اثر، ۱۸۳ مخ.

۹- ډیوه، لندن، هماغه ګڼه، ۱۷ مخ.

۱۰- ا. هارون، هماغه اثر، ۱۸۳مخ.

۱۱- // // ۱۸۴ مخ.

۱۲- وفا جریده، ۱۳۷۴ل کال، ۴۷-۴۸ ګڼه، ۹ مخ.

۱۳- د افغانستان کالنی، کابل، ۴۵-۴۶ (۱۳۵۸- ۱۳۵۹ل کلونه) ګڼه، ۱۵مخ.

۱۴- پورتنی اثر، ۱۱۷ مخ.

۱۵- // // ۱۸۹ مخ.

۱۶- //　　　　// ۲۱۹ مخ.
۱۷- //　　　　// ۲۱۲ مخ.
۱۸- //　　　　// ۲۸۳ مخ.
۱۹- //　　　　// ۳۱۶ مخ.
۲۰- //　　　　// ۲۸۷ مخ.
۲۱- //　　　　// ۱۵ مخ.
۲۲- //　　　　// ۴۳۳ مخ.
۲۳- //　　　　// ۴۵۶ مخ.
۲۴- //　　　　// ۳۲۵ مخ.
۲۵- وفا جریده، ۱۳۷۴ل کال، کال گڼه، ۱۸ مخ.
۲۶- ستر جنرال الکساندر مایوروف، په افغانستان کې ربښتیا څه تېرېدل، د داود جنبش ژباړه، ۱۲۱- ۱۲۷ مخونه.

# پرچمـواکي: پښتو او پښتانه

روســانو د خپلـو هیلـو د پـوره کولـو لپـاره پـه ډېرو ټولنـو کــې د لــږکیو (اقلیتونـــو) لــه اســتعمال ســره ډېره مینــه درلـــوده، د خپــل بریـالیتوب راز یـې پـه همـدې کـې لـټاوه. دوی فکـر کـاوه چـې لـږکي لـه سیاسـي پلـوه بـې ثباتـه وي، ژر اسـتعمالېږي او (د خـوړو ترخـو) زور تـه ژر غـاړه ږدي، نـو ځکـه یـې پـه افغانسـتان کـې لـه عامـه ذهنیـت نـه پـټ یـو نـامعلوم او د قومـي هویـت لـه پلـوه یــو نـاڅرګند شــخص (ببـرك کــارمل) د خپلــو هیلــو د پــوره کولـــو لپـــاره وروزه. څرنـــګه چـــې دافغانســتان اکـثریت ټولنـه لـه پښتنـو نـه جـوړه وه نـو پـرده یـې هـم د پښتـون ماسـك وواهـه او یـو کشـمیری مـهاجر شـخص یـې د (پښتـون) پـه نامـه معرفـي کـړ، خـو د قلـم قـاوندان او ځیرمـن سیاسـي اشـخاص پـر

دې خبرې ډېر ښه پوهېدل. کله چې کارمل قدرت ته ورسول شو، نو نه ده او نه دده بادارانو له پښتو ژبې او پښتنو سره خپله دښمني پټه کړه. د شوروي کمونيست دربار ته نږدې ليکوال او دببرک کارمل نږدې شخصي او عقيده يي دوست (اوليانوفسکي) دا خبرې په ډاګه څرګندې کړې: "مونږ څکه افغانستان ته لښکرکشي وکړه چې د اکثريت (پښتنو) ديکتاتوري ختمه او دولتي ځواک اقليتونو ته انتقال کړو"* د اوليانوفسکي په قول کله چې دولتي ځواک اقليتونو ته انتقال شو، نو د کارمل پر شاوخوا يې په زياته کچه (تاجك) اقليت او ځينې نور واړه لږکي ورټاو کړل.

سم لاسي ورسره "رژيم هاى فاشيستي گذشته"، "مليت هاى برابر و برادر"، "اقليت هاى ستمديده و محروم"، "اقليت هاى برپاخاسته" او نورې... نومونې هم دود شوې.

اکثره خپرونو په ځانګړي ډول ورځپاڼې او جرېدې که په فارسي ژبه وې، هغه خو پر خپل ځاى پاتې شوې او که پښتو وې هغه په فارسي واړول شوې او پښتو د ژباړې يا ترجمې ژبه شوه. په لومړي سر کې زيات خلك پر دې رمز نه پوهېدل څکه چې د روسانو يرغل د عامه ذهنيت سترګې نيولې وې، خو وروسته وروسته ډېر خلك پر دې وپوهېدل چې روسانو څنګه د افغانستان د اکثريت قوم پر ضد خپلو ناوړه هلو ځلو ته دوام ورکاوه. روسان په دې فکر کې وو چې پښتانه د هند سمندر ته د رسېدو په لويه لار کې د يو ځواکمن قوم په توګه پراته دي نو که چېرې دوى منسجم وي، د يو

---

* اوليانوفسکي د شوروي د کمونست ګوند تيورسن و. ده په خپله رساله کې چې (در باره حقيقت انقلاب ثور) په نامه ترجمه شوې وه دا څرګندونې کړې دي. نوموړې رساله دبيهقي د کتاب خپرولو موسسې خپره کړې وه او له يوه ټاکلي وخت وروسته بېرته ټوله شوله.

محکم او بډای فرهنګ خاوندان وي نو د هند بحر ته د دوی د رسېدو په لار کې اساسي خنډ ګرځېدی شي، نو ځکه یې د پښتنو د پاشنې، تجزیې، کمزورۍ، د فرهنګي ارزښتونو او ټولنیزو بنسټونو د له منځه وړلو ماهرانه هلې ځلې پیل کړې. دا هڅې د روسي مشاورینو په لارښوونه او د کورنیو ناپښتنو لوبغاړو په مرسته ترسره کېدې، یو وخت یې د دولت ټولې ساحې ونیولې، خو په لاندېنو برخو کې زیاتې منسجمې وې:

**۱- په نشراتي او خپرنې برخې کې:** لکه چې یادونه وشوه د کارمل له راوستو سره سم د دولت په خپرنې پالیسۍ کې یو ځرګند بدلون راوستل شو. اکثره ورځپاڼې لکه هېواد، انیس او نورې چې تیراژ یې لسګونو زرو ګڼو ته رسېده په فارسي واړول شوې او د دې ترڅنګ "حقیقت انقلاب ثور" ورځپاڼه په ډېر لوړ تیراژ سره هم بشپړه په فارسي ژبه خپرېده. "حقیقت سرباز" او دې ته ورته د ځینو نورو خپرونو څرنګوالی هم دا ډول و. دا ورځپاڼې به له فارسي ژبې څخه په پښتو ترجمه کېدې او بیا به چاپېدلې. داسې هم شوې چې د هرې فارسي ورځپاڼې او بیا د هغې د پښتو اېډېشن تر منځ څو ورځې واټن و. په داسې حال کې چې ورځپاڼه باید پر همغه ورځ چاپ او ووېشل شي. داسې هم لیدل شوي چې فارسي برخه په ښار کې وېشل شوې او بیا څو ورځې وروسته یې پښتو چاپ شوې ده. دا پښتو برخه یې بیا نه چا ته ښوولې او نه یې وېشله دا ځکه چې دوی خو "کابل د فارسي ژبو ښار"(!) ګاڼه او د پښتو ورځپاڼو د وېش ضرورت یې هسې یو عبث کار(!) باله. هغو ولایتونو ته چې ټول په کې پښتانه استوګن وو، هغو ته هم دا اخبارونه نه رسېدل او د پښتو اخبارونو پر ځای فارسي اخبارونه استول کېدل. یو وخت له ننګرهار نه رسماً په دې برخه کې "د خلکو ډیموکراتیک ګوند"

مرکزي کمېټې ته اعتراضليك راغی، خو بيا هم چا ددې خبرې غم ونه خوړ. له دې پرته د پښتو او فارسي ايډېشنونو په تيراژ کې هم ډېر زيات توپير موجود و. د ساري په توګه (درفش جوانان) يوه اوونيزه وه چې په ٨ او کله هم له هغو نه په زياتو مخونو کې يې په ډېرو زياتو امکاناتو سره د "ځوانانو ډموکراتيك سازمان" د مرکزي کمېټې د ارګان په توګه نشرات کول. په يو وخت کې له فارسي ايډېشن څخه پښتو برخه ٨ ګڼې (دوه مياشتې) وروسته پاتې وه. د فارسي ايډېشن تيراژ ٥٨ زره ګڼې خو پښتو تيراژ يې ٨ زره ګڼې وې.(٢)

ددې خپرونو اکثره پښتو برخه په پوره ډول نه وېشل کېده، له چاپ وروسته به يې اکثره ګڼې ګودامونو کې ساتل کېدې او بيا به وروسته دَ قصابانو او دکاندارانو لاسته ورتلې.

له دې کارونو څخه د دوی هدفونه دا وو چې له يوې خوا به پښتو د ژباړې ژبه شي او دا خو د يوه ژبپوه په وينا څرګندونه خبره ده چې "ژباړه د ژبې پښتې ماتوي" نو دوی په دې نيت چې پښتو ژبې ته يې زيان اړولی وي او تل يې د فارسي تر اغېز او نفوذ لاندې ساتلې وي دا کار کاوه.

دغه راز په دې چار سره په هېڅ توګه پښتون ليکوال ته ددې چانس نه پيدا کېده چې هغه دې مستقيماً او نېغ په نېغه په خپله په اول لاس ورځپاڼې ته مطلب وليکي. نو له عادي ژورنالستيك مطلب نه نيولې تر لوړ تخليقي مطلب پورې هر څه بايد لومړی فارسي وای او بيا په پښتو ژباړل شوي وای. ځکه نو يوازې فارسي ژبي ليکوال ته د ودې لاره چاره برابرېده او هغه مادي امتياز چې له دې خپرونو څخه تر لاسه کېده، هم د هغوی لاسته ورته. پښتون ليکوال ته د غوړېدو لږ امکان برابرېده، پښتون کولای شول يوازې ژباړن شي. د

ژباړې لـه مخـې هـم ددې اخبـارونو او خپرونـو کيفيـت ډېر خـراب و ځکه چې داسې ژباړونکي ورتـه ټاکـل شـوي وو چې نـه يـې پـه دې برخـه کـې پوره علمي لاس درلـود او نـه د کـار ډېرښت دې تـه پـرېښودل چـې دوی دې کـره، ذوقـي او درسـته ژبـاړه وکـړي. هـر ارګان او خپرندويـې موسسـې چې ګډ نشـرات کـول د فارسـي ژبـې برخـه پـه کـې لـه ورايـه ډېره زياتـه درنـه معلومېده. "د ځوانـانو ډيموکراتيـك سـازمان" چـې د فريـد احمـد مـزدك تـر مشـرۍ لاندې يـې سـتمي او کمونيسـتي فعاليتونه کـول پـه يـوه وخـت کـې پنـځه عنوانـه (درفـش جوانـان اوونـيزه، محصـل امـروز [جوانـان امـروز] مجلـه، سـتوری جريـده، پيشـاهنګ (مجلـه) چـې دوه وروسـتۍ يـې "د مخکښانـو سـازمان" خپرونـې وې، وروسته کلونو کې يې "قبايلي ځلميـان" پـه نامـه يـو ځلور مخيزه پنځه لـس ورځينۍ پښتو جريـده هـم خپرولـه. پـه دې کـې "درفـش جوانـان" جريده لومړی فارسي او وروسته بيـا پـه ناسـمه پښتـو ژبـاړه کېدلـه او لـه ډېر ځنډ او وقفـې وروسـته خپرېده، د سـتوري، پېشـاهنګ او د جوانـان امروز، پـه خپرونو کـې پـه سلو کـې لـس برخـې پښتـو وه.

دغـه راز فريـد احمـد مـزدك د خپلـې واکمنـۍ پـه دوره کـې پـه سـلګونو عنوانـه بېلابېل سياسـي، عقيـده يـي، ذوقـي او نـور کتابونـه د همـدې سـازمان لـه لارې چې تيراژ يـې لکونـو ټوکـو تـه رسـېده خپـاره کـړي دي، خـو پـه دې اکـثرو کـې د دوی لـه خپلـې تـګلارې (اساسـنامې) او ځينـو نـورو محـدودو کتـابونو پرتـه نـور ټول پـه فارسـي ژبـه وو. "د ځوانـانو سـازمان" د يـوه کـارکوونکي پـه وينـا "زمـوږ د يـو ټاکلـي وخـت د ۱۳۰ عنوانونـو خپرو شـوو کتـابونو لـه جملـې ځـه يـو عنـوان کتـاب پښتـو و."(۳)

کـابل پوهنتـون د پـرچمواکـۍ پـه بـهير کـې ګڼ شـمېر ليکنـې، رسـالې، لکچرنوټونـه، درسـي کتابونـه او نـور مسـتقل آثـار خپـاره

کړي، چې په مجموعي ډول يې شمېر له لسګونو عنوانو او زرګونو ټوکو څخه زياتېږي. په دې کتابونو کې د پښتو ځانګې له لکچرنوټونو، يو شمېر درسي کتابونو او د ځينو سيمينارونو له پښتو کتابونو پرته نور اکثره په فارسي ژبه خپاره شوي دي. دغه راز کله چې "پرچميان د قدرت پر کرسۍ کېنول شول نو لومړی کار يې دا و چې د پښتو فلمونو ريکلامونه يې وشکول. دوی استدلال کاوه چې په دغو فلمونو کې (بې حيايي) وه او بل دا چې د دښمن هنرمندانو جوړ کړي وو. دا خو هسې يوه پلمه وه، دوی کولی شول د فلمونو ځينې برخې سانسور کړي خو د دوی اصلي مقصد دا و چې د پښتو فلمونو بازار سوړ کړي او بل دا چې په ځينو فلمونو کې د انګرېزانو په مقابل کې د پښتنو جهاد تمثيل شوی و... روسان پوهېدل چې اوس د دوی پر ضد جهاد روان دی تر کومه چې د بې حيايي خبره ده پرچميان د ايراني، عربي نڅاوو په ښودلو او په تلويزيون کې د افغاني نجونو په نڅولو سره په خپله د بې حيايي تشويق کوونکي وو." (۴)

د افغانستان يو نوميالی پوه کانديد اکادميسين محمد صديق روهي ليکي:

[پرچميانو د "مليتونو" په نامه مساله وپړسوله او داسې يې ښودله چې په افغانستان کې د "مليتونو" مساله د شوروي اتحاد د مليتونو له مسالې سره هېڅ توپير نه لري. دوی غوښتل د قومونو تر منځ د برابرۍ د اصل پر اساس د اکثريت او اقليت طبيعي توپيرونه په عادلانه توګه له منځه يوسي. د مثال په توګه پښتو (ژوندون) د کتونکي ډلې (هيئت تحرير) په غړو کې له پښتنو سره بايد د تاجيك اوزبك، بلوچ، پشه يي قومونو غړي هم ټاکل شوي وای که څه هم هغوی د پښتو مقالو د ارزيابۍ صلاحيت نه درلود ځکه چې په

پښتو چندان نه پوهېدل. همدارنګه خارج ته د هيات لېږلو په برخه کې به يو پښتون، بل تاجيك، بل هزاره، بل ترکمن او داسې نور په مساوي تعداد ټاکل کېدل. که څوك به له بهر څخه يوې موسسې ته ورتلل نو د هغه شخص نوم او "مليت" به يې ليکه او له چا سره چې به يې کار و د هغه نوم به يې هم ليکه. زه په لومړي سر کې د دې خبرې په منطق نه پوهېدم. وروسته راته معلومه شوه چې دا يو ډول جاسوسي وه. که کوم پښتون ته به چې زيات کسان ورغلي وو هغه به د ګوند د مشرتوب له خوا تر تهديد لاندې نيول کېده او يا به په مرموزه توګه تنزيل ورکول کېده.

پرچميانو کوښښ کاوه چې په مختلفو بهانو د "مليتونو" له نامه څخه په ناوړه استفاده د يو ډول تجزيې زمينه برابره کړي. يو ځل يې افغاني بدخشان د تاجيکي بدخشان تر قيموميت لاندې راوست. يو ځل يې د شمال لس ولايتونو ته انکشافي پروژې منظورې کړې. د سياسي بيرو يو تن غړي په يوه محفل کې ويل چې په دغو نوموړو لسو ولايتونو کې به سوسياليزم راشي او د افغانستان په جنوب کې به ډيموکراتيك جمهوريت وي. د شمال سوسياليستي جمهوريت به د جنوب ډيموکراتيك جمهوريت لپاره يوه پشتوانه وي. همدارنګه دوی د "غرجستان" په نامه هم کومه نقشه درلوده خو د عملي کولو فرصت يې ونه موند ځکه چې رژيم د سقوط ګړنګ ته نږدې شوی و. په دې لړ کې يوه جالبه قصه دا ده چې په بلغاريا کې د روسانو په سپارښت داسې نقشه چاپ شوې وه چې افغانستان يې د شوروي د شپاړسم جمهوريت په توګه ښودلی و.

د پرچميانو د حکومت په دوره کې د پښتنو پر ضد سپکې سپورې په کتابونو او نورو خپرونو کې پيل شوې.

نور شخصیتونه خو پر ځای پرېږده چې حتی احمد شاه بابا او وزیر اکبر خان هم تحقیر شول او هغه هم په دې سبب چې هغوی پښتانه وو. احمد شاه بابا یې له چنګېز خان سره مقایسه کړ او وزیر اکبر خان یې د انګرېزانو ګوډاګی وباله، پښتانه یې د خراسان اشغالګران وګڼل. په دې وخت کې یو داسې تیسس منځته راغی چې ګویا پښتانه، د سلیمان له غرونو څخه، شمال ته راغلي او خراسان یې چې د تاجیکانو او هزاره ګانو اصلي وطن و اشغال کړ او د هغوی فرهنګ یې له منځه یوړ. پرچمیانو دغه تیسس ته رسمیت ورکړ او په پوهنتون کې یې تدریس کاوه. البته دغه تیسس په غلطه توګه طرح شوی دی.

پښتانه له اسلام نه مخکې د افغانستان په شمالي سیمو کې آمو دریاب ته نژدې اوسېدل. د اروپا مشهورو پوهانو لکه جمیز دارمستتر، ګایګر، امیل بنومینیست، مارګن سترن او نورو دا خبره ثابته کړې ده چې پښتو ژبه له اوستا، پامیري ژبو، خوارزمي او اسیتي ژبو سره د فارسي ژبې په نسبت ډېر نژدېوالی لري او په لرغونو زمانو کې باید پښتو له اوستا، پامیري ژبو او نورو خوېندو ژبو سره یو ځای اوسېدلې وي. په دې حساب پښتانه په افغانستان کې نه د مهاجر حیثیت لري او نه د مهاجم، بلکې د دې هېواد پخواني اوسېدونکي دي. البته کوم وخت چې پښتانه له دغه ځایه لېږدېدلي دي، د دوی ځای تاجیکیانو اشغال کړی دی. پرچمیان په دې خبره نه شرمېدل چې د روسانو پر ځای پښتانه د افغانستان اشغالګران وبولي."(۵)

استاد روهي زیاتوي "ما یوه ورځ د څو تنو په مخکې یوه غټ پرچمي ته وویل: تاسې څنګه اجازه ورکوئ چې په کابل پوهنتون کې داسې کتاب تدریس شي چې هېڅ علمي ارزښت نه لري خو یوازې

په دې خاطر تدريس کېږي چې پښتنو ته ښکنځل پکې راغلي دي. د مثال په توګه پوهاند جلال الدين صديقي ليکي چې "پښتانه قبايلي خلک دي او قبايل ننګ او ناموس نه پېژني" البته واقعيت د دې په خلاف دی، پښتنو ته له ناموس ساتنې څخه بل شی زيات ارزښت نه لري او دا يو څرګند حقيقت دی او يادا خبره چې پښتانه ننګ او ناموس نه پېژني، کوم علمي ارزښت لري؟

همدارنګه دا خبره به څوك ومني چې پښتنو کې څوك شريف واکمن نه دی تېر شوی او که امير امان الله خان څه ښه صفتونه درلودل علت يې دا و چې اصيلو تاجيکانو روزلی و. ايا دا خبره علمي بنياد لري چې په يوه قوم کې دې هېڅ بد سړی نه وي تېر شوی او په بل قوم کې دې ټول خلك بد وي؟ ده په ځواب کې ويل: "زه پوهاند جلال الدين صديقي ته په دې درناوی کوم چې تر اوسه پښتنو ته څه ويل تابو (ممنوع) ګڼل کېدل خو ده د لومړي ځل لپاره پښتانه د تقدس له حريم نه راوايستل او د دوی غرور يې ورمات کړ."(۶)

. همداراز پرچميانو په بېلابېلو موسسو او مهمو فرهنګي بنسټونو کې د پښتنو او د هېواد د ملي فرهنګ او سياسي جوړښت پر ضد بېلابېلې ډلې جوړې کړې او بيا يې دا کسان د زيات واك او اختيار خاوندان کړل. دا ډلې او ګروپونه په کابل پوهنتون، د بهرنيو چارو وزارت، راډيو تلويزيون، د ژورناليستانو، ليکوالو، هنرمندانو انجمنونو، د ټولنيزو علومو په انيستيتوت، "د ځوانانو سازمان" په مرکزي کمېټې، "د خلق ډيموکراتيك ګوند" په مرکزي کمېټې د يونيسکو په سازمان، په ګڼ شمېر خپرنيو ارګانونو، "د ښځو سازمان"، د ځوانانو کادرونو په انستيتوت، د هېواد د شمال په ځينو ولايتونو، په دولتي امنيت (خاد) وزارت او رياستونو او

نورو ګڼ شمېر ځايونو کې پر ناوړه فعاليت مصروف شول، خبره تر دې راورسېده چې په ډاګه يې خپروني کولې، ځينو يې شپې پاڼې (شبنامې) او ځينو يې له ګړني تبليغ سره ناوړه ليکني تبليغ ته هم ادامه ورکوله. د دې ډلو مرکزي کرکترونه چې عملاً يې ليکنې او ويناوې ليدل شوي او ډېر زيات دې مسايلو ته اړم وو دا دي: لومړی کټګوری: محمود بريالي، اناهيتا راتب زاد، فريد احمد مزدك، نجم الدين کاوياني او ځينې نور. اناهيتا خو يو وخت دومره سپين سترګې شوې وه چې يوه ورځ يې له خولې څخه په ډاګه پښتنو ته سپکې سپورې راوتلې وې، له پښتنو سره يې ورځ په ورځ کينه زياتېده، خو له پرديو سره مينه. په افغانستان کې د شوروي ځواکونو سلاکار ستر جنرال الکساندر مايوروف په خپل کتاب (په افغانستان کې رښتيا څه تېرېدل) کې د هغې په باب ډېرې څرګندونې کوي، او وايي کله چې به يې له ماسره کتل، نو په انګلستان کې ګنډل شوې خړه ځلانده دريشي به يې اغوستې وه، د فرانسوي عطرو نرۍ نرۍ وږم به ترې ته، له موږ سره يې اړيکې دومره نږدې شوي وو چې ان زما مېرمنې سره خورلنډ شوې وه، دی په خپل کتاب کې د نوموړې د اخلاقي کمزوريو په باب يو لړ څرګندونې هم کوي چې زه يې دلته له راوړلو ډډه کوم. د زياتو معلوماتو لپاره همدا ياد شوی اثر ولولئ.

د لومړۍ کټګورۍ کسانو بيا دې دويمې کټګورۍ خلکو ته دستور ورکاوه چې دا لاندې کسان يې مشهور وو: پوهاند جاويد، اسدالله حبيب، داود کاويان، ظاهر طنين، جلال رزمنده، نورالله تالقاني، جلال الدين صديقي او ځينې نور. دوی بيا په خپل وار نورو ارګانونو او اشخاصو ته دا نظريات رسول. ان تر دې چې يوه ورځ محمود بريالي د بهرنيو چارو وزارت د کنفرانسونو په تالار کې داود

کاویان ته په ډاګه وویل: "رفیق کاویان اعلان کو (کنید) که زبان رسمي کنفرانس ما دری است". دې ته ورته خبرې د اناهیتا او نورو پرچمیانو له خولو څخه هم راوتلې دي. د "یك صد وپنجاه سال اپارتائید شاهان پشتون"، "دانشگاه کابل و دانشجویان لبخشك تاجیك آن" او دې ته ورته نورې لیکنې هم شوې دي.

د دې ترځنګ د پرچمیانو په وخت کې د افغاني فرهنګ د له منځه وړلو لپاره بله اساسي هڅه همغه د پښتو ملي ترمینالوژۍ له منځه وړل وو. دوی هڅه وکړه چې عسکري نومونې او اصطلاحات په فارسي واړوي، په ځینو برخو کې بریالي نه شول، خو بیا یې هم ځینې عسکري اصولنامې او نظامنامې په فارسي واړولې. ان د افغانستان نوم د اړولو لپاره هڅې پیل شوې. د کابل پوهنتون د نوم اړولو لپاره زیاتې هڅې وشوې او دې ته ورته نورې هلې ځلې. ایران پالنه او فارسي پالنه، د خپل هېواد غندنه او د ایران لوړونه د همدې دورې یوبل چلند دی. په ټولیز ډول پښتو ژبه له اکثرو دفتري چارو، ادارو او فرهنګي مرکزونو څخه وکښل شوه، یوازې د مکتوبونو او رسمي پاڼو په سر کې چې عنوان یې له پخوا نه په پښتو لیکل کېده همغه پاتې شو خو هغه هم دوی ونه شو زغملای او د له منځه وړلو لپاره یې هلې ځلې پیل کړې. د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټې، د لیکوالو ټولنې، کابل پوهنتون او ټولو خپرنیو ارګانونو له خوا چاپ شوي کتابونه په هېڅ ډول فارسي او پښتو یو بل سره د پرتلې کېدو وړ نه دي. په تقریبي ډول په سلو کې ۳۰ هم په پښتو نه وو او په ځینو ځایو کې خو دا سلنه (فیصدي) لسمه برخه هم نه وه. په مجموعي ډول یوازې په کابل کې په هره میاشت کې تر (۱۰۰) عنوانو څخه زیاتې

خپرونې کېدلې. په دې کې داسې خپرونې هم وې چې ۵ فیصده یې هم پښتو نه خپروله.

## ۲- په پوځي او جګړه ییزه برخه کې:

روسان پر دې پوهېدل چې پښتانه په افغانستان کې د یو داسې اساسي ځواك په توګه مطرح دي چې کولای شي خپل هېواد اداره او کنترول کړي. پښتانه په حقیقت کې په افغانستان کې د سیاسي ثبات لپاره د ثقل مرکز و. روسانو د افغاني ټولنې د بې ثباتۍ لپاره هڅه کوله چې تر هر څه لومړی همدغه مرکزیت متزلزل او کمزوری کړي. د افغانستان شمال مېشتو لږکیو ته یې ځکه ډېر پام کاوه چې دوی فکر کاوه هغوی د منځنۍ آسیا له شوروي جمهوریتونو سره اتنیکي او ژبني اړیکي لري، نو ځکه یې پر هغو ډېر پام کاوه او هڅه یې کوله د جګړې درنه برخه پښتون مېشتو سیمو ته ولېږدوي. پر دې خبرو باندې په افغانستان کې ټولو جنګېدونکو شوروي جنرالانو لکه ستر جنرال مایوروف، جنرال لیاخوفسکي، جنرال ګروموف او نورو اعتراف کړی دی. ددې جنرالانو په وینا دوی سره د افغانستان په جګړه کې له هرو دریو تنو څخه دوه تنه پښتانه جنګېدلي دي. یو امریکایي لیکوال بروس ریچارډسن په دې باب وایي: ["له جګړې نه دمخه، پښتانه د افغاني ټولنې ۴۰- ۵۰ په سلو کې وو، دوی توریالي، جنګیالي او آزادي غوښتونکي دي، له تاریخي لحاظه هېڅکله د پردیو سلطې ته نه دي تسلیم شوي، د بل چا سلطه یې نه ده منلې. دوی په دې هېواد حکومت کولو. د سکندر له زمانې نه تر ننه پورې دوی په دې هېواد خپل خاص هویت او سلیقه تحمیل کړې.

پښتنو د آمو دریا شمال ته مېشت قومونو سره قومي او ژبني اړیکې نه درلودې، د همدې لپاره روسانو ته غیر قابل هضم پاته

شوي، روسانو د افغانستان دنیولو لپاره د پښتنو مهاجر کول او له دې هېواده ایستل ضروري ګڼل، همداراز پاکستان ته د دغو پښتنو هجرت په هغه هېواد کې د عدم استقرار باعث کېدو، ځکه هلته د پښتنو یوه لویه برخه، له کلونو کلونو راد پخوا، د بېلېدو او استقلال هڅه کوي. روسان یې تشویقوي او د کابل حکومت ورسره مرسته کوي."

"که څه هم دافغانستان د ټولو سیمو اوسېدونکي د روسانو له لاسه ځورېدلي خو د روسانو معاملې له پښتنو او غیر پښتنو سره ډېر توپیر درلود. که څه هم د وېرې اچونې نظامي عملیات د ځینو نورو سیمو د تخلیې لپاره هم ترسره شوي خو د روسانو عمومي ستراتیژي دا وه چې پښتون مېشته سیمې تخلیه کړي اوله دې لارې د افغانستان اجتماعي جوړښت تبدیل کړي چې په دې سره یې په اسانۍ کولای شوی دا مهمه او ستراتیژیکه سیمه د مرکزي آسیا له اشغال شوو جمهوریتونو سره یوځای کړي. دا ځکه چې افغاني تاجکان، ازبکان، او ترکمنان د پولې آخوا خلکو سره قومي او ژبني اړیکي لري او په اسانۍ له هغوی سره یوځای کېدی شي، دا کار د مسعود په لاس چې له یوې خوا تاجك و او له بلې خوا د روسانو یو پروتوکولي قومندان په اسانۍ ترسره کېدی شو. "فودتوف خاطرات"

د هغې احصایې له مخې چې پاکستاني او ایراني حکومتونو ترسره کړې د افغاني مهاجرینو شمېر شپږملیونو ته رسېدو چې مطلق اکثریت یې پښتانه وو...

د دوی د مهاجر کولو لپاره له مختلفو لارو چارو نه استفاده کېده، په کلیو یې بمونه اورول، د تېښتې په حال کې کلیوال به یې د هلیکوپترو په ذریعه تعقیبول او وژل، فصلونو ته یې د رېبلو په وخت کې اور اچولو، باغونه یې له بېخه ایستل. رمې یې ورته وژلې

او د دې لپاره چې خواره شوي کليوال بېرته خپلو کليو ته راستانه نه شي، نهرونه، څاګانې او کاریزونه یې ورانول، دا د دوی پرېکړه وه. په دې پوهېدل چې د کليوالو ژوند په زراعت متکی دی له اوبو نه پرته په دغو سیمو کې ژوند نه شي کولی...

د ۱۹۹۰ کال تر نیمايي پورې د افغاني مهاجرو شمېر هومره وو چې د دنیا د ټولو مهاجرینو نیمايي وو. افغانستان تقریباً له نیمايي نفوس نه محروم شوی و. خو د روسانو حملې لاهماغسې روانې وې چې د یو شمېر پاتې کليو اوسېدونکي هم وتلو ته اړ کړي. په جنوب کې د پښتنو تقریباً ټولې سیمې تخلیه یا تخریب شوې دي. د مثال په توګه د کندهار نفوس چې د هېواد دویم ستر ښار و او اکثریت اوسېدونکي یې پښتانه دي، له ۲۵۰۰۰۰ نه ۳۵۰۰۰ کسانو ته راکوز شو. اکثره سیمې یې تخلیه شوې، همداراز هغه غربي سیاحانو چې د لوګر دره یې په ۱۹۸۵ کې لیدلې وه، په ۱۹۸۶ کې یې همدا دره له اوسېدنکو خالي وموندله...](۷)

مک باري MACBARI ختیځ پوه چې د ۱۹۸۰ کال د فبروري له ۲۴ څخه د مارچ تر ۱۰ پورې د بشر د حقوقو د نړیوالې ټولنې له خوا په افغانستان کې د کمونیستانو د جنایتونو د څېړنې لپاره ګمارل شوی و. د خپل راپور په شرح کې لیکي: د ۱۹۸۰ کال د فبروري له ۲۸ څخه د مارچ تر ۴ نېټې پورې د کونړ په دره کې د یوې نړیوالې جګړې په خبر او ان له هغې هم تونده او تېزه جګړه وشوه چې هرڅه یې له خاورو سره برابر کړل. استوګنځایونه او کرنه ټول له منځه لاړل. د دې سیمې له ۱۶۰ زرو وګړو څخه یوازې ۳۷۷۳۴ تنه ژوندي پاتې شول چې هغوی په تېښته ځان وېرې نیولي پاکستان ته ورسېدل.

ښځو د دې لپاره چې روسي عسکرو او افغاني کمونيستانو سره اسيرانې نه شي، خپل ځانونه يې د کونړ سيند ته ګوزار کړل او ماشومان د کمونستانو له وېرې سختې لړزې نيولي وو."(۸)

د روسانو تر وتلو وروسته د هغو لاسپوڅو هم دې کار ته دوام ورکړ او تر ننه لا دوام لري.

"د ۱۹۹۷ کال د نومبر پر ۲۸ نېټه د بادغيس ولايت (۴۰-۵۰) تنو اوسېدونکو، د دوستم او طالبانو تر منځ د جګړې له وېرې خپل کورونه خوشي کړل، له دې خلکو څخه (۱۰-۱۵) زره تنه پښتانه د ترکمنستان پولې ۳ کيلومتر ته نږدې راټول شوي وو.

په عشق آباد کې د مګلرو ملتو د مهاجرو عالي کمېشنري وايي: د ازبك ځواکونو له خوا په سيمه کې د پښتنو قومونو پر ضد پوره تصفيه روانه ده. د دې خبرې علت له طالبانو سره د پښتنو د همکارۍ وېره ده."(۹)

"د افغانستان اخبار مجله د فرانس پريس خبري آژانس د ۱۹۹۶ کال د نومبر د ۲۷ نېټې د خبر په حواله ليکي: د دوستم ځواکونو (۱۸۰۰۰) پښتانه له طالبانو سره د اټکلي همکارۍ په ګمان له خپلو کليو او کورونو څخه کېښلي دي. د ملګرو ملتو د مهاجرينو عالي کمېشنري چې په عشق آباد کې يې مقر دی، دې پېښې ته د لومړي ځل لپاره د نژادي تصفيې اصطلاح کارولې ده."(۱۰)

"د افغانستان اخبار مجله د (NATION) خپرونې په حواله ليکي "کله چې وحدت حزب پر طالبانو لاسبرى شو، نو د ۱۹۹۶ کال د جولائي له (۵-۱۵) نېټې پورې يې له طالبانو سره د همکارۍ او ملاتړ په تور په غوربند دره کې (۵۰۰۰-۶۰۰۰) تنه پښتانه له

خپلو کورونو او کليو ځخه وکښنل. هغوی بيا په خيرخانه کې استوګن شول."(۱۱)

هغه عامه وژنه چې د جنرال مالك له خوا پر ۱۹۹۷کال وشوه له (۲۰۰۰) زيات اسير طالبان په کې ووژل شول خو ددې تر څنګ د بلخ، جوزجان او د هغه ځای په زرګونو نور پښتانه هم له طالبانو سره د همکارۍ په تور ووژل شول.

لنډه دا چې هغه ستراتيژي چې روسانو جوړه کړې وه، د هغو لاسپوڅو له خوا پرې تر ننه پورې پرې عمل کېږي.

## اخځونه

۱- افغان ملت جريده. د ۱۳۷۴ل کال د تلې د ۲۵ نېټې ګڼه.

۲- "د افغانستان د ځوانانو ډيموکراتيك سازمان" د مرکزي کمېټې د يو تن غړي څرګندونې.

۳- پورتنی اخځ.

۴- افغان ملت جريده، پورتنۍ ګڼه، ۲ مخ.

۵- کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي. افغان ملت جريده، ياده ګڼه. ۲ مخ.

۶- پورتنی اخځ.

۷- حکمتيار، پټې توطيې بربنډې ځېرې. ۱۳۷۸ل کال، ۵۵-۵۶ مخونه.

۸- پوهنوال محمد عثمان تره کی، محاکمه جنايتکاران جنګ در افغانستان، پېښور، ۱۳۷۹ل کال ۳۴ مخ.

۹- پورتنی اثر ۵۱ مخ.

۱۰- پورتنی اثر ۶۲ مخ.

۱۱- پورتنی اثر ۶۳ مخ.

# د ډاکټر نجیب الله حاکمیت
# او د پښتنو محکومیت



ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ پر وخت

نجیب الله د اختر محمد زوی د ۱۳۲۵ ل کال د زمري میاشتې پر ۱۵ نېټه د کابل ښار په دویمه ناحیه کې زېږېدلی دی. پر ۱۳۳۱ ل کال یې د کابل دده افغانانو په لومړني ښوونځي کې خپلې لومړنۍ زده کړې پیل کړې او پر ۱۳۴۳ ل کال یې د کابل له حبیبیې لېسې څخه د بکلوریا [illegible] لاسه کړ.

نجیب الله پـر ۱۳۴۴ل کـال د کـابل پوهنتـون پـه (M.P.C.B) کورس کښې شامل شو،د دغه کورس تر بشپړېدو وروسته پر ۱۳۴۵ل کال د کابل پوهنتون په طب پوهنځي کې شامل شو.

نجیب الله د ۱۳۴۴ل کال د جدي پر میاشت د افغانستان د خلکو دیموکراتیك ګوند غړی شو. د ۱۳۴۸ل کال په اوله نیمایي کې د سیاسي هڅو له کبله څلور میاشتې بندي شو، د ۱۳۴۹ل کال د جدي پر میاشت یو ځل بیا ۹ میاشتې بندي شو.

پر ۱۳۵۴ل کال د کابل پوهنتون له طب پوهنځي نه فارغ شو.

د ۱۳۵۶ل کال د زمري پر میاشت د افغانستان د خلکو دیموکراتیك ګوند د مرکزي کمېټې غړی شو.

پر ۱۳۵۳ل کال یې واده وکړ وروسته د (هیلې، اونۍ او موسکا) په نامه د دریو لونو پلار شو.

پر ۱۳۵۷ل کال وروسته لومړی د کابل ښار د ګوندي کمېټې منشي شو. خو د خلقیانو له خوا د پرچمیانو د ګوښه کولو له امله، د ۱۳۵۷ل کال د چنګاښ پر میاشت په ایران کې د افغانستان د سفیر په توګه وټاکل شو. د تلې د میاشتې په نیمایي کې له هغې دندې هم ګوښه شو.

دی له ایرانه (پاکستان)، "یوګوسلاویا" بیا فرانسې او بیا بېرته "یوګوسلاویا" ته لاړ.

د ۱۳۵۸ل کال د جدي پر ۲۱ نېټه هېواد ته راغی، او د (خاد= خدمات امنیت دولتی) د رییس په توګه وټاکل شو.

د ۱۳۶۰ل کال د اسد پر میاشت د ګوند د مرکزي کمېټې د سیاسي دفتر غړی شو. د ۱۳۶۴ل کال د کب پر میاشت د (خاد) له ریاست نه ګوښه او د ګوند د مرکزي کمېټې د دارالانشا د منشي په توګه وټاکل شو.

او بینا د ۱۳۶۵ ل کال د ثور میاشتي پر ۱۴ نېټه د ګوند د عمومي منشي شنو."(۱)

کله چې د ۱۳۶۵ کال د ثور پر ۱۴ نېټه ډاکټر نجیب الله واک ته ورسول شو، ځینو سره داسي فکر پیدا شو چې کېدی شي په دولتي اداره کې د لړکیو او د هغو د مدعیانو هغه واك و ځواك چې د روسانو د مستقیم یرغل په نتیجه کې او د کارمل په راوستلو سره هغوی ته ورکړل شوی و څه ناڅه راکم شي، خو نه یوازې داسې ونه شول بلکې د روسانو هغه پلان چې غوښتل یې په افغانستان کې د اکثریت قوم اداري، سیاسي او پوځي ظرفیت کمزوری او د افغانستان سیاسي واك لړکیو ته محول کړي لاپسې عملي بڼه غوره کړه. د روسانو د پلان یوه برخه د ببرك کارمل د واك او دلته د روسانو د شتوالي په زماني واټن کې عملي شوه، پاتې برخه یې د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ تر پایه پورې ورو ورو عملي کېده.

د برید جنرال الکساندر لیاخوفسکي په وینا "د ۱۹۸۰ لسیزې په نیمایي کې په شوروي اتحاد کې د رهبرۍ د بدلون له کبله په افغانستان کې هم د مشرتوب د بدلولو خبره مطرح شوه، د ګورباچف د ټینګار په وجه ډاکټر نجیب الله د مشرتوب لپاره غوره شو."(۲) د ډاکټر نجیب الله په منځته راتګ سره د افغانستان د اکثریت پر وړاندې د روسانو په عمومي ستراتیژۍ او پالیسۍ کې کوم بدلون رانغی. روسانو ډاکټر نجیب الله له فکري، عقیده یي، او ذوقي پلوه ښه ازمویلی و. هغه د شوروي او ببرك کارمل په پښتني ضد روزنځي کې روزل شوی و. له پښتو او پښتونولۍ سره یې څه ځانګړې لېوالتیا نه لرله. شورویانو د افغانانو د وسلوالې مبارزې د فشار له کبله او د خپلو ستونزو او مجبوریت له مخې د خپلو سرتېرو د وتلو هیله لرله او د دې کار لپاره په افغانستان کې داسې

یو شخص ته اړتیا وه چې د روسانو تر وتلو وروسته د روسانو اساسي ګټې تضمین او هېواد تر یو وخته پورې کنټرول او اداره کړي. روسان پر دې پوهېدل چې دا کار د لړکیو په مشرتوب کې نه شي تر سره کېدلای نو ځکه یې ډاکټر نجیب الله چې هم د پښتون پرده پرې غوړېدلې وه او هم تر یو حده غوره اداره چي و، د دې کار لپاره غوره وباله. د عام پښتون ولس د ذهني تېرایستنې لپاره هم داسې یو شخص ته اړتیا وه.

روسانو د خپلو استخباراتي شبکو په وسیله د بېلابېلو فورمو له لارې چې هلته د "ملیت" ځرنګوالی ثبت و د افغانستان په دولتي دستګاه کې د کار کوونکیو او کادرونو شمېر ځانته معلوم کړی و. دوی پر دې پوهېدل چې دولتي اداره کې کوم کسان په کومو حساسو، منځنیو او ټیټو پوستونو کې کار کوي او کوم قوم ته منسوب دي. هغه کسان چې پښتانه قوم ته منسوب دي د هغوی د قوم پالنې ځرنګوالی څومره دی؟ ژبه یې هېره شوې که نه؟ او د ملي احساس کچه یې څنګه او څومره ده؟

دوی ان شوروي اتحاد کې د تحصیل کوونکو افغانانو د قومي هویت پلټنه کوله او د افغانستان پر لړکیو یې پام کاوه، دوی هڅه کوله چې د افغانستان لړکي نورې نړۍ ته ډېر برجسته وښیي، په یو، واحد افغان ملت کې ملتونه او "ملیتونه" جوړ کړي، د هېواد یو نومیالی لیکوال سر محقق زلمی هېوادمل په دې باب د خپلو سترګو لیدلی حال بیانوي:

"یو وخت مې د مسکو په دولتي کتابتون کې هغه پښتو کتابونه او ترجمې کتلې چې د تېرې شلمې پېړۍ له پنځوسو کلونو نه د اتیایمو کلونو تر پایه په مسکو او تاشکند کې د بېلابېلو نشراتي او علمي ادارو له خوا خپاره شوي دي.

په دغو کتابونو کې هغه کتابګی هم مخې ته راغی چې په اتیایمو کلونو کې د افغان- شوروي د ګډې کیهاني الوتنې په اړه برابر شوی و.

په دې کتابګي کې د دوو افغاني کیهاني پیلوټانو ښاغلو مومند او دوران شرح حال هم راغلی دی. ددغو دواړو د شرح حال په ترځ کې یې ښاغلي مومند ته پښتون او ښاغلي دوران ته تاجیك لیکلی دی.

په دغسې یو علمي ګزارش کې چې د یو هېواد د پیلوټانو د کیهاني الوتنې په باره کې تهیه کېږي د پیلوټانو د قومي اختصاص د خبرې طرحه کول زما په پوهه ډېره بې ځایه ده. ځکه په دغسې مواردو کې د پیلوټانو د ملي اختصاص د ښوولو لپاره د (افغان) کلیمه کافي ایسي. نه د تاجیك او پښتون.

ما چې په ګزارش کې د پیلوټانو له نومونو سره د پښتون او تاجیك نسبتونه ولوستل. خورا بد اغېز یې راباندې وکړ. فکر پسې واخیستم، خو جوخت دوه مسلې ذهن ته راغلې:

۱) که روسانو دغه ډول یو ګزارش د ایراني یا هندي پیلوټانو په باب خپور کړی وای. نو به یې دا نه وو کښلي، چې دغه یا هغه ایراني پیلوټ اذري یا کرد دی او هغه بل پارسي یا بلوځ، ترکمن دی. او هندي هغه به یې هم د راجپوت، برهمن، جټ او نورو طایفو ته نه وو منسوب کړي، خو دا چې افغانان یې ولې دغسې سره وېشلي دي، تر شا یې نورې خبرې دي، چې د کمونیستي سیستم له ځینو ناولو سیاستونو نه خړوبېږي.

۲) د ثور له کودتا په تېره د شوروي پوځونو تر یرغل وروسته د حاکم حزب ټول هغه ملي ضد سیاستونه هم رایاد شول چې دافغانستان د یوه ځانګړي قوم پر ضد یې طرح کړي وو.(۳)

روسانو د خپل شتوالي په وخت کې د دولتي دستګاه په ملکي ادارو کې د پښتنو فیصدي ډېره راټیټه کړه. په ډېرو حساسو پوستونو کې یې په شوروي کې نوي روزل شوي کادرونه چې اکثریت یې افغان لږکیو ته منسوب وو ځای پرځای کړل. یوازینی خنډ چې د دوی په مقابل کې پاتې و هغه وسلوال پوځ و چې په دوديز ډول په کې د پښتنو ونډه زیاته وه. د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ په نیمایي کې "د شهنواز تني کودتا" په نوم یوه سنجول شوې توطیه جوړه شوه او په همدې نامه یې ګڼ شمېر پښتانه صاحب منصبان له پوځ څخه وایستل. د وسلوال پوځ د یو صاحب منصب په وینا یوازې د "شهنواز تني کودتاه" په نوم شپږ زره تکړه مسلکي صاحب منصبان له وسلوال پوځ څخه وکښل شول او زنداني شول.

د دې لپاره چې د وسلوال پوځ دوديز او قانوني واك ختم کړي، د بېلابېلو قومي غونډونو په جوړولو لاس پورې شو. په شمال کې د عبدالرشید دوستم او سید کیان په مشرۍ د ازبکو او هزاره اسماعیلیانو لپاره بېلابېل قومي غونډونه او فرقې جوړې شوې او هم هزارګانو ته د ګڼ شمېر قومي غونډونو د جوړولو امکانات برابر شول.

د جګړې درونډ بار بیا د پخوا په څېر د پښتنو سیمې ته متوجه شو. د سکارټ هغه په سوونو توغندي چې په افغانستان کې استعمال شوي په سلو کې (۹۹) یې پر پښتون مېشتو سیمو ویشتل شوي دي.

د ډاکټر نجیب الله شپاړس ورځې کم پنځه کاله واکمنۍ په افغانستان کې د لږکیو (اقلیتونو) د ودې، خوځون، کورنۍ او بهرني لمسون لپاره مساعدې شپې او ورځې وې. ده لکه چې په

خپله يې هېواد د يوې لويې تباهۍ کندې ته ټېلوهه، په خپله د لږکيو د راپارولو لپاره لاره چاره برابروله. له دولتي پانګې او شتمنۍ څخه يې ملي ضد ډلو ټپلو ته پيسې او امکانات ورکول. په ځينو برخو کې يې د ملي مسايلو پر وړاندې له سختې بې تفاوتۍ څخه کار اخيست. په پوځ کې يې نور ځانګړي تشکيلات هم جوړ کړل. "د دولتي امنيت وزارت" او "ملي ګارډ" تشکيلات يې ملي ضد اشخاصو ته وسپارل او هم يې په ځينو پوځي قطعاتو کې داسې اشخاص په حساسو پوستونو کې ځای پر ځای کړل چې افغاني ضد روحيه يې لرله.

هغه ملي ضد ډلې ټپلې چې کارمل او روسانو د هغوی د روزنې، پالنې او هڅونې بنسټ ايښی و د ډاکټر نجيب الله په وخت کې د واک حساسو پړاوونو ته ورسېدې. د پوځي برخې تر څنګ په ملکي ادارو کې هم دا ډلې زياتې فعالې وې. د دولت په ملکي ادارو کې ځينې داسې ادارې وې چې هغه په بشپړ ډول د دې ډلو او اشخاصو تر واک لاندې وې. په دې ادارو کې د کارمل د وخت په شان د کابل پوهنتون، د بهرنيو چارو وزارت، راډيو تلويزيون، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د ژورناليستانو اتحاديه، د ځوانانو سازمان او ځينو نور شامل وو. د ډاکتر نجيب الله تر واک وړاندې د کارمل ورور محمود بريالي او اناهيتا راتب زاد، د دې هڅو لارښوونه کوله. وروسته د هغو ملګرو دې کارته دوام ورکړ. نجم-الدين کاوياني، نورالله تالقاني، داود کاويان، فريد مزدك، اسدالله حبيب، ظاهر طنين او نور... د دې کړۍ فعال غړي وو. تر دې وروسته بيا دوی نورې ډلې او کړۍ هم جوړې کړې وې چې دوی ورته لارښوونه کوله.

دې اشخاصو د دولت له امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره ځینې داسې لیکنې، آثار او ان شپې پاڼې خپرې کړې چې په ډاګه تړې د افغان او افغانستان دښمنۍ بوی راته. دوی د هغو ملي ارزښتونو، اتلانو او غوره تاریخي پېښو پر ضد لیکنې کولې او جعلیات یې خپرول چې هغه زموږ د ولس په ذهن کې د سپېڅلو ملي ارزښتونو په توګه منل شوي اود منلو وړ وو.

د ډاکټر نجیب الله په واکمنۍ کې د "وطن ګوند" د مرکزي کمېټې له خوا د افغانستان د معاصر تاریخ په باب ځوداسې لکچرنوټونه چاپ شول چې د هر یو، تیراژ ۵۰ زره ټوکو ته رسېده. دا لکچرنوټونه د پوهاند جلال الدین صدیقي تر لارښوونې لاندې لیکل شوي او د ګوند د مرکزي کمیټې د تبلیغ او ترویج څانګې له خوا خپاره شوي وو. په دې رسالو کې په قصدي ډول د افغانستان معاصر تاریخ تحریف او د ملي اتلانو پر ځلنده څېرو د دروغو او تهمت جال خپور شوی دی.

دلته به د دې هڅو د بېلګې په توګه د پوهاند جلال الدین صدیقي د یو لکچر نوټ یادونه وکړو. دا لیکنه، "افغانستان در قرن جدیده" نومېږي چې پر ۱۳۶۹ل کال د ۷۰ زرو ټوکو په تیراژ د "ا.خ.د.ګ" د مرکزي کمېټې د "تبلیغ ترویج و آموزش" او "سکتور آموزش حزبي" له څانګې څخه خپور شوی دی. دی د خپلې دې رسالې په یوه برخه کې وایي: "در زمان امیر عبدالرحمن خان بود که رهبران فیودالی محمدزایی توانایی یافتند تا تمام اراضی واقع در میان دریای آمو و کوه هندوکش را تصرف نمایند و ازین تاریخ به بعد خانات ازبک بحیث یکی از ولایات سلسله محمدزایی متمرکز گشت.

در طی مدتی که ازبکان مورد تاخت و تاز فیودالان و سرداران محمد زایی و اتحادیه قبایلي آن قرار داشتند ، بخش بزرگ نفوس ازبک نشین از مناطق مسکونی مجبور به ترک مناطق شان گشتند و به نواحی راست کنار دریای آمو یا دامنه های کوه هندوکش اجباراً نقل مکان کردند ، بعداً این عملیه انتقالات شدت یافت زیرا که مالیات زمین از سوی سلسله محمد زایی افزایش یافت و نیز اراضی وسیع بدست فیودالها و سرداران محمد زایی و قبایل متحده آن به زودی ازمالکان اصلی ازبک غصب شد.

در طی مدت امارت عبدالرحمن محمد زایی و به دنبال قیامهای در قطغن، مزار شریف و میمنه علیه تصرف و غصب اراضی دهقانان ازبک افزایش یافت و سرداران و خوانین قبیلوی محمد زایی و متحدین دیگر آنان که ماهیت تک ملیتی داشتند از نواحی جنوبی باین مناطق سرازیر شده بود از معافیت های مالیاتی و سایر تسهیلات لازم مملکتی برخوردار بودند که در نتیجه سرداران محمد زایی و خوانین قبیلوی متحده شان توانستند بربهترین زمین های ازبکان دست یابند و عده زیادی از زحمتکشان ازبکها را به عنوان دهقان و بذرگر بخدمت زراعت و کشمندی خود در اورند."(۴)

د ډاکټر نجیب الله د واك په بهير كې په كابل كې د "مركز انسجام مليت هزاره" په نوم د هزاره ګانو د تمركز لپاره يوه ځانګړې اداره جوړه شوه. دې مركز د "غرجستان" په نوم يوه مجله هم خپروله. د مجلې د كتونكې ډلې غړي دا وو: "اكاديميسين عبدالواحد سرابي، كانديد اكاديميسين شاه علي اكبر شهرستاني، ډاكټر محمد اسمعيل قاسميار، محقق حسين نايل، عبدالحسين توفيق،

محمد عوض نبي زاده کارگر، عبدالله کشتمند، سید سعدي نادري، سید محمد علیشاه سجادي، محمد یونس طغیان"(۵)

دې مجلې زیاتره افغاني ضد لیکنې خپرولې. دې مرکز د هزاره ګانو لپاره په اوږده ستراتیژۍ کې د یو ځانګړي هېواد د جوړېدو غوښتنه کوله او په دې وخت کې تر افغانستان دننه د فیډرالي جوړښت په بڼه د "غرجستان" په نوم د یو مستقل سیاسي- جغرافیایي تشکل د جوړېدو غوښتونکي وو. دوی (غور) د هزارګانو اصلي ټاټوبی باله او ویل یې چې پښتنو دا سیمه په زوره اشغال کړې ده. دغه راز د هزاره ګانو د حقوقو مدعیان د افغانستان په ټول دولتي جوړښت او په بهر کې د افغانستان په سیاسي نمایندګیو کې په سلوکې د پنځه ویشت برخود حق غوښتونکي وو. ډاکټر نجیب الله د هزاره ګانو دې ډول غوښتنو ته بڼه په اخلاص غوږ اینښی و او په ځینو برخو کې یې د دوی غوښتنې عملي کړې هم وې.

د "مرکز انسجام ملیت هزاره" او "غرجستان" مجلې د ټولو کارکوونکو معاش او لګښت د دولت له بودجې څخه ورکول کېده. همدې مرکز پر یو لړ نورو هڅو هم لاس پورې کړ. ایران پلوه تحرکات یې راپارول او د ډاکټر نجیب الله د حکومت تر ړنګېدو وروسته حالاتو ته یې ځان چمتو کاوه. په کابل کې پر همدې مهال د هزاره ګانو یو لړ زیات سپورتي کلپونه جوړ شول. چې په زرګونو هزارګان په کې روزل کېدل. دې کلپونو ځینو یې له "مرکز انسجام ملیت هزاره" سره هم اړیکې لرل او داسې څرګونه هم شته چې د ایران د حکومت له خوا هم پالل کېدل. له دې کلپونو څخه مقصد دا و چې دلته د عسکري ټولګیو او سرتېرو په شان داسې کسان وروزل شي، کله چې اړتیا احساس شي بیا به ورڅخه کار واخیستل شي. د

خبرو کې کمونیستي فکر خلوه او په دې توګه یې غوښتل چې د روسانو په شان د کمونیستي تګلارې تر پردې لاندې د افغانستان د اکثریت پر وړاندې د دښمنۍ اعمال تر سره کړي. ده به ویل:
"بهترین ضمانت مصون بودن از ضربه دشمن پناه بردن در آغوش گرم کارگران و دهقانان است." (۶) طاهر بدخشي او دده پلویانو په افغانستان کې د نورو وړو قومونو د پارولو او د دوی په اصطلاح د هغوی د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره په افغانستان کې د یو فدرالي حکومت د جوړولو هڅه کوله. له فدرېشن څخه د دوی مقصد دا و چې په لومړي ګام کې به په افغانستان کې د مرکز رول ختم شي او دوی به په نیمه ډول په اصطلاح خپلواك شي او په دویم ګام کې به بیا د هېواد د بشپړې وېشنې او تجزیې مسئله رامنځته کړي. په دې برخه کې د روسیې او ایران د حکومتونو تګلاره هم همدا ډول وه. دا چې له عملي، سیاسي، جغرافیایي، مذهبي، اقتصادي، ژبني او قومي پلوه په افغانستان کې د فدرېشن امکان شته او که نه؟ دا دوی ته مطرح نه وه. د افغاني ټولنې په برخه کې سیاست پوهان او ټولنپوهان په دې نظر دي چې په افغانستان کې قومونه داسې سره اوبدل شوي او یو بل سره تړل شوي چې دلته د هیڅ ډول فدرېشن د جوړولو امکان نه شته او بل په هېواد کې د پښتنو زیات اکثریت د هر ډول فدرېشن د جوړېدو او تجزیې د مخنیوي تضمین کړی دی.

روسیه او ایران پر دې واقعیت هم تر یوه حده پوهېدل، خو هغوی دا خبره هم په ذهن کې ساتلې وه چې که په افغانستان کې د فدرېشن او یا د تجزیې امکانات برابر نه شي، نو لږ تر لږه خو له دې اشخاصو او ډلو څخه د ټولنیزې او سیاسي بې ثباتۍ لپاره کار اخیستلای شي، نو ځکه ستمیانو په خپلو خپرونو او شعارونو کې تر هر څه دمخه د افغانستان له جوړښت او نامه سره حساسیت

وښود او د خپل تشکل او مشر د رامنځته کېدو علت يې د "خراسان" "دوزخي جغرافيه" وګڼله. "سرانجام بدخشي و انوار فروزان و انکار ناپذير موجوديت او در متن اندوهگين تاريخ و جغرافيايي دوزخي خراسان تنديس جاويدانه نمودار شد."(۷)

"عاقبت اين آفريده بزرگ و بي همتاى تاريخ معاصر خراسان زمين از ما گرفتند."(۸)

ستميانو، د قومي نفاق، د افغانستان د تجزيې او فدريشمن په باب د طاهر بدخشي لاره تعقيب کړه. محبوب الله کوشاني چې ډېر کلونه د ستميانو ډلې "سازا" مشر پاتې شوی و په خپله يوه ليکنه کې داسې ځرګندونې کوي: "ما جداً متعقديم که به کاربستن نظرگاهاى بدخشى در باره تاسيس و ايجاد دولت فدرالى، طرح مشخص او در باره جبهه متحد ملى و چگونگى ترکيب اين طيف وسيع و داشتن قضاوت و پيروى از سياست عدم دنباله روى در پهنهء جهانى و تامين وحدت راستين ميان نيروهاى ميهن پرست ميتواند بسيارى از دشواريها و نابه هنجاريهاى وضع کنونى را از ميان بردارد."(۹)

سخي غيرت د ستميانو د ډلې د رهبرۍ يو بل غړی چې ډېر وخت د ستميانو د نشراتي ارګان "ميهن" جريدې مسول و او د طالبانو له واکمنۍ وروسته په مسکو کې د برهان الدين رباني د ګرځنده اداري د سفارت لومړی سکرتر دی وايي: "موجوديت تسلط سياسى و نظامى نوع تک مليتى، آنچه در کشورى باساختار يک پارچهء ملى نعمتى ميتواند بود، در شرايط کثيرالمليت بودن افغانستان مصيبت واقعى بود. محافل حاکمه در تمام عرصه ها و طى تمام تاريخ تسلط خود کامه تک مليتى خود به تعرض همه جانبه اقتصادى، اجتماعى، سياسى و فرهنگى پرداخته بودند، آنها

میخواستند پروسه همانسازی ملیتها و گروهای اتنیکی را با ملیت حاکم به زور و ضرب شلاق تسریع کنند.

ستم ملی که بنیاد سیاست حکومت تک ملیتی را تشکیل میدهد باید از بین برود و جای آنرا برابری، همکاری و برادری ملیتها و گروهای اتنیکی ساکن کشور بگیرد."(۱۰)

ستمیانو چې کله د فدرېشن خبرې ګرمې کړې نو ایران پلوه حزب وحدت ډله بیا په دې کې دومره مخکې لاړه چې د ایران په لمسه یې د افغانستان د تجزیې او فدرېشن لپاره په اصطلاح د اساسي قانون مسوده هم جوړه کړه، ددې مسودې نوم دی: [ قانون اساسی جمهوری فدرالی اسلامی افغانستان (پیشنهادي حزب وحدت اسلامی افغانستان)] دا مسوده د یوه کتاب بڼه پر ۱۳۷۴ل کال په ایران کې چاپ شوې ده. د ښاغلي رباني، مسعود، دوستم او نورو ملت ضد ډلمشرانو ته هم ورکړل شوې ده. دلته به د حزب وحدت ددې طرحې او یا د دوی په نومونه (اساسي قانون) څخه څو مادې راواخلو او بیا به قضاوت لوستونکو ته پرېږدو، دوی وایي:

"حزب وحدت اسلامی افغانستان معتقد است که به منظور حل عادلانه مساله ملی و خاتمه دادن به نفاقهای گوناگون نژادی، لسانی و منطقوي بهترین شکل حاکمیت اسلامی در کشور، ایجاد ساختار دولتی بر پایه اصول فدرال با در نظرداشت تقسیمات ملکی بر اساس ویژگیهای ملی، تاریخی، فرهنگی و سایر مشخصات اجتماعی می باشد. لهذا به منظور حل عادلانه مسایل سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و بازسازی کشور جنگ زده مان مسوده این قانون اساسی را طرح و تقدیم می دارد."(۱۱)

"فصل اول: نظام سیاسی:

ماده اول: دولت افغانستان، جمهوری فدرالی اسلامی، مستقل، واحد و غیر قابل تجزیه بوده و بر تمام قلمرو خود دارای حاکمیت می باشد.

حاکمیت ملی به مردم مسلمان افغانستان تعلق دارد. قدرت دولت از مردم برخواسته و مردم از طریق انتخابات و رای دهی، به وسیله ارگانهای مقننه، اجراییه و قضاییه این قدرت را اعمال می نمایند. ارگانهای اجراییه و قضاییه مکلفند از قانون و عدالت اطاعت و پیروی نمایند.

ماده دوم: دین رسمی مردم افغانستان دین مبین اسلام و مذاهب رسمی جعفری و حنفی می باشد.

ماده هشتم: از جمله زبانهای ملی کشور، دری و پشتو زبانهای رسمی می باشند.

ماده یازدهم: پایتخت جمهوری فدرالی اسلامی افغانستان شهر کابل است.

ماده دوازدهم: ایالات جمهوری فدرالی اسلامی افغانستان عبارتند از:

۱- ایالت غرجستان که مرکز آن شهر بامیان می باشد.
۲- ایالت بلخ که مرکز آن شهر مزار شریف می باشد.
۳- ایالت هرات که مرکز آن شهر هرات می باشد.
۴- ایالت کندهار که مرکز آن شهر کندهار می باشد.
۵- ایالت ننگرهار که مرکز آن شهر جلال آباد می باشد.
۶- ایالت کابل که مرکز آن شهر کابل می باشد.

ماده چهاردهم: هر ایالت دارای قانون اساسی و قوانین فرعی خاص می باشد، اما قانون اساسی و قوانین فرعی هیچ ایالت

مخالف با قانون اساسی جمهوری فدرالی اسلامی کشور وضع شده نمی تواند.(۱۲)

ماده هیجدهم: هرگاه بر اثر انعقاد قرارداد و معاهدات دولت مرکزی با دول فرعی، اوضاع و شرایط ایالت و ایالاتی متاثر گردد باید دولت مرکزی قبل از آن با آن ایالت یا ایالات مذاکره و تفاهم نموده تدابیر لازم اتخاذ نماید.

ماده نوزدهم: ماموریـن عالی رتبه که در مقامات عالیه دولت مرکزی فدرال استخدام و همچنان سفرا و دیپلوماتهای افغانستانی که در خارج و محافل بین المللی تعیین می گردد از تمام ایالات بر اساس اهلیت و متناسب با تعداد نفوس شان انتخاب می شوند.

ماده بیستم: ملیتهای ساکن در کشور به تناسب نفوسشان در تشکیل قوای مسلح و قوای امنیت ملی سهیم می گردند.

پولیس هر ایالت از مردم آن ایالت تشکیل می گردد.(۱۳)

## قانون اساسی ایالت فدرال

(ضمیمه قانون اساسی جمهوری فدرالی اسلامی افغانستان)

ماده اول: جمهوری فدرالی اسلامی افغانستان کشور کثیر الملیت بوده که بنابر خواست اکثریت مردم و علایق فرهنگی، مذهبی، زبانی و سیاسی، ایالات در قلمرو آن تشکیل می گردد.

ماده دوم: هر ایالت در جمهوری فدرالی اسلامی افغانستان مطابق قانون اساسی دارای حدود معین جغرافیایی بوده و بر تمام قلمرو خویش دارای حاکمیت می باشد.(۱۴)

ماده دهم: هر ایالت در پهلوی بیرق جمهوری فدرالی اسلامی افغانستان بنابر خصوصیات ایالتی خویش دارای بیرق و نشان نیز می باشد.(۱۵)

که چیرې د حزب وحدت طرح عملي شي نو ایا د افغانستان په نوم به کوم واحد مملکت پاتې شي؟ ایا یوازې اسلامي نظام ددې جوګه نه دی چې ټولو خلکو ته حقوق ورکړي چې فدرالي دې هم ورسره وي؟ ایا دلته قومي وېش او د قومونو څرنګوالی او څومره والی دا شان دی چې هېواد دې پر شپږو ایالتونو ووېشل شي او هر یو دې ځان ته اساسي قانون او ځانګړي پولیس ولري؟ او په پوځ کې دې هم د هر ایالت خلك په مساوي او متناسب ډول وي؟ که چېرې یو ایالت یاغي شو، خپلو مېشتو پولیسو یې هم ملاتړ وکړ، په پوځ کې یې ونډه هم تر خوا ودرېدله او خارجي لاس هم ورسره شو او بل ایالت هم همدا چلند غوره کړ نو څوك به یې کنترول کړي؟ دا وخت نو هېواد خپله تجزیه کېږي.

ایا دا خبره کوم منطق لري چې دیپلوماتان دې د قومونو په تناسب انتخاب شي؟ ایا یوازې اهلیت کفایت نه کوي؟ دې طرحې څخه داسې ښکاري چې دوی ته د افغانستان په اندېول خپله سیمه او خپل لږکي ډېر مطرح دي. دوی د ایالت او ولایت ګټې غواړي خو د هېواد او ملت ګټو پسې نه ګرځي. دا ډول طرحې د هېواد د تجزیې لپاره لومړني بنسټونه دي او تر شا یې د بشپړې تجزیې ناوړه ارمان پروت دی.

طاهر بدخشي او نورو ستمیانو په خپلو لیکنو، ویناوو او تګلارو کې دا هڅه کوله چې د افغانستان نور قومونه خصوصاً تاجکان "ستم ځپلي" وښیي، دوی پښتانه د دې "ستم" عاملین ګڼي، چې د سخي غیرت په وینا: "به تعرض همه جانبه اقتصادي، اجتماعي، فرهنگی پرداخته بودند." خو بدخشي له دومره هلو ځلو سره سره بیا هم ستم نه و پېژندلی چې اصلي ستم کوم و؟ ده لاد خپل ژوند تر پایه پورې هغه ستم و نه پېژنده چې دده ژبه یې غوڅه

کړي او ترلي وه او دده قوم يې ورو ورو له معنوي پلوه ځان کې محوه کاوه او هويت يې ورته ختموه. خپله طاهر بدخشي ته به وګورو چې پر ده باندې چا ستم کاوه؟ او ده چا ته دا ستم راجع کاوه؟ طاهر بدخشي اصلاً د ختي له مخې ازبك دی، ښاغلی اسدالله ولوالجي يې هم په "ترك تبار" کې راولي او په بدخشان کې زېږېدلی دی. خو په غالب ګومان د ده ازبکي ژبه زده نه وه او نه يې د هغې د پرمختګ او بډاينې لپاره څه هڅه کړې ده، بلکې دی د خپلو ځينو نورو قوميانو په شان د فارسي يا تاجك پالنې په خم کې لمبېدلی و. هم يې خپل قوم هېر کړی او هم خپله ژبه.

د احصايو او ارقامو له مخې ګڼ شمېر ازبکان په فارسي ژبو چې تاجکان يې استازولي کوي اوښتي دي. د يوې احصايې له مخې د افغانستان په ټول نفوس کې د (۶,۱۰) فيصدو ازبکو په شمېر کې (۵,۸۰) فيصده ازبك (۱۶) په خپله ژبه ګړېږي، پاتې (۰,۳۰) يې فارسي ژبي شوي دي. طاهر بدخشي هم په همدې ازبکانو کې راځي. خو ده يوازې د ستم نوم اورېدلی او محسوس کړی يې نه و. اوس نو ښاغلی سخي غيرت ته هم سوال راجع کېږي چې چا "به تعرض همه جانبه اقتصادي، اجتماعي، سياسي و فرهنګی پرداخته بودند؟"

لکه څنګه چې ببرك کارمل د خپل ناڅرګند قومي هويت له کبله خپله بشپړه رسمي پېژندنه تر پايه چاپ نه کړه، همدا کار بدخشي هم کړی دی. دده له مرګه وروسته نورو ستميانو هم دده د قومي هويت او بشپړې قومي پېژندنې په باب څندان معلومات نه دي خپاره کړي. يوازې اسدالله ولوالجي يې څنګزنې يادونه کړې او سخي غيرت په يوه ليکنه کې په ضمني توګه ويلي چې: "طاهر بدخشی فرزند خلق ازبك بود" (۱۷) نو کله چې هغه "فرزند خلق ازبك" وي، نو لږ تر لږه خو بايد هغه د ازبك لړکيو د ژبنيو، فرهنګي

او قومي حقوقو غبر پورته کړی وای، نو اصلي ستم خو همدې ته وايي، چې د طاهر بدخشي له مرګه وروسته هم د ستميانو سازمان يوازې د تاجکانو په انحصار کې و، نه نورو قومونو له دې سازمان سره چندان لېوالتيا درلوده او نه هم دوی دومره علاقه درلودله چې دخپل سازمان په تشکيل کې دې هغوی ته څه اساسي رول ورکړي. يوازې يې د تبليغاتي کمپاين لپاره "د مليت های محروم و ستمديده، اقليت های ستم کشيده و برپا خاسته" شعارونه ورکول.

طاهر بدخشي د همدغسې ادعاوو او نارو سورو په پورته کولو او د روس پلوه سياستونو د تعقيبولو له کبله لومړی ځل پر ۱۳۵۶ل کال زنداني شو. تر خلاصون وروسته هغه بيا هم د حقيقي ستم پرځای، خپلو دې ډول هلو ځلو ته دوام ورکړ. پر ۱۳۵۷ل کال په هېواد کې سياسي فضا بدله شوه. د طاهر بدخشي او ببرک کارمل پخواني سياسي رقيبان د واك پر ګدۍ کېناستل، کارمل په چکوسلواکيا کې د افغانستان د سفارت له لارې د شورويانو غېږې ته پناه ورووړه، خو "حفيظ الله امين د طاهر بدخشي او د هغه د مرستيال قومي او سياسي حساب ته ځان ورساوه او دواړه يې د مرګ کندې ته ټېل وهل."(۱۸) ستميانو د شورويانو په راتګ سره خپلې ليکې پراخې کړې، له روسانو سره د مستقيمو اړيکو په نتيجه کې د هغوی له زياتو سياسي، پوځي او اقتصادي مرستو څخه برخمن شول. په تخار او بدخشان کې يې زيات "قومي غونډونه" جوړ کړل. د شورويانو او د هغوی له پوځي ټولګيو سره يو ځای يې د مجاهدينو خلاف په وسلوالو او تبليغاتي جګړو کې برخه واخيسته. وروسته د دولتي دستګاه په دننه کې هم زيات فعال کړای شول. د روسانو د پخوانۍ ستراتيژۍ له مخې پرچميانو هم چې پخوا يې د کمونيزم پرده پر مخ غوړولې وه، خپله پرده له مخې

لرې کړه، په ښکاره ډول د ستمیانو له تګلارې سره یو ځای شول. په جهادي لیکو کې د جمعیت او شورای نظار ډله چې مخکې تر مخکې د روسانو له خوا پر افغاني ضد روحیې سمبال شوي وو هم ستمي لاره خپله کړه. په نتیجه کې جمعیت، پرچم، ستم او نور ملي ضد ګروپونه سره په داخل کې متحد شول او په بهر کې د روسانو او ایرانیانو په مستقیم، ښکاره او ځرګند ملاتړ د سازشونو، ائتلافونو او توطیو له لارې د ملګرو ملتو د سولې پلان او د واک سوله ییز لېږد سبوتاژ کړ او په نتیجه کې پر ټول هېواد یوه توره انارشي راخپره شوه چې د دویمې سقاوي پیلامه ګڼل کېدی شي.

## اخځونه


۱- یادنامه محمد طاهر بدخشي، د "سازا" خپرونه، کابل، ۱۳۶۹ل کال، ۷مخ.

۲- اسدالله ولوالجی، در صفحات شمال افغانستان چه میگذشت؟ دویمه برخه پېښور، ۱۳۷۸ل، ۳- ۴ مخونه.

۳- یادنامه محمد طاهر بدخشی، د کریم میثاق یادښت، ۱۰۵مخ.

۴- همدا اثر، ۷مخ

۵- پوهنوال ډاکټر م. روستار تره کی، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۴۰مخ.

۶- یادنامه طاهر بدخشي، ۲۷ مخ.

۷- همدا اثر، الف مخ.

۸- د جهان ګل ضمیري مقاله، یادنامه طاهر بدخشی، ۱۱۷ مخ.

۹- د محبوب الله کوشاني مقاله، // ، ۱۰-۱۱ مخونه.
۱۰- د سخي غیرت مقاله، // ، ۹۸-۹۹ مخونــــه.
۱۱- متــن کــامل، قوانیــن اساســی افغانســتان، مرکــز فرهنــگی نویســنده گان افغانســتان، ایــران چــاپ ۱۳۷۴ل کـــال، ۳۱۵- ۳۱۶ مخونــه.
۱۲- پورتنــی اخــځ، ۳۱۶- ۳۱۸ مخونــه.
۱۳- پورتنــی اخــځ، ۳۱۹ مــخ.
۱۴- پورتنــی اخــځ، ۳۶۷ مــخ.
۱۵- پورتنــی اخــځ، ۳۶۸ مــخ.
۱۶- د افغانســـتان قومـــي جـــوړښت، د افغانســـتان لپـــاره د واك فونډېشــن، پــېښور، ۱۳۷۷ل کــال، ۴۸ مــخ.
۱۷- د سخي غیرت مقاله، یادنامه محمد طاهر بدخشي، ۹۹ مخ.
۱۸- ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی، یاد شوی اثر، ۴۰ مخ.

# "برابر ملیتونه" او د هغو تعبیرونه

کله چې روسانو پر افغانستان مستقیم یرغل وکړ؛ نو ورسره یو ځای په کابل او د هېواد په نورو سیمو کې د افغانستان د قومي او اتنیکي جوړښت د بېلابېلو څانګو لپاره ډول ډول اصطلاحګانې وکارېدې: "ملیت های برادر و برابر"، "اقلیت های ستمدیده و محروم" او نورې. دوی د افغانستان د بېلابېلو قومونو لپاره د "ملیتونو" نومونه وکارول. دا اصطلاح د روسانو له یرغل څخه دمخه په رسمي مطبوعاتو او حقوقي چارو کې د یو قومي تشکل لپاره نه ده کارېدلې. د ډاکټر محمد نادر عمر په اند دا اصطلاح روسانو دود کړې ده. "این اصطلاح ساخته و پرداخته شورویها است که هفتاد سال پیش با اشغال آسیای میانه بغرض تفرقه بین اقوام مختلف آن سرزمین به کار بردند.

شوروی ها متعاقب تجاوز با افغانستان بهمین منظور نفاق افگنی بین ساکنین آن اصطلاح ملیت ها را رایج نمودند و کمونیست ها در تعمیم و گسترش ان تلاش کردند.

اصطلاح ملیت ها نزد افغانها مردود است؛ افغانها ملت واحد را تشکیل میدهند. کسانیکه تابیعت افغانستان را دارند، بهر قومیکه منسوب باشند، ملیت آن افغان است و دارای حقوق مساوی هستند. پشتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، قرغز و غیره همه متعلق بیک ملت واحد بوده و افغان میباشد. در شناسنامهء هر کسیکه تابعیت افغانستان را دارد، برای شناخت وی افغان نوشته شده است." (۱)

ډاکتر محمد عثمان روستار تره کی لیکي: "در حقوق سوسیالیست ملیت به گروه افرادی اطلاق میگردد که دارای اوصاف مشترک نژادی، کلتوری و زبانی باشند به نحویکه اوصاف متذکره ارزومندی گروه موصوف را برای داشتن یک دولت اختصاصی یا لاقل دولت خود مختار داخلی، برانگیزد. مشخصات جداگانه گروه مذکور احتمال دارد توسط قانون دولت متبوع شناخته شود. گروهٔ را که داری اوصاف مشترک نژادی، کلتوری و زبانی باشند. در حقوق لیبرال بنام قوم یاد می کند، نه بنام ملیت.

بلی! اصطلاح ملیت به مفهوم قوم بار اول توسط لنین در اعلامیه مردم کارگر و دهقان مورد استفاده قرار گرفت. (Parcal Vennessom) مقدمه یی بر آثار لنین چاپ بروکسل، سال ۱۹۹۲، ص۲۵۶).

در افغانستان عناصر عقده بدل از شکست کمونیست ها در بخشی از مطبوعات هجرت اصطلاح ملیت را به همان محتوی کمونیستی نشخوار می کنند. گویا این عناصر به قوم بودن ملیت های نژادی در افغانستان قانع نیستند."(۲)

"د اړوند اجتماعي علومو له نظره ملیت (Nationality) او ملت (Nation) یو له بل سره د نسبت لرلو رابطه لري یعنې که په خارجي هېوادو کې له موږ څخه پوښتنه وشي چې ستاسې ملیت څه شی دی؟ نو سم له لاسه لنډ ځواب خولې ته راځي وایو چې "افغان" یعنې موږ پوښتونکي ته څرګندوو چې موږ افغان ملت ته منسوب یو، د ټولنپوهنې له نظره ملیت په حقیقت کې یو روحي او طبیعي میلان او احساس دی."(۳)

روسانو دا اصطلاح په ټولو دولتي چارو، سیاسي مسایلو او حقوقي برخو کې دخپلو ځانګړو اهدافو لپاره وکاروله. د هغوی ګوډاګیانو د دې اصطلاح په تبلیغ او کارونه کې لاډېر ګړندي ګامونه واخیستل. په کابل کې ددې لپاره یوه ځانګړې اداره "ریاست امور ملیت ها" جوړه شوه. په همدې بهیر کې یې د "ملیت های برادر" په نوم یوه مجله هم خپروله. په دې مجله کې له فارسي او پښتو پرته په نورو ژبو لکه ازبکي، پشه یي-هم لیکنې خپرېدې. د مجلې په کتونکې ډله کې دا کسان شامل وو: "محمد عوض نبي زاده، غلام حضرت ابراهیمي، عبدالله بختاني، حسین نایل، عبدالله مهربان، اشرف عظیمي، عبدالرحمن، عبدالکریم نظر، سلیمان سونارا نورساني، محمد زمان نیکرای او غلام صدیق شینګلینګ (مدیر) (۴). په مجله کې به زیات مطالب په فارسي ژبه خپرېدل، په نورو ژبو به کې زیاتره یوه یا دوه لیکنې راتلې. "تاجك ملیت" په کې په اصطلاح د مشرۍ رول درلود، پښتانه یې له نورو قومونو سره په "مساوي" تله کې ودرولي وو. دوی له "ملیت های برادر و برابر" اصطلاح څخه ناوړه ګټه پورته کوله. روسانو او د پرچم ډلې د دې اصطلاح په کارولو سره ولس تېر ایسته؛ دوی به تل له راډیو- تلویزیون او خپرنیو وسایلو څخه دا تبلیغ کاوه: "تمام

ملیت های ساکن افغانستان با هم برابر و برادر اند". د دوی په دې هڅه کې یو متضاد مانیز رمز پروت و، چې د دې شعار او نومونو له باطني مانا سره یې پیوستون درلود. دوی دا خبره نه کوله چې (د افغانستان ټول خلك سره ورونه او برابر دي او د قانون پر وړاندې یو شان مسولیت او حقوق لري.) دوی یوازې "ملیتونه" "برابر او برادر" ګڼل.

په دې هڅه کې اصلي هدف دا و چې د اکثریت او اقلیت تر منځ طبیعي پولې له منځه یوسي او د اکثریت حقوق د "برابرۍ او برادرۍ" تر نامه لاندې تر ستوني تېر کړي. د قانون پر وړاندې د افغانستان د ټولو وګړو په ورورۍ او برابرۍ کې خو هېڅ شك نه شته، خو کله چې په یوه هېواد کې په ټولیز ډول د قومونو سیاسي حقوق مطرح کېږي، نو هلته هر قوم د شومره والي له پلوه خپل حقوق اخلي. په دې کار سره د هېواد د ټولو خلکو فردي حقوق مساوي کېږي، خو قومي حقوق یې د شمېر په اندول د محاسبې وړ دي. دوی د دې لپاره چې د اکثریت (پښتنو) حقوق پر اقلیتونو ووېشي او د وېش تله هم د یو لږکي (تاجك) قوم د حقوقو د مدعیانو په لاس کې وي، له دې اصطلاح نه یې ګټه پورته کوله. د نجیب الله د واکمنۍ پر وروستي کال په کابل کې "د افغانستان د لیکوالو ټولنې" له خوا په آریانا هوټل کې د "بازتاب صلح در ادبیات" تر نامه لاندې یو سیمینار جوړ شوی و. دا سیمینار په افغانستان کې د "ملیت های برادر و برابر" د پالیسۍ د چلوونکیو د هغو سلګونو بېلګو یوه بېلګه ده چې دوی په خپل وخت کې پلې کوله. کله چې د سیمینار لپاره د مشرتابه هیئت ټاکل کېده، نو له هر "ملیتُ" څخه یو یو تن غوره شو. البته د سیمینار د چارو واك د لومړي اقلیت د استازو په لاس کې و. دوی یو تاجك، یو ازبك، یو هزاره، یو بلوڅ،

یو پښه یی، یو نورستانی او یو هم پښتون د مشرتابه لپاره غوره کړل." د سیمینار د چارو د سمبالښت ټول کارونه او واك د تاجك "ملیت" پر غاړه و او د سیمینار د چارو ژبه فارسي وه. یوازې دغو ښاغلیو استازیو یوه یوه مقاله په خپله ژبه ولوسته او د سیمینار پرېکړه لیك په فارسي ولوستل شو، نور سیمینار خلاص شو، پښتانه د لږکیو په شمېر حساب شول او پښتو ژبه هم د هغو ورو ژبو په څېر کې راوستل شوه چې د افغانستان په ځینو سیمو کې ویل کېږي. دوی د "ملیتونو" دغسې برابري غوښتله. خارج ته په سفرونو، ځینو دولتي پوستونو، غونډو او ان د علمي رتبو په ورکړه کې دا "معیار" په پام کې نیول کېده. کله چې د ډاکټر نجیب الله د دولت په وخت کې د "اکاډمیسین او کاندید اکاډمیسین" علمي رتبې ورکول کېدې، نو هلته هم دا معیار مطرح نه و چې څوك دې د خپل علمي ظرفیت په پام کې نیولو سره ددې رتبې مستحق وي، بلکې معیار د دولت خوښه او "د قومي انډول او برابرۍ" له مخې د رتبو ورکړه وه. دوی "د برابرۍ" تر پردې لاندې یوه سخته نابرابري رامنځته کوله. دوی غوښتل د اکثریت پښتنو حقوق په دې ډول پر اقلیتونو ووېشي او په دې توګه لږکي د پښتنو پر وړاندې ودروي. دا منطق به چا لیدلی وي چې د یو فیصد او ۶۵ فیصدو حقوق دې له قومي پلوه مساوي وي او دواړه دې په حکومت او دولت کې مساوي حقوق ولري. ایا په افغانستان کې د ۴۰ زرو هندوانو چې ځانته د دوی په اصطلاح یو "ملیت" جوړوي او د افغانستان د زیات اکثریت چې په سلو کې ۶۵ فیصده وګړي جوړوي، حقوق مساوي دي؟ آیا د همدې تاجك لږکي مدعیان چې "د ملیتهای برابر و برادر" شعارونه یې پورته کول، حاضر دي، چې د افغانستان په سیاسي چارو کې له

هندوانو او نورستانيانو سره برابر او مساوي حقوق ولري؟ او که نه په هر هېواد کې د اکثريت ونډه اکثريت او د اقليت، اقليت وي.

دوی هېڅکله دا شعار نه ورکاوه چې [په افغانستان کې د ټولو خلکو (افغانانو) فردي حقوق مساوي او برابر دي]، ځکه چې په دې کار سره په حقيقي بڼه د حقوقو د تساوي خبره رامنځته کېدله او هرچا ته د خپل حق د امکان چاره برابرېدله، خو دوی له هغو شعارونو او نومونو ګټه پورته کوله چې ظاهري مانا يې "برادري او برابري" خو اصلي او مقصوده مانا يې دښمني او نابرابري وه.

روسانو د همدې موخې په مقصد د "قومونو" لپاره د "مليتونو" نومونه وکارول. دوی دا نومونه د يو بل قومي تشکل په مانا کارول. دوی د (قوم) او (ملت) تر منځ يو بل تشکل ته قايل وو، نو ځکه دوی د (قوم) نومونه د افغانستان د لږکيو لپاره کسر شان(!) ګاڼه، نو پر ځای يې د "مليت" نومونه وکارول.

دوی د "مليتونو" مجموعې ته (ملت) وايه، نه د قومونو مجموعې ته! په داسې حال کې چې "ملت له قومونو څخه جوړېږي، نه له مليتونو څخه، د عربي ژبدود له مخې مليت د ملت جوهر بلل کېږي، لکه انسانيت چې د انسان جوهر دی، يا حيوانيت د حيوان خاصيت او ځانګړنه او په هېڅ ډول مليت د ملت او قوم تر منځ يو بل حالت نه شو ګڼلای. د قوم پر ځای د مليت د کلمې عامېدل د روسي کمونيستي استعمار يوه ښکېلاکي او وېشاکي هڅه وه.](۵)

# اخځونه


۱- ډاکټر محمد نادر عمر، دعوت جریده، ناروې، ۱۳۷۶ل کال، پرله پسې ګڼه ۷۹- ۸۰، لومړی مخ.

۲- ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی، همدا ګڼه، ۲مخ.

۳- عبدالجلیل وجدي، د زړونو او دماغونو ماینونه، پېښور، ۱۳۷۹ل کال، ۱۵۵ مخ.

۴- ملیت های برادر مجله، کابل، ۱۳۶۸، د دلوې- حوت ګڼه، پرله پسې ګڼه، ۴۰ مه.

۵- حبیب الله رفیع، خلافت مجله، کندهار، ۱۳۷۷ل کال، پرله پسې ګڼه، ۵-۶، ۶۰مخ.

# دویمه سقاوي

کله چې رباني- مسعود له نورو افغان ضد ډلو ټپلو سره د کابل ښار ته رادننه کړای شول، نو ټول ښار د وینو او لمبو په سیند ولمبول شو او ټول هېواد له یوې سختې بې ثباتۍ سره مخ شو. په افغانستان کې د واک په زرګونو مختلفې سرچینې رامنځته شوې او یوه عمومي انارشي چې لومړۍ سقاوۍ ته یې ورته والی درلود، خو په کیفیت، ظرفیت او کمیت کې له هغې څخه درنه او خطرناکه وه رامنځته شوه، ځینو نړیوالو راډیو ګانو او ځینو خبریالانو هم دې خبرې ته ډېر تاو ورکړ چې دا دی په افغانستان کې د پښتنو دوديز واک ختم شو او د حبیب الله کلکاني له وخت وروسته دا دویم ځل دی چې تاجیکان واک ته رسېږي. خپله مسعود هم د یوې مرکې په

ترخ کې څرګنده کړه چې "۱۵۰ کاله پښتنو حاکمیت درلود او اوس چې زموږ نوبت دی، موږ سره مخالفت کېږي." دوی په همدغه فکر او نیت کابل ته راننوتل، خو ظاهراً یې اسلامي انقلاب، جهاد او د اسلامي فکر پرده پر خان غوړولې وه. دوستم، مزاري او نورو ملي ضد اشخاصو او ډلو ټپلو هم له دوی سره په دې وخت کې یوه تګلاره تعقیبوله. دوی له حضرت صبغت الله مجددي څخه هم هغه مذهبي ګټه واخیسته چې لومړي سقاو (بچه سقاو) د شوربازار له حضرتانو ګل آقا مجددي او شېرآقا مجددي څخه پورته کړې وه. دوی ظاهراً صبغت الله مجددي د دوو میاشتو لپاره د اسلامي دولت د "ممثل" په توګه "تمثیل" ته وړاندې کړ، خو اصلي واك حضرت صاحب سره نه و، ځکه چې ده خو یوازې "تمثیل" کاوه، واك خو بل چا سره و. تمثیل همدې ته وایي چې څوك د یو اصلي او اساسي شخص، پېښې وکړي. دوه میاشتې یې د حضرت مجددي له نامه نه ګټه پورته کړه چې جهادي افکار پرې ساره کړي، لکه څنګه چې د شوربازار حضرتانو د غازي امان الله خان پر ضد د مذهبي فتوی له لارې د سقاو زوی بغاوت او واك ته زمینه برابره کړه، داسې حضرت صاحب مجددي هم د اسلامي انقلاب(!) د یو لوبغاړي په توګه د پردې تر شا د مسعود او رباني د واك لپاره زمینه برابره کړه. پخوانیو حضرتانو هم چې د امان الله خان پر وړاندې یې د سقاو زوی پلوي کړې وه، وروسته بیا پښېمانه و او حضرت صبغت الله مجددي هم وروسته له رباني او مسعود څخه سخت خوابدی شو او د حکمتیار خوا یې ونیوله.

کله چې رباني او مسعود د کابل پر تخت او خزانو خېټه واچوله نو د خپلو پخوانیو تحریکونو تر څنګ یې ملت ضد هلې ځلې او فعالیتونه نور هم ډاګیز کړل، دوی خپلو قومیانو او همژبو

تـه وویـل چـې همـدا مـو نوبـت دی، بـایـد زمـوږ تـر ځنـګـه ودرېږئ! دا تبلیغـات او لمسـونې پـه عـام ډول پـه ډېرو ځایونـو خـو پـه ځانـګړي ډول د هېواد پـه شـمال او د کـابل شـمال سـیمو کـې ډېرې زیـاتې مخصوسـې وې.

دوی د شـمال خلکـو تـه داسـې تبلیـغ کـاوه چـې د دوی مـلا وتـړي او کـه نـه دا ځل چـې پښتنـو پـاچـاهي ونیولـه نـو دا وار د شـمـال د خلکـو سر، مـال او نـاموس ټول پـه خطـر کـې دي(!؟) د شـمـال ځینـې خلـك د دوی پر دې ملي ضد تبلیغ تـېر وتـل او د دوی ملاتـړ یـې وکـړ.

پـه کـابل کـې یـې د کوهدامـدن د قوماندانـانو یـوه ځانـګړې اتحادیـه جـوړه کـړه او "شـوری بازسـازی کوهدامـن زمیـن" پـه نـوم یـې یـوه بلـه شـوری چـې اکـثره افغـان ضـد اشـخاص پـه کـې راټول شـوي وو جـوړه کـړه.

ربـاني پـه یـوه خصوصـي غونـډه کـې خپلـو تنظیمـي او ژبنیـو ملـګرو تـه وویـل: "مـا بـاید هـرګز اشـتباه امـیر حبیـب الله کلکـانی را تکـرار نـه نمـایم،" یـانې واك بـاید پـرې نـه ږدم. دوی لـه حبیـب الله بچـه سقاو سره دومره مینـه درلـوده چـې د هغـه پـه نامـه یې پـوځي ټولـګي او ملېشـایي ځواك هـم جـوړ کـړي وو او پـر ځینـو عسـکري ځایونـو بـاندې یـې د سـقاو زوی نـوم هـم ایښی و. د کـابل د خیرخـانې مینـې د درېیمـې برخـې سینما تـه ورخېرمـه، د شـمال د ملېشـو یـوه قـرارګاه وه، پـر هغـې لیکـل شـوي وو، "قـرارګاه شـهید امـیر حبیـب الله کلکـانی"، د استخباراتو پـه لـوی ریاسـت چـې ربـاني د امنیت ریاست بالـه، د هغـه دننـه دفـترونو کـې د سـقاو زوی د خولـې خـبرې د یـو شـعار پـه ډول لیکـل شـوې وې. دې سـقاویانو تـېر سـقاو تـه د درنـاوي لپـاره د کـابل د کلکـانو پـه سیمه کې یوه لیسـه هـم د هغـه پـه نامـه نومولـې وه، دا لیسـه

د کابل- پروان په عمومي سړك جوړه وه، پر لوحه يې داسې ليکل شوي وو: "ليسه شهيد امير حبيب الله کلکاني."

يوه ورځ مسعود د شمالي د کوهدامن سيمې څو سپين ږيري او ځوانان په جبل السراج کې سره راټول کړي وو او د سقاو زوی د واکمنۍ د وخت پر يوې کلا يې ودرولي وو. هغوی نه يې پوښتنه وکړه چې دې ځای ته څه وايي؟ هغوی وويل: "دې ته قلعه سوخته"

- ولې ورته قلعه سوخته وايي؟

- ځکه چې دا د سقاو زوی جوړه کړې وه، کله چې د سقاو زوی ماتې وخوړه د نادر خان لښکرو هغه وسېزله."

نو مسعود ورته يوه زهرجنه خندا وکړه:

ښه نو چې داسې ده که دا ځل هم پښتانه راغلل نو همداسې به کوي او دا ټولې کلاګانې به سوځوي. اوس مو نو خوښه چې ما سره ودرېږئ او که نه؟

وروسته بيا د کابل شمال سيمه څو ځله د طالبانو او رباني-مسعود د ټلوالې تر منځ لاس په لاس شوه او ډېرې سختې اورنۍ جګړې په کې وشوې، په نتيجه کې په زرګونو کورونه ويجاړ، کرونده تباه او په لکونو خلك مهاجرت ته اړ شول. د کوهدامن ښېرازه سيمه د مسعود د واکمنۍ قرباني شوه. د دې سيمې د يوه اوسېدونکي په وينا: "زموږ خلك د مسعود د پاچاهۍ قرباني شول، اوس که مسعود بيا هم پاچاهۍ ته ورسېږي او ډېر کلونه پاچاهي هم وکړي، هغه زيان چې د شمالي خلکو ته رسېدلی، بېرته نه شي جبرانولای. بله خبره دا ده چې مسعود يو عقده يي انسان دی، کله چې طالبانو کابل ونيو نو پنجشېريان له ډېرو شتو او مالونو سره مخ پر پنجشېر تښتېدل. د کابل- بګرام په دواړو سړکونو ورته ځينو خلکو لار نيولې وه، له يو شمېر پنجشېريانو نه يې هغه مالونه او ان

(سره زر) او پیسي واخیستل چې لـه کابلـه یې راتښتولـي وو. دوی د شمالي خلکو ته دا کینـه پـه زړه کـې سـاتلې وه، نـو ځکـه خـو یـې جګړه تړلـه پـه شمالي ډنډ کـې متمرکز کـړه او پـه دې ډول یـې زمـوږ خلکـو تـه نـه جـبرانېدونکي زیانونـه واړول."

د ربـاني مسـعود د همدغـې سـقاوي پالیسـۍ لـه مخـې هغـوی پـه خپلـه واکمنـۍ کـې د سـقاو زوی لپـاره پـه پـراخ ډول تبلیغـات پیـل کـړل. هـڅه یـې وکـړه چـې هغـه د ښوونځیـو پـه نصـاب کـې د یـو مثبـت شـخصیت پـه تـوګه شـامل او زده کوونکوتـه معرفـي شـي. داسـې هـڅې هم کېدلې چې بچه سقاو د افغانستـان د یـو قـانوني واکمـن او پـاچـا پـه تـوګه معرفـي کـړي.کله چـې د ۱۳۷۵ل کـال د وري پـر میاشـت د حبیـب الله کلکـاني پـرې ایـښې ښځه پـه حـق ورسـېده، نـو دا موقـع د کـابل د نویـو سـقاویانو لپـاره د خپلـو احساسـاتو د ښودلـو ډېره ښه موقعـه وه؛ پـه ډېر شان او شـوکت یـې د هغـې د مـرګ خبر لـه کـابل راډیـو نـه خپـور کـړ. عجیبـه خـبره خـو دا وه چـې دا د حبیـب الله کلکـاني لومړنـۍ ښځه وه، چـې ده ورسـره د خپلـې واکمنـۍ پـر وخـت اړیکـي پـرې کـړي وو. دا ښځه لـه همغـه وخـت راهیسـې پـه مـزار شـریف کـې اوسـېدله، خـو اوسنیو سـقاویانو هغـې تـه د "ملکـې" خطـاب وکـړ او د هغـې د فـاتحې مراسـم یـې پـه خپـل سـقاوي شـان و شـوکت پـه اصطـلاح پـه دولتـي بـڼه واخیسـتل. کـابل راډیـو د هغـې د مـرګ خبر داسـې خپـور کـړ: "نسبت وفـات ملکـه سـنگري خـانم پـاچـا شـهید، شـاه سـابق افغانسـتـان امـیر حبیـب الله کلکـانی خـادم دیـن رسـول الله در مـزار شـریف داعیـه اجـل را لبیـک گفـت. فـاتحـه ملکـه سـنگری از ظـرف اتحادیـه بازسـازی کوهدامـن در مسـجد حضـرت علـی کـرم الله وجهـه بـه تـاریخ ۱۳۷۵/۱/۱۴ اخـذ میـگردد."(۱)

دا سقاویان نه یوازې له فکري پلوه له تېرو سقاویانو سره یو شان وو، له عملي پلوه هم د هغو په شان وو، خو په افراط کې تر هغو هم زیات وو. دلته به د یو بهرني لیکوال د ناول یوه برخه راوړو چې د لومړي سقاوي د لوټ، تالان او نادودو په باب یې لیکلې دی.

او بیا به د دویمې سقاوي په پېر کې ځینو پېښو ته اشاره وکړو، کله چې لوستونکي د بهرني لیکوال دا لیکنه ولولي، نو وبه وایي چې د دواړو ماهیت یو شان دی.

"د دغه اثر دوه ویشتم څپرکی چې سرلیک یې "د کابل تباهي" ده ستاسې خوږو لوستونکو پر مخ پرانیزم، ویې لولئ، ویې ګورئ او د کابل اوسني تباهۍ سره یې پرتله کړئ!

"د سقاو زوی پر ارګ ورننووت، خپل وحشي پوځ ته یې د ښار د لوټولو حکم ورکړ، سقوي لښکرې د ښار په څلورو خواوو کې خورې شوې، تر هر څه دمخه یې ښار لوټ کړ. واړه او لوی دکانونه، کارخایونه او کارخانې دا هرڅه یې وتښتول، دوکاندارانو په مخکې یې د هغوی د دکانونو شته او شیان تر ې ورل او روان وو، هغوی د دوی په مخکې د ټولو قیمتي شیانو د لوټ حکم کاوه، خو دوی به په پوره صبر او پټې خولې د خپلې خونې د ورانۍ ننداره کوله، وایي چې د مال د سولو ننداره هم لوی غم وي، په پیل کې چې ډاکوانو په لوټ لاس پورې کړ یو شمېر زړورو خلکو به د مخنیوي بندوبست ورته کاوه، خو ډاکوانو به ډېر ژر پر دغو کسانو ټوپک راواړاوه او ځای پر ځای به یې کړل، بیا به چا جرات ونه کړ بلکې وبه ډار شول، دکانونه به یې پرېښودل او هلته په یوه ګوښه کې به لرې ودرېدل. سقوي پوځ به یو پر بل پسې ټول لوټ کړل، هغوی یوازې د مالونو او شیانو په لوټنه بسنه ونه کره، یو شمېر دکانونو ته یې اور هم واچاوه.

ډول ډول دنګې ماڼۍ يې د سترګو په رپ کې سوځولې او په خاورو ايرو يې اړولې.

سقوي پوځيانو چې کله ښار لوټ کړ، بيا يې د کورونو پر خوا ورمخه کړه، ځينو خلکو خو خپلې دروازې وتړلې، له خپلو بچيانو سره په خپلو کوټو کې کېناستل. وحشي ډاکووانو دروازې ماتې کړې او په زوروټيا سره پر کورونو وروختل، تر هرڅه دمخه يې د کورونو د شتو او شيانو پر لوټولو لاس پورې کړ، سره او سپين او د مېرمنو ګاڼې يې ولوټلې، وروسته يې د ښکلو نجونو پر بې عزته کولو باندې پيل وکړ. نازولو نجونو ته يې د هغوی د مور او پلار په وړاندې لاس وراچاوه، هغوی به د وحشيانو له ډاره خپل مور او پلار له غېږه ورکړه خو هغو وحشيانو به د مور او پلار له غېږې څخه راکشوله. که کوم مظلوم مور او پلار به دخپلې لور ننګه وکړه هغوی به يې هم پر ګوليو پر ځمکه راورغړول. وحشي او بربري ځېرو زياترو د ميندو او پلرونو په مخکې د هغوی د لوڼو بې عزتي وکړله، که به کومې سپېځلې نجلۍ د هغوی د وحشيانو د هيلو له پوره کولو نه سروغړاوه، د هغوی جزا خو بې ښه او بده مرګ و.

دغه وحشيان او داړونکي حيوان ډوله انسانان پر کابل راپرېوتل، هغوی په هره جاده او هره کوڅه کې په ظلم او لاس اچونې لاس پورې کړ، يو شمېر سپين ږيري چې سپين کالي والاوو هغوی په هغه حال کې چې دولت يې نه لاره په ډېره سختۍ سره کولای شول چې خپله آبرو او عزت دې د دغو وحشيانو په مقابل کې وساتي. ځکه دوی به ويل چې ولې شته او دولت نه لري. هغوی به يې له کورونو راوايستل او په متروکو به يې تغمې تغمې کړل..." (٢)

په دويمه سقاوۍ کې هم کټ مټ همدا حالات تکرار شول، دلته به يې ځينې بېلګې راوړو:

محمد نبي عظيمي چې په خپله ددويمې سقاوي يو اساسي لوبغاړی و په خپل کتاب "اردو و سياست در سه دهه اخير افغانستان" کې ليکي "در هر چهارراهی قوماندانی، پوسته يی سنگری، زره پوشی، تانکی به چشم می خورد، قوماندان پادشاه خود مختار چهارراهی بود، آنچه می گفت و آنچه انجام می داد، قانون بود و بازخواستی در قبال نداشت. قانون مسلط در چهاراهی بود... بناءً هرچه و هرکس که از آنجا عبور میکرد از بايسکل گرفته تا مرکب و از گوسفند گرفته تا آدم مال شخصی قوماند'ن بود و بيک اشاره او ضبط ميگرديد...

چه دورانی بود، دورانی که قيمت يک انسان معادل يک مرمی تفنگ و يک پارچه نازل راکت تنزل کرده بود.

در کابل انروزها ديگر هيچ نشانی از تمدن انسانی باقی نمانده بود، برق، آب، سرويس و تلفون که مظاهر تمدن است وجود نداشت. دکان ها و مغازه ها غارت شده بودن و يا از ترس غارت شدن تخته کوب. تن سرکها و پيکر عمارت ها با هزاران مرمی و ميزايل، تفنگ ها و توپ ها سوراخ سوراخ گرديده بود. حفره ها عميقی در هر کوچه و کوه و برزن به چشم می خورد، حفره هائيکه به گور های شوم، تاريک و سياهی شبيه بودند... آخرين ميخ ها به طابوت مظاهر ترقی و تمدن انسانی کوبيده می شد."(۳)

"د بښنې نړيوال سازمان د رپوټ له مخې يوازې د ۱۹۹۴ع کال د سپتمبر پر مياشت د توغنديو د لګېدو له امله (۱۱۰۰) تنه وژل شوي او (۲۳۰۰۰) تنه ټپيان شوي دي"(۴)

د ۱۹۹۲م کال له اپرېل څخه وروسته د ټولو ډلو له خوا د درنو وسلو د اورولو له امله په لسګونو زره ملکي وګړي وژل شوي او يا ټپيان شوي دي"(۴)

د نبي عظيمي په وينا: "... در جريان جنگ سه روزه كه از ۵ ثور ۱۳۷۱ الی شام روز ۷ ثور ادامه داشت، در مناطق مختلف شهر كابل، خانه زيادی تخريب شد و مردم بيگناه زيادی به قتل رسيد و يا زخمي گرديد. مال و دارايی مردم چور وچپاول شد. در بعضی موارد به ناموس آنها تجاوز صورت گرفت، تعداد كشته شده گان اهالی ملكی درين جنگ ها همه روزه حد اقل به ۱۰۰۰ نفر تخمين زده می شد."(۵)

دا حالت نه يوازې د كابل په ښار كې و، بلكې د افغانستان داكثره سيمو همدا حال و. مولوی عبدالباقي تركستاني چې پخپله د "جمعيت تنظيم" له پلويانو او نامتو كسانو څخه و، پر ۱۳۷۳ل كال د مزار شريف تلويزيون كې د خپلې وينا په ترڅ كې وويل:

"در طول ۱۴ سال حكومت كمونيستها يک سوزن ملت و دولت را چور نكردند ولی ما مجاهدين در ظرف يک سال يک سوزن برای دولت و مردم باقی نگذاشتيم"(۶)

مزار شريف چې د هېواد د تجزيه غوښتونكو ډلو او سقاويانو يو لوی مركز و، هم د طالبانو تر بري څخه موده وړاندې د كابل په شان برخليك درلود. نظار شورا، دوستم ډله او وحدت ډله په خپلو منځونو كې پر جګړه اخته وو، د خلكو سر ومال، حيثيت او ناموس په خطر كې وو. ښه به وي چې دا واقعيت هم په خپله د شمال ائتلاف د يو بل پوځي غړي "ډګر جنرال اركانحرب عبدالروف بيګي" له ليكنو چې هم ستمي تمايلات لري او هم يې د دويمې سقاوی په راوستلوكې لاس درلود ولولو. جنرال بيګي وايي چې ما د مزار شريف د خپل منځي جنګونو په باب "محقق" ته وويل: "... اگر جنگ ها قطع نه گردد همه ما بدبخت ميشويم. اگر اين توطيه ها دوام كند، همان چاروق و همان داس به دست مان خواهد بود. جاويد، رو

به طرف علم خان کرده گفت که امنیت را در شهر مزار شریف تامین کنید. علم خان یکباره از جایش برخاسته گفت، کدام امنیت؟ خواهر و برادر ما در پیشروی ما زنا میشوند. خانه برادر ما در پیشروی ما چور و چپاول میشود، زن ها و کودکان ما مورد آزار و ازیت قرار میگیرند، تا دیروز میگفتند، جنبش این کار ها را میکند، حال در ساحه که چپاول میشود افراد جنبش وجود ندارند، چرا نمی گوئید که ما میکنیم، حال ممانعت میکنم، من چطور امنیت را تامین کنم. قوتهای شما به داخل شهر هستند نه پدر شان را می شناسند و نه مادر شانرا، چه کسی باید آنها را اداره کند...

هزاره ها اوزبکها را اسیر میگرفتند و لت و کوب میکردند موترهای شانرا میگرفتند... شیرعرب در صحبتی با مسعود، دست داشتن مسعود را در جنگهای اخیر تاکید میکند، شیر عرب به مسعود میگوید، برایم گفتی که در مزار پرسونل شبرغان و فاریاب نباشد، همین کار را کردم، گفتی مزار را خود تان اداره کنید قبول کردم و امر تانرا اجرا کردم. اما امروز میخواهی ناموس ما را زیر پای هزاره بیاندازی و بی ناموسی ما را تحمل میکنی؟..."(۷)

په دویمې سقاوي کې داسې په سلګونو څه چې په زرګونو ناوړه پېښې شوي چې له لومړي سقاوي سره یې ورته والی درلود او ان له هغې څخه ځو ځله درنې او سختې وې. خو دویمې سقاوي له لومړي سقاوي څخه ځو اساسي توپیرونه درلودل:

- د دې سقاوي دوره تر هغې پنځه ځله زیاته وه.

- هغې سقاوي د تمدن نوې راتوکېدلې هیلې ومرولې او دې سقاوي پنځوس کلن تمدن او دولتي جوړښت له منځه یوړ.

- څرنګه چې د دویمې سقاوۍ عمر د لومړۍ په اندول زیات دی، همداسې یې زیانونه هم تر هغې زیات دي.

- د لومړۍ سقاوۍ اصلي متحرك یو امپر او نالوستی شخص و، ملك ته یې زیات زیان د خپل جهالت له کبله اړولی و او نوره ډله یې هم همداسې وه.

- دویمه سقاوي او د هغه لوبغاړي په شعوري او اګاهانه ډول د هېواد دښمنان دي، دوی په شعوري ډول غواړي د هېواد رغنده بنسټونه ویجاړ کړي او په هېواد کې ملي اندول او یووالی له منځه یوسي او هېواد له تجزیې سره مخ کړي.

- لومړۍ سقاوي له انګرېزانو پرته چې هغوی هم د یوې وسیلې په توګه ترې کار اخیسته نورو هېوادو سره د افغانستان د خاورې او ولس پر ضد کوم پټ او ښکاره تړون نه و کړی، نه پرې پوهېدل.

- دویمې سقاوۍ د افغانستان له ټولو لرې او نږدې ګاونډیانو او دښمنو هېوادونو سره د افغانستان په ورانۍ کې یو ځل سرخوځولی او هرڅه ته یې د دې کار لپاره لاره خلاصه کړې ده. په هره برخه کې د دویمې سقاوۍ زیانونه او کړاوونه تر هغې لومړۍ زیات دي. دلته به د دویمې سقاوۍ پر اصلي لوبغاړو، رباني، مسعود او د دوی د ادارې او افغانستان ته د دوی د ادارې پر وخت د اړولو شویو زیانونو په باب یو څه څرګندونې وکړو.

# اخځونه

۱- کابل راډيو، ۱۳۷۵ل کال، د وري ۱۳/۱۴ نېټه.
۲- کابلي والا (يا کابلی پېغله) مولانا محمد صادق حسين صادق صديقي، د پوهندوی عبدالخالق رشيد تبصره، هيله مجله، ۱۳۷۹ل کال، ۶ مه گڼه، ۱۱۳-۱۱۴ مخونه.
۳- محمد نبي عظيمي، اردو و سياست، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۶۱۴ مخ.
۴- پوهنوال محمد عثمان روستار تره کی، محاکمه جنايتکاران جنگ در افغانستان، ۱۳۷۹ل کال، ۶۰ مخ.
۵- محمد نبي عظيمي، اردو و سياست، ۱۳۷۷ل کال، ۵۸۴ مخ.
۶- محمد عثمان روستار تره کی، محاکمه جنايتکاران جنگ افغانستان، ۱۳۷۹، ۵۳ مخ.
۷- جنرال عبدالروف بيگي، افغانستان بعد از پيروزی انقلاب اسلامی تا سقوط شمال بدست طالبان (۱۹۹۱-۱۹۹۸)، پېښور، ۱۳۷۹، کال، ۲۵۰-۳۵۱ مخونه

# رباني د کارمل په فکري او د بچه سقاو په عملي رول کې



د تېرو دوو لسيزو په سياسي ډګر کې برهان الدين رباني هغه مبتذله څېره ده چې ورځ په ورځ يې خلکو ته د شخصيت منفي اړخونه او د کرکتر اصلي جوهر ځرګند ېږي. دی تر يو وخته پر دې بريالی شو چې د خپل شخصيت باطني او اصلي جوهر له خلکو پټ

وساتي. د "اسلامي تحريك" په ليکو کې ځان تنظيم کړي او بيا د روسانو په يرغل سره د يو مصنوعي شخصيت په توګه تبارز وکړي. د جهاد په بهير کې هم دده د سياسي شخصيت په باب يو لړ شکونه پيدا شول، خو څرنګه چې هغه وخت له روسانو سره د افغانانو د مقابلې سياسي او پوځي ډګر ډېر ګرم و، نو دده په باب چا دومره فکر او تشويش نه کاوه، دجهاد په ليکو کې هم دی او هم دده تنظيم د دښمن پر وړاندې د اصلي او اساسي فکتور په توګه مطرح نه وو، بلکې د يو "ګوزاره کوونکي" شخص او تنظيم رول يې درلود.

داسې انګېرل کېږي چې د برهان الدين رباني کورنۍ پخوا له تاجکستان نه افغانستان ته راکوچېدلې وي. دی "د محمد يوسف زوی پر ۱۳۱۹ل کال د بدخشان ولايت مرکز فيض آباد کې زېږېدلی دی. پر ۱۳۲۶ل کال د فيض آباد په منځنۍ ښوونځي کې شامل او پر ۱۳۳۵ل کال د کابل د ابوحنيفه مدرسې چې هغه وخت د دارالعلوم شرعيه په نامه يادېده د دې مدرسې په نهم ټولګي کې شامل شو. پر ۱۳۳۸ل کال د دې مدرسې له ۱۲ ټولګي څخه فارغ او پر ۱۳۳۹ل کال د کابل پوهنتون په شرعياتو پوهنځي کې شامل شو. پر ۱۳۴۴ل کال له پوهنتون څخه فارغ او د شرعياتو پوهنځي د کدر غړی شو. پر ۱۳۴۵ل کال يې د مصر له الازهر پوهنتون څخه ماستري تر لاسه کړه. د ۱۳۵۳ل کال په جوزا کې پېښور ته راغی."(۱) او د آی، ايس آی غېږې ته يې پناه يوړه. د ۱۳۵۳ل کال له جوزا څخه د ۱۳۷۱ل کال د ثور تر (۸) نېټې پورې په پاکستان کې اوسېده او سياسي فعاليتونه يې پر مخ بيول.

برهان الدين رباني داسې يو شخص دی چې ظاهري او باطني شخصيت يې سره يو شان او برابر نه دی. د ژوند بېلابېلو حالاتو هم دده شخصيت لوټ پر لوټ اړولی او د يو باثباته شخصيت په شان

يې خپل مثبت ارزښتونه ساتلي نه دي. دده شخصيت په بېلابېلو پړاوونو کې لکه د اوبو په شان چې په هر خم کې وي د همغه رنګ اخلي بېلابېل رنګونه غوره کړي دي.

۱- له ۱۳۵۲ ل کال څخه وړاندې رباني.

۲- له ۱۳۵۲ – ۱۳۵۷ل کال پورې رباني.

۳- له ۱۳۵۷ – ۱۳۷۱ل کال پورې چې د جهاد کلونه ګڼل کېږي بل رباني.

۴- له ۱۳۷۱ څخه تر ۱۳۷۵ل کال پورې نيمواکه واکمن رباني.

او له ۱۳۷۵ل کال څخه تر ننه (۱۳۷۹) پورې له واکه پرځېدلی او شړل شوی رباني.

په دې هر زماني واټن کې دی يو بېل (رباني) ليدل کېږي. پېښور ته تر تګ دمخه هغه بل شان اخلاقي ځانګړنې لرلې. برید جنرال الکساندر لياخوفسکي چې په افغانستان کې د شوروي پوځونو د پليو قطعاتو يو لوړ رتبه قوماندان و، د شوروي د استخباراتو په حواله ليکي: "رباني له ظاهري سپېڅلتيا سره سره کمزوری او بې واکه شخص دی. د هغه دا ځانګړتياوې د ځوانۍ په کلونو کې ځان ښکاره کړې، دغه وخت رباني د کريم بای له کورنۍ سره نږدې کېږي. د کريم بای کور به د شپې (د عشرتونو) شاهد و. په دغو مجلسونو کې د صغيرو نجونو پر عزت تېری کېدل."(۲)

دده د ځوانۍ زيات وختونه په همدغسې محفلونو کې تېر شوي. دی له ډېرو هغه اخلاقي مسايلو سره چې زموږ په ټولنه کې هم د کلتوري او هم د اسلامي اصولو او احکامو له مخې سخت جرم او ناروا ګڼل کېږي، يا بې تفاوته و او يا هم بې وسه.

لکه څنګه چې د ده دخپلې ټولې په اصطلاح واکمنۍ په بهير کې پر يوه سيمه او يوه ښار او ان پر خپلو ملګرو هم خپله بشپړه واکمني ټينګه نه شوه کړای خو بيا يې ځان ته "جمهورريس" وايه، همداسې دده دټولنيز ژوند پر نورو اړخونو کې هم دده د ډېرې بېواکۍ او کمزورۍ بېلګې شته.

د ۱۳۷۸ل کال په پيل کې د يوې نړيوالې راډيو يو سيمه ييز خبريال بدخشان ته سفر کړی و، هلته يې د ځينو نورو سيمو د کتنې په ترڅ کې د استاد رباني د "جمهورريس" "نوي ودانۍ" هم وليدله چې په خپله د جمهورريس کور هم و. دې خبريال کيسه کوله: "دا کور د يوې نسبتاً لوړې غونډۍ پر سر پروت دی. ما غوښتل چې دا کور له نږدې ځای نه وګورم، کله چې غونډۍ ته ورنږدې شوم نو ګورم چې پر يوه خره دوه (پنج ګيلني) بار دي او د غونډۍ سر ته د ختو په حال کې دی، ما له خپل همځنګ ملګري نه پوښتنه وکړه چې دا خر دلته څه کوي؟"

هغه راته وويل: "اينجا خانه استاد است اين خر روز چند مرتبه به اين خانه آب ميبرند، اينرا اجاره گرفته، "ملكه" نيز گاهى در اينجا زندگى مى كند." همدې خبريال ويل چې: "څو ورځې وروسته د فيض آباد په جامع جوماټ کې استاد رباني د جمعې تر لمانځه دمخه خبرې کولې او خلك يې جهاد ته رابلل، استاد د خپلو خبرو په ترڅ کې خلکو ته وويل: طالبان يک گروه ياغي، باغي و مزدور پاکستان هستند، چون در مقابل يک ريس جمهور قانوني و يک دولت اسلامي بغاوت کرده، بناءً در مقابل آن جهاد فرض است، مردم بايد عليه آنها جهاد نمايند." دا چې خلکود استاد پر خبرو سر ګروه او که نه؟ دا خو يوې خبرې د ټولو پر شونډو يوه مالګينه موسکا خوره کړې وه او هغه دا چې کله به استاد د "ريس جمهور

قانوني" اصطلاح کارولـه نـو خلکـو بـه یـوه بـل تـه وکتـل او سـره موسکي به شول، دا نـو یـوه عجیبـه ننداره وه."

د استاد ذهنـي کچـه او اخیستنه د هغـه ولـس لـه ذهنـي کچـې هـم ټیټه وه چې ده ېې ځان جمهور ریس! باله، هغوی لا ان د "جمهورریس" پر لفظ خندل خو ده پرې ویاړ کاوه.

پر ۱۹۹۷ع کال هغه وخت چې طالبان لومړی ځل مزار شریف تـه ننوتـل نـو یـوه ورځ وروسته پـه کنـدز، تخـار او د شـمال پـه نـورو برخوکې هم خلکـو د طالبانو پـه پلـوي سپین بیرغونـه ورپـول. د تالقانو ښار زیاتې برخې د طالبانو سیمه ییزو پلویانو ونیولې، استاد ربـاني او استاد سیاف دواړه لـه تالقانو نـه د یـوه هلیکوپټر پـه ذریعـه د تېښتې پـه لـټه کـې وو، استاد سیاف عاجل د الوتکې پیلوټ خبر کـړ چې الوتکـه پرواز تـه تیاره کـړي، خـو پیلـوټ د وضعې پـه نزاکـت او باریکـۍ ښه خبر و، ویـې ویـل چې الوتکـه (هلیکوپټر) تخنیکـي عارضـه لـري او پرواز نـه شي کولای، استاد ربـاني چې خبر شـو نـو سخت وارخطا شـو او استاد سیاف تـه یـې مخ راواړاوه "استاد بخیالم کـه گیر ماندیم؟" استاد ربـاني پـه دې برخـه کـې پـه ډېر ژړغونـي آواز یو ځل بیا لـه استاد سیاف نـه هیلـه وکړه چې "استاد یک چاره بسنج کـه در گیر طالبا نفتیم." استاد سیاف یو ځل بیا پـر پیلـوټ ټینـگار وکـړ، پیلـوټ د ډېرو پیسـو غوښتنـه وکـړه خـو بـالاخره پـه دوه زره امریکـایي ډالـرو خبره غـوځه شـوه. استاد ربـاني او استاد سیاف لـه خپل یوه مقدار پیسو سره پـه همـدې الوتکـه کـې د تاجکستان کـولاب هوایي ډگر تـه یوړل شول. کلـه چې هوایي ډگر کـې الوتکـه کښناسته نـو د هغـه ځای سیمه ییز سـاتونکي پـر الوتکـې راټول شـول، د استاد ربـاني او استاد سیاف جیبونـه یـې ښه تلاشـي کـړل او هېڅ یـې ورتـه پـرې نـښودل، د کـولاب د نظامي اډې سـاتونکو داسې فکـر کاوه چې

نوره نو د استاد رباني پاچاهي د ابد لپاره ختمه شوه او دا وروستی غنیمت هم دوی ته په لاس ورغی. شپه لا وتې نه وه چې په مزار شریف کې حالات د طالبانو له کنتروله ووتل او په زرګونو طالبانو په کې خپل ژوند بایلود. پر سبا د کولاب هوایي ډګر لوړ پوړي چارواکي د دې لپاره چې د رباني د پاچاهي لپاره امیدونه بیا راژوندي شول، د هغه پروني سپکاوي له امله چې ده ته شوی وو، معذرت وغوښت او ویې ویل چې دا کار هسې ناپوهو کسانو کړی دی. استادته خو خپلې پیسې چا بېرته ورنه کړې خو دا یوه ښښنه هم ده ته ډېر لوی او غټ اعزاز و. د استاد رباني دا کیسه هغه وخت په کابل کې د طالبانو شریعت غږ راډیو خپره کړه.

دا چې د نورو له نظره د رباني اخلاقي شخصیت څه ډول تعبیربدلای شي، دا یوه بېله خبره ده، خو د اروا پوهنې له نظره په خپله د رباني فزیکي جوړښت د (مخ، سترګو، شونډو او د غږ له جوړښت او حرکتونو څخه) د هغه ځینې اخلاقي نیمګړتیاوې او نورې کمزورۍ معلومېږي.

پېښور ته تر راتګ دمخه د هغه فردي شخصیت تر زیاته بریده پر ده او دده پر کورنۍ پورې تړلی و. خو کله چې روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، د تنظیمونو بازار ګرم شو او د لویدیځ بې شمېره پیسې راشېوه شوې، نو رباني نه هم په کې "سړی" جوړ شو؛ د یو تنظیم مشر شو او بیا یې د ټول هېواد د مشرۍ لپاره په سر کې نشه پیدا شوه. د جهاد په کلونو کې هم دده رول ټاکونکی او پرېکنده نه و، په دې وخت کې هم ځینو کسانو سره دده د ځاني، سیاسي او اخلاقي شخصیت په باب شکونه پیدا وو او دی یې یو بې ارادې او سست عنصره شخص باله. دده له همدې کمزورې ارادې څخه ځینو سیمه ییزو قوماندانانو ډېره زیاته ګټه واخیسته او

لـه هغـې بهرنـۍ مرسـتې نـه چـې د جمعيـت تنظيـم لــه لارې پــه بــې کنټرولــه ډول دوی تــه ورکــول کــېده د خپــل ځان د تبــارز لپــاره ګټه پورتـه کـړه، هـر يـوه د ځينـو ګاونـډيو هېوادونـو پـه لمسـه ځانتـه د واك يـوه محلـي اداره جـوړه کـړه. ربـاني د خپلـې بـې کفايتـۍ پـه وجـه دې تـه مجبـور شـو، چـې د هغـو هـره خـبره ومنـي، ان تـر دې چـې ده خپلـه هـڅه کولـه د ځينـو نـورو اړيکـو لـه لارې هغـوی راخپـل کـړي چـې د ده مشرۍ تـه زيـان ونـه رسـوي. يـو ځل يـې احمـد شـاه مسـعود تـه پېشـنهاد وکـړ چې ده سره خپلولـي وکـړي او همدارنـګه ځينـو نـورو قومانداانـو تـه!

په جهادي پړاو کې ربـاني، سـره لـه دې چـې د حکمتيـار پـه انـډول يې په جګړه ييزه او سياسـي برخـه کـې رول کمزوری و، خـو پـه سـر کـې يــې دواك د نيولــو تلوســه او مينــه ډېره زياتــه وه او ان د يــوې روانــې عقـدې تـر بريـده، ځکـه نـو ورو ورو د يـو سـازش، توطيـې او ائتـلاف پـه لـټه کې شـو. د عبدالحميـد مبـارز پـه نـوم يـو ليکونکـی چـې "از سـقوط سـلطنت تـا ظـهور طالبـان" پـه نامـه يـې د هـېواد د ځينـو سياسـي پـېښو پـه بـاب يـو اثـر ليکلـی، سـره لـه دې چـې لـه ربـاني او نـورو سـتمي ډلـو سـره يـې خواخـوږي پـه کـې څرګنـده او ډاګيـزه ده خــو بيــا هـم د قــدرت لپـاره لـه اسـلامي تـګلارې ښخـه د ربـاني او ده د تنظيـم د لـرې کـېدو خـبره نـه پـټوي، وايـي: "جمعيـت اسـلامي ربـاني کـه از ايديـالوژي سـيد قطـب و حسـن البنـاء متـاثر بـود و تحـت تـاثير ليبيـا و ايـران در قسـمت يـک دولـت خـالص اسـلامي قـرار داشـت ديـگر بــه تدريـج تمـايلات سياسـي ان بـر تمـايلات بنيـادګرايـي آن تفـوق حـاصل کـرد، ديـگر بـرای احيـا و تاسـيس يـک دولـت اسـلامي مبـارزه نميکـرد، بلکـه بـرای کسـب قـدرت مبـارزه مـی نمـود، چنانچـه از سـال ۱۹۸۳، بـه بعـد يـک خـط معتدل تـر را نسبت بـه حـزب اسـلامی اتخـاذ کـرد".(۳)

روسان چې د رباني د شخصيت کمزوري اړخونه له پخوا څخه ورته معلوم وو، هم په دې لټه کې وو چې ده سره خپل اړيکي ټينګ کړي، له يوې خوا به يې د جهاد په ليکو کې يو درز رامنځته کړی وي، له بلې خوا به يې د خپلې اوږدې مودې ستراتيژي: د افغانستان بې ثباتي او واك ته د لږکيو د رسولو لپاره کار کړی وي، نو ځکه خو يې له مسعود او رباني سره خواږه اړيکي پيدا کړل. دې اړيکو ورو ورو وده وموندله، هغه وخت د باور او پوخوالي پړاو ته ورسېدل چې رباني د مجاهدينو د يو هيئت په ترکيب کې چې حکمتيار ورسره جداً مخالف و، مسکو ته لاړ او هلته يې له روسي مقاماتو او استخباراتي چينلونو سره وکتل او توافق ته سره ورسېدل.

روسانو لا مخکې تر مخکې د کابل په اداره کې لږکيو ته د واك د لېږد شرايط برابر کړي وو، دوی په تېرو کلونو کې له اداري بيروکراسۍ څخه نيولې د نورو ټولو هغو له کبله پورې دومره کار کړی و چې د داسې يو منفي بدلون لپاره يې شرايط او امکانات مساعد کړي وو، نو ځکه خو يې ښاغلی پروفيسر برهان الدين رباني په مسکو کې د کارمل په رول کې د رباني په بڼه مکياژ او بيا يې د کارمل په څېر پر تخت کېناوه، تويير يې دومره و چې کارمل سره دوی مستقيماً راغلل، له وزرونو يې ونيو او پر تخت يې کېناوه، خو رباني يې د توطيو، لاسوهنو او د خپلو لاسپوڅو د ائتلاف او سازش له لارې د کابل تر ارګه بدرګه کړ. روسان او نور هغه استخباراتي سازمانونه چې رباني يې د سياست او واك ډګر ته ورانديې کړی و، هغوی ده پر رواني عقدو، ټولنيز موقف، د شخصيت پر کمزورۍ، د واك پر لېوالتيا، د ده پر خپل ظرفيت او کفايت ډېر ښه پوهېدل، د استخبارتي سازمانونو لپاره داسې

اشخاص ډېر مناسب وي، ځکه چې کنټرول يې اسانه وي. د رباني سياسي شخصيت له دې څخه هم معلومېږي کله چې پر ۱۳۷۱ل کال مجاهدين او ملحدين په کابل کې پر جګړه اخته شول او په اصطلاح اسلامي دولت(!) اعلان شو، نو حضرت صبغت الله مجددي د اسلامي دولت د "ممثل" او رباني د "رهبرۍ شورى" د مشر په توګه ټاکل شوي وو، مجددي د ثور پر (۷مه) نېټه کابل ته لاړ او رباني ورځ دوه وروسته له تورخم نه د ځمکې له لارې په موټر کې کابل ته روان شو، رباني په داسې يو ګاډي کې سور و چې د موټر مخ او شاته د مسعود عکسونه لګېدلي وو او "استاد" دننه په موټر کې ناست و. دی هغه وخت هم له مسعود نه دومره په وېره کې و چې ان پر خپل موټر يې هم د هغه عکسونه لګولي وو. کله چې کابل ته لاړ نو بيا د خپلو ائتلافيونو له ټوپکيانو سره مخ شو چې ده ته يې ارګ ته د ننوتلو اجازه هم نه ورکوله. دوه مياشتې وروسته برهان الدين رباني ځان "د اسلامي دولت جمهور رئيس" اعلان کړ، خو بيا هم دی دومره خپلواك نه و، لکه مسعود او دوستم. د ارګ يوه خوا د مسعود د نظار شورا د ټوپکيانو په لاس کې وه او د مسعود عکس پرې ځوړند و، بله خوا يې د دوستم د ځواکونو په لاس کې وه، چې پر دروازه يې د دوستم يو غټ عکس بند و، رباني به چې کله ارګ ته تلو، نو له همدې دوو لارو نه داخل ته تلای شو، کله به د مسعود ټوپکيانو او کله به هم د دوستم ملېشو خه وخت ايساروه، د رباني سترګې هر وخت د هغو پر عکسونو لګېدلې، عکسونه ډېر لوړ ځوړند وو، دی به تري لاندې تېرېده، خو بيا هم دی جمهوررئيس (!) و او دا يې ځانته سپکاوی نه ګاڼه.

کله چې رباني ځان "جمهور رئيس" کړ، نو نور هېواد خو لا څه کوې چې د کابل ښار پر څو بېلابېلو واکمنيو ووېشل شو، ان په

ارګ کې هم رباني پوره واك نه درلود. ده ته دا مهمه نه وه چې څومره واك لري او هېواد د غم په کومو او څومره لمبو کې سوزي. ده ته دا مهمه وه چې خلك ورته "جمهور رئيس" ووايي. د "جمعيت اسلامي" يو تن غړی چې رباني له ډېر نږدې نه پېژني او ناسته پاسته يې ورسره لرله، هغه وايي: "کله چې استاد رباني ته د جمهور رئيس خطاب وشي او په کوم مکتوب کې د جمهور رئيس په عنوان د هغه د نوم يادونه شوې وي، نو استاد ورته په شونډو کې موسکی غوندې شي او يو خوږ تبسم وکړي."

انجنير حکمتيار په خپل کتاب (پټې توطيې او بربنډې څېرې) کې له څوکۍ او مقام سره د رباني د مينې د څرنګوالي په باب چې د استاد اخلاقي شخصيت او ظرفيت هم ورڅخه ښه څرګندېږي وايي:

"يو ځل چې د سکاډ غنډ او د کابل په غرب او جنوب کې ډېرې ساحې، د حزب مجاهدينو ونيولې او د ائتلافيونو وضعيت هومره پرېشانه شو چې هر چا دا ګڼله چې نن سبا به دولت سقوط کوي، نو د دولت عالي شورى غړو په واضح الفاظو د رباني په استعفا تاکيد کولو او دا يې د بحران د حل يوه لار ګڼله، خود حرکت يوه وزير او د عالي شورى غړي ستر جنرال مولوي جليل الله، رباني ته مخ کړ او ويې ويل: استاده! حضرت عثمان (رض) حتى په هغه وخت کې له استعفى نه ډډه وکړه چې مخالفين دده د کور په دېوالونو راواوښتل، ته څنګه په داسې حال کې استعفى کوې چې ستا او مخالفينو تر منځ لا غرونه حايل دي!! استاد په ډېر غمجن غږ ورته وويل: کاش تولو همدا نظر درلودی!!"(۴)

استاد رباني له واك سره د همدې لېونۍ مينې او د خپل قومي او ژبني تعصب له کبله خپله ۴ مياشتنۍ دوره دومره وغځوله

چې ټول کابل يې په وينو ولمباوه خو ده استعفی ورنه کړه. مولوي محمد نبي محمدي د رباني د څلور مياشتنۍ دورې په باب وايي:
"څلور مياشتنۍ موده د يوه مجبوريت په لحاظ موږ ومنله هغه داسې چې په کابل کې د نجيب له خوا په مسلسله توګه اعلانونه کېدل چې زه قدرت انتقالوم او ځوك وټاكئ، همدارنګه د مصلحينو په نوم بهرنيانو هم اصرار کاوه چې بايد ژر په يو چا توافق وشي او په ځنګ ددغه دورې د تعدي استاد رباني هم بې حده ټينګار او شله توب و چې بايد دغه دوره زه ترسره کړم نو موږ په دې وخت کې يو خطر د استاد رباني په شخصيت کې احساس کړ چې دا به له يوې خوا خامخا کوم جګړ اچوي او له بلې خوا له ده سره يوه مفکوره او هدف همېشه ملګري و، هغه دا چې ده د اقليتونو حقوقو د راژوندي کولو په نيت هڅه کوله چې بايد د پښتنو سلطه او د قدرت زنځير مات او ځان خپلو اقليتونو ته تاريخ ساز وښيي، هماغه و چې موږ له همدې وېرې او احتماله چې کوم جګړ او توپير منځ ته رانه ولي ده ته مو په څلورمياشتنۍ دوره توافق وښود، چې بدبختانه څلور مياشتنۍ دوره يې په څلورکلنۍ توره دوره مبدله او په قدرت يې خېټه واچوله او دا يې شعار وګرځېد چې يا به ارګ وي او يا به مرګ"(۵) استاد د خپلې ترينګلې واکمنۍ د بقا لپاره داسې ملت ضد هڅو ته لاس وراچاوه چې د افغانستان ملي جوړښت او اډانې ته يې زيات زيانونه اړولای شول. د استاد رباني د دې ډول هڅو يوه بله بېلګه به هم وړاندې کړو چې د ده د ننني شخصيت او ملت ضد فکر و خيال ورڅخه د ېربنه څرګند ېږي:

د رباني په دولت کې د حکمتيار له خوا لنډ مهالی ټاکل شوی صدراعظم استاد فريد، د استاد رباني په باب وېلې: "يو ځل يې ماته خاصه مېلمستيا وکړه، خو له ما سره د جرير په شمول داسې

ورونه وو چې رباني نه غوښتل د هغوی په وړاندې خپله خبره ماته وکړي، مېلمستیا په عادي او عامو خبرو پای ته ورسېده، دویم ځل يې احوال راولېږو چې زما خاص مېلمه يې، ما له ځان سره جرير صاحب ملګری کړ، له ډوډۍ نه وروسته يې راته وويل چې له تا سره څو خاصي خبرې لرم، ما جرير صاحب له ځان سره واخيست او د استاد خاص اطاق ته ورغلم، ماته يې کومه خاصه خبره ونکړه او په عامو څو لنډو خبرو يې اکتفا وکړه.

دریيم ځل يې بيا احوال راولېږو، د ډوډۍ نه وروسته، له ده سره يوازې خاص اطاق ته ولاړم او هغه راته وويل: موږ ته يوه خاصه تاريخي موقع په لاس راغلې، زه جمهور رييس، ته صدراعظم او مسعود د دفاع وزير دی، له دې تاريخي موقع نه بايد اعظمي استفاده وکړو، محرومو قومونو ته داسې فرصتونه ډېر کم په لاس ورځي. استاد فريد وايي: ما ګمان نه کولو چې يو مسلمان، بيا د شرعياتو يو استاد دې، داسې غير اسلامي ذهنيت ولري، ما د احزابو د يووالي او د افغان ولس د ملي وحدت او د کمونستانو په خلاف د ګډ موقف په ارتباط له جناب رباني نه د کومې خاصې او مهمې خبرې اورېدلو انتظار درلود، هغه ته مې وويل استاده دا د حل لاره نه ده، نه اسلام دا د حل لار ګڼي او نه د هېواد اجتماعي جوړښت داسې دی چې له دې نه موږ ته کومه خاصه ګټه ورسېږي"(۶)

ځينې ټولنپوهان او سياستپوهان په دې اند دي چې هر کله په يوه ټولنه کې د درېيمې طبقې خلك واك تر لاسه کړي نو د ټولنې سياسي او ټولنيز ثبات له منځه ځي. دوی وايي داخلك ډېرې رواني، اقتصادي، جنسي او ټولنيزې عقدې لري، کله چې دوی واك ته ورسېږي نو تر هرڅه لومړی دهغو د حل او خړوب په لټه کې شي." د

ربـاني كورتـي هـم لـه اقتصـادي پلـوه پـه دربېمـې طبقـې پـورې اړه درلـوده، نـو ځکـه خـو ده تـه هـر هغـه څه لـوړ او ښکلـي ښکـارېدل چـې دده لـه تېولنيز او طبقـاتي ژونـد څخـه لـوړ وو. کـه پـه کـابل کـې دده د واکمنـۍ سـاحه دوه کيلومـتره مربـع وای او يـا تـر دې هـم کمـه شـوې وای، نـو دده لپـاره بـس ځکـه وه چـې پـه عـادي شـرايطو کـې خـو ده تـه هېڅ هـم نـه رسېدل، نـو ځکـه خـو يـې تـر ورروستي بريـده پـر دې خـبره ټينـګار کـاوه چـې دی د افغانسـتان جمـهور رئيـس(!) دی. د واك دهمدې مينې له کبلـه هغـه د روسـانو غـېږې تـه داسـې پنـاه يـوړه چـې د کـارمل ريکـارډ تـه يـې ځان ورسـاوه، کـارمل هـم د شـوروي لـه مرسـتو پرتـه ژونـد نـه شـو کـولای او ربـاني هـم د روس لـه مرسـتو پرتـه ژونـد نـه شي کـولای، ځکـه خـو دواړو د خپـل بـادار د درنـاوي حق ادا کـړ. ربـاني تـر کارملـه هـم دمخـه شـو او د افغانسـتان د ولـس پـر جـهاد يـې خـاورې واړولـې، د شـوروي ځای ناسـتې روسـيه يـې لـه ټولـو جرمونـو او جنـايتونو پاکـه وګڼلـه. کلـه چـې ده تاجکسـتان تـه سـفر وکـړ، نـو ددې سفر او لـه شوروي نـه د تـاوان غوښتنې پـه بـاب لـه ده نـه پوښتنـه وشـوه، ده وويـل: "اصـلاً ايـن گپـها موضـع بحـث نشـده بـود در تاجکسـتان، فکـر ميکنـم ايـن گپ هـا را مطبوعـات تحريـک کـرده بـود، چـيزی کـه مـا در آنجـا گفتـه بوديـم، ايـن بـود کـه دولـت اسـلامی افغانسـتان خواهـان حسـن روابـط بـا تمـام کشـورها و از جملـه فدارتيـف روسـيه اسـت. مـا گفتيـم رژيـم تجـاوزگر و مارکسسـت و قشـون شـوروی قبلـی بـالای افغانسـتان حملـه کـرده بـود، آن رژيـم از بيـن رفتـه حـالا فدراتيـف تشـکيل گرديـده، مـا بـا مـردم روسـيه دشـمنی نداريـم."(۷)

ځکه خو نو د رباني اړيکـې لـه روسـانو سـره تـر کـارمل هـم خـواږه شـول، کـارمل شـورويان افغانسـتان تـه دعـوت کـړل او د افغانسـتان خـاوره يـې د هغـو د ګټې لپـاره اسـتعمال کـړه، خـو ربـاني روسـانو تـه

دومره نږدې و چې ان د خپل پخوانۍ قلمرو تاجکستان خاوره يې دده په واك کې ورکړه او هلته يې د کولاب هوايي ډگر دده په خدمت کې ورکړ.

رباني هم د بهرني يرغل لپاره لکه د کارمل په شان د ملگروملتو (۵۱) ماده پلمه گرځوله. کارمل به ويل چې "د شوروي اتحاد محدود قطعات د ملگرو ملتونو منشور د (۵۱) مادې له مخې افغانستان ته راغلي دي". رباني هم کله چې د ايران چارواکو د طالبانو له خوا د مزارشريف تر نيولو وروسته خپل گڼ شمېر پوځونه د افغانستان پولې ته نږدې کړل، نو رباني اعلان وکړ چې "د افغانستان اسلامي دولت د ملگرو ملتونو منشور د (۵۱) مادې له مخې حق لري له ايران څخه پوځي مرسته ترلاسه کړي او هغوی افغانستان ته دعوت کړي."

په عمومي ډول د روسانو او نورو بهرنيانو پر ورانديې د رباني او کارمل فکري تگلوری سره يو شان و، خو په چور او چپاول، لوټ او تالان، عمومي انارشۍ او د ملي پانگې په لوټونه کې بيا رباني د سقاو زوی پر پله روان و.

# اخځونه


۱- شهرت ننګیال، وینه په قلم کې، د افغانستان د جهادي څېړنو مرکز، پېښور، ۲۱۴-۲۱۷ مخونه.

۲- برید جنرال الکساندر لیاخوفسکي، ډیوه مجله، لندن، ۱۹۹۵ع کال، دسمبر ګڼه، ۱۹ مخ.

۳- عبدالحمید مبارز، حقایق و تحلیل وقایع سیاسي افغانستان از سقوط سلطنت تا ظهور طالبان، پېښور، ۱۳۷۶ل کال، ۱۱۲ مخ.

۴- حکمتیار، پټې توطیې او بربنډې څېرې، ۱۳۷۸ل کال، ۱۲۵ مخ.

۵- له مولوي محمد نبي محمدي سره، د ملا عتیق الله عزیزي مرکه، ننګرهار مجله، ۱۳۷۹ل کال، تله، دویمه ګڼه، ۶ مخ.

۶- استاد فرید، پټې توطیې او بربنډې څېرې، د حکمتیار اثر، ۱۰۸-۱۰۹ مخونه.

۷- امید جریده، له امریکا څخه خپرېدونکې، ۲۱۳ ګڼه. ۵مخ.

# مسعود د یو اتل په څېره کې یو ګوډاګی او د دویمې سقاوۍ یو اساسي لوبغاړی



د افغانستان د تېر شل کلن تولنیز، پوځي، سیاسي ناتار او ناورین په بهیر کې یوه څېره هم احمد شاه مسعود دی چې ظاهراً یې د ځینو خلکو په زړونو کې د یوې مثبتې پوځي او سیاسي څېرې په توګه ځان راڅرګند کړی و، خو کله چې حالات بدلېدل دده له څېرې څخه د مصنوعي ماسك پرده هم ورو ورو لرې کېدله. د وخت په تېرېدو سره دا ثابته شوه چې احمد شاه مسعود یو ځان غوښتونکی جنجالیز، تجزیه غوښتونکی، هېواد ویجاړوونکی، سیمه

پالونکی، د یوه محدود لړکي او د خپلو ځاني ګټو پلوی شخص دی. د خپلو هېوادوالو په ځورولو، کړولو او له پردیو جاسوسي شبکو سره د اړیکو په ساتلو او پاللو او د هغوی د ګټو په خوندي کولو کې روحاً، جسماً او وجداناً ماهر دی. دده قومي، ژبني جوړښت او جغرافیایي موقعیت ‹دی د دې جوګه کړی و چې د هېواد د ملي ګټو پر وړاندې د پردیو او خپلو ځاني ګټو لپاره له کورنیو او بهرنیو دښمنانو سره ناوړه معامله وکړي او په هېواد کې د دې اوسنۍ غمیزې د اوږدولو د یو اساسي عامل په توګه خپلو هڅو ته دوام ورکړي. تر هرڅا لومړی بهرنیانود هغه پېژندنې او پر شاتپونې ته پام راواړاوه او له ده څخه یې داسې یو مصنوعي زمری جوړ کړ چې ان زموږ ځینو هېوادوالو پر ذهنونو یې هم د یو ډول باور پرده خوره کړه، کله چې زموږ هېوادوالو هغه ته د خپل ذهن او فکر سترګې اړولې، نو په دې کې ډېر وخت تېر شوی و او احمد شاه مسعود په ورانۍ کې دومره ونډه اخیستې وه چې تصور یې هم نه کېده. کله چې د مسعود د منفي او د ځینو په اند د مثبت شخصیت انګازې خپرې شوې، نو د زیاتو هېوادوالو او د قلم د خاوندانو پام د هغه د متضاد شخصیت د څرنګوالي خوا ته واوښت ، په دې کې ورو ورو هغه اسناد او شواهد هم راڅرګند شول چې ظاهراً د ده مخالفو او په حقیقت کې دده دوستانو دده په باب لیکلي او په خپلو ارشیفونو کې خوندي کړي وو. وروسته وروسته دده په باب لیکنې، ګړنې، لیکنې ان لیدل کېدونکي او ټلویزیوني معلومات زیات شول او دده شخصیت یې د ډول ډول ابهام له تیارو څخه راووېست او له اکثرو منفي خواوو سره یې ولس او نړیوالو ته څرګند کړ. دلته به همدغه ډول اسنادو ته په لنډیز سره اشاره وکړو او وبه ګورو چې

احمد شاه مسعود له چا چا سره په څه ډول د هېواد د ملي ګټو پر سر معامله کړې او لا یې کوي.

"احمد شاه مسعود د ډګروال دوست محمد(*) زوی د پروان ولایت د پنجشیر درې د بازارك اوسېدونکی دی، د یو روایت له مخې د احمد شاه مسعود نیکه له پاردریا څخه افغانستان ته راکوچېدلی او په پنجشیر کې مېشته شوی دی. د هغه وخت افغاني

---

(*) د احمد شاه مسعود پلار دوست محمد یو عسکري ټولی مشر و، چې مرحوم جنرال سید صالح خان لوی درستیز ته یې د مرحوم سید محمد سرور کونړي په واسطه کولو سره خان د داخلې وزارت د پولیسو او ژاندارام شق ته تبدیل کړ، چې بیا د ډګروالی تر رتبې پورې ورسېد. د احمد شاه مشر ورور دین محمد هم د همدغې واسطې له خوا حربي پوهنتون ته شامل او وروسته پوځي افسر شو، چې بیا په پېښور کې نامعلومو کسانو ترور کړ.
ډګروال دوست محمد پنځه کاله وړاندې په داسې حال کې چې زوی یې د پنجشېر او تالقان پر سلطنت ناست و، په پېښور کې د جلا وطنۍ او پردېسۍ په حال کې وفات شو. د هغه مرحوم جنازه په پېښور کې خاورو ته وسپارل شوه، خو احمد شاه خان یې نه جنازې او نه هم فاتحې ته حاضر شو.
(د لستوڼي مار، د نثار احمد صمد سریزه)
د ځینو کتونکو په اند احمد شاه مسعود اکثره جنګونه د نورو په واسطه تر سره کړي او نورو ورته ګټلي دي، نو ځکه ده خانته طالعمن "مسعود" تخلص غوره کړی او دا هم یو غصب شوی تخلص دی. خلیل الله هاشمیان په دې باب وایي: "تخلص مسعود، صاحب قانوني دارد که آقای محمد یعقوب مسعود سابق معاون اداری وزارت اطلاعات و کلتور فعلاً مهاجر در (استرالیا) میباشد و اسناد و ثبوت سابقه داری ۶۰ ساله خود را چند بار نشر و تقاضا نموده تا احمد شاه پنجشیری از غصب تخلص او منصرف شده، برای خود تخلص دیگری انتخاب نماید، اما احمد شاه مسعود پنجشیری به عرایض و شکایات او ترتیب اثر نداده است. (د لستوڼي مار د هاشمیان سریزه، شپږم مخ.)
نوموړی لیکوال وړاندیز کوي چې د احمد شاه مسعود له نوم سره دې د (پنجشیري) کلمه یوځای شي، چې له نورو سره دده توپیر وشي.

حکومتونو لـه دغسـي تـاجك مـهاجرو سـره زياتـه خواخـوږي څرګندولـه او هغوی تـه يـې بېلابېلـې اسـانتياوې برابرولـې.

مسـعود پـر ۱۹۵۶کـال زېږېدلـی او د خپـل پـلار د دويـم واده ثمـر دی. نومـوړی پـه خپلـو شـپږو ورونـو کـې دريـم ورور دی. پـلار يـې د فرانسـويانو تـر پـالنې لاندې د اسـتقلال پـه خـورا معتبره لېسـه کـې شـامل کـړ، چـې پـر ۱۹۷۳ کـال ورڅخـه فـارغ شـو. احمـد شـاه د خپـل يـوه پخوانـي بـاډيګارد لـه لـور سـره واده کـړی او دري اولادونـه لـري چـې مشـر زوی يـې احمـد نومـېږي. مـګر د بلـې انګېرنـې لـه مخـې نومـوړی د يـوې بلـې اروپـايي ښـې نـکاح ښځې څخـه هـم يـوه لـور لـري.

احمـد شـاه پـر ۱۹۷۳ع پـه پوليتخنيـك کـې شـامل شـو. پـر دې مـهال د اسـلامي خـوځښت او کيـڼ لاسـو خپلـمنـځي ډغـرې اوج تـه رسـېدلې وې چـې پوليتخنيـك پـه دې فعـاليتونو کـې بنسـټيز رول لوبـاوه. احمـد شـاه پـه دې څوکـۍ" د اسـلامي ځوانـانو" ډلـې واخيسـت ځکـه هغـه پـه وهلـو ټکولـو کـې پـوخ لاس درلـود.

محمـد داود چـې کلـه د ۱۹۷۳ پـر جـولای (۱۳۵۲ لمريـز د سرطان پر ۲۶) د پـرچمـي افسـرانو پـه ننـګه کودتـا وکـړه نـو پوهنتـون او پوليتخنيـك دواړو کـې د اسـلام پـالو او کمونيسـتپالو ډلـو تـر منـځ ډغـرې يـو چـاود ېدونکي ټکـر تـه ورسـېدې. د شـرعياتو د پوهنـځي د رئيـس پوهـاند ډاکټر غـلام محمـد نيـازي تـر لارښوونـې لانـدې "اسـلامي غورځنـګ" پـر ۱۹۷۴ کـال ان پـاڅون تـه هـم لاس واچـاوه چـې حکومـت هغـه درې وړې او نيـازي يـې ونيـوه. د هغـه پلـه ور (لکـه برهـان الديـن ربـاني او نـور) ټول پاکسـتان ته وتښتـېدل. احمـد شـاه چې پـه دې وخـت کـې د پوليتخنيـك د دويـم کـال محصـل و، د "اسـلامي ځوانـانو" د جـوړښت د نـورو غړيـو پـه شـمول چـې بـچ شـوي وو، د ژونـدي پـاتې کېدو پـه خـاطر پاکسـتان تـه وتښتـېد. احمـد شـاه پـه دې ډول پـه پېښور

کې جلا وطني غوره او هلته د پاکستان د پوځي استخباراتو "آی، اس، ای" په خدمت کې راغی. د پاکستان د سرحدي ځواکونو قوماندان ډګروال نصیرالله بابر د جمهور رئیس ذوالفقار علي بوټو په منظورۍ د دغو افغاني محصلانو لپاره پېښور ته نږدې د پوځي روزنې یو پټ پروګرام جوړ کړ.

احمد شاه مسعود د هغو افغاني محصلانو د لومړۍ دورې له شاملانو څخه دی چې پېښور ته نږدې (چیرات) د پوځي کمپ په یو میاشتني خورا مخفي کورس کې یې برخه واخیسته. د "اېس، اېس" یانې سپېشل سرویس یو خورا تکړه افسر د احمد شاه د روزونکي په توګه وټاکل شو. احمد شاه او ملګرو یې د جنرال بابر د سرحدي ځواک یونیفورم اغوسته چې په ظاهره د پاکستان قبایلي سیمو اوسېدونکي معلوم شي.

دغه افغاني ځوانان د ۱۹۷۵ کال د جولای په وروستیو کې د (آی، اېس، آی) د کېنکنې له مخې پر حکومتي دفترونو د یو لړ بریدونو په خاطر افغانستان ته ولېږل شول. نصیرالله بابر چې دا عملیات خورا سوبمن ګڼي، وایي چې "ما بناغلي بوټو ته وویل چې نور نو د دې وخت رارسېدلی دی چې داود خان ته خپل پیغام ولېږو" مګر دغه احساساتي او پارول شویو ځوانانو افغانانو دا عملیات د حکومت د راپرځېدو په توګه انګېرل؛ احمد شاه چې د څه باندې دېرشو پنجشېري ځوانانو مشري یې لرله، په دې ساده ډول ګومان وکړ چې عام ولس به د داود خان پر وړاندې راوپاڅېږي؛ مګر حکومتي کوماندو ګانو حتی مخکې له دې چې دا بله ورځ پنجشیر ته ورسېږي، سیمه یېزو خلکو خپله دغه ګومارل شوي کسان غرو ته وشړل، په نتیجه کې یې د احمد شاه نیمایي ملګري ووژل شول. یا دا چې ونیول شول او "اسلامي غورځنګ" تر سخت تادیب لاندې

کښېنوت. احمد شاه له دې ناکامه ماموریت څخه ډېره عقده واخیسته او دوه میاشتې وروسته بېرته پاکستان ته ستون او د وژل شویو ځوانانو پړه پر احمد شاه واچول شوه. "آی، اس، آی" او پوځ دده پر وړاندې پر خپله دلچسپی له سره کتنه وکړه. احمد شاه په خپله په دې هکله وایي: "پاکستان په بشپړه توګه د حکمتیار خوا ونیوله او موږ د مخالفینو په حیث پاته شوو." (آی، اس، آی) وروسته داسې څرکونه تر لاسه کړل چې د هغو له مخې پر احمد شاه باندې د جاسوس ګومان کېده. د احمد شاه له نږدې ملګري جان محمد څخه پېښور ته څېرمه د "نوښېره" په پوځي کمپ کې ګروېږنې وشوې او هغه اعتراف وکړ چې احمد شاه هم ورسره لاس درلود. جان محمد وروسته په مرموز ډول پسې ووژل شو. احمد شاه هم بالاخره ونیول شو، خو په ډېر مشکل سره له کټ مټ کړنې څخه بچ شو.

هو؛ دغو کړنو د هغه په زړه کې یوه تلپاتې عقده راوپاروله. بنایي د ځینو انګېرنو له مخې به همدا وخت و چې لومړی مصر او لبنان ته وخوځېد چې هلته د فلسطیني مبارزانو تر څنګ په تطبیقاتو کې برخه واخلي. د ځینو امریکایي او ناامریکایي خبریالانو د انګېرنې له مخې احمد شاه د تړښتنګ په همدې فلسطیني کمپونو کې د "کې، جي، بي" د ګومارلو تر پوځي روزنې او استخدام لاندې راغی او هغوی ده ته د ځینو کمونیستي چریکانو اثار تهیه کړل. احمد شاه پاکستان ته له ستنېدو څخه وروسته د پېښور په بالاحصار کې په ډك زړه شپې سبا کولې.

"اسلامي غورځنګ" په پېښور کې پر دوو برخو وېشل شوی و، یوه څانګه یې حکمتیار او بله رباني پرمخ وړله، احمد شاه د ژبني، قومي او ستمي تړاو له مخې د رباني په "جمعیت اسلامي" کې

ودرېد او وروسته له همدي چينل نه د پرديو له خوا ان د "زمريتوب" تر مجازي لقب پورې هم ورسول شو.

دغه ټول ځوانان د ثور د کودتا په پېښېدو سره نور نو له بې ربطۍ څخه خلاص شول. احمد شاه او د جمعيت صرف شلو کسانو د ۱۹۷۸ کال په دوبي (او د يوبل روايت له مخې د ۱۹۷۹ په پسرلي کې) پاکستان پرېښود، مخ په پنجشېر روان او د شورش په لټه کې شول.

د يوې انګرېزې له مخې احمد شاه مسعود په استقلال لېسه کې د تعليم په وجه لومړی د فرانسې له استخباراتو سره تړاو وموند، وروسته هغوی د انګلستان (MI-6) ته معرفي کړ. دغې شبکې د هغه هېواد د تجارتي ټلوېزيون زوړ چلوونکي "سنډيکال" ته وظيفه ورکړه چې پنجشېر ته لاړ شي او هلته "يو ځوان قوماندان چې دويم ټيټو دی، ووينې او پر همغه باندې د ټلوېزيون لپاره يو فلم ډك کړي. د همدې سنډيکال په مرسته د احمد شاه مسعود ورور احمد ولي د انګرېزي ژبې د زده کړې لپاره لندن ته لېږل کېږي، هغه په داسې حال کې چې هېڅ کومه شهادتنامه نه لري خو ادعا کوي چې حتی ماسټري يې لاخيستې ده(!؟) دغه يو ساعته فلم وروسته (CIA) ته وسپارل شو او له ځينو انګرېزو سره سره لا پوره ډاګيزه شوې نه ده چې "سي.آی.اې" هم پټه معامله ورسره پيل کړې که څنګه؟"(۱)

د انګلستان له استخباراتو سره د مسعود اړيکې له يوې ګډې تاريخي سرچينې څخه الهام اخلي، هغه دا چې انګرېزان داسې فکر کوي او حقيقت هم همداسې دی چې د افغان انګليس په درېو سختو جګړو کې د انګرېزانو د ماتې اصلي وجه د پښتنو جګړه ييزه مبارزه وه. انګرېزانو ته خپل تېر تاريخ داسې معلوم دی لکه د پرون

ورځې ښېښي، څرنګه چې لـه پښتنو سره د مسعود کينـه او دښمني هـم تولـو تـه څرګنـده ده نـو انـګرېزان هـم لـه همدغـه ګډ ټکـي څخـه ګټه پورتـه کـوي او غـواړي پـه دې ډول لـه پښتنو څخـه د خپلـو تـاريخي مـاتو د غـچ اخيسـتلو لپـاره لـه دې لارې ګټه پورتـه کـړي، ځکـه نـو انګرېزانـو هـم د روسـانو پـه شـان د مسعود د شخصيت پـه تبـارز کـې فعالـه ونـډه واخيسـته.

د بي بي سي يـو افغـان ويـاند چې نـه غـواړي خپـل نـوم يـې يـاد شي د انګلستان د استخباراتو او مسعود د اړيکـو پـه بـاب داسـې څرګندونـې کـوي:

"پـه هغـو شـپو ورځـو کـې چـې د افغـان ولـس او روسـانو تـر منـځ ښه ګرمـه جګـړه روانـه وه د بـي بـي سـي راډيـو نړيـوال سـرويس تـه د انګلستان د بهرنيو چارو وزارت لـه خـوا يـو مکتوب راغـی، چـې بـي بـي سـي بـايد د مسـعود د شـخصيت پـه تبـارز کـې ونـډه واخلـي. د يـادونې وړ ده چـې د بـي بـي سـي راډيـو خپلـې خپلواکـۍ او آزادۍ سـره سره د بهرنـۍ پاليسـۍ پـه برخـه کـې د بـهرنيو چـارو وزارت د پاليسـۍ تـابع ده او د بـهرنيو چـارو وزارت بيـا پـه خپـل وار د خپـل هـېواد لـه استخباراتي سـرچينـو څخـه الـهام اخلـي. د بـهرنيو چـارو وزارت پـه مکتـوب کـې لارښوونـه شـوې وه چـې پـه يــو نـه يــو ډول بـايد د افغانسـتان پـه هـر ګوټ کـې د روسـانو پـر ضـد د جـګړې رابطـه لـه مسعود سره وصـل شـي. د بـهرنيو چـارو وزارت د لارښوونـې لپـاره ئ ان بېلګې هـم راوړې وې، مثـلاً: پـه لغمـان کـې د روسـانو پـر ضـد سـخته جګړه روانـه ده. د دې جـګړې خبر بـايد داسـې واړول شـي: نـن د لغمـان پـه ولايت کـې د روسـانو پـر ضـد سـخته جګړه روانـه ده چې پـه نتيجـه کـې روسـانو تـه سـخت مـرګ ژوبلـه اوښتـې ده، پـه دې جـګړه کـې د لغمـان ولايـت ګڼ شـمېر کلـي او کورونـه وران شـوي دي، د يـادونې وړ

ده چې لغمان ولایت پنجشیر ته ورخېرمه پروت دی، چې د افغانستان د جهاد د نامتو قوماندان احمد شاه مسعود مرکز دی، روسانو تر اوسه پورې څو ځله پر پنجشیر حملې کړي خو د هغه پر نیولو بریالي شوي نه دي.

یا به هم که په کونړ کې جګړه وه، نو د هغه ربط به هم له پنجشیر سره تړل کېده. داسې چې: نن د کونړ په ولایت کې د مجاهدینو له خوا د روسانو پر یو لوی قطار برید وشو او د روسانو زیات ټانکونه او زغروالې واسطې وسوځول شوې، کونړ له پنجشیر نه (څو) کیلومتره لرې پروت دی، کوم چې د افغانستان د جهاد نامتو قوماندان احمد شاه مسعود هلته اوسېږي او تر اوسه یې روسانو ته څو ځله ماتې ورکړې ده. همدا رنګه نور ډېر داسې تبلیغات.

د انګرېزانو او مسعود تر منځ اړیکې دومره ګرم وو چې ان د روسانو تر وتلو وروسته هم په کې کمی رانغی. د بي بي سي د همدې ویاند په وینا د مسعود انګرېزي، ایراني او ځینې افغاني دوستان دومره وړاندې تللي وو چې د بي بي سي د پښتو او فارسي څانګو په ستډیوګانو کې یې ان د مسعود تصویرونه ځوړند کړي وو.

د بي بي سي د پښتو څانګې د یو مهال انګرېز مشر چې له پښتنو سره یې دښمنې په خټه کې اخښل شوې وه، د افغانستان پر ورانۍ دومره خوشحالېده لکه د انګلستان پر آبادۍ. کله چې به په کابل کې درنې جګړې پیل شوې او مسعود- رباني به چې د خپل څاني قدرت لپاره په کابل کې له هر تنظیم سره جنګېدل او په نتیجه کې به د ښار زیاته برخه ورانېدله، نو دې کار به دې انګرېز ته زبردست خوند ورکاوه. کله چې به مسعود د کابل ښار کومه برخه

که هغه ډېره کوچنۍ هم وه ونیوله او یا به یې رنګه کړه نو د انګرېز زړه به خوشحاله، خوله او سترګې به یې له خندا او موسکا ډکې وې او روحاً به ډېر زیات خوشحاله و. پر هغه ورځ به یې هسې له هغو افغانانو سره ځان مخامخوه چې پر افغانستان به دردېدل او د خپل هېواد د ویجاړۍ ننداره به یې نه شوه کولای، خو پر هغه ورځ چې د طالبانو ځواکونو رباني، مسعود او د هغه ټوپکیان د جنګ په ډګر کې مات او په زور یې له کابله تېښتې او ځغاستې ته اړ کړل، دا ویاند وایي مورږ ټول پر دې ورځ ددغه انګرېز عکس العمل او ظاهري څېرې ته متوجه وو، کله چې د راډیو د سټېډیوګانو په دهلېز کې مخې ته راغی او پر ما یې سترګې ولګېدې، نو ژر یې سترګې ښکته واچولې، یو ځل تورې سترګې شنو سترګو ته مخامخ شوې، انګرېز دومره پرېشانه او مایوسه معلومېده لکه کوم اکبر خان چې کوم مکناټن وژلی وي او یا هم لکه په میوند کې چې د ایوب خان لښکرو د انګرېزانو پر لښکرو خپل اسونه ورخېږولي وي. دا افغان وایي چې دا لومړی ځل و چې ما په خپلو سترګو ولیدل چې یو انګرېز د یو افغان سترګو ته ونه شو کتلای. انګرېزان ډېر مغروره خلك دي او په اسانۍ چا ته سترګې او سر نه ټیټوي."(۲) دا یوه ښېلګه وه چې دلته وړاندې شوه او دا ښېلګې کېدی شي د انګلیس د دولت تر لوړې کچې پورې همداسې اټکل شي.

له اسرائیلو (موساد) سره خو د مسعود او رباني اړیکې پر ۱۳۷۶ کال هغه وخت ښه ډاګیز شول چې د تخار د زلزلې په پلمه رباني ته د اسرائیلو د مرستو خبر خپور شو. تر دې دمخه یوازې د رباني- مسعود او اسرائیلو د ناستې پاستې خبرونه خپاره شوي وو.

احمد شاه مسعود له نورو ګڼو استخباراتي سازمانو سره د اړیکو په ترڅ کې د روسانود کې جي بي له سازمان سره ټینګ

اړیکي لرل. له نورو سازمانونو سره ده د لنډ مهاله او اوږدمهاله اړیکو علت دا و چې هغو سازمانونو هم په افغانستان کې لنډ مهاله او ستراتیژیکي ګټې درلودلې او مسعود ورته د یوې وسیلې په توګه ښه په کار راتلای شو. د ده ګټه دا وه چې دی به په پردې مرسته د افغان ولس او خپلو مخالفینو له ګوابنونو او ضربو څخه مصئون پاتې شي او هم به د بهرنیو جاسوسي شبکو په مرسته د یو مصنوعي شخصیت په توګه راڅرګند شي، نو د هر هېواد جاسوسي شبکو تر هغه وخته له ده سره روابط ساتل او ساتي یې چې د هغوی سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکي ګټې یې غوښتنه کوي؛ خو د روسانو له جاسوسي شبکو سره د ده اړیکي تر نورو ټولو استخباراتي شبکو زیاتې ، ګرمې ، نږدې اومتداومې وې او دي. روسان فکر کوي چې تر کارمل وروسته ښه مناسب شخص په لاس ورغلی دی. د کارمل- نجیب د ادارې د یو تن وتلي او لوړ رتبه شخص په وینا "هغه پانګه او نغدې پیسې چې روسانو زموږ پر ګوند او زموږ پر مشرانو ببرک کارمل او ډاکټر نجیب الله لګولي له هغې پانګې څخه ډېر څله کمې دي چې روسانو له احمد شاه سره مرسته کړې او پر هغه یې لګولې دي".

د یوې انګېرنې له مخې احمد شاه مسعود پر افغانستان باندې د شوروي د یرغل په لس کلنه موده کې درې څله شوروي اتحاد ته پټ سفرونه کړي او دوه څله خو یې پټې ژمنپانې لاهم ورسره لاسلیك کړې دي.

داسې فکر کېږي چې مسعود تر ۱۹۸۲م کال پورې تر زیاته بریده د آی، اس، آی پر مالي، پوځي او ستراتیژیکي مرستو تکیه و، خو وروسته یې له کې جي بي او نورو استخباراتي شبکو سره هم اړیکي ټینګ کړې، د همدغو کلونو په ترڅ کې روسان د خپل جګړه

یـیز چلنـد د څرنګوالـي پـه فکـر کـې شـول او پـر خپلـو پـوځي مـاتو څه نـاڅه بـاوري شـول، نـو ځکـه خـو یـې د مقـاومت پـه لیکـو کـې د درز اچونـې او د خپلـو سـتراتیژیکو ګټو لپـاره د یـو ګوډاګي د پیـدا کولـو پـه فکـر کـې شـول. دوی د خپـل همېشـني سیاسـت لـه مخـې چـې د لـړکیو د راپـارونې پـر بنسـټ ولاړ دی، مسـعود د دې لپـاره غـوره وګاڼه. دې مسـئله کـې لـه تاجکسـتان سـره د هغـه قومـي او ژبنـي اړیکـي، د هغـه خپلـه کمـزوري، د کـابل پـه اداره کـې د تاجکـانو واکمنـي چـې د روسـانو لـه راتـګ سـره ځواکمنـه شـوې وه، د کـارمل اداري د پـرچمي او ستمي خادسـتانو او د لـړکیو د حقوقـو لـه مدعیـانو سـره پـه خپلـه د روسـانو د ژورو اړیکـو ټول علتونـه شـامل دي. روسـانو پـه دې وخت کې لـه فشـار او تطمع دواړو وسیلو څخـه کـار واخیسـت.

روسـي پـوځ چـې کلـه د ۱۹۸۲ پـه دوبـي کـې پنجشـېر تـه ننـووت او د مسـعود ځواك یـې وځپـه، نـو هغـه هـم دې تـه اړ وت چـې لـه روسـي پـوځ سـره پـه جـون کـې یـو شـپږ میاشتنی اوربنـد وکـړي او پـه بـدل کـې یـې لـه لاسـه ورکـړې ټولـې سـیمې بېرتـه واخلـي. د ۱۹۸۳ پـه فـبروری کـې د یـو کلـن اوربنـد پـر سـر روغـه جـوړه وشـوه او درې نیـم لکـه ډالـر رشـوت یـې جیب تـه کـړ.

پـه افغانسـتان کـې د شـوروي د پلـي لښکـر مشـر جـنرال ګرومـوف وایـي: "د څلوېښتـم استخباراتي مرکـز هڅو پـه پـای کـې ټاکلـې نتیجـې ورکـړې، پـر ۱۹۸۲ کـال مـوږ خپـل لـوی مقصـد تـه ورسـېدو: لـه احمـد شـاه مسـعود سـره مـو داسـې ټینـګ اړیکـي پیـدا کـړل چـې ان لـه افغانسـتان نـه د شـوروي پوځونـو د وتلـو تـر وختـه پـه خپـل حـال پـاتې شـول" (سرې لښکرې پـه افغانسـتان کـې، ۲۶۶ مـخ).

ګرمـوف زیـاتوي: "پـه افغانسـتان کـې زمـوږ د پـوځي حضـور پـه ټولـو کلونـو کـې لـه مسعود سـره زمـوږ اړیکـو بریالـی وده موندلـه پـر

۱۹۸۲ کال ـــې د ځلوبښتم لښکر د استازو او شخصاً د مسعود له خوا یو تړون لاسلیك شو چې د هغه له مخې مسعود ژمنه کړې وه چې په جنوبي سالنګ کې به پر شوروي پوځي قطارونو یرغل ته اجازه نه ورکوي. د لاسلیك شوي تړون له مخې مسعود خپلو وسلوالو ته امر وکړ چې د حکومتي عسکرو خلاف دې له جګړې نه لاس واخلي او خپل ټول ځواك دې د مخالفي ډلې اسلامي حزب خلاف جګړې ته متوجه کړي." (۲۶۶-۲۶۷ مخونه) روسانو ځکه دا کار وکړ چې مجاهدین سره متحد نه شي. ګروموف وایي: "موږ پوهېدو که غلیم یو موټی شي او یوه "واحده جبهه" جوړه کړي، نو بیا خو به خامخا له چریکي جنګونو څخه لویو جبهه یي جنګونو ته لاس اچوي."(۳)

کلینوویچ احمد شاه مسعود ته د خپل وړاندیز جزئیات داسې تشریح کوي: "هیله ده په دې ډول خبر در کړم چې چمتو یم هر مهال او هرځای چې لازمه وي بې له وسلې درشم اُو درسره وګورم. موږ هغه سړي ته چې زموږ پیغام یې احمد شاه مسعود ته ورساوه، له بورې، غنمو، وریجو اونورو موادو څخه ډك شپږ کاماز لارۍ مواد ورکړل. موږ په ډېر رپانده حال کې د هغه ځواب ته سترګې په لار وو چې بالاخره ځواب راغی، له موږ سره مخامخ لیدنه او ګډه سوداینه یې ومنله. (د لستوني مار، ۲۸ مخ).

روسانو علاوه پر دې د ټولو هغو مالونو پنځمه برخه هم احمد شاه مسعود ته ورکوله چې د سالنګ له لارې څخه د کابل په نیت ژغورنده تېرېدل. (روبین، د لستوني مار، ۴۷.)

په خپله د مسعود سرچینې د دې تړون په باب وایي:

"در اواخر دلو ۱۳۶۱ بعد از دیدار و مذاکرات میان مجاهدین و هیئت روسی در منطقه بازارک پنجشیر طرفین به آتش

بس موافقه نمودند، درین گفتگو هیئت روسی شامل دو نفر یکی بنام (اناتولي) حامل پیام شخصی اندروپوف و یک نفر ترجمان تاجکی و در هیئت مجاهدین مرکب از احمد شاه مسعود و دو همکارانش بود.

در دوران مذاکرات طرفین طور شفاهي شش ماده آتش بس را پذیرفتند اما بعد تر اسناد نیز در زمینه مبادله شد. (پنجشیر در دوران جهاد ۹۵ مخ).

د همدې سرچینې له مخې د تړون په ۳ او ۹ ماده کې راغلي دي: "مجاهدین بالای قوای دشمن مستقر در عنابه حمله نکرده و در مقابل روسها به سایر مناطق پنجشیر حمله نه نمایند.

ساحه آتش بس شامل پنجشیر، شتل و قسمتی اندراب، سجنشو، بولغین و گلبهار بالا میشود." (۹۶مخ)

دا سرچینه زیاتوي: "یکی از کسانیکه "مسعود" فعالیت او را در این زمینه بسیار ارزشمند می شمرد، یك مقام بلند پایه هندی بود که در سفارت آن کشور مقیم کابل بود و باش میکرد."(۴)

له مسعود سره د روسانو له دې تړون څخه د روسانو اساسي هدف دا و چې د مجاهدینو تر منځ یو لوی اختلاف پیدا او هغوی په خپل منځ کې سره وجنګوي او بیا وروسته له مسعود څخه د خپلو ستراتیژیکو ګټو لپاره د خپل یو ګوډاګي په توګه کار واخلي، که نه خو روسان د هغه له ټول ظرفیت او ځواك ان له شخصي ژوند او اند څخه خبر وو او د هغه له منځه وړل ورته څه سخت کار نه و، دا ټول تصنعي او نمایشي جنګونه د دې لپاره وو چې مسعود ته مصنوعي شخصیت ورکړي او د جنګ په پلمه ورته ډول ډول وسلې پر برېږدي. خپله ګروموف وایي: "مسعود په خپل ورځني ژوند کې اسلامي احکام پر ځان منل خو زموږ پوځي استخباراتو ته پته لګېدلې وه

چې د خپل ډېرو نږدې ملګرو په منځ کې يې د شرابو له څښلو نه ډډه نه کوله." (سرې لښکرې، ۲۹۴)

"د شوروي پوځونو قوماندانۍ ټول امکانات لرل چې ان په پنجشېر او د هغه په شاوخوا کې هغه له بشپړې ماتې سره مخامخ کړي او که اړتيا وای موږ به هغه له منځه وړی هم وای. ما هېڅکله په دې خبره کې شك نه درلود او اوس يې هم نه لرم. احمد شاه مسعود په خپله هم خپل موقعيت ښه پېژانده، هغه ښه پوهېده چې د څه شي د کولو اجازه لري او د کوم شي د کولو له امله به يې غوړونه تاوېږي" (۲۷۳مخ)

روسان له مسعود سره د پرله پسې اړيکو له امله ددې جوګه شول چې بيا له هغه سره د هر ډول مسايلو په باب خبرې اترې وکړي او موافقې ته سره ورسېږي، د نجيب الله په واکمنۍ کې دا اړيکې نور هم پاخه شول. "د شوروي پوځ اعلی قومندان، د نجيب له موافقې نه وروسته د اعتدال خوښوونکو له لارې له مسعود سره تماس ټينګ کړ او د مذاکرې لپاره لاندې اجندا چې په کابل کې د شوروي د سفارت مهر وربانديې وهل شوی و، تياره کړه.

"۱- د تاجك مېشته داسې سيمو تاسيس چې د متحده افغانستان په چوکاټ کې به نسبي خپلواکي لري. په بدخشان، تخار، کندز او د پروان په ځينو سيمو کې به خپلواکه حکومتونه جوړېږي.

۲- ده ته د تاجك قوم د تمثيل حق ورکول او په دولتي اداراتو او د جمهوري رياست، پارلمان او کابينې، په تشکيلاتو کې دوی ته مناسبه برخه سپارل.

۳- د رباني اسلامي جمعيت د يوه مستقل سياسي ګوند په حيث په رسميت پېژندل او هغه ته مساوي حقوق منل.

۴- د تاجك قوم لپاره دجمعيت اسلامي تر اشراف لاندې منظم پوځي ځواك جوړول او په دولتي ادارو كې د هغه شاملول. د دې نظامي ځواك د جوړېدو اهداف او مقاصد به د ملي ګټو په اړه اود حكومتي اهدافو په ارتباط، د كابل حيرتان لويې لارې د حفاظت په شمول د مذاكراتو په ترڅ كې تصديق كېږي.

۵- د تاجك قوم دخپلواكو سيمو په داخل كې د سولې تامين اود دې سيمو ولس ته د عادي ژوند د اعادې شرايط برابرول.

۶- په شمال ختيځ افغانستان كې اقتصادي انكشاف، په دې هكله د دولت له لوري مرستې، همداراز ځوارځيزه مرستې په مالي، نظامي او نورو برخوكې او همدا راز د سرحدي تجارت د انكشاف په اړه. هغه ټكي چې ما په دې سند كې ځاى كړي،د شوروي اتحاد لوى سفير دا ټكي د افغانستان د جمهوري رياست له نظره تېر كړي او د هغوى موافقه يې ترلاسه كړې. مسعود ماته په ځواب كې دا پيغام راولېږو چې په دغو موضوعاتو د خبرو لپاره تيار دى او له ده سره هم د مذاكراتو لپاره ځينې نور وړانديزونه شته."(۵)

د بريد جنرال لياخوفسكي په وينا، "احمد شاه مسعود هم څه موده پس په دې اړه خپل ځواب راولېږه او په هغه كې يې څرګنده كړې وه چې د دغو پوښتنو د څېړلو لپاره خبرو اترو ته چمتو دى او په دې اړه ځينې نور وړانديزونه هم لري. زموږ استازي شمالي ولايتونو ته له خپل سفر نه تر راستنېدو وروسته له احمد شاه سره د خپلو خبرو اترو په باب د اوږدو معلوماتو په ترڅ كې ډاډ وركړ چې مسعود د شوروي پو ځي قوماندانۍ له دغو نوښتونو نه خوښي څرګنده كړه او چمتو دى چې دې ډول اړيكو ته په راتلونكي كې دوام وركړي.(۶)

تر اوسه پوري په کورنۍ او بهرنۍ کچه ډېر داسې ګڼ شمېر اثار او اسناد خپاره شوي چې له بهرنيو استخباراتي سازمانونو په تېره بيا له کې جي بي سره د مسعود اړيکي، دوستي او تړونونه برښندوي. په دغو سرچينو کې يو هم د امريکايي ليکوال بروس ريچارډسن (Bruce Richardson) اثر دی چې په انګرېزي ژبه ليکل شوی او پوهاند سيد خليل الله هاشميان د "اعمال زور و تهديد، نابود سازی و خاموش سازی: سياست روسيه در ماورای قفقاز، اسيای مرکزي و افغانستان) په نامه په فارسي ژبه ژباړلی او هم يې په زړه پوري حاشيه ورسره ملګرې کړې ده. همدا اثر تکړه ليکوال نثار احمد صمد په پښتو ژبه هم ژباړلی او خپله يوه په زړه پوري معلوماتي سريزه او ضروري لمنليکونه يې هم پرې ورزيات کړي دي.

ډاکتر رحمت ربي زيرکيار چې په واکپوهنه (سياست) کې تخصص لري، دا ليکنه چاڼ کړې او هم يې ځينې نور معلومات ورسره زيات کړي او د مسعود د ګوډاګي شخصيت په باب يې دغه لاندې فاکتونه راټول کړي دي:

۱- د شوروي روسي يو پوځي چې ايوان شوميلوف (Ivan Shumelov) نومېږي او د جنګ لپاره افغانستان ته استول شوی و، په دې ډول شهادت ورکوي: "احمد شاه مسعود په هغې سيمې (سمنګان او بغلان) کې د ګوريااليي قواوو قوماندان و، ده د مسکو پوځي اکاډيمۍ کې له جنرال وارينکوف (Varenikov) سره هم مهال تحصيل کړی و. ويل کېده چې کله وارينکوف د خپلې زېږېدنې ورځ لمانځله، احمد شاه مسعود يې ليدلو ته ورغی او تحفې يې له ځان سره يوړې. له ګوريلايانو سره زموږ اړيکو جالب شکل ونيو. د مثال په ډول، زموږ تر منځ په سمنګان کې سوله چلېدله، موږ به د

زرپوښو پر سر ناست وو او د مسعود ګوریلایان به موږ ته راتلل او تمباکو (سګرټ) به یې راسره څکل،

۲- ارتیوم بورو ویك (Artyom Borovik) په یوې شوروي مجلې کې چې اوګوینګ (Ogonyok) نومېږي، داسې لیکي: "مسعود د مذاکراتو لپاره یو ښه سړی و." او د مسعود د کوماندو په مرکز کې په غیر معمول ډول ګڼ شمېر فارغ التحصیلان شامل وو چې د مسکو له فرونز نظامي اکاډیمۍ څخه راوتلي وو. بورویك زیاتوي چې "یوه اوازه ده په خپله مسعود تر یوه بل نامه لاندې په دغې اکاډیمۍ کې محصل و."

۳- دوکتور اناتولي سودوپلاتوف (Anatoly Sudoplatove) د شوروي اتحاد د استخباراتي موسسې (K.G.B) مامور او اوس په مسکو کې د تاریخ پروفیسر له بروس ریچارډسن سره په "یوې مرکې" له باستون، (د اګست ۱۹۹۵/۱۴) کې وایي: "مسعود زموږ لپاره د افغانستان شاته دروازه وه."

ښاغلی ریچارډسن وایي چې "زه تر ۲۲ زیاتې منابع لرم چې مسعود له کې جي بي سره کار کاوه" " د ۱۹۹۶ په اکتوبر کې د "خنجان" د ناولې ژمنپانې د ضامن په توګه په مزار شریف کې د روسي کونسل (اولیك نیفیلایف) حاضر و. د بوریس یلتسن امنیتي سلاکار (جنرال یوري باتوتین) د ۱۹۹۷ د سپتمبر په لومړیو کې د پنجشیر کتنه وکړه او احمد شاه مسعود ته یې لرواښنیزه توغندي ورکړل چې ځینې وختونه یې پر کابل توغوي. کله چې طالبان د ۱۹۹۷ په مې کې پر سالنګ وروختل نو یو روسي چارواکي د مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې مسعود ته داسې سلا ورکړه: "مخکې له دې چې طالبان تاسې د آمو په سیند کې ډوب کړي نو اوس لاهغوی له ماتې سره مخامخ کړئ". د افغانستان د جنګ

بګېل شوي جنرال ليبيد خو د ۱۹۹۶ په ا کتوبر کې ان مسعود او ائتلافيانو ته يې د طالبانو پر وړاندې د (۲۰-۴۰) زرو روسي عسکرو پر ورکړه هم ټينګار وکړ."

مسعود روسانو ته دومره نږدې و چې کله طالبان کابل ته نږدې شول نو روسانو پر خپل بل لاسپوڅي (جنرال دوستم) لاس راتېر کړ چې بېرته له مسعود سره يوځای شي ځکه چې هغه په کابل کې د طالبانو له سخت ګواښ سره مخامخ و.

ددې خبرې يوه ژوندۍ بېلګه به وړاندې کړو.

د بي بي سي راديو خبريال داود جنبش وايي:

"زه د جنرال دوستم کتنې ته له روسي پارلماني پلاوي سره يوځای له مزارشريف نه خوځېدلی وم. تشريفاتي موټرې په مېلمنو ډکې وې او د جنرال دوستم وياند تورن جنرال محمد يوسف له ما نه وغوښتل چې له هغه سره يوځای په مزار شريف کې د روسيې د قونسلګرۍ په ډيپلماتيک موټر کې کېنم، ومې منله. يوسف خان د چلوونکي تر څنګ کېناست چې ورروسته جوته شوه د روسي قونسل شف چنکه مرستيال دی. پر لاره د افغانستان د کورنۍ شخړې خبرنه روانه وه، روس ديپلمات په دې ګومان چې زه په روسي نه پوهېږم له جنرال يوسف سره بې پردې غږېده:

- طالبان کابل ته نږدې شوي او که د هغه په نيولو بريالي شي نو بيا ستاسې لوری هم له خطر سره مخامخېږي.

جنرال يوسف په احتياط ځواب ورکړ.

- نه، موږ له طالبانو سره همکاري لرو.

- ددې پر ځای بايد له کابل سره همکاري وکړئ چې د طالبانو مخه بنده شي.

- له کابل سره مو همکاري يو ځل آزمايلې ده...

- خبره په ازمېښت کې نه ده ګډې ګټې مهمې دي.

- اوس زموږ ګټې له هغوی سره ګډې نه دي.

- له طالبانو سره ګډې دي څه؟

جنرال یوسف زړه نازړه و:

- نه شم ویلی...

- خو طالبان پښتانه دي.

- پوهېږم چې ډېر یې پښتانه دي.

- د ظاهر شاه پر وخت مو پر شمال د پښتنو ظلم هېر کړی چې بیا له هغو سره نږدې کېږئ...

جنرال یوسف ماته وکتل او بیا یې په ځانګړي تاکید وویل:

- موږ ټول یو ملت یو.

- خو په اوسني پړاو کې د ناپښتنو ګټې د پښتنو په وړاندې د هغوی یووالی غواړي.

- خو تر هغو چې جنرال یوسف ځان ځواب ته جوړاوه زما د صبر کاسه نسکوره شوې وه:

- ښاغلی ډیپلمات! دا جګړه د افغانستان د ورونو قامونو نه ده، د هغو په نامه جوړو شویو ډلو ده او تاسې ته دا نه ښایي چې بیا یې له یو بل سره واچوئ.

- اوه، هو، ته خو ښه روسي وایې، له بېګاه راهیسې درته ګورم چې دا ځوك دی او ولې نه غږېږي. که لږ ځان راوپېژنې.

- داود جنبش...

- هه، داته یې چې هره شپه د روسانو د پوځي لاسوهنې خبرونه خپروي.

- ما هېڅکله بې سنده او په لوی لاس ناسم خبر نه دی خپور کړی.

ته په مسکو کې دېره يې؟

- هو-

- چې داسې ده نو واوره! هغه څه چې دې دلته واورېدل، هېر يې کړه، دا د روسيې دولت رسمي نظر نه دی، هسې د زړه خواله وه. خو که چا ته دې وويل په مسکو کې رانه شپه نه شې تېرولی.

- زه خبريال يم او په ګوابنونو که ډارېدلی دا لاره مې نه نيوله. ما خو درته وويل، ايسته دې خوبنه خپله ده."(۷)

۴- سيد نورالحق حسيني (په پېښور کې د اطلاعاتو او اسنادو د مرکز غړی) د هغو لومړيو ژورنالستانو له ډلې څخه دی چې د شوروي روسانو او احمد شاه مسعود د ورورولۍ واقعيت يې جوت کړی دی. حسيني د ۱۹۸۶م کال د نوامبر پر لسمې نېټې بروس ريچارډسن ته داسې ويلي وو: (پر ۱۹۸۵ مې د سالنګ په درې کې د مسعود سړي وليدل چې د ټانک د پاسه له شورويانو سره ناست وو، په خپلو منځونو کې په خندا او ټوکو ټکالو اخته وو. يو وخت به مسعود او شورويان د يو بل په همکارۍ پر نورو مجاهدينو بريد وکړي.

۵) له يوه شوروي پوځي ايوان شو ميلوف څخه يو ځل بيا واورئ: "په ياد مې دي چې زموږ د فرقې کوماندان او د ګوريلايانو کوماندان تاوده شول چې د ګوريلا يي مشرانو يوه ډله راغله چې زموږ په کنډک کې سره وګوري، د دوی لپاره يوه مجلله مېلمستيا جوړه شوې وه، د ګوريلايانو مشر مسعود او زموږ کوماندان موافقه وکړه چې يو بل ته به ضرر نه رسوي وروسته له قرارداد څخه زموږ ژوند په خوږې اندازې سوله ييز و."

۶) د پخواني شوروي اتحاد يو پوځي منصبدار چې پټ نوم يې وېکتور سووروف (Victor suvorov) دی او غرب ته تښتېدلی و، پر

۱۹۸۴ په یوې مرکې کې د پاملرنې وړ معلومات وړاندې کړي دي:
"د مجاهدینو نومیالی کوماندان غوره شوی دی چې د شوروي اتحاد د ګټو نمایندګي وکړي. دی به د پوځي او اقتصادي مرستو په واسطه وسائل شي او سربېره پر دې د شوروي استخباراتو بشپړه همکاري به ورته ورسېږي. د خپلو خلکو پر وړاندې به دی د یوه اتل رول لوبوي په داسې حال کې چې ټول وخت به زموږ لپاره د دوه طرفه ایجنټ په حیث کار کوي" سووروف وړاندې ځي او وايي چې: "دا پلان دومره پټ دی چې حتی د شوروي اتحاد او د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت ډېر لوړ رتبه مامورین هم ورباندې نه شي خبرېدلای."

۷) "د افغانستان د شمال حکومت" د جوړولو او په هغه کې د احمدشاه مسعود د رول په هکله د ډاکتر محمد حسن شرق په خاطراتو کې هم ځینې معلومات خوندي شوي دي چې راسپړل یې د مسعود او شوروي روسانو پر سیاسي خپلوۍ رڼا اچوي: له افغانستان څخه د شوروي پوځونو له تنبولو څخه اټکل یو کال وړاندې یانې د ۱۹۸۸م کال په پیل کې په کابل کې د ډاکتر نجیب الله حکومت دې ته ولمسول شو چې د "د افغانستان شمال حکومت" تشکیل کړي په دې هکله ډاکتر محمد حسن شرق چې د ډاکتر نجیب اله د واکمنۍ په وخت کې صدر اعظم و خپل نظر داسې څرګندوي: "با آنهم مشاورین شوروي با تلاش های آخرین همزمان با بر آمدن عساکر خویش از افغانستان تحت زعامت دکتور نجیب الله رئیس جمهور و سلطان علی کشتمند صدر اعظم طرح افغانستان شمالي و جنوبی را بمیان گذاشته و نه ولایت سمت شمال میمنه، شبرغان، بلخ، بغلان، کندز، تخار، بدخشان، سرپل و بامیان را بنام حکومت شمال افغانستان با تشکیل صدارت در مزار شریف از

پیکر حکومت واحد و مرکزی افغانستان در کابل جدا نمود و آقای نجیب الله مسیر عضو کمیته مرکزی ح.د.خ (حزب دموکراتیک خلق افغانستان) را به حوت ۱۳۶۶ به حیث کفیل صدر اعظم شمال افغانستان با ۱۶ نفر معاونین وزارت های کابینه او مقرر و در مزارشریف شروع بکار نمودند..."

د "حکومت شمال" لومړی اقدام یو څه وروسته د افغان ملت په ارادې ناکام شو، خو شوروي واکمنانو د افغانستان د تجزیې لپاره یو بل پلان هم لاره چې احمدشاه مسعود به په کې غټ رول ولوبوي. محمد حسن شرق د نجیب الله د رژیم د صدراعظم په حیث د هغه وخت د شوروي اتحاد واکمن گورباچف سره په مسکو کې ولیدل په خبرو اترو کې گورباچف، له حسن شرق څخه پوښتنه وکړه چې: "فکر نمی کنید: اگر با احمد شاه مسعود حکومت شما با یک خود مختاری ساحه و سیعتری در سمت شمال همکاری و موافقه نمایند او جنگ را کنار گذارند زیرا بعضی اطرافیان او چنین ارزوی را دارند."

۸) وروسته له دې چې د ۱۹۹۲ په اپریل (۱۳۷۱ ثور) کې د ډاکتر نجیب د رژیم واگې "ائتلاف شمال" ته وروسپارل شوې، یو "کابلي کمونیست" په مسکو کې له یوه روسي جنرال سره خواله کوي او د هغوی له خولې داسې معلومات وړاندې کوي: "ما احمد شاه مسعود را نه تنها از بین نمی بردیم بلکه او را تقویه میکردیم، زیرا وی نفر خود ما بود و پلان دوم این بود که اگر نجیب سقوط کند، مسعود جایش را پر نماید."

۹) الکساندر فیدوتوف (Alxander Fedotav) چې د پخوانی شوروي اتحاد د کمونیستي گوند غړیتوب یې لاره، د (اوکراین) په پخواني جمهور رئیس لیونید کراچوک (Leonid Kravchuk) پسې

دویم قوي سړی و او اوس د آسیا او افریقې د تاریخ پروفیسر او د اوکراین د اوسني جمهور رئیس کوچما (Kochma) خاص مشاور دی. بروس ریچارډسن د هغې شخصي مکاتبې له مخې چې فیدوتوف ورسره د ۱۹۹۲ کال د نوامبر پر دریمې نېټې کړې وه د فیدوتوف معلومات داسې وړاندې کوي: "شخصاً یو شوروي استخباراتي ماهر کرنیل زاکین کادیروف (Zakin Kadyrov) احمدشاه مسعود ته پیسې ورسولې، چې مسعود د شورویانو له څلوېښتم نمبر اردو سره د عدم تعرض قرارداد لاسلیك کېدو له امله تقویه کړي". دی زیاتوي: "زما او زما د ډېرو عسکرو معلوماتچیانو (Mititary Lnformants) په فکر ددې خبرې دلیل دا دی چې مسعود د خپلو قواوو ساتل غوښتل چې زموږ [شوروي] له وتلو څخه وروسته خپل قدرت ټینګ کړي."

پورتني شواهد او معلومات ښیي چې احمد شاه مسعود په جهاد کې له ډېر پخوا راهیسې د "پنځم غونډ" په حیث د شوروي روسانو ګټې تامینولې (پنځم غونډ یا (Fifth Column) تخریبوونکې دستګاه ته ویل کېږي.) د شوروي روسانو او د احمد شاه مسعود تر منځ سیاسي خپلوي او عسکري همکاري یوازې او یوازې په افغانستان کې د جهاد د شنډولو لپاره نه وې، بلکې له جهاد څخه وریسې افغانستان کې یې د شوروي روسانو د اوږده پلان لپاره هم غټ ارزښت لاره. د شوروي روسانو ستراتیژي په مجموع کې پر دې متمرکزه شوې وه چې په افغانستان کې پښتانه تصفیه کړي، افغانستان د مرکزي آسیا په جمهوریتونو پورې ونښلوي او صورت له مخرج سره مساوي کړي."(۸)

مسعود له داسې یو جنجالیز شخصیت سره تر اوسه پورې د افغانستان په تېرو ۲۳ کلنو سیاسي پېښو او په تېره بیا له ۱۳۷۱ل

کال را وروسته په سیاسي او پوځي پېښنو کې زیات لوبېدلی او تر خپله ځواکه یې د هرې هغې لارې مخه ډب کړې چې له هغې څخه د افغانستان خلکو ته سوله، هوسايي، امن او سوکالي راتلای شوه. تل د یو ملي حکومت د جوړېدو په مخکې خنډ ګرځېدلی او له کومې ورځې چې وسله لاسته ورغلې، نو بیا یې د افغانستان د عامه شتمنیو پر لوټ، تالان او د عامه تاسیساتو او بنسټونو پر رنګونه پیل کړی دی. څو ځله یې د سالنګ د تونل د شمالي او جنوبي برخو په الوزولو لاس پورې کړی. هغه وخت چې طالبانو له سروبي څخه پر مخه کړ، نو د ماهیپر د تونلونو د الوزولو په فکر کې شو، ډېر زیات چاودېدونکي مواد یې ورته کېښودل، یو ځل یې انفجار ورکړ، خو له نېکه مرغه موادو نفجار ونه کړ، دویم ځل یې چې انفجار ته ځان جوړوه، طالبان را ورسېدل او دوی نور مجال پیدا نه کړ.

په پروان کې د متك پل، په تخار کې د بنګي پل او په ګڼو نورو سیمو کې د لویو لارو او لویو پلونو الوزول دده د جنګي کارنامو یوه برخه ده. ده تر اوسه پورې د ټول هېواد په کچه په سلګونو لوی او واړه پلونه او پل ګوټي الوزولي او زیاتې لارې یې ورانې کړې دي. دی چې د خپل اوسني عمر لس برابره نور عمر هم وکړي نو هغه زیان چې ده افغان ولس او زموږ ګران هېواد ته اړولی، د هغه یوه برخه هم بېرته نه شي جبرانولای. داسې ښکاري چې د هغه کرکټر او شخصیت د ورانۍ لپاره جوړ شو، نه د آبادۍ لپاره.

د نرګس ګل به ونه نیسي "پاینده یه"!

هغه بوټی چې له اصله ګنده ېری وي.

# اخځونه


۱- بروس ریچارډسن، د لستوني مار، پښتو ژباړه، سریزه او لمنلیکونه، نثار احمد صمد، تورنتو - کاناډا، ۱۳۷۷ل کال، بېلابېل مخونه.

۲- د بي بي سي راډیو، د یو خبریال څرګندونې.

۳- جنرال ګرموف، سرې لښکرې په افغانستان، کې، د پردیس مساپر ژباړه، بېلابېل مخونه.

۴- عبدالحفیظ منصور، پنجشیر در دوران جهاد، بېلابېل مخونه.

۵- حکمتیار، پټې توطیې بربنډې څېرې، ۱۳۷۸ل کال، ۵۰-۵۱ مخونه.

۶- جنرال لیاخوفسکي، د افغان مېړانه او غمیزه، د محب ژباړه، ۱۳۷۸ل کال پېښور، (۴۷۲) مخ.

۷- الکساندر مایوروف، په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل، د داود جنبش سریزه، ح- ی مخونه.

۸- ډاکتر رحمت ربي زیرکیار، دعوت جریده، ۱۳۷۶ل کال. ۷۷، ۷۸ ګڼه، ۶، ۷، ۱۰ مخونه.

# د هېواد اقتصاد ویجاړي

# او

# د پیسو انفلاسیون

د برهان الدین رباني اداري د هېواد د عادي او نورمال ژوند او د ټولنې د ټولو رغوونکو بنسټونو د ویجاړې په لړ کې د هېواد اقتصاد ته دومره زیانونه واړول چې افغانستان د خپل پنځه زره کلن تاریخ په اوږدو کې دومره زیان نه و لیدلی. یوازې په کابل ښار کې (دوه زره) لویې وړې فابریکې، کوچنۍ دستګاوې او د لاسي صنایعو کارخایونه لوټ، تالان، ویجاړ او وسوځول شول. د افغانستان نورو لویو ښارونو کې هم همدې ته ورته حالات راغلل. د اقتصاد پوهانو په نظر د رباني د څلورنیم کلنې جنجالیزې اداري له خوا افغانستان ته رسېدلی زیان - ان افغانستان ته د روسانو او د هغو د ښکاره پلوي حکومتونو له ټول رسول شوي زیان نه څو برابره

زیات دي. د دې وجه دا ده چې د هېواد زیاته مادي شتمني ښارونو ته راټوله شوې وه او تر اوسه چې د صنعت او پرمختګ کومې نښې نښانې افغانستان ته راغلې وې هغه هم ټولې په ښارونو کې وې. د روسانو او د هغو د ځرګندو پلویانو په وخت کې د هېواد کلیوالي سیمو او له ښارونو لرې پرتو سیمو ته سخت زیان واړول شو، خو اکثره ښارونه نسبتاً جوړ پاتې وو. کله چې د "اسلامي دولت"(!) په نامه د رباني د دویمې سقاوي ناتار پرې خور شو، نو هغه څه چې له کلونو او پېړیو راهیسې په ښارونو کې پاتې وو، هغه د ده ښاغلیو (!) ټوپکیانو د ځان غنیمت کړل، څه یې پر ګاونډیو هېوادونو وپلورل او څه یې د اور او ویجاړې کومې ته واچول.

د دې تر څنګ برهان الدین رباني د هېواد پر اقتصاد بل ملا ماتوونکی ګوزار هم وکړ؛ په شمېر نه، بلکې په تول (په ټنونو) افغانۍ یې په روسیه کې چاپ کړې، د ثابت عایده او بېوزلو خلکو اقتصاد یې نور هم پسې ویجاړ کړ او د انفلاسیون حد یې ډېرې لوړې سطحې ته ورساوه.

اقتصاد پوهان په دې نظر دي چې: "پولي استقرار پر اجتماعي او سیاسي استقرار باندې ډېر اثر لري، ډېر قوي انقلاسیون ټولنو ته سخت ټکان ورکوي او لاره خونړیو بدلونونو ته اواروي.

د رباني د حکومت په څلورو کلونو کې په پوره بې مسؤلیتۍ سره د پیسو چاپ د مرکزي بانك له اداري نه ووت او د پیسو چاپ اصلاً پر اقتصادي سنجش باندې هېڅ بنا نه و، بلکې د دې لپاره چې رباني او قوماندن مسعود وکولای شي په هېواد کې د رشوت له لارې ډېر قوماندانان خپل کړي، په سلګونو ملیارده افغانۍ یې چاپ کړې او پر دې اساس نه یوازې یې په هېواد بلکې په منطقه کې

(ممکن حتی په تاریخ کې) بې ساری انفلاسیون پر افغانستان حاکم کړ"(۱)

پروفیسور انورالحق احدي لیکي: "... ما په یو مضمون کې چې د (چاپ بانك نوت یك راه ضبط دارایی شخصی از طرف حکومت) تر عنوان لاندې چې د افغان ملت او امېد په جریدو کې نشر شوی و دا استدلال کړی و چې کوم انفلاسیون چې د پیسو د چاپ نتیجه وي هغه په واقعیت کې حکومت ته دغه قدرت ورکوي چې د ټولو خلکو د نقدي شتمنۍ یوه برخه د ځان کړي، د رباني د دورې بې مسوولیته پولي سیاست د ډېرو بېچاره افغانانو نقدي زېرمه له منځه یوړله او د دې هېواد د کړېدلي ملت اقتصادي مشکلات یې فوق العاده ډېر کړل.

انفلاسیون د خلکو د خرید قدرت کموي، په افغانستان کې د انفلاسیون عمده عامل د بې مسولیته پیسو چاپول دي. که څه هم انفلاسیون په هر حالت کې دردناك دی، خو که چېرته انفلاسیون د عام المنفعه پروژو د تمویل لپاره وشي، نو لااقل ګټه به یې اجتماعي وي. په افغانستان کې د پیسو چاپ یو فوق الاده غیر نورمال شکل اختیار کړی دی. د استاد رباني د حکومت په دوره کې پیسې د پروژو لپاره نه، بلکې د یوې ډلې (شورای نظار) د جنګي عملیاتو د تمویل لپاره په بې دریغه، بې کنترولـه او بې مسولیته ډول چاپېدې."(۲)

پروفیسور احدي زیاتوي "کله چې ما د رباني د حکومت پر پولي سیاست باندې کلك انتقاد وکړ، د حکومت ځینو پلویانو زما په ځواب کې ولیکل چې افغانۍ بې پشتوانې نه ده او د افغانستان بانك د (۸۴۰) میلیونه ډالرو په حدودو کې پشتوانه لري. ما ته د افغانستان بانك د اسعارو ذخیره معلومه نه ده، خو دومره راته

معلومه ده چې د مرحوم داود خان په دوره کې د خارجي اسعارو ذخيره ډېره شوه ځکه چې په هغه وخت کې ګڼ شمېر افغانانو په ايران او خليج کې کار کاوه، کورونو ته به يې ډالر رالېږل او هغوی به په بانك کې په افغانيو بدلول. د طالبانو اداره بايد په دې باره کې خلکو ته معلومات ورکړي چې د مرکزي بانك د اسعارو او د طلا زېرمې اوس محفوظې دي او که دغه شتمني هم پنجشېر ته نقل شوې اويا خو د قوماندان مسعود او استاد رباني په حسابونو کې په پاريس، لندن او سويس کې خوندي شوي دي"(۳)

د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د رباني د دورې د پولي تورم، د پيسو د چاپ او نورو مالي درغليو په باب د يوې پټې شمېرنې او ارزونې له مخې داسې جاج او معلومات اخيستي دي:

" ۱- تر ۱۳۷۰ هـ ش کال پورې د بانکنوټونو ټوله شمېره ۱۳۱۱ مېليارده افغانۍ، د برهان الدين رباني د ولت په څو وروستيو کلونو کې ۴۳۵۰ مېلياردو افغانيو ته لوړه شوه چې له ۱۳۷۰ل کال څخه د مخه وخت په پرتله ۳۰۳۹ مېلياردهافغانۍ زياتوالی ښيي.

۲- قيمتي ډبرې په تېرو څلورو کلونو کې په ډېره زياته پيمانه بهرنيو هېوادونو ته صادرې شوې چې د هغو له جملې څخه د هند هېواد ته ډېر لوړ رقم قيمتي ډبرې صادرې شوې دي. د پاکستان د مستندو خبرونو له قوله په دا تېرو څو وروستيو کلونو کې د لس مېليونو ډالرو په ارزښت قيمتي ډبرې هندوستان نورو بهرنيو هېوادو ته صادرې کړي، په داسې حال کې چې د هند هېواد د قيمتي ډبرو هېڅ معادن نه لري.

۳- د هغه قرارداد له مخې چې د ترانسپورټ بين المللي انجمن (EATA) سره لاسليك شوی، افغانستان له هر عبوري

ترانزيتي پرواز څخه چې زموږ د هېواد له قلمرو څخه تېرېږي (۵۰۰) امريکايي ډالره گټه تر لاسه کوي. پر دې اساس په څو وروستيو کلونو کې له دې درکه د افغانستان عايد له (۲۰) مېليونو ډالرو څخه هم زياتېږي، بايد دغه عوايد د دولت د عوايدو په حساب (۶۰۰۱) بيت المال ته داخل شوي واى، خو متاسفانه يو ډالر هم بيت المال ته ورکړ شوي نه دى او ټول د رباني حکومت د مسؤلينو له خوا حيف وميل شوي دي.

۴- مجموعي مصارف يا لگښت چې د ۱۳۷۳ل کال په بودجه کې په نظر کې نيول شوي وو، (۶۳۵) مېلیارده افغانۍ وو او ټول عوايد (۵۲۳) مېلیارده افغانۍ ښودل شوې وې. په داسې حال کې چې مجموعاً کورني او بهرني عوايد له (۸۰ - ۹۰) مېلیارده افغانيو څخه نه زياتېږي او دا تفاوت چې تقريباً له (۵۰۰) مېلیارده افغانيو څخه زياتېږي (عوايد لگښت) د بودجې د کسر يانې نوټونو له چاپ او نشر څخه تمويلېدل. سربېره پر دې له (۵۲۳) مېلیارده افغانيو بودجې څخه د (۸۰ - ۹۰) فيصده افغانيو په شاوخوا کې د دريو وسلوالو وزارتونو (دفاع، امنيت، کورنيو چارو) وزارتونو له خوا مصرفېدل.

۵- د افغانستان بانك او د هېواد نورو تجارتي بانکونو د هېواد د پور ورکولو د قانون خلاف په مېلیاردونو افغانۍ او په مېليونو ډالره د ليتراف کرېډټ او د انتقالي چکونو د اجراء له لارې د دولت پر ضرر اجرا کړي دي چې تر اوسه هم د دغو غير قانوني پورونو موضوع ناحله پاتې ده او د هېواد پر اقتصادي جوړښت باندې قوي گوزار گڼل کېږي.

۶- د پخواني شوروي د ډالر کلیرنګ په برخه کې هم اختلاس، ناوړه استفاده او غیر قانوني اجراات تر سره شوي او دا مسئله هم بل دولت ته ډېره غټه ستونزه ده.

۷- د هغه وخت د دولت او حکومت د لګښتونو ډېره لویه برخه د حکومتي او دولتي مسوؤلینو او قوماندانانو د باډیګاردانو او ساتونکو لګښت تشکیلوه."(۴)

د B.B.C د پښتو څانګې پخواني خبریال ډاکتر محمد اکبر اکبر لیکي: "په کابل کې د ځینو شمېرو او ارقامو له مخې چې موږ ته څرګند کړای شوي د ښاغلي رباني او مسعود د واکمنۍ په څلورو کالو کې (۸۰۰۰) مېلیارده افغانۍ د هغو بانکي نوټونو په بڼه چاپ شوي چې پرله پسې شمېره (Serial Number) یې په بانك کې خوندي پروت دی. (د دې شمېرو تر مخې له خوندي پرله پسې نمبره پرته د چاپو شوو نوټونو اندازه (۱۷) زرو ملیاردو افغانیو ته رسېږي.) دا چې [۱۷] زره مېلیارده افغانۍ یا په زیات کره حساب [۸] زره مېلیارده افغانۍ د افغانستان په شان د یوه وړوکي هېواد پر اقتصاد باندې څومره لوی بېټي پرېباسي، د هغې لنډې پرتلنې او مقایسې نه معلومېدلی شي چې په دې لړ کې راته وشوه. له دې پرتلنې او مقایسې سره سم د پخواني پاچا محمد ظاهر خان په ۴۲ کلنه تولواکمنۍ کې ایله ۱۹ مېلیارده افغانۍ چاپ شوي وې، داود خان (۲۸) مېلیارده افغانۍ په پنځو کلو کې چاپ کړې او کمونست رژیم په څوارلس کلو کې (۷۰۰) مېلیارده افغانۍ له چاپه وایستلې. ولې د طالبانو وینا دا چې د ښاغلي رباني رژیم په څلورو کالو کې لږ تر لږه [۸۰۰۰] مېلیارده افغانۍ چاپ کړې دي او بده یې دا ده چې دا چاره لاتر اوسه هم په روسیه کې روانه ده. په دې منځ کې طالبان دا هم وایي چې د افغانستان د سرو زرو هغه خوندي

پـانګه لـوټل شـوي چـې پـه افغانسـتان بـانك او ارګ كـې د اوسـپنيزو سيفو دننه پرتـه وه. ويـل كـېږي چـې دا سـره زر يـا طـلاوې پـه مننونـو نـه بلكـې پـه ټنونـو (يـانې ۴۲ ټنـه) وې."(۵) ځينـو نـورو سـرچينـو هـم د مسـعود او ربـاني لـه خـوا د افغانسـتان بـانك د بـهرنيو اسـعارو او پـه ارګ كـې د سـرو زرو د زېرمـو د غـلا پـه بـاب څرګندونـې كـړې دي. كلـه چـې طالبـانو د ۱۳۷۵ل كـال د مـيزان پـر پنځمـه نـېټه كـابل ونيـو، او بيـا د افغانسـتان بـانك تـه ورغلـل نـو نـه يـوازې دا چـې پـه سـيفونو كـې بـهرني اسـعار نـه وو، بلكـې لـه (۵۰۰) ګيـزو نوټونـو څخـه تـر (۱۰۰۰۰) نوټونـو پـورې ټول لـه بـانك څخـه ايسـتل شـوي وو. پـه بـانك كـې يـوازې پنځوسګون او سـلګون نوټونـه پـاتې وو، چـې پـه دې وخـت كـې يـې ارزښت صفرتـه د نـږدې كـېدو پـه حـال كـې و. يـو شـمېر خپرونـو هـم د ځينـو سـرچينـو لـه مخـې لـه ارګ او د افغانسـتان بـانك څخـه د سـرو زرو او پيسـو پـه اړه څرګندونـې خپـرې كـړې دي: "واقعيـت تـه د نږدې سرچينـو د څرګندونـو لـه مخـې ويـل كـېږي چـې مسـعود او ربـاني لـه كـابل څخـه د تېښتـې پـه وخـت كـې د بـانك نوټونـو، د طـلا تپـې او موزيـم د آثـارو او نـورې ملـي شـتمنۍ تـر څنـګ هغـه (۲۶) ټنـه او د ځينـو پـه وينـا (۴۲) ټنـه سـره زره چـې كلونـه كلونـه د افغانسـتان د ملـي پيسـو (افغانۍ) د پشـتوانې پـه تـوګه پـه ارګ كـې سـاتل كـېدل لـه ځان سـره پنجشـېر تـه وړي دي. دا طـلا پـه ډېر محرمانـه ډول او قـوي حفـاظت سـره د ارګ پـه دننـه پـه ځمكنـي پـوړ كـې سـاتل كېدلـه. ويـل كـېږي چـې دوی پـه زور سـره د دې خونـې ور مـات كـړی او ټولـه طـلا يـې تـرې وړې ده".(۶)

د طـلا تپـې د (۲۲) زرو طلايـي سـكو او نـورو آثـارو پـه بـاب چـې د ډېر تـاريخي ارزښت او د لايتنـاهي مـالي ارزښت لرونكـي وو، پـه خپلـه مسـعود تـه د هغـو پتـه معلومـه وه او د هغـو پـه بـاب يـې پـه خپـل

وخت کې اعتراف هم کړی دی. مسعود وايي: "آثار طلا تپه در جائيکه بوسيله حکومت قبلي وهيئت ملل متحد جابجا و مهرلاک گرديده بود محفوظ است."(۷)

له دې څخه ښکاري چې دا آثار د مسعود او رباني په واکمنۍ کې موجود وو، خو له کابل نه دهغو له تيښتې وروسته د دې آثارو پته ونه لګېده. له دې څخه ښکاري چې دا آثار يې هم لکه د نورې ملي شتمنۍ په څېر له ځان سره وړي دي.

د ملي شتمنيو د وړلو په برخه کې هغوی دا څرګندونې کړې چې موږ قانوني دولت(!) يو، نو دولت حق(!) لري چې ملي شتمني له يو ځای نه بل ځای ته انتقال کړي.

مسعود او رباني چې پر کابل باندې د خپل جنجاليز واك په موده کې کومې پيسې چاپ کړې، د هغو شمېر معلومول خورا ګران کار دی، خو د افغانستان بانك د يو کارکوونکي په وينا "هغه پيسې چې د افغانستان بانك ته رارسېدلي او دلته ثبت شوي شمېره يې (دولس زره مليارده افغانيو ته رسېږي. دا د هغو پيسو يوه برخه ده چې بانك ته رارسېدلې ده. دا چې نورې څومره پيسې مرکزي بانك (د افغانستان بانك) ته تر رارسېدو دمخه وېشل شوي د هغو په باب زما معلومات نه شته."

د طالبانو په اداره کې د کابل مستوفي وويل: "کابل ته د طالبانو تر راتګ لږ وروسته موده کې (۸۲) زره مليارده افغانۍ په چلند کې وې." ځينو کسانو ته به دا خبره د مبالغې وروستۍ پوله ښکاره شي چې رباني او مسعود کانتينر بار او په ټنونو پيسې چاپ کړې دي. هغه وخت چې د دوستم او رباني ائتلاف په کابل کې پرځای و، نو د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې يو زيات شمېر دوستمي مليشې ځای پر ځای وې. دوی نه يوازې د هوايي ډګر د

زیاتو برخو واك درلود، بلکې له هوايي ډګر نه نیولې تر ارګ پورې په لویه لاړ کې هم د هغوی زیات شمېر عسکر پراته وو. د دوی له خوښې او مشورې پرته د رباني حکومت د دې اختیار نه درلود چې ځینې مهم شیان له هغې جملې، چاپ شوې پیسې له دې لارې انتقال کړي. هر کله چې به نوې پیسې چاپ شوې، کابل هوايي ډګر ته به راوړل شوې نو یوه ټاکلې اندازه پیسې به د دوستم ملېشو ته د حق العبور(!) خپل حق (!) او د باج او خراج په توګه ورکول کېدې. دا ډول پیسې به راساً بازار ته ورانډې کېدلې او د افغانستان بانك کې یې سریال نمبر نه ثبتېده. یو وخت دا پیسې د بګرام هوايي ډګر ته هم تللې. سربېره پر دې بل ستر ګوزار چې د افغانستان پر اقتصاد وشو او انفلاسیون یې لا پسې اوچت کړ، هغه د مسعود او رباني یا (شورای نظار او جمعیت) تر منځ د پیسو د وېش سیالي وه. د رباني په اداره کې یو مهم شخص چې نه یې غوښتل د نوم یادونه یې وشي په کابل کې د رباني د واك په وخت کې په خصوصي ډول داسې څرګندونه وکړه: "کله چې نوې پیسې چاپ شي نو په کانتینرونو کې د باګرام هوايي ډګر ته راوړل کېږي، بیا د دې پیسو په یوولسو برخو کې (لس برخې) مسعود او یوه برخه یې استاد رباني ته رالېږل کېږي." هغه پیسې چې مسعود د بګرام له هوايي ډګر څخه ترلاسه کولې، هغه یې پنجشېر ته وړلې، بیا یې په خپلو جګړه یېزه فعالیتونو کې کارولې او بېلابېل قوماندانان یې پرې رانیول. دغه راز مسعود سربېره پر دې پیسو په کابل کې د رباني له ادارې نه هم د پوځي فعالیتونو لپاره پیسې اخیستلې. کومې پیسې چې مسعود د بګرام هوايي ډګر له لارې تر لاسه کولې د هغو سریال نمبر (د افغانستان بانك) کې نه ثبتېده. په دې ترڅ کې د بي بي سي راډیو یو بل داسې خبر هم خپور کړ: "هغه منبع چې د

رباني دولت تـه پیسـي چـاپـوي د هغـو ځینـي اشـخاص او د ربـاني د حکومـت ځینـي چـارواکي پـه ګډه د دې پیسـو یـو مقـدار مخکـې لـه دې چـې افغانسـتان تـه راشي پـه تـور بـازار کـې پـه خـارجي اسـعارو بدلـوي او دا اسـعار ځانتـه سـاتي." د پېښور د صرافـۍ پـه بـازار کـې هـم داسـې بنډل بست افغانـۍ لیدل شوي چـې تـر کـابل دمخـه پـېښور تـه رسـېدلي او پـه خـارجي اسعارو بدلـې شـوې دي.

پـه دې منـځ کې لا بـل نـاوړه کـار چـې سـل پـه سـلو کـې د انفلاسـیون د جـګـېدو سـبب کـېږي او د جعـل کـارۍ یـو سـخت عمـل ګڼل کـېږي هغـه پـر یـو نمـبر بـاندې د نـورو نوټونـو چـاپـول دي. یـانې دا چـې پـر یـو سریال نمـبر او یـو خصوصي نمـبر بـاندې نـور نوټونـه چـاپ شـوي دي. د رباني اداري دا کـار هـم کـړی؛ پـر یـوه نمـبر یـې سـل کـاپي نوټونـه چـاپ کـړي دي. پـه دې ډول چـې لـه یـو شـخص سـره پـه یـوه سـریال نمـبر او یـوه خصوصـي نمـبر سـل کـاپـي نوټونـه شـته. ددې ډول جعلکـارۍ یـوه څرګنـده بېلګه لـه بناغلـي اکاډمېسین پوهـاند عبدالشـکور رشـاد سـره موجوده ده. استاد سـره د زرګیـزو نوټونـو د سـلو کـاپیـو داسـې یـو بنـډل موجـود دی چـې د ربـاني اداري چـاپ کـړي او د ټولـو سـریال نمـبر او خصوصي نمبر یـو شـان دی. د ربـاني د اداري د یـو وخـت موتلفینـو او مخـالفینو جـنرال دوسـتم او انجنیر حکمتیـار هـم پیسـې چـاپ کـړي دي. ویـل کـېږي چـې د حکمتیـار لـه خـوا پـه چـهار اسیاب کـې یـو شـمېر زرګون نوټونـه چـاپ شـول، خـو د دې شـمېر ځکـه دومـره زیـات نـه و چـې د ربـاني د اداري د انفلاسـیون کچـه دومـره زیاتـه شـوې وه چـې زرګون نـوټ د خپـل چـاپ لـګښت نـه شـو پـوره کـولای. کلـه چـې د ربـاني پـه اداره کـې د زرګون نـوټ خپـل ارزښت د چـاپ لـه لـګښت سـره انطبـاق تـه نـږدې کـړ نـو ربـاني د پنځه زره ګیـز او لـس زره ګیـز نـوټ پـر چـاپ پیـل وکـړ. دوسـتم هـم د ربـاني د دې بـې کفایتـه اداري تـر څنـګ زیـات

شمېر افغاني بانکنوټونه چاپ کړل. خو د رباني د اداري له خوا د چاپ شويو افغاني بانکنوټونو په اندول کم دي.

انجنير حکمتيار د رباني له خوا د چاپ شويو افغاني بانکنوټونو په باب د خپل صدارت د وخت د يوې پرېکړې په باب داسې څرګندونه کوي: "کابينې د هېواد کلنۍ بودجه تصويب کړه. د معاهدې مطابق به جمهور ريس يا د تصويب شوې بودجې منظوري ورکوله او يا به يې خپل ملاحظات په ليکلې توګه کابينې ته لېږل. خو جناب جمهوررييس نه بودجه منظور کړه او نه يې خپل ملاحضات کابينې ته وړاندې کړل. برعکس تر پايه يې له خپلې خوښې سره سم، له روسيې نه په باد راوړو پيسو کې تصرف کولو. کابينې فيصله وکړه چې له دې نه وروسته به افغاني بانك نوټونه، د مسکو په ځای په کوم بل داسې هېواد کې چاپ کړي چې: الف- د افغانستان په هکله استعماري عزايم ونه لري يا يې زموږ په کورنيو چارو کې د لاسوهنې امکانات ضعيف وي. ب- تر مسکو نه يې په نازله بيه موږ ته چاپ کړي.

د معاهدې مطابق بايد دغه فيصله پرته له کوم ځنډ نه عملي شوې وای، د همدې لپاره د ماليې وزارت، د جرمنۍ او انګلستان له دوو کمپنيو سره خبرې وکړې. د المان له يوې کمپنۍ سره، د ټولو زړو بانك نوټونو د تعويض او د نوو مصئونو بانك نوټونو د عرضې لپاره د اوه مليونه ډالرو په بدله کې د (۱۵۰۰) مليارده افغانيو د چاپ توافق وشو، خو رباني له خپلې خوا د شخصي هيئت په ذريعه، د کابينې د پرېکړې او د معاهدې د حکم خلاف له مسکو سره د خپلو خصوصي ژمنو مطابق داسې نوی قرار داد امضا کړ چې د ۷۰۰ ملياردە افغانيو زړو بانك نوټونو د چاپ په مقابل کې به يې روسانو ته څوارلس مليونه ډالره سپارل!! افغانستان ته دا قرارداد د

آلماني کمپنۍ په پرتله پنځه برابره ګران تمامېده. د معاهدې مطابق باید د پیسو د چاپ قرارداد، د پیسو انتقال او ساتنه او د بودجې مطابق د دولت د اداراتو تمویل، د مالیې وزارت له لارې ترسره شوی وی، خو له مسکو سره د شوروی نظار د خصوصي اړیکو په اساس، چاپ شوي بانك نوټونه، له مسکو نه مستقیماً بګرام ته لېږدول کېدل او مسعود ته سپارل کېدل، چې بیا د دوی په خوښه، یو مقدار پنجشېر ته، یو مقدار خاد ته، یو مقدار د دفاع وزارت ته او پاتې برخه بانك ته انتقال کېده." (۸)

کله چې د ۱۳۷۵ل کال کې د میزان پر ۵ نېټه په کابل کې د طالبانو د اسلامي تحریك له خوا د رباني اداره راوپرځول شوه، رباني او مسعود له کابل نه د هېواد شمال پر لوري وتښتېدل، بیا هم د روسیې له خوا دوی ته د پیسو چاپ بند نه شو. دوی نورې پیسې هم چاپ کړې چې سریال نمبر یې له ۳۲ نه پورته و. کله چې طالبانو له ۳۲ نه پورته سریال نمبر ناچلنه اعلان کړ نو دوی سخت وارخطا شول، خو بیا یې هم د پیسو چاپ ته دوام ورکړ. هم یې له ۳۲ نه پورته سریال نمبر باندې لس زرګیز نوټونه چاپول او هم یې بېرته له یوه (۱) سریال نمبر نه د پیسو پر چاپولو پیل وکړ. داسې یو وخت هم و چې رباني او دوستم په مزار شریف کې د یوه ائتلاف اندېوالان وو، خو ده ته ځانته پیسې چاپېدلې او دوستم ته ځانته. تر هغه وخته پورې چې طالبانو د اګست پر میاشت مزار شریف او د هېواد شمال ټول ولایتونه وو نیولي، د رباني د پیسو چاپولو همدا حال و. تر څو چې طالبانو نوې پیسې چاپ نه کړي نور احتمال یې هم شته. رباني نه یوازې دا پیسې په جګړه یېزو لارو او د هېواد د ورانۍ لپاره لګولې، بلکې د خپلو خپلوانو او تنظیمي اشخاصو د ځانې ګټو لپاره یې هم کارولې. ده په همدې اړه د (۹۰۰۰) باب په

نامه یو ځانګړی باب پرانیستی و چې له هغه څخه د راایستل شویو پیسو د لګښت وجه او حساب معلوم نه و. دا باب یوازې "د جمهوري ریاست" د ځانګړي باب په نامه په خپله د رباني په واک کې و او د لګښت وجه یې معلومه نه وه. د مالیې وزارت د یو کارکوونکي په وینا: "یوازې د ۱۳۷۵ل کال د پیل په یوه میاشت کې له دې باب څخه ۲۷ ملیارده افغانۍ ځینو اشخاصو ته وړیا ورکړل شوې دي."

رباني او مسعود د پیسو د دومره سترو ګوداموڼو په زور څلورنیم کاله پر کابل نیم واکه حکومت وکړ او د زرګونو افغانانو ژوند یې له خپلو هوسونو قربان کړ.

اوس هېڅوک هم ته او ان هغه هېواد ته چې دوی ته یې په ټنونو پیسې چاپ کړي، هغو ته هم کېدی شي دا پته نه وي چې دوی په مجموعي ډول څومره پیسې چاپ کړې دي، ځکه چې له هغې چاپخونې نه هم پیسې ایستل شوي او پر خارجي اسعارو اړول شوي دي. که پورتني ټول احتمالات په پام کې ونیول شي، بیا به هم دقیقه او چورلتیه شمېره تر ګوتو نه شي. دلته کېدی شي له دې ټولو احتمالاتو او واقعیتونو څخه داسې یوه فرضیه جوړه شي:

۱- هغه دولس زره مېلیارده افغانۍ چې په کابل کې د رباني په څلورنیم کلنه نیمواکه واکمنۍ کې چاپ شوي او په کابل کې د افغانستان بانك د کارکوونکیو په وینا یې سریال نمبر ثبت دی.

۲- هغه پیسې چې دوی- بانك ته تر راوړلو دمخه د دوستم ملېشو ته د رشوت او حق العبور په ډول ورکولې- کېدی شي دا د ټولو پیسو له یوې برخې یانې یو زر مېلیارده افغانیو سره انډول وي.

۳- هغه پیسي چې د بګرام له هوايي ډګر څخه د مسعود له خوا پنجشیر او یا نورو سیمو ته وړل کېدې او د (جمعیت) د یو لوړ رتبه شخص په وینا د رباني د پیسو یوولس برابره وې، نو که دا خبره رښتیا وي، مسعود باید یو سلو څلوېښت زره ملیارده افغانۍ له ځان سره وړې وي.

۴- هغه افغانۍ چې دوی په یو نمبر سل سل کاپۍ چاپ کړي دي. د دې شمېر اټکل خورا ګران دی، خو کېدی شي دوی چاپ کړې افغانۍ له یوې مخې سل سل کاپۍ نه وي چاپ کړي، خو بیا هم هرڅومره چې دوی چاپ کړې وي، څرنګه چې په سلو کې ضربېږي نو دا هم لسګونو زرو مېلیاردو افغانیو ته رسېږي.

۵- هغه افغانۍ چې د چاپوونکي هېواد مامورینو او د رباني د اداري چارواکو افغانستان ته تر راوړلو د مخه بهر کې پر خارجي پیسو او اسعارو اړولي د هغو اټکل هم خورا ګران دی، خو بیا هم سلګونو مېلیاردو افغانیو ته رسېدلای شي.

۶- ټولې هغه پیسې چې رباني او مسعود له کابل څخه له تېښتې (۱۳۷۵ل کال د میزان له ۵ نېټې) وروسته چاپ کړي، کېدلای شي د هغو پیسو معادل او یا ان له هغو زیاتې وي چې دوی په کابل کې د خپلې واکمنۍ پر مهال چاپ کړي دي. کتونکي په دې نظر دي چې رباني او مسعود له کابل څخه له خپلې تېښتې وروسته ځکه زیاتې پیسې چاپ کړې چې خپل ځان او ډلې پرې له مرګه وژغوري او بل له دې وېرې چې کېدی شي طالبان نوې پیسې چاپ کړي او د یو معیار له مخې زړې پیسې پر نوې بدلې کړي. نو دوی به مخکې تر مخکې د پیسو اکمال کړی وي. دوی سره دا وېره هم وه چې "د اسلامي دولت" کوم ماسك چې د دوی پر مخ غوړول شوی و،

هغه به د وخت په تېرېدو سره له منځه لاړ شي، نو بیا به دوی ته د پیسو د چاپ امکان بېخي ختم شي.

نو که پورتني ټول احتمالات د یوې فرضیې په توګه په پام کې ونیول شي، نو رباني او مسعود به د ۱۳۷۹ل کال تر نیمایي پورې په سلګونو زره مېلیارده افغانۍ چاپ کړې وي. دا به نه یوازې په افغانستان، بلکې په دومره زماني واټن کې د هېواد څرنګوالي او د نفوس د شمېر په انډول په نړۍ کې د پیسو د چاپ یو بې ساری ریکارډ وي. که چېرې دا په سلګونو زره ملیارده افغانۍ د افغانستان پر ۱۵ ملیونو نفوس باندې ووېشل شي، نو هر یو ته به په لسګونو مېلیونه افغانۍ وررسېږي، چې په منځنۍ کچه پرې هر افغان ته یو کور ودانېدلای شي. خو استاد رباني او د هغه قوماندان آمر صاحب مسعود دا ټولې پیسې د افغانستان په تخریبي ساحه کې مصرف کړې دي، نه یوازې دا چې زموږ د هېوادوالو کورونه یې اباد نه کړل، بلکې وران یې کړل. دا هم څرګنده خبره ده یوه افغانۍ چې د هېواد د ویجاړۍ لپاره لګول کېږي، سل چنده تخریب یانې د سلو افغانۍ زیان اړولای شي. اوس نو د رباني د اداري هغه په سلګونو زره مېلیارده افغانۍ چې په تېره موده کې یې چاپ کړې دي، یو ځل بیا په سلو کې ضرب کړئ چې د ټول افغانستان د تخریب جاج سړي ته معلوم شي. دې کې لا هغه پیسې له حسابه وتلې دي چې د خارجي اسعارو په توګه دوی د افغانستان له دښمنانو نه ترلاسه کړې او یا یې پرې د افغانستان شتمنۍ پلورلې ده. د یادونې وړ ده چې د افغانستان د ملي شتمنۍ یوه برخه ددې اشخاصو له خوا بهرنیو هېوادونو او د هغو بانکونو ته په پټه انتقال شوې ده. همدې چارو زموږ د هېوادوالو اقتصاد لاپسې کمزوری کړ، د ځینو مادي پانګه یې له منځه یوړه او د ثابت عایده خلکو

اقتصاد یې ویجاړ کړ. هغه چتا چې تاکلې اندازه افغانۍ لرلې او هغه یې په معین ځای او یا هم په بانکونو کې ساتلې وې، د وخت په تېرېدو سره یې خپل ارزښت بایلوده. په دې باب یو څو مثالونه کېدی شي کفایت وکړي: د ۱۳۷۱ کال په پیل کې (د مجددي صاحب په لنډه مهاله مودو) کې د کابل پوهنتون یو استاد په جلال آباد کې خپل یو کور په درې سوه لکه افغانۍ خرڅ کړ. هغه د خپل ملي احساس له مخې دا پیسې په بهرنیو اسعارو بدلې نه کړې تولې پیسې یې د پښتني تجارتي بانک په جاري حساب کې تحویل کړې. له دې پیسو نه تقریباً هغه وخت اتکتل اووه نیم لکه پاکستانۍ کلداري جوړېدلې، چې په هغه وخت کې د (۲۵-۲۷) زرو امریکایي ډالرو معادل وې. دې کې څو میاشتې ووتلې، د افغانۍ ارزښت ورځ پر ورځ کمېده، ان په دې کې یو کال پسې ووات، د ځینو خپلوانو او کورنۍ له خوا پر استاد فشار راغی چې پیسې راوباسي او پر کار یې کړي. کله چې هغه بانک ته مراجعه وکړه، نو بانک والاوو ورته وویل چې موږ چا ته له (۵) لکه افغانیو زیاتې پیسې نه شو ورکولای او هغه هم له یوه ټاکلي وخت وروسته، څرنګه چې استاد په پېښور کې اوسېده، نو ده نه شو کولای په دې پیسو پسې نورې پیسې هم ولګوي او له ټاکلي وخت وروسته بانک ته مراجعه وکړي. په بانک کې د پیسو د ایستلو یوه بله لاره هم وه او هغه دا چې هر چا تر شل لکو افغانیو پورې ایستلې نو پنځه لکه افغانۍ یې باید رشوت ورکړي وای، خو ده دې کار ته غاړه کېښېښوده، په دې کې ډېره موده تېره شوه او کله چې د رباني د سقوط پړاو راورسېده، نو یوه کلداره تقریباً پنځه سوه افغانۍ او یو امریکایي ډالر شل زره افغانیو ته رسېدلی و، نو په دې وخت کې د ده د پیسو ارزښت (۵۴ زره کلداري) او یا هم یو نیم زر ډالرو ته راټیټ شو.

پر یوه بل شخص باندي چې د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ په وخت کې یې (پنځوس لکه) افغانۍ په بانك کې اچولې وې، هم دا کانه شوې، دا دوه بېلګې مو هسې د (مشت نمونه خروار) په توګه راوړې زموږ اکثرو هېوادوالو دا ډول زیانونه زغملي دي. په ځانګړي ډول دا ضربه د ثابت عایده اشخاصو خصوصاً متقاعدینو ته زیاته متوجه وه. په لغمان ولایت کې یو ډګروال افسر چې د ډاکټر نجیب الله په حکومت کې پر خپله همدې رتبه تقاعد شوی او د رباني د اداري په پیل کې په خپل تقاعد پسې کابل ته راته، له هغو زرګونو بېلګو څخه یو دی چې بالاخره له خپل تقاعد څخه منصرف شو. دی وایي "زما د هرې میاشتې تقاعد دولس زره افغانۍ و او ما خپل تقاعد کال پر کال اخیسته، یو وخت داسې راغی چې زما معاش ثابت پاتې شو او د افغانۍ ارزښت ډېر زیات راپرېوته، نو زما د یو کال ټول معاش د لارې هغه کرایه او د څو ورځو د ډوډۍ لګښت نه شو پوره کولای چې ما باید په کابل کې د خپل تقاعدي معاش د اخیستلو لپاره لګولی وای، نو ځکه چورلټ ورڅخه تېر شوم".

د رباني اداري د دې ستر انفلاسیون په نتیجه کې نه یوازې افغانیو خپل ارزښت بایلود، بلکې د ورځنیو مهمو تجارتي معاملو لپاره له کارېدنې څخه هم ووتلې او ځای یې بهرنیو اسعارو خصوصاً کلدارو ونیو. په کابل کې د رباني اداري تر وروستیو وختونو پورې د هېواد په لویو ښارونو له هغې جملې نه په کابل کې لویې مهمې تجارتي ان ځینې ورې تجارتي چارې په زیاته کچه په کلدارو او تر یوه حده هم په ډالرو ترسره کېدې. د دوی د دې عمل په نتیجه کې ټول هېواد له یو ستر مالي انفلاسیون او اقتصادي کړکېچ سره مخ شو او په یاده موده کې د همدې انفلاسیون په نتیجه کې له سلو څلو څخه تر یو نیم زرو څلو پورې د شیانو نرخونه لوړ شول.

# اخځونه


۱- پروفیسور انور الحق احدی، هیله مجله، ۱۳۷۶ل کال، ۱ گڼه، ۵-۶ مخونه.

۲- پورتنی اخځ، ۱۰ مخ.

۳- پورتنی اخځ، ۱۰ مخ.

۴- افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له خوا یو برابر شوی رپوټ.

۵- ډاکټر محمد اکبر اکبر، هیله مجله، هماغه گڼه، ۲۷-۲۸ مخونه.

۶- یاد شوی اخځ، ۸۷ مخ.

۷- هنداره جریده، کابل، ۱۳۷۵ل کال، وړی.

۸- حکمتیار، پټې توطیې بربنډې خبرې، ۱۳۷۸ل کال، ۱۴۶ مخ.

# ټولنيز حالات

د افغانستان په ټول تاريخ کې دويمه سقاوي (د رباني- مسعود دوره) تر ټولو تياره، ترينګلې او بې ثباته دوره ده. د دوی د نيمواکه واکمنۍ په څلورنيمو کلونو کې           د دوی د مخالفينو او بيا د دوی د موئتلفينو له خوا دومره جنايتونه تر سره شول چې نه يوازې زموږ د ټولنې په تاريخ، بلکې د نړۍ په تاريخ کې به يې ساری ډېر کم وي. پر دې مهال په ټوله افغاني ټولنه کې سخته بې ثباتي رامنځته شوه. نه قانون حاکم و او نه اداره موجوده وه او نه هم چا د چا پوښتنه کولای شوه. په خپله هغه څوك چې ځانونه يې د واکمنۍ رسمي مدعيان ګڼل هغوی خپله تر غوړونو پورې په جناياتو کې ډوب وو. "د هغو احصائيو له مخې چې د غربي راډيوګانو له خوا

نشر شوي په دې څلور کلن ناورين کې څه د پاسه اتيا زره بې گناه انسانان د کابل په ښار کې وژل شوي دي. دا هغه شمېر دی چې نړيوال سره صليب او نورو خيره موسسو نشر کړی او تصديق کړی دی."(١) دغه راز نور په زرگونو انسانان چې وژل شوي او چا ته يې پته لگېدلې نه ده، هغه لا له دې حساب څخه بېل دي. په لکونو افغانان له کابل ښار او د هېواد له نورو سيمو نه يوې او بلې سيمې ته مهاجر شوي دي. په لسگونو زره کورونه ويجاړ او د کابل او ځينو نورو ښارونو عامه شتمني چور او تالان شوه. د هېچا سر او مال مصئون پاتې نه شو. جنسي جرمونه او پېښې، تښتول، زندی کول، وژل، يرغمل کول ورځنۍ پېښې وې.

بېلابېل جگړه مار قوماندانان دومره خپلواك او ياغي وو چې د هېچا خيال يې هم نه ساته. وايي چې کوم قوماندان د چا مېرمن په زوره تښتولې او ځان سره يې ساتلې وه، د ښځې خاوند برهان الدين رباني ته چې ځان يې "د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئيس" باله او دا قوماندان هم دده د تنظيم او "دولت" سړی و، عرض وکړ چې ستاسې قوماندان ښځه راڅخه بېولې ده، رباني د هغه پر کاغذ وليکل: "قوماندان صاحب محترم! زن عارض را ايله نمائيد! با احترام، پروفيسور برهان الدين رباني، رئيس جمهور دولت اسلامی افغانستان" کله چې هغه شخص دا عريضه هغه قوماندان ته يوړه نو هغه ورته په گوته ووهله او ايسته يې گوزار کړه او ويې ويل: "من برهان الدين رباني را نمی شناسم". خو برهان الدين رباني بيا هم ځان "د افغانستان جمهور رئيس" گاڼه او د ښار ورانې، چور او چپاول يې د دښمنانو تبليغ باله. تر دې لا نورې زړه بوږنوونکې پېښې هم تر سره شوي دي، يوځل د نظار شورا ټوپکيانو د کابل ښار پر ښځينه لېونتون يرغل وکړ او څه ښځې چې په کې وې تولې

يې بې عزته کړي. دا خبر زياترو خبري اژانسونو هماغه وخت خپور کړ، خو د رباني اداري پرې سر ونه گراوه. په همغو شپو ورځو کې يوه نابالغه نجلۍ د نظار شورا د يو ټوپکي له خوا بې عزته شوه، ځو ورځې ژوندۍ وه او په پای کې روغتون کې مړه شوه. په دريم مکروريانو کې خو د شهيدې ناهيدې داستان ټولو افغانانو ته معلوم دی، چې له شپږم پوړ ځخه يې ځان راگوزار کړ، خپل عزت يې وساته او د شهادت جام يې پر سر واړاوه، خو د بدلمنۍ داغ يې په لمنه پرې نه ښود. د همدې مهال د تنظيمي جگړو په ترځ کې خلکوته دومره بې عزتي او بدلمني ور پېښه شوه چې ژبه او قلم يې له بيان ځخه عاجز دي. عجيبه خبره خو دا وه چې د کوم شعار په نامه چې دوی راپورته شوي وو د هغه پر ضد يې داسې کارونه سرته ورسول چې هغه لاره يې هم د خلکو په ذهن کې پيکه کړه! په همدې ځلور کلنه دوره کې يوازې د کابل په ښار کې له (۳۰۰) ځخه زيات جامع جوماتونه په توپونو او درنو مرميو ويشتل شوي اويا رنگ شوي دي. په دې جوماتونو کې چې کوم فرش او نور لوازم وو هغه هم غلا شوي دي. د کابل پلخشتي په مشهور جومات کې چې فرش ترې وړل شوی و، تقريباً يو کال په کې چا سجده ونه لگولای شوه، له دې سيمې ځخه د گله يي او کوځه ډبو سپيانو لپاره د استوگنې يوه سيمه جوړه شوې وه او د جومات په انگړ کې به په ډله ييز ډول گرځېدل راگرځېدل. د نړۍ د مسلمانانو په تاريخ کې هېڅکله هم جومات او د اسلام مقدسو اماکنو ته دومره په سپکه سترگه نه وو کتل شوي، په دې وخت کې له همدې پلخشتي جومات ځخه يوازې يو څو گامه وړاندې د رباني – مسعود تر ږيرې لاندې د شازده سرای چې د کابل په ښار کې د بهرنيو اسعارو د اړولو او بدلون لوی بازار

دی، پـه خپلـه د مسـعود پـه قومـانده چـور او د خلکـو پـه لکونـو او مېليونونـو ډالر لـوټ او تـالان شـول.

د خيرخـانې مېنـې او د ښار پـه نـورو ګڼو جومـاتونو کـې د ښار د بېلابېلو برخـو مـهاجرينو پنـاه واخيسـته، يـوازې د خيرخـانې مېنـې پـه جومـاتونو کـې پـه لسـګونو ولادتونـه تـر سـره شـول، ځينـې ماشـومان او ميندې تلـف شـوې، ښوونـځي او ځينـې نورې دولتـي ودانـۍ هـم پـه بـې ځايـه شـويو کـډوالو ډک وو او نـور پـه زرګونـو جنايتونـه. خلـك تـر پـوزې راغلـي وو، ځينـو لـه مجبوريتـه او ځينـو لـه انارشـۍ نـه داسـې کارونـه کـول، چـې سـړی ورتـه حيرانېږي. د کـابل د قلعـه فتـح الله پـه سيمه کـې يـو چـا سـهار وختـي د جومـات پـر دروازه داسـې يـو اعـلان ليکلـی و: "محترمو لمونـځ کوونکـو! د دې مسـجد فـرش او نـور سـامان مـا د يـو مجبوريـت لـه مخـې وړي دي، زه ډېر مجبـور شـوم، کـه چـېرې زمـا مجبوريـت رفـع شـو، نـو کـېدی شـي زه بـه بيـا دې مسـجد تـه فـرش واخلم، پـه احـترام."

د ربـاني پـه اسـلامي(!) نظـام کـې غربـت او فقـر دومـره اوج تـه رسـېدلي وو چـې د ځينـو پـر روانـي حـالت يـې هـم سـخت منفـي تـاثير کـړی و او هغـوی يـې لـه عـادي حـالت نـه کښلـي وو. د کـابل پـه آسـمايي واټ کـې يـو سـړي د ګڼو خلکـو پـه منـځ کـې پـه زوره زوره دا چيغـې وهلـې: "توبـه توبـه از ايـن اسـلام اينـها، کاشـکی مـا کـافر ميبوديـم، کـه شکم سير نـان ميخورديـم."

د ربـاني اسـلامي نظـام(!) د خپلـو منفـي عملونـو پـه وجـه خلـك بلـې لارې تـه متمـايل کـړل.

کـه يـوازې د کـابل پـه ښار کـې د وژل شـويو کسـانو احصايـه پـه پـام کـې ونيسـو، نـو د ربـاني - مسـعود د ادارې پـر هـره ورځ (۶۰-۶۵)

افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړی او تر (۲۰۰) څخه زیاتو وګړو له ښار څخه کډه کړې ده.

محمد نبي عظیمي په خپل کتاب (اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان) کې یوازې د ۱۳۷۱ل کال د ثور له (۵-۷) پورې د وژل شویو کسانو شمېر له تر لسو د ورځې (۱۰۰۰) تنه ښیي او د ښځینې نړیوال سازمان یوازې د ۱۹۹۴ کال د سپتمبر پر میاشت په کابل ښار کې د توغندیو له امله د وژل شویو کسانو شمېره (۱۱۰۰) او د ټپیانو (۲۳۰۰۰) تنه ښیي(۲)

د دې اداري پر مهال د شویو جنایتونو لست خورا زیات دی، څرنګه چې په دې وخت کې کوم منظم حکومت موجود نه و، نو اکثره پېښې ثبت شوې نه دي. یوازې د کابل ښار د امنیې قوماندانۍ له جنايي جرمونو سره د مبارزې ریاست ځینې هغه پېښې ثبت کړې چې خپله د کابل ښاریانو یا ځینو نورو سرچینو دوی ته مراجعه کړي او دوی بیا هغه په خپل کتاب کې ثبت کړې دي. دلته به له دې کتاب څخه په یوه جدول کې یوازې د یونیم کال (۱۳۷۲ نیمايي او د ۱۳۷۳) د ځینو پېښو یادونه کېږي چې په جنايي ریاست کې ثبت شوې دي. دا پېښې د رباني د وخت د هغو پېښو سلنه (فیصدي) څه چې زرمه برخه هم نه جوړوي چې د ده په وخت کې ترسره شوي دي:

## د کابل ښار د اتلس میاشتو (۱۳۷۲ نیمايي او د ۱۳۷۳ ال کال) د ځینو جنايي پېښو جدول

| ګڼه | د اطلاع اخیستو وخت او نېټه: ساعت | نېټه | ورځ | د پېښې ځای او اړونده حوزه: د پېښې ځای | اړونده حوزه | د پېښې څرنګوالی | متضرر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۲/۷/۳ | شنبه | د کابل ولایت د جزادېوان | دکابل ولایت دننه | غلا | دولت |
| ۲ | د غرمې ۱ بجه | ۱۳۷۲/۷/۳ | شنبه | د قلعه فتح الله څلورلارې | لسمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۳ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۲/۷/۶ | سه شنبه | کارګري قصبه | " | " | " |
| ۴ | " | ۱۳۷۲/۷/۷ | چهارشنبه | د نادرپښتون واټ | دویمه امنیتي حوزه | غلا | " |
| ۵ | دغرمې ۱۱:۱۵ | " | " | دلسمې امنیتي حوزې ساحه | لسمه امنیتي حوزه | د یوه مړي پیدا کېدل | " |
| ۶ | دسهار ۱۰ بجې | ۱۳۷۲/۷/۱۲ | دوشنبه | مرکزي کتنخې | لومړۍ امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ۷ | دوه بجې | ۱۳۷۲/۷/۱۲ | سه شنبه | وکیل کلا | نهمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۸ | د سهار۸بجې | ۱۳۷۲/۷/۲۰ | " | د محمودخان پل | " | دیوه مړي پیدا کېدل | ناڅرګند |
| ۹ | دسهار۵ بجې | ۱۳۷۲/۷/۲۴ | جمعه | دحاجي یعقوب څلورلارې | څلورمه امنیتي حوزه | وسله واله حمله | شخص |
| ۱۰ | دسهار ۹:۱۵ | ۱۳۷۲/۷/۲۴ | شنبه | دلومړي نمبرافسوتر ریاست | یوولسمه امنیتي حوزه | غلا | |
| ۱۱ | د مازیګر۳ | ۱۳۷۲/۷/۲۸ | چهارشنبه | جمهوریت روغتون | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۱۲ | دسهار۸ بجې | ۱۳۷۲/۷/۲۹ | پنجشنبه | وزیراکبرخان روغتون | لسمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | دسهار ۸ بجې | ۱۳۷۲/۷/۱۲ | پنجشنبه | د پارك ګولايي | يوولسمه امنيتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۱۴ | • | ۱۳۷۲/۸/۳ | دوشنبه | دزرنګار پارك تشنابونه | څلورمه امنيتي حوزه | چاودنه | |
| ۱۵ | ۱۱:۴۵ | ۱۳۷۲/۸/۱ | شنبه | دتايمنيو د پروژې دويم سرك | څلورمه امنيتي حوزه | وژنه او ټپي كېدنه | شخص |
| ۱۶ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۲/۸/۸ | شنبه | دجمهوري رياست جنوبي دروازه | دويمه امنيتي حوزه | ټپي كېدنه | شخص |
| ۱۷ | دغرمې ۱۲ بجې | • | • | كابل ښاروالي | دويمه امنيتي حوزه | وژنه او ټپي كېدنه | • |
| ۱۸ | • | ۱۳۷۲/۸/۹ | پنجشنبه | دخيرخانې مېنې خواجه بغرا | يوولسمه امنيتي حوزه | وژنه | • |
| ۱۹ | • | • | • | دپلازا هوټل څلورلارې | دويمه امنيتي حوزه | مرينه په خپل مرګ | • |
| ۲۰ | د شپې ۸ بجې | ۱۳۷۲/۱۰/۱۱ | • | تايمنيو د پروژې ۴ سرك | څلورمه امنيتي حوزه | د يوه مړي پيدا كېدل | • |
| ۲۱ | د مازيګر ۴بجې | ۱۳۷۲/۸/۱۴ | جمعه | د بنايي پوسته | نهمه امنيتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۲۲ | دسهار ۸ بجې | ۱۳۷۲/۸/۱۳ | پنجشنبه | ۳مكرويان- ۳بلاك-۴۵ كور | څلورمه امنيتي حوزه | غلا | • |
| ۲۳ | ۲:۲۰ | ۱۳۷۲/۸/۱۶ | يكشنبه | ۹۰ فاميلي | دويمه امنيتي حوزه | • | • |
| ۲۴ | د شپې ۸ بجې | ۷۲/۸/۲۰-۱۹ | چهارشنبه | پروان مېنه | دويمه امنيتي حوزه | وژنه | • |
| ۲۵ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۲/۸/۲۱ | جمعه | د فارمسي رياست | • | غلا | • |
| ۲۶ | د غرمې يوه بجه | ۱۳۷۲/۸/۲۲ | شنبه | زاړه مكروريان | نهمه امنيتي حوزه | | دولت |
| ۲۷ | د غرمې يوه بجه | ۱۳۷۲/۸/۱۷ | | | | • | شخص |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | دسهار ۶ بجې | ۱۳۷۲/۸/۳ | یکشنبه | خیرخانه مېنه | یوولسمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۲۹ | دسهار ۹ بجې | ۱۳۷۲/۹/۳ | چهارشنبه | دتایمنیودپروژې دربیم سړك | څلورمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۳۰ | ۳ بجې | ۱۳۷۲/۹/۹ | سه شنبه | هوايي بلاکونه | لسمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۳۱ | د غرمې ۱:۳۰ | ۱۳۷۲/۹/۱ | چهارشنبه | د یکه توت کلی | نهمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۳۲ | ۹:۴۵ | ۱۳۷۲/۹/۱۲ | جمعه | دربیم مکروریان | // | غلا | شخص |
| ۳۳ | د سهار ۹:۰۳ | ۱۳۷۲/۹/۱۹ | • | دخیرخانې مېنې خواجه بغرا | لسمه امنیتي حوزه | د یوه مړي پیداکېدل | ناڅرګنده |
| ۳۴ | د غرمې ۱۲:۳۰ | ۱۳۷۲/۹/۱۹ | دوشنبه | زن آباد | نهمه امنیتي حوزه | غلا | |
| ۳۵ | مازدیګر ۴ بجې | ۱۳۷۲/۹/۲ | چهارشنبه | د دویمې حوزې ساحه | دویمه امنیتي حوزه | مړینه | ناڅرګنده |
| ۳۶ | | ۱۳۷۲/۹/۴ | پنجشنبه | دربیم پروان | څلورمه امنیتي حوزه | غلا | |
| ۳۷ | دسهار ۹:۳۰ | ۱۳۷۲/۱۰/۲ | پنجشنبه | د لومړۍ حوزې ساحه | لومړۍ امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۳۸ | د غرمې یوه بجه | ۱۳۷۲/۲/۲ | چهارشنبه | جمهوریت روغتون | درییمه امنیتي حوزه | وژنه | ناڅرګنده |
| ۳۹ | ۱۱:۳۰ | ۱۳۷۲/۱۰/۲۴ | جمعه | تهیه مسکن | څلورمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۴۰ | دسهار ۹ بجې | ۱۳۷۲/۱۱/۱ | جمعه | ده افغانان | دویمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۴۱ | دسهار ۹:۳۰ | ۱۳۷۲/۱۱/۲ | | وزیر اکبرخان مېنه | لسمه امنیتي حوزه | غلا | ملګري ملتونه |
| ۴۲ | د سهار ۱۰ بجې | ۱۳۷۲/۱۱/۹ | شنبه | ده‌افغانان- نوآباد | دویمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۳ | ۱۱:۳۰ | ۱۳۷۲/۱۱/۱۴ | پنجشنبه | د تنور جورولو کوخه | ځلورمه امنيتي حوزه | وژزنه | شخص |
| ۴۴ | . | . | | ده افغانان د پوهنې وزارت شاته | . | غلا | . |
| ۴۵ | دمازيګر ۴:۳۰ | ۱۳۷۲/۱۱/۲۵ | | ده افغانان | دويمه امنيتي حوزه | وژنه | . |
| ۴۶ | د سهار ۶:۳۰ | ۱۳۷۲/۱۱/۲۸ | پنجشنبه | د طره بازخان څلورلارې | ځلورمه امنيتي حوزه | غلا | . |
| ۴۷ | د سهار ۷ بجې | ۱۳۷۲/۱۱/۲۸ | جمعه | دخيرخانې دويمه حصه | يوولسمه امنيتي حوزه | وژنه | . |
| ۴۸ | دسهار ۶:۳۰ | ۱۳۷۲/۱۱/۲۷ | چهارشنبه | تهيه مسکن | ځلورمه امنيتي حوزه | غلا | دولت |
| ۴۹ | | ۱۳۷۲/۱۲/۲۵ | | د ملي امنيت روغتون | . | . | دولت |
| ۵۰ | د غرمې يوه بجه | ۱۳۷۳/۱/۷ | يکشنبه | د حاجي عزيز سراى | ځلورمه امنيتي حوزه | . | شخص |
| ۵۱ | د شپې دوه بجې | ۷۳/۱/۲۰-۱۹ | | د پروان مېنې لومړى برخه | . | غلا او وژنه | شخص |
| ۵۲ | دغرمې دوه بجې | ۱۳۷۳/۱/۹ | چهارشنبه | د بهارستان سينما شاته | دويمه امنيتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۵۳ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۳/۲/۸ | | ۹۰ فاميلي | ځلورمه امنيتي حوزه | وژنه | . |
| ۵۴ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۳/۲/۱۹ | دوشنبه | جمهوريت روغتون | | غلا | ناخرګند |
| ۵۵ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۳/۲/۲۵ | يکشنبه | دپنځه سوه فاميلي ختيزه سيمه | يوولسمه امنيتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | شخص |
| ۵۶ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۳/۳/۴ | چهارشنبه | د پوليسو کوپراتيف | ځلورمه امنيتي حوزه | غلا | دولت |
| ۵۷ | د غرمې يوه بجه | ۱۳۷۳/۲/۲۹ | | د ولايت دنظارتخانې دننه | دکابل ولايت قوماندانې | له بند نه تېښته او بيا نيونه | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵۸ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۳/۲/۲۹ | | دکابل امنیه قوماندانۍ قرارګاه | د کابل ولایت | غلا | شخص |
| ۵۹ | دغرمې ۱۲ بجې | ۱۳۷۳/۳/۱۱ | چارشنبه | د ده افغانانو مارکیت | دویمه امنیتي حوزه | غلا | " |
| ۶۰ | دسهار ۹ بجې | ۱۳۷۳/۴/۲ | پنجشنبه | د ارزاقو ریاست | | " | " |
| ۶۱ | دسهار ۴ بجې | ۱۳۷۳/۴/۶ | دوشنبه | د آریانا کارته عمومي سړک | ثلورمه امنیتي حوزه | چاودنه | دولت |
| ۶۲ | دمازیګر ۳۰ ۱ | ۱۳۷۳/۴/ | " | جوی شیر | دویمه امنیتي حوزه | چاودنه | ناخرګنده |
| ۶۳ | دسهار ۱۰ بجې | ۱۳۷۲/۴/۱۰ | " | ده افغانان | دویمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | د ۴ کسانو وژنه |
| ۶۴ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۳/۴/۱۸ | شنبه | تایمني واټ | ثلورمه امنیتي حوزه | دیوه مړي پیدا کېدل | شخص |
| ۶۵ | دمازیګر ۳ بجې | ۱۳۷۳/۴/۲۰ | دوشنبه | حمام | لومړۍ امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۶۶ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۴/۴/۲۱ | سه شنبه | پروان مېنه | دویمه امنیتي حوزه | د ۸ کورونو غلا | شخص |
| ۶۷ | | " | " | تایمني واټ | ثلورمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۶۸ | " | " | سه شنبه | کارګري قصبه | لسمه امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ۶۹ | دسهار ۸:۳۰ | ۱۳۷۳/۴/۲۷ | سه شنبه | کلوله پشته | ثلورمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | اشخاص |
| ۷۰ | د مازیګر ۶:۳۰ | ۱۳۷۳/۴/۳۱ | جمعه | قلعه فتح الله | لسمه امنیتي حوزه | ټپي کېدنه | شخص |
| ۷۱ | مازیګر ۳ بجې | ۱۳۷۳/۵/۳ | دو شنبه | دخیرخانې مېنې لومړۍ برخه | یوولسمه امنیتي حوزه | غلا | " |
| ۷۲ | ۱۰ بجې | ۱۳۷۳/۵/۴ | شه شنبه | اسمایي واټ | دویمه امنیتي حوزه | غلا | " |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷۳ | | ۱۳۷۳/۵/۱۴ | جمعه | د متروپول سرای | دویمه امنیتي حوزه | غلا | د۱۵دکانونو غلا |
| ۷۴ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۳/۵/۱۹ | چهارشنبه | د زرنګار پارک | // | د یوه مړي پیدا کېدل | شخص |
| ۷۵ | | ۱۳۷۳/۵/۲۲ | شنبه | د کابل منډوي | لومړی امنیتي حوزه | اور لګېدنه | |
| ۷۶ | | ۰ | ۰ | سالنګ‌واټ | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۷۷ | د سهار ۹:۳۰ | ۰ | ۰ | خیر خانه مینه | یوولسمه امنیتي حوزه | اور لګېدنه | مرکزي ستاك، دولت |
| ۷۸ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۳/۵/۲۳ | یکشنبه | دامنیت مدیریت د نوکریوالي دفتر | امنیه قوماندانی | غلا | شخص |
| ۷۹ | د سهار ۶ بجې | ۱۳۷۳/۵/۲۵ | سه شنبه | خیرخانه جبې غاړه | یوولسمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | شخص |
| ۸۰ | د سهار ۹:۳۰ | ۱۳۷۳/۵/۳۱ | دوشنبه | تیمور شاهي | لومړی امنیتي حوزه | اور لګېدنه | دولت |
| ۸۱ | د سهار ۱۰بجې | ۱۳۷۳/۶/۱ | سه شنبه | پنجشېر واټ | څلورمه امنیتي حوزه | اور لګېدنه او مړینه | شخص |
| ۸۲ | | ۱۳۷۳/۶/۲ | چهارشنبه | زاړه مخابراتو ریاست | // | د مړي پیدا کېدل | شخص |
| ۸۳ | | ۱۳۷۳/۶/۶-۷ | سه شنبه | د پروان کارته دویمه برخه | لومړی امنیتي حوزه | غلا | اشخاص |
| ۸۴ | د شپې ۹:۳۰ | ۱۳۷۳/۶/۷ | | د کابل ولایت په خونه | څلورمه امنیتي حوزه | د مړي پیدا کېدل | شخص |
| ۸۵ | | ۱۳۷۳/۶/۸ | سه شنبه | د کابل‌ولایت په‌خونه | دویمه امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ۸۶ | د غرمې ۱۲بجې | ۱۳۷۳/۶/۸ | سه شنبه | د مخابراتو وزارت | // | غلا | دولت |
| ۸۷ | د سهار ۱۰ بجې | ۱۳۷۳/۶/۲ | پنجشنبه | دکابل د امنیې قوماندانی غولی | | غلا | شخص |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸۸ | دغرمي ۱۲ بجي | ۱۳۷۳/۶/۸ | شنبه | د سرې میاشتي روغتون | دویمه امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ۸۹ | دمازیگر ۳ بجي | ۱۳۷۳/۶/۱۳ | یکشنبه | . | . | . | . |
| ۹۰ | د سهار ۸ بجي | ۱۳۷۲/۶/۲۵ | جمعه | د زرنگار پارک | . | . | شخص |
| ۹۱ | دغرمي ۱۲ بجي | ۱۳۷۳/۷/۷ | شنبه | | لسمه امنیتي حوزه | غلا او وژنه | . |
| ۹۲ | دغرمي ۱۲ بجي | ۱۳۷۳/۷/۴ | دوشنبه | د ملګرو ملتو مېلمستون | څلورمه امنیتي حوزه | غلا او وژنه | ملګري ملتونه |
| ۹۳ | د سهار ۹ بجي | ۱۳۷۳/۷/۷ | پنجشنبه | د مریم لیسې شاته | څلورمه امنیتي حوزه | غلا او وژنه | ناڅرګنده |
| ۹۴ | | ۱۳۷۳/۷/۱۱ | | | لسمه امنیتي حوزه | د یوه مړي پیدا کېدل | |
| ۹۵ | د غرمي ۱ بجه | ۱۳۷۳/۷/۱۶ | شنبه | دخیرخاني مېنې لومړۍ برخه | یوولسمه امنیتي حوزه | د وسلې غلا | شخص |
| ۹۶ | دماښام ۵:۴۵ | ۱۳۷۳/۱۱/۱۷ | | آریانا کارته | دویمه امنیتي حوزه | وژنه | |
| ۹۷ | د سهار ۹:۳۰ | ۱۳۷۳/۷/۱۹ | سه شنبه | دآریانا خارجي تکټ خرڅونه | | غلا | آریانا شرکت |
| ۹۸ | دسهار لس بجي | ۱۳۷۳/۷/۲۵ | دوشنبه | هوایي چلند | لسمه امنیتي حوزه | | دولت |
| ۹۹ | | ۱۳۷۳/۷/۳۰ | | چهارقلعه وزیر آباد | | د یوه مړي پیدا کېدل | ناڅرګنده |
| ۱۰۰ | د سهار ۷:۳۰ | ۱۳۷۳/۸/۱ | | ده افغانان | دویمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۱۰۱ | دغرمي ۱۲ بجي | ۱۳۷۳/۸/۱ | یکشنبه | د نجارانو کلا- خیرخانه | یوولسمه امنیتي حوزه | غلا | . |
| ۱۰۲ | دسهاو ۱۰ بجي | ۱۳۷۳/۸/۶ | جمعه | ده افغانان | دویمه امنیتي حوزه | | . |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۳ | دغرمې ۱۲ بجې | ۱۳۷۳/۸/۱۷ | سه شنبه | د خیرخانې مېنې نوې پروژه | یوولسمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۱۰۴ | د سهار ۸:۳۰ | ۱۳۷۳/۸/۲۰ | جمعه | امین مارکېټ | دویمه امنیتي حوزه | غلا | |
| ۱۰۵ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۳/۲۲ | یکشنبه | جوی شیر | | | |
| ۱۰۶ | د غرمې ۱:۳۰ | ۱۳۷۳/۸/۲۳ | دوشنبه | د افغانستان بانك ډیپو | | | دولت |
| ۱۰۷ | دسهار لس بجې | ۱۳۷۳/۸/۲۶ | پنجشنبه | د مامورینو کارته | پنځمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۱۰۸ | دمازیگر ۳ بجې | | | د ترکاریو مارکیټ | دویمه امنیتي حوزه | درې وژنې | شخص |
| ۱۰۹ | دسهار لس بجې | ۱۳۷۳/۸/۲۴ | سه شنبه | بره کې ساحې نه ښکته | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | |
| ۱۱۰ | د سهار ۴:۳۰ | ۱۳۷۳/۸/۲۵ | چهارشنبه | دولتي انحصاراتو ریاست | | غلا | دولت |

(۳)



# اخځونه


۱- پوهنیار محمد نبي فراهي، هیله مجله، ۱۳۷۶ل کال، ۲ گڼه، ۶۲ مخ.

۲- پوهنوال محمد عثمان روستار تره کی، محاکمه جنایتکاران جنگ در افغانستان، پېښور، ۱۳۷۹ل کال بېلابېل مخونه.

۳- پوهنیار محمد نبي فراهي، هیله مجله، هماغه گڼه، ۶۳- ۶۸ مخونه.

# قومي، سیمه ییزه او ژبنۍ کینه

کله چې رباني - مسعود او د هغوی ائتلافي اندیوالان د یو نړیوال سازښت او کورنۍ توطیې له مخې کابل ته راورسول شول، نو دوی د سختې ژبنۍ، سیمه ییزې او قومي کینې پر آس سواره وو. راتلونکي ته یې نه کتل، هرې خواته یې د کینې اورونه شیندل. مسعود خو د ائتلاف له همغې لومړۍ ورځې خپل سیمه ییز، ژبنی او قومي تعصب په ډاګه کړ. کله چې دا ائتلافیون په کابل کې د ترینګلي واك پر ګدۍ کېناستل، نو هرچا د خپلې ډلې او سیمې ځینې وګړي ځان پسې کړل او د لوټ او تالان په لوی بهیر کې یې په ګډه ونډه واخیسته. په دولتي، علمي او فرهنګي ادارو کې داسې کسان وګمارل شول چې نه یوازې له دې کارونو سره اشنا او بلد نه وو، بلکې د دې کارونو ضد هم وو.

دوی د پخوانیو مامورینو او دولتي کار کوونکیو هغه شمېر کسان هم له ځان سره ملګري کړل چې له ژبني، سیمه ییز او قومي پلوه یې له دوی سره اړیکې لرل. د دې دولتي مامورینو د ملګرتیا یوه وجه خو دا وه چې دوی هم له پخوا نه په ژبني او سیمه ییزه روحیه روزل شوي وو، او داسې یوې موقعې ته په انتظار وو. بله وجه یې دا وه چې دې مامورینو ته د دوی له ظرفیت، مسلکي مهارت او استعداد څخه لوړې څوکۍ ورکړل شوې او بل مهم عامل دا و چې ټول د لوټ او تالان په کار کې سره ګډ وو. له دې نویو واکمنو سره د پخوانیو دولتي مامورینو ژبني او سیمه ییز پیوستون او په اداري چارو کې د نویو راغلیو واکمنو نااشنایۍ او نه وړتیا د دوی ټولو لپاره د ګډ کار اوسېله او ګوزاره برابره کړې وه. ورو ورو د دې اداري په بطن کې داسې یو ملي ضد او افغان ضد جوړښت سر راپورته کاوه چې ټولو ملي او افغاني ارزښتونو ته یې په سپکه کتل.

سره له دې چې په دې وخت کې ښوونځي او نور تحصیلي مرکزونه دومره فعال نه وو، خو بیاهم کومو چې په نیمه ډول فعالیت کاوه په هغو کې د داسې افکارو دتدریس هڅه کېدله چې افغان ضد او افغانستان ضد روحیه یې لرله. په ښوونځیو او د زده کړې په نورو مرکزونو کې زیاته هڅه کېدله چې تاریخ تحریف او زده کوونکو ته داسې څه ور ترزیق کړي چې د خپل هېواد او د هغه تاریخ پر وړاندې یا د حساسیت او ضدیت لاره ونیسي اویا هم بې تفاوته پاتې شي. د دوی دا هڅې د افغانستان د معاصر تاریخ او د هغه ځلانده ستورو ته زیاتې متوجه وې. دوی دا دوره "دوره اسبتداد، استعمار و اپارتاید" په نامه یادوله. سره له دې چې په رسمي ډول په تعلیمي او تحصیلي نصاب کې څه بدلون نه و راغلی

او نـه دوی دومره وخت، امکانـات اونـوري اسـانتیاوې لرلـې چې دوی دې پـه رسـمي ډول د زده کـړې پـه نصـاب کې پـه خپلـه خوښه بدلـون راولـي.

دوی د تـاریخ دتدریـس یـو شـمېر نـوي ښوونکـي چـې دې ډلـو او افکـارو تـه منسـوب وو، د دې کـار لپـاره ګمـارلي وو، هغـوی د خپلـو نویو نوټونو لـه لارې دا کارونـه تر سـره کـول. د بېلګې پـه تـوګه بـه کـابل پوهنتـون یـاد کـړو. د کـابل پوهنتـون د حقوقـو او سیاسـي علومـو پـه پوهنـځي کـې د افغانسـتان د معـاصر تـاریخ درس یـو وخـت د ربـاني اداري د کـابل ښاروال پـر غـاړه و. دا شـخص چـې نـه یـې پـه تـاریخ کـې څه تخصـص لاره، نـه یـې څه نـور منظـم تعلیـم کـړی و، هسـې بـه پوهنتـون تـه د تفنـن، ځان ښودنـې او دخپـل همدغـه سیاسـي غـرض لپـاره راتـه. ده بـه پـه نـوي دقیقـه یـې درسـي سـاعت کـې لومـړۍ دېرش دقیقـې د "خپـل اسـلامي دولـت"! پـه سـتاینه تـېر وه، دېرش دقیقـې بـه یـې د احمدشـاه بابـا، غـازي امـان الله خـان او امـیر عبدالرحمـن خـان پـه غندنـه او پـاتې دېرش دقیقـې بـه یـې پـر خپـل نـوي لکچـر نـوټ او پـر څه نـورو خـبرو تـېروه! د احمدشـاه بابـا پـر وړانـدې یـې ټیـك همغـه شـان دړیـغ درلـود، لکـه ځینـې متعصـب تنګنظـره هنـدوان یـې چـې لـري او پـه کورنـۍ کچـه یـې د احمدشـاه بابـا پـه بـاب ویـل چـې: "او حقـوق دیـگر ملیـت هـای ایـن سـرزمین را در نظـر نـه گرفتنـد، نـام ایـن خطـه را افغانسـتان نـهادند علاوتـاً بعضـی زمیـن هـای زراعتـی را بـه اعضـای قبیلـه خویش توزیـع کردنـد." د امـیر عبدالرحمـن خـان پـه بـاب یـې ویـل: "او یـک شـخص فاشیسـت، دیکتـاتور و ظـالم بـود، کـه اکثریـت ملیـت هـای محـروم افغانسـتان بـه طـور اخـص ملیـت سـتمدیده هـزاره را قـل وقـم سـاخت و زمیـن هـای آنـها را غصـب و بـه قبـایل مربـوط خویـش تقسـیم کـرد، ملیـت هـای سـتمدیده و محـروم مـاهیچوقت اسـتبداد و

دیکتاوری تک ملیتی این امیر خون آشام را ازیاد برده نمیتوانند."
د غازي امان الله خان په باب به يې ويل: "او یک شخص عیاش و بزدل بود و در بسا موارد با انگلیسها در تماس بودند. مملکت ما را به سوی عیاشی کشانید، نظام تک ملیت نیز در این زمان دوام پیدا کرد، بالاخره مردم شمال به رهبری حبیب الله خادم دین رسول الله علیه او قیام کردند و او را از پا در آورد و هسته یک نظام ملی و اسلامی را در افغانستان بمیان آورد." یوه عجیبه خبره لابله په کې دا وه چې همدې "استاد" محصلینو ته د درس په وخت کې دا خبره هم د درس د یوې ضمني موضوع په توگه یاده کړې وه چې "په افغانستان کې حفیظ الله امین (۳۰) زره کسان وژلي، په دې د پرشو زرو کې له (۲۵-۲۷) زرو پورې د نورو ملیتونو غړي او یوازې درې زره پښتانه وو."

په همدې پوهنتون کې یو بل تن چې هغه ته هم د افغانستان د معاصر تاریخ د تدریس دنده ورکړ شوې وه، تر ده هم څو گامه د مخه تللی و، خپل نوټ یې داسې جوړ کړی و چې په ښکاره یې افغانستان، احمدشاه بابا او د هېواد د معاصر تاریخ نورو څېرو ته په کې سپکاوی کړی و. همدې "استاد" د انجنیري پوهنځي او ځینو نورو پوهنځیو محصلینو ته په ازموینه کې داسې پوښتنې راوړې وې: "چرا احمدشاه از تاجکها باج میگرفتند و از پشتونها نی، در مورد جنایات احمدشاه معلومات ارایه دهید؟ در مورد فقر فرهنگی، عقب گرایی و خصلت قبله یی دوران حاکمیت احمدشاه معلومات ارایه نمائید؟ لشکر کشی ها و تهاجمات احمدشاه علیه کشور همسایه بر کشور ما چقدر زیان آور بود."(۱) او داسې نورې ډېرې پوښتنې. دا خو په کابل پوهنتون کې دا حال و، په مزار شریف، هرات، تخار او ځینو نورو ولایتونو کې خبره له دې هم

سختـه او تـېزه وه، پـه تعليمـي موسسـو کـې ګمـارل شـوي اشـخاص خـو لاخه کـوي چـې خپلـه د دي ملـي ضـد ائتـلاف اکـثره مشـرانو هـم پـه ليکنـې او ګړنـې بـڼه پـه ډېرې سـپين سـترګې سـره دې مسـايلو تـه لمـن وهلـه، د شـيعه ګانـو دحرکـت اسـلامي مشـر شـيخ محمـد آصـف محسـني چـې يـو وخـت د ربـاني داسـلامي دولـت لومـړی ويـاند و، دده پـه خپـل اخبـار [پيـام جـهاد، ۱۵۲مـه ګڼه] کـې چـې د ۱۳۷۵ل کـال د ثـور پـر ۹مـه نـېټه خپـره شـوې ده، د "تـاملی بـر فرازهـای از پيـام سرنوشـت سـاز رهـبری عـاليقدرحرکت اسـلامی افغانسـتان حضـرت آيـت الله العظمـی محسـنی" تـر سـرليك لانـدې د ده پـه نامـه يـو مطلـب خپور شـوی دی. پـه دې ليکنـه کـې راغلـي دي: "زبـان پشـتو کـه گوينـده گان آن يـک سـوم جمعيـت کشـور را تشـکيل ميدهـد بـر دو ثلـث کشـور کـه بفارسـی تکلـم ميکنـد در مکـاتب جـبراً آمـوزش داده ميشـود و بـه حيـث زبـان اولـی رسـمی کشـور قـد علـم ميکنـد. ادارات دولتـی و اخصـاً مقامـات عاليـه کشـوری و لشـکری در انحصـار اقـوام چنيـن زی و چنـان زی است و هيچکس ديـگر حق نـدارد، حتـی اسـتعداد طبيعـی و فطـری شـان مـهمل گذاشـته ميشـود تـا در ادارات راه پيـدا نکننـد. در عرصـه فرهنـگی نـيز تعصبـات نـاروا و احمقانـه اعمـال گرديـده است، و تمـام امتيـازات از قـوم خـاص و منطقـه خـاص بـوده اسـت. در ننگرهـار فاکولتـهٔ طب ايجـاد ميشـود ولـی در بدخشـان کـورس وترنـری هـم راه انـداز نميـگردد! مکـاتب ليليـه، شـفاخانه هـا و کلينـک هـای انسـانی و حيوانـی و تمـام امتيـازات سياسـی و اجتمـاعی و فرهنـگی بنـام خطهٔ جنـوب و جنـوب شـرق کشـور تمـام شـده و تمـام سـاحات ديـگر بـه فراموشـی سـپرده ميشـود. تمـام شـهرهای جنـوب و جنـوب شـرق بـا اعمـار سـرکهای پخته و خامـه بـه همديـگر وصـل ميشـوند ولـی از منـاطق مرکـزی کشـور يـک وجب سـرک خامـه هـم نميـگذرد... در شـهر

خوست خوبترین ساختمانها اعمار میگردد ولی در غور و فاریاب دوای درد دندان پیدا نمیشود...

در مورد تراکم جمعیت نیز همین گونه بیعدالتی وجود دارد، ولایت لوگر با جمعیت در حدود یکصدو شصت هزار نفر با تشکیل واحد اداری اولیهِ صاحبِ امتیاز است و منطقه جاغوری درولایت غزنی باجمعیت حدود یکصدو پنجاه هزار نفر عنوان واحد دوم اداری را از خود کرده است."(۲)

د رباني ډ اداري او دهغه د اند یوالانو اکثر اخبارونه او خپروني که تر هېواد دننه وي که بهر، د زیاتو فکري تګلوري منفي وو. د "فتح" په نامه د هغوی یوه جریده چې په پېښور کې یې خپروني کولې، د نورو ستمي خپرونو په شان لوی احمدشاه بابا ته د یو یرغلمګر خطاب وکړ. دا کار یې د دې لپاره وکړ چې متعصب هندوان خوشحاله کړي. دوی ان دا هم وویل چې که چېرې روسانو ته چې افغانستان یې اشغال کړی و، یرغلګر ویل کېږي نو احمد شاه ته هم باید یرغلګر وویل شي، ځکه چې ده هم هندوستان اشغال کړی و."

د رباني زیاتې خپرونې په فارسي ژبه وې او اکثره ملت ضد ډلې ټپلې پرې واکمنې وې، د صبح امید، پیام جهاد، پیام شهدا، قدس، بالاحصار، کابل، نامه فرهنگ، فریاد عصر، مجاهد، فرهنګ او په نورو نومونو په کابل کې خپرونې کېدلې چې اکثره یې په فارسي ژبه وې. د پښتو ونډه یا په کې په مطلق ډول نه وه اویا هم ډېره لږه او هغه هم په ناسمه او نامعیاري پښتو. راډیو ټلویزیون کې هم همدا حال و. پښتو خپرونې او پروګرامونه او ان د پښتو نومونې اوکلیشې یې بدلې کړې، سیمه ییز، قومي او ژبني تعصب ته په کې لمن وهل کېدله.

په بهر کې هغه خپرونې چې د رباني – مسعود د اداري له خوا اویا د دوی په ګټه د ایراني چارواکو په مرسته د ستم، جمعیت او نورو ملت ضد ډلو ټپلو له خوا تر سره کېدلې، هغه هم له خپلو کورنیو اندېوالانو څخه شاته پاتې نه وې. په امریکا کې د ستمیانو (امید) چې د ایران په ډاګیز مادي ملاتړ او امکاناتو افغان ضد خپرونې کوي، تر ټولو زیاتې سپکې سپورې خپروي، ژبنۍ خوا اودقلم عفت هم په پام کې نه نیسي. دوی هغه څه خپروي چې د چا خبره لمر په دوو ګوتو پټوي. اکثره متعصب او افغان ضد عناصر دا ډول هڅې ترسره کوي.

مثلاً دوی لیکي: "در کشور مااقلیتها همواره ازطرف یک گروه ممتازمورد اهانت قرار گرفته و به آنها کمترین حقوق قایل و از بسا حقوق مدني، طبیعی و حتی حق قانونی شان محروم ساخته شده اند."(۳)

"اکثر طبقه حکام در دو صدو پنجاه سال اخیر هیچ وقت جز پرکردن جیب و افزودن زوجات واندرها غم دیگر نداشتند و جز همین هنری نداشتند."(۴)

"چون برادران پشتون ما بالفطره و بطور مادرزاد از خدمت معاف و مستثنی بودند و انرا برای خود ننگ و عار تلقی میکردند... بناءً پشتون بودن، طالب بودن و افغان بودن یک دروغ سه مجهوله است."(۵)

او داسې نورې ګنې بېلګې.

د رباني افغان ضد اداري به چې کله په کابل کې څو ورځې لړ دمه راسته کړه، نو بیا به یې افغان ضد تبلیغات او کمپاین ګړندي کړل. ددوی یوه ملت ضد هڅه هم په افغانستان کې دملي نومونې (ترمینالوژۍ) رنګول وو. دوی کوښښ کاوه چې په دولتي او علمي

کچه چې په پښتو ژبه کوم نومونه ایښودل شوي وو او د ټول ملت په سطحه منل شوي وو، هغه بدل او پر ځای یې فارسي او هغه هم د ایرانۍ فارسي نومونه کېښودي. دوی د ایرانۍ فارسي د ترویج لپاره دومره هڅې کولې چې ان ایران هم دومره ګړندی پر مخ نه دی تللی. دوی له ایراني جوړښت او دود سره ځینې فرهنګي ټولنې هم جوړې کړې لکه "بنیاد فرهنګ، بنیاد فرهنګ غزالي، بنیاد فرهنګ اردو..." ستمي ډلو ټپلو چې مسعود او رباني ټول ورسره په یوه ملت ضد خم کې رنګېدلي وو، یو ځل هڅه وکړه چې د کابل ښار د ځینو سیمو نومونه واړوي اوپر ځای یې ایراني نومونه کېږدي. دوی د کابل ښار د پښتونستان واټ لپاره د (خیابان فردوسي) نومونه، د کابل د طب انستیتیوت لپاره "دانشسرای پزشکی" د کابل پوهنتون لپاره "دانشګاه کابل"، د پوهنځي لپاره "دانشکده" د راډیو ټلوېزیون لپاره "صدا و سیمای دولت اسلامی افغانستان" او ځینې نورې نومونې انتخاب کړې وې، خو د عملي کېدو امکان یې پیدا نه شو. یوازې د اطلاعاتو او کلتور وزارت لوحه یې په "وزارت اطلاعات و فرهنګ" بدله کړه.

په دې کار کې د کابل پوهنتون ځینې پنجشېرې ستمي استادان، "د ملکي هوایي چلند وزیر" ډاکټر عبدالرحمن، د راډیو ټلوېزیون رئیس شمس الحق اریانفر چې پر ایرانۍ فارسي خورا مین و او ځینې نور ګروپونه او اشخاص شامل وو. خپله رباني هم له چا نه شاته پاتې نه شو؛ هغه هم کابل پوهنتون ته "دانشګاه کابل" نومونه په رسمي مکتوب کې کارولې وه. په پوهنتون کې دا مکتوب په دې بڼه موجود دی، "تقرر دوکتور محمد فضل بنووال به حیث معاون علمی دانشګاه کابل منظور است. بااحترام، پروفیسور برهان الدین رباني رئیس جمهور افغانستان، ۱۳۷۳/۳/۳)(۶)

د رباني او نورو ستميانو له هيلو او هڅو سره سره دوی په کابل پوهنتون کې پر دې بريالي نه شول چې دا پردی لفظ يا رسمياتو ته داخل کړي او يا يې پر چا ومني، خو په بلخ او هرات کې بيادوی ان دپلومونو کې هم دا پردی نوم داخل کړ. پخوا به دپلومونه په پښتو او انګليسي ژبو چاپېدل، خو دوی پښتو له منځه يوړه او پر ځای يې په فارسي ژبه دپلومونه چاپ کړل. د دې ډول دپلوم متن به وګورو.

وزارت تحصيلات عالی و مسلکی

دانشگاه بلخ

سند فراغت

محترم ...... فرزند...... متولد سال...... در سال ...... شامل دانشکده طب دانشگاه بلخ گرديده و در سال...... رشته طب عمومی اين دانشکده را به سويه ماستر موفقانه به پايان رسانيده است. سند هذا به وی تفويض گرديد تا از حقوق و امتياز آن مستفيد گردد.

رئيس دانشکده

رئيس دانشگاه مزار شريف(۷)

دوی غوښتل چې د کابل پوهنتون دپلومونو لپاره هم همدغه متن وکاروي، خو دلته ژور عکس العمل وښودل شو، خو بيا يې هم په دپلوم کې څو ځايه لکه "دولت اسلامی افغانستان، شماره ثبت"، فارسي ورځای کړل.

د رباني په اداره کې له پښتو ژبې او پښتنو سره دومره حساسيت و، چې ده ان په خپله ټوله اداره کې ذاسې د کار پښتون ونه زغمه چې هغه دې د خپل قوم او ژبې استازولي وکړای شي. يانې دا اداره چې دوی "دولت اسلامی" باله د يو قوم او يوې ژبې

اداره وه. دا خبره هغه وخت ښه پسې څرګنده شوه چې د ده د اداري يو لوړ رتبه هيئت پاکستان ته سفر وکړ، کله چې د پاکستان او د رباني د اداري استازي سره خبرو ته کېناستل، نو "د کابل حکومت وفد د پاکستان جمهور رئيس فاروق لغاري سره په پښتو ژبه خبرې ونه کړی شوې، هغه مهال پاکستاني او افغاني خپرونو وليکل چې فاروق لغاري په صدارتي محل کې افغان وفد ته هرکلي وويلو نو ور نه يې وغوښتل چې په کومې پښتو، اردو، يا انګليسي ژبې درسره خبرې وکړم، افغان وفد ورنه خواهش وکړ چې خبرې بايد په انګليسي کې وي او ويې ويل چې زموږ د وفد ټول غړي په پښتو نه پوهېږي. دلته د يادونې وړ ده چې د پاکستان د جمهور رئيس فاروق لغاري مور پښتنه ده، نو پر دې اساس نوموړی ښه روانه پښتو ويلی شي."(۸)

کله چې پاکستانيانو په انګرېزۍ خبرې پيل کړې، نو دوی په انګرېزۍ هم نه پوهېدل، خبره ښېخې مسخرې ته ووته. هغه څوك چې د خپل هېواد له ملي ژبې نه خبر نه وي، هغه به نو څه په يو بل هېواد کې د خپل هېواد استازولي وکړای شي؟

په خپله رباني هم د افغانستان د ملي هويت او د پښتو ژبې د ملي ارزښت د کمولو په نيت ان هغه وخت چې کله د ايران له خوا د فارسي ژبې په باب په جوړ شوي سيمينار کې ګډون وکړ افغانستان په خپل سر په فارسي ژبو(!) هېوادو کې شامل کړ. هغه په ډېره سپين سترګۍ دا ګام پوره کړ او په هېواد کې د ډېر زيات اکثريت حقوقي حيثيت او د ملي ژبې شتوالي ته يې ونه کتل.

د دوی افغان ضد يوه بله بېلګه دا ده چې دوی کله "ملي سرود" جوړوه، نو هغه يې هم داسې نظم انتخاب کړ چې په هغه کې (افغان) ياد شوی نه وي. ملي سرود په هر هېواد کې د هغه هېواد په

ملي ژبه وي نه په دويمه يا دريمه ژبه. وګورئ د رباني د رژيم ملي سرود:

قلعه اسلام قلب آسيا
جاودان، آزاد خاک آريا
زاده گاه قهرمان بزرگ
سنگر زنده مردان خدا
الله اکبر الله اکبر

تيغ ايمانش به ميدان جهاد
بند استبداد را از هم گسست
ملت آزاده ای افغانستان
در جهان زنجير محکومان شکست
الله اکبر الله اکبر

در خط قرآن نظام ما بود
پرچم ايمان به بام ما بود
هم صدا و همنوا هم وا
وحدت ملی مرام ما بود
الله اکبر الله اکبر

شاد زی آزاد زی آباد زی
ای وطن در نور قانون خدا
مشعل آزادگی را فراز
مردم برگشت شو رهنما
الله اکبر الله اکبر(۹)

رباني او مسعود په خپل قومي او د ځان غوښتنې په هوسونو کې دومره ډوب وو چې ان عقيده يې خواوو او آرونو ته يې هم ارزښت نه ورکاوه او له وخت لوېدلي شيان يې ګڼل. يو وخت د ځينو جهادي مشرانو له خوا پر رباني او مسعود فشار راوړل شو چې جنرال بابه جان او ځينې نور کمونيستان بايد له لوړو ځوکيو لرې کړي، رباني پر دې وخت په دوو لومو کې ګير و، يو خوا د ځينو جهادي مشرانو ټينګار او بله خوا د خپلو کمونيستي- ستمي ملګرو خپګان. يوه ورځ يې بابه جان او ځينو نورو کمونيستو ستميانو ته وويل چې: "شما تشويش نکنيد، حالا عقايد شکست خورده، فعلاً بازار قوميت گرم است." نو په دې وجه د بابه جان زړه ډاډه شو چې "استاد" خو له ما نه هم دوه ګامه وړاندې دی. مسعود د باګرام په هوايي ډګر کې يوه ورځ چاته ويلي وو: "اگر پيغامبر هم از طرف جنوب به کابل بيائيد من آنرا قبول ندارم." ده به ويل: "ما اينطور کابل را ميخواهيم که کسی دروازه خانه را تک تک کند، کسی نه گويند که: څوك يې؟"

رباني- مسعود د همدغو قومي تنګنظريو او تعصب له کبله په دې فکر کې شول چې کابل بايد ټول خپل کړي، رباني د بدخشانيانو لپاره د ښار پر دننه ځمکو سربېره د ده سبز دښته په پام کې نيولې وه چې پر هغوی يې ووېشي او مسعود د چمتلې دښته چې پر پنجشېريانو او نورو سيمه والو يې ووېشي. د رباني طرح په هغه وخت کې د ده سبز د خلکو له مقاومت سره مخامخ شوه او د مسعود طرح له کابل نه د هغه له تېښتې سره سمه ناکامه شوه.

# اخځونه

۱- د ۱۳۷۰ ل کال په لومړي سمستر کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو او انجنیري پوهنځي د محصلینو څرګندونې.

۲- محمد آصف محسني، "پیام جهاد" جریده، د "حرکت اسلامي" خپرنی ارګان، پرله پسې ګڼه ۱۵۲، د ۱۳۷۵ کال د ثور ۹ مې نېټې ګڼه.

۳- عبدالرحمن پیمان، امید جریده، د امریکا متحده ایالات ۲۰۹مه ګڼه، ۲ مخ.

۴- غلام حضرت کوشان، امید جریده، ۲۱۰ ګڼه، ۶ مخ.

۵- عبدالله سمندر غوریاني، امید جریده، ۱۹۵ ګڼه.

۶- د پوهنتون د تحریراتو څانګه،دا مکتوب په عام محضر کې د پوهنتون د هغه وخت رئیس له خوا د رباني د فرمان په توګه واورول شو.

۷- د محمد ظاهر د زوی محمد شفیق په نوم ثبت شوی ۲۵۳ نمبر دپلوم.

۸- وحدت ورځپانه، پېښور، د ۱۹۹۶ کال د اګست ۱۳مه نېټه.

۹- د راډیو افغانستان آرشیف.

# د هېواد فرهنګ ته اړول شوي زيانونه



د طلا تپې له آثارو څخه

کله چې مسعود او رباني د ائتلافونو. سازشونو. توطیو. د ایران. روسیې. پاکستان. فرانسې او ځینو نورو هېوادونو د استخباراتي هلو ځلو او ګډ تفاهم په نتیجه کې کابل ته رادننه کړای

شول، نو دې سره د ټول هېواد په لويو ښارونو او په تېره بيا په کابل کې دولتي نظام، امنيتي جوړښت اوټولنيز ثبات ګډوډ شو. د دې ګډوډۍ په پايله کې ټولنې ته د شورو زيانونو تر څنګ درانه فرهنګي زيانونه هم واړول شول. پر نورو ځګړمارانو سربېره خپله د رباني او مسعود ځګړه مارو هم د فرهنګي مرکزونو او بنسټونو په ويجاړۍ، تباهۍ، چور او تالان کې تر هرچا زياته ونډه واخيسته. خپله د رباني اداري د يو تن مسوول په وينا پوازې د ۱۳۷۱ل کال د ثور په مياشت کې راډيو ټلوېزيون ته پنځه لس مېليونه ډالره زيان اړول شوی دی.(۱)

وروسته بيا په متواتر ډول راډيو او ټلوېزيون ته زيانونه واړول شول چې ټول زيان يې له درې سوه مېليونه ډالرو څخه هم واوښت. د رباني په اداره کې د راډيو ټلوېزيون عمومي رئيس شمس الحق اريانفرد دې زيانونو په باب داسې ويلي دي: "د مرکز د ټلوېزيون د اوربدنې او ليدنې پوازېنی دستګاه تخريب شوې اوله منځه وړل شوې چې له لس مېليونو ډالرو زيات زيان دی. د راډيو د لېږدونې شپږ دستګاوې کاملاً له منځه وړل شوې چې دا له (۳۰) مېليونو ډالرو زيات زيان دی. په (۲۰) ولايتونو او ولسواليو کې محلي ټلوېزيونونه موجود وو چې دوه ثلثه يې له منځه وړل شوي او چور شوي دي.

په (۱۸) ولايتونو کې محلي راډيوګانې موجودې وې چې درې پر څلور (درې ربعې) يې تخريب او له منځه وړل شوي دي.

په ټولو ولايتونوکې د راډيو د اخذې دستګاوې اويه (۴۴) سيمو او ولايتونو کې ګرځنده سينمايي دستګاوې موجودې وې چې اوس نه شته".(۲)

پر ۱۳۷۶ ل کال د راډیو تلویزیون مسوولینو هڅه وکړه چې راډیو تلویزیون ته د وررسېدلي عمومي زیان جاج معلوم کړي. تر پلټنو وروسته یې په دې باب یو راپور برابرکړ. په راپور کې څرګنده شوې ده چې په ټولیز (کلي) ډول د افغانستان راډیو تلویزیون ته (۲۵۲) مېلیونه ډالره زیان اړول شوی دی. خو دې سره سره ځینې کتونکي چې هغوی د راډیو تلویزیون دستګاوې، ستوډیوګانې، آرشیفونه، ودانۍ او نور وسایط او وسایل لیدلي، راډیوتلویزیون ته رسېدلی زیان یې له درې سوه مېلیونو ډالروڅخه زیات محاسبه کړی دی.(۳)

په کابل کې د جګړو د پیل په څو لومړیو ورځو کې یوازې د کابل ښار ښوونځیو ته د اړتیا وړ درسي موادو له درکه (۱۵) مېلیونه ډالره زیان اړول شوی دی.(۴)

لنډه دا چې د رباني- مسعود د اداري په رامنځته کېدو سره د هېواد- په ځانګړي ډول د کابل ټولو فرهنګي او علمي مرکزونو ته زیان اړول شوی دی. دې کې داسې علمي اوکلتوري مرکزونه هم شامل دي چې یا په بشپړ یا هم په نیمه او یا هم په قسمي ډول ویجاړ او له منځه وړل شوي دي. د یادونې وړ ده چې په دې ویجاړۍ کې د رباني او مسعود د اداري د هغه وخت مخالفینو او ددوی موتلفینو دواړو ونډه لرلې ده، خو دا ټکی هم د یادونې وړ دی چې دوی ځان د هغه وخت "د اسلامي دولت" چارواکي ګڼي او دولت د فرهنګي میراثونو د ساتنې او پالنې مسوولیت او دنده لري.

خو د رباني او مسعود ډلې چې ځانونوته یې "اسلامي دولت"(!) وایه، نه یوازې دا چې فرهنګي میراثونه، مرکزونه او کلتوري شتمنۍ یې ونه ساتل، بلکې تر هر چا لومړی او په زیاته کچه دوی په خپله د هغوی پر لوټ او تالان لاس پورې کړ. په ۱۳۷۳-

۱۳۷۴ کلونوکې په خپله له کابل راډیو نه د موزیم او نورو تاریخي آثارو په باب چې له کابله ورل شوي وو او د پروان- کاپیسا په ولایتونوکې یې یوه برخه بېرته تر لاسه شوې وه، خو خبرونه نشر شیول. خو بیا هم د یاد شویو آثارو هیڅ پته ونه لګېده. دلته به په ځانګړي ډول په ډېر لیندیز سره د کابل ښار د فرهنګي، علمي مرکزونو او کلتوري میراثونو د زیانونو په اړه لنډ معلومات وړاندې کړو. دا زیانونه د ۱۳۷۱ ل کال له ثور څخه د ۱۳۷۵ د میزان تر پنځمې نېټې پورې دي.

## ښوونځي:

یوازې د کابل په ښار کې په لسګونو ښوونځي یا په نیمه یا په بشپړ ډول له ټولو امکاناتو سره له منځه وړل شوي، چې عمومي لګښت یې سلګونو ملیونو ډالرو ته رسېږي.

## کابل پوهنتون:

پنځوس ملیونه ډالره زیان یې زغملی. د محصلینو د شمېر له مخې ۲۱ ملیونه درسي ساعتونه یې ضایع شوي، دوه ملیونه ټوکه کتابونه یې له منځه وړل شوي. په لسګونو استادانو یې دنده خوشې کړې. پنځه سوه عنوانه علمي ژورنالونه، اوه زره عنوانه مونوګرافونه، تحقیقي رسالې او کتابونه. د جریدو او مجلو شپږ سوه کلکسیونونه. دوه زره پنځه سوه خطي نسخې او نور آثار یې له منځه وړل شوي دي. عجیبه خبره خو دا ده چې په خپله زباني او تر یوې مودې پورې د زباني نورو ملګرو هم په همدې پوهنتون کې زده کړې کړې وې. تر اوسه پورې به د نړۍ پر مخ ډېره کمه داسې بېلګه پیدا شي چې څوک دې په کوم زوزنځي، ښوونځي او پالنځي کې

وروزل شـي او بيـا دې هغـه پـه خپلـه رنـګ کـړي او د درنـو او سـپکو وسلو په زرګونو ګولۍ دې ورته په سينه کې تشې کړي.

## د کـابل طـب انسـتيتيوت:

د ودانيـو پـه سـلو کـې دېرش برخـې يـې تخريـب شـوي. ۴۴ زره عنوانـه علمـي کتابونـه او د اسـتادانو ۵ زره عنوانـه ليکلـي نـاچـاپ آثـار لـه منـځه وړل شـوي، د محصلينـود شـمېر لـه مخـې لـس مېليونـه درسي سـاعتونه ضـايع شـوي. پـه ټولـيز ډول يـې ټول زيـان لکونـو ډالـرو ته رسـېږي.

## کـابل پوليتخنيـك:

د کـابل پوهنتـون پـه شـان يـې تـر ۵۰ مېليونـو ډالـرو پـورې زيـان زغملی. د محصلينـو د شـمېر لـه مخـې ۱۲ مېليونـه درسـي سـاعتونه يـې ضـايع شـوي او پـه لسـګونو زره عنوانـه کتابونـه يـې لـه منـځه وړل شـوي دي.

د نوموړو مرکزونو تر څنګ د ټول هېواد په کچه د لوړو زده کړو تر ۱۵ زياتو مرکزونو هم هېواد ته ښوونکي او نور مسلکي کادرونه روزل. دا مرکزونه هم يا په نيمه او يا په بشپړ ډول زيانمن شوي دي.

## حربـي پوهنتـون:

زيـاتې ودانـۍ يـې ويجـاړې شـوي، ټول وسـايل او وسـايط يـې لـه منـځه وړل شـوي. پـه زرګونـو عنوانـه کتابونـه يـې ضـايع شـوي، پـه اټکليز ډول يـې زيـان سلو مېليونـو ډالـرو تـه رسـېږي.

## هوايـي اوهوايـي مدافـع پوهنتـون:

اکثره ودانۍ يـې تخريـب شـوي، کتـابتون يـې چـور شـوی، وسـايل او وسـايط يـې غـلا شـوي. پـه اټکلـيز ډول يـې زيـان دوه سـوه مېليونـو ډالـرو تـه رسـېږي.

### د تخنیک اکاډمي او د پولیسو اکاډمي:

دا هم د هوایي- هوایي مدافع او حربي پوهنتون په شان زیانمن شوي چې عمومي زیان یې لسګونو میلیونو ډالرو ته رسېدی شي.

د اسلامي خبرونو مرکز، د پیداګوژۍ انستیتیوت، د کابل تخنیکم، د ټولنیزو علومو انستیتیوت او د کابل په لویدیزه سیمه کې نورو علمي موسسو هم دې ته ورته زیان زغملی دی.

### د افغانستان د علومو اکاډمي:

د اکاډمۍ د کتابونو ساتنځایونه او د پلرونې اکثره ځایونه چور شوي، په سلګونو عنوانه پروژې، خطي نسخې او تر لاس لاندې، کړې او کېدونکي کارونه له منځه وړل شوي، د اکاډمۍ ځینې ودانۍ ویجاړې شوي، عمومي زیان یې لسګونو میلیونو ډالرو ته رسېږي.

### د لیکوالو ټولنه:

۱۵۰ زره ټوکه کتابونه یې چور شوي، ۳۰۰۰ عنوانه علمي کتابونه یې هم لوټ شوي چې د دواړو عمومي زیان یې ۳۲۴۰۰۰ ډالره کېږي. ودانیو ته یې ډېر زیات زیان اوښتی دی.

### د ژورنالستانو او هنرمندانو ټولنې:

دې دواړو اتحادیو ته هم د لیکوالو د ټولنې په شان زیانونه اړول شوي دي چې لکونه ډالره اټکل کېدی شي.

### خپلواکې فرهنګي ټولنې:

لکه ناصر خسرو بلخي، هرات باستان، حکیم سنایي غزنوي، انجمن فرهنګي امیر علي شیرنوایي، انجمن دوستداران مولانا، خوشال فرهنګي ټولنه او سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه هم د خپلو امکاناتو په حدودو کې زیانمنې شوې دي.

## سینماوې:

د کابل په ښار کې ۱۶ بېلابېلې سینماوې ځینې یې په بشپړ ځینې په نیمه او ځینې هم په قسمي ډول زیانمن شوي،چې عمومي زیان یې لسګونو مېلیونو ډالرو ته رسېږي.

## ملي موزیم:

د ملي موزیم دویم پوړ رانړول شوی او د موزیم (د یو لک آثارو) له جملې څخه اکثره آثار غلا شوي او څو فیصده کم ارزښته آثار یې پاتې دي. په دې موزیم کې د ۵۰ زرو کالو دمخه آثار هم موجود وو او داسې آثار هم په کې وو چې ارزښت یې په پیسو سنجېدلای نه شي د ملي موزیم د آثارو مالي ارزښت له تصوره اوچت دی.

## د اردو موزیم او نور موزیمونه:

د ودانۍ زیاتې برخې یې نړول شوي او په لسګونو زره آثار ترې غلا شوي دي، دغه راز نورو سیمه ییز موزیمونه لکه د هډې، غزني، کندهار او نور هم یا په بشپړ او یا هم په نیمه ډول زیانمن شوي دي.

## ملي ګالري:

د ۱۳۷۱-۱۳۷۳ کلونو په موده کې ترې په لسګونو آثار غلا شول او د نورو (۶۹۲) آثارو برخلیک یې لاڅرګند نه دی.

## نندارتونونه:

یوازې د کابل ننداري په سیمه کې د افغانستان د لاسي صنایعو او نورو برخو (۱۵) لوی ننداړتونونه ړنګ او آثار یې غلا شوي چې عمومي زیان یې سلګونو مېلیونو ډالرو ته رسېږي.

د ۱۳۷۱ ل کال د غبرګولي پر ۳ نېټه د نوموړي نندارتونو د لوی رييس ښاغلي ميرزا علم حميدي له خوا د (۶) نومره مکتوب په ذريعه لوړو مقاماتو ته په لاندې متن يو مکتوب ولېږل شو:

نمبر (۶)

وزارت تجــــــــــارت

اداره نمایندگاه پیشرفتهای اقتصادی واجتماعی

تاریخ ۹/۳/۱۳۷۱

بوزارت محترم تجارت

ریاست محترم

اینجانب نامه ذا گزارش بغاوت برده شدن تمام امـــوال واجناس اداره نمایندگاه پیشرفتهای اقتصادی واجتماعی افغانستـــا ن درظـرف چار روز تقدیم است.

خواهشمندیم موضوع رابه آگاهی واحدهای دولتی خویش کــــه دراداره نمایندگاه عرضه داشتند رسانیده ممنون مانید.

با احترام

میرزا علم ((حمیـــدی))

رئیس اداره نمایندگـــاه

۱. وزارت ... (۷)

۲. ... (۸)

۳. ... (۹)

لــه دې مکتــوب ســره مــل پــه څلــور مخونــو کــې نندارتونونــو تــه رسېدلي زيـان هـم ليکـل شـوي و چې دلتـه يـې لنـډيز وړانـدې کـوو:

| | |
|---|---|
| ۱- د تحوليخانو مالونه: | ۳۰۰۰۰۰۰۰۰ افغاني |
| ۲- (۲۶۱) نمبر کوپوني مغازه | ۱۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۳- ترانسپورت | ۲۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۴- د څلورم او پنځم نمبر منزلو د هالونو مالونه | ۸۸۰۰۰۰۰۰ // |
| ۵- لومړي نمبر هال | ۹۰۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۶- دويم نمبر هال | ۱۰۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۷- درېيم نمبر هال | ۱۵۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۸- شپږم نمبر هال | ۱۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۹- اووم نمبر هال | ۸۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۱۰- اتم نمبر هال | قيمت يې اټکلېد ی نه شي |
| ۱۱- نهم نمبر هال | ۱۰۰۰۰۰۰۰۰ افغاني |
| ۱۲- لسم نمبر هال | قيمت يې اټکلېد ی نه شي |
| ۱۳- يوولسم نمبر هال | ۱۰۰۰۰۰۰۰ افغاني |
| ۱۴- دولسم نمبر هال | ۲۰۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۱۵- ديارلسم نمبر هال | ۸۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۱۶- څورلسم نمبر هال | ۲۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۱۷- پنځه لسم نمبر هال | ۱۰۰۰۰۰۰۰ // |
| ۱۸- شپاړلسم نمبر هال | قيمت يې اټکلېد ی نه شي |

پـه دې مکتــوب کــې يادونــه شــوې چــې د دې لــوټ او تــالان زيــات مسؤوليت (۵۳) فرقې ته چې د نظار شورا ائتلافي ملګرې وه راجع دی. کله چې د هغه وخت د افغانيو د ارزښت له مخې مونږ دا زيانونه وسنجوو نو ټول زيان يې سوونو مليونو ډالرو ته رسېږي. د دې مکتوب په پای کې د اکثرو

هالونو مسوولینو امضا کړې وه او بیا پورته مقامونو ته لیږل شوی دی. کاپي یې په دې ډول ده:




(۵)

## ځلي او منارونه:

د رباني د نیمواکې واکمنۍ په مهال د کابل په ښار او نورو ځایونو کې زیات تاریخي ځلي او منارونه یا په نیمه او په بشپړ ډول ویجاړ شوي لکه په کابل کې د میوند ځلی، د عبدالوکیل خان نورستاني ځلی، د سید جمال الدین افغان ځلی، د سناتوریم

یادګاري منار، د پل محمود خان د ساعت برج، د پغمان ظفر تاق او ځینې نور.

## تاریخي ودانۍ:

په لسګونو تاریخي ودانۍ په بشپړ او یا هم تر زیاتې کچې ویجاړې شوې لکه د دارالامان تاریخي ماڼۍ، د تاجبېګ ماڼۍ، د ارګ دننه د دلکشا او ګلخانې ماڼۍ، د چهلستون ماڼۍ، د ستالف ماڼۍ او ځینې نورې چې بیا رغونه یې سلګونو مېلیونو ډالرو ته اړتیا لري.

## بیهقي کتاب خپرونو موسسه:

دوه مېلیونه ټوکه کتابونه تري ورک شوي، ودانیو، وسایلو او وسایطو ته زیان رسېدلی چې عمومي زیان یې شپږ مېلیونه ډالرو ته رسېږي.

## عامه کتابتون:

یو لک عنوانه کتابونه تري غلا شوي، د عامه کتابتون څانګې هم چور شوي او ودانۍ یې ویجاړې شوي چې عمومي زیان یې یو مېلیون ډالروته رسېږي.

## د ارګ کتابتون "وطن ګوند" او ځینې نورو کتابتونونه

هم په بشپړ ډول غلا شوي. دغه راز نور ډېر لوی دولتي کتابتونونه هم له منځه وړل شوي دي. د دې ترڅنګ په سلګونو شخصي کتابتونونه هم تباه شوي دي. په مجموعي ډول ټول له منځه وړل شوي کتابونه د شل مېلیونو ټوکو په شاوخوا کې اټکل کېدی شي.

## خپرونې:

د رباني تر واکمنۍ دمخه یوازې په کابل کې تر سلو عنوانو زیاتې جریدې، مجلې، ورځپاڼې او نورې خپرونې خپریدې. چې د رباني په راتګ سره اکثره په ټپه ودریدې او له منځه لاړې.

## چاپخونې:

یوازې د کابل په ښار کې پنځه لس لویې چاپخونې له خپلو اکثرو وسایلو، امکاناتو، او د کاغذ زېرمو سره له منځه لاړې، په دې چاپخونو کې د چاپ د ټولو ماشینونو شمېر له ۱۰۰۰ ماشینونو څخه زیاتېده او هم په سلګونو ټنو کاغذ زېرمه یې لرله. د دې چاپخونو اکثره وسایل له منځه لاړل او د ځینو یې ودانۍ هم رنګې شوې. ددې ټولو چاپخونو د ټولو شتو زیان سلګونه مېلیونه ډالره اټکل شوی دی.(۶)

ځینو کسانو سره کېدی شي پوښتنه پیدا شي چې د طالبانو تر راتګ وروسته خو هم د فرهنګي آثارو لوټ او تالان روان دی، تعلیمي اداري خصوصاً د ښځو تعلیم په ټپه درول شوی، په زرګونو مسلکي کسان له خپلو دندو ګوښه کړای شوي، له هېواده د مسلکي کادرونو فرار روان دی، او داسې نورې ډېرې پوښتنې. نو ولې دېته ګوته نه نیول کېږي چې یوازې د رباني مسعود او د هغو د نورو مؤتلفینو نیمګړتیاوو، جنایتونو او بدګڼو ته ګوته نیول کېږي؟ ددې پوښتنو په ځواب کې باید وویل شي چې ددې کتاب زیاته برخه د رباني مسعود واکمنۍ، د هغو کړنو او له هغو سره اړوندو ځینو پېښو او شخصیتونو څرنګوالي ته ځانګړې شوې ده. دا چې طالب د هېواد له فرهنګ سره څه کړي او څه کوي؟ د دوی نورې سیاسي ښېګڼې او بدګڼې څه دي؟ دا یو بېل بحث دی او لکه

ځنګه چې مو په پيل کې هم وويل جلا کتاب او کتابونه پرې ليکل کېدی شي او همدا اوس هم پرې ډېر و ليکوالو ليکنې کړې دي. بله خبره دا ده چې د رباني- مسعود غندنه يا د هغو نيمګړتياوو جنايتونو ته ګوته نيونه هېڅکله هم د طالب د ستاينې او تائيدونې په مانا نه ده. اساسي خبره دا ده هر چا چې ګران افغانستان سره خيانت کړی او زمونږ پر مظلوم ولس يې ظلم کړی که هغه بهرنی دی که کورنی، د شمال دی که د جنوب، د ختيځ دی که د لويديځ، د غندنې وړ دی او بايد وغندل شي.

# اخځونه:

۱- د بي بي سي راډيو پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال، د راډيو تلويزيون د يو مسوول څرګندونې.

۲- شمس الحق اريانفر، نقش وسايل ارتباط جمعی در جامعهٔ امروز و فردا در افغانستان، کابل، ۱۳۷۴ل کال، ۳۲ مخ.

۳- د ۱۳۷۶ل کال په بهير کې د راډيو تلويزيون د مسولينو برابر شوی راپور.

۴- د بي بي سي پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال،د ښوونې او روزنې د يو تن مسول څرګندونې.

۵- ميرزا علم حميدي، د ۱۳۷۰ کال په اوږدو او د ۱۳۷۱ کال په لومړيو کې د سوداګرۍ وزارت د ننداريتونونو لوی ريس.

۶- محمد اسمعيل يون افغانستان ته اوښتي فرهنګي زيانونه، د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۶ل کال. د زياتو معلوماتو لپاره همدا اثر کتلای شئ.

# اقلیتونه، سیاستونه او سازشونه



دوستم، مسعود، خلیلي

د ټولنپوهنې علم، په بېلابېلو ټولنو کې ورځنې ژوند او سیاسي چارو دا ثابته کړې چې اقلیتونه یا لږکي په هره ټولنه کې دهغې ټولنې د اکثریت په انډول بې ثباته وي. له استثنایي حالاتو پرته دوی هغه وخت زیات سر راپورته کوي چې هېواد له عمومي بحران سره مخ وي او همدا حالت دوی د خپل ځان او ژوند د خړوبېدو او د خپلو غوښتنو د لاسته راوړلو وخت بولي، ان که د

دوی غوښتنې د ټولنې او د هېواد له ملي ګټو سره په تضاد کې هم وي. هره هغه ټولنه چې لږکي ولري په خپل ځانګړي موقعیت او حالت کې دخپلو اقلیتونو له دې ډول غوښتنو سره مخ وي. اقلیتونه کېدی شي مذهبي وي او یا کېدی شي قومي وي. هغه هېوادونه او ټولنې چې ګڼ قومیزه وي له دې ستونزو سره مخ وي. په ځانګړي ډول هغه ټولنې چې اقلیتونه یې له نورو هېوادونو سره قومي او مذهبي اړیکي لري په خطرناك ډول له دې بحران سره مخ وي.

افغانستان هم له هغو هېوادونو څخه دی چې د یو لوی (اکثریت) قوم ترڅنګ ځینې واړه قومونه او مذهبي لږکي هم په کې ژوند کوي. دا اقلیتونه کېدی شي پر دوو ګټګوریو ووېشل شي: یو هغه لږکي چې له بهرنیو هېوادونو سره ژبني، قومي او مذهبي اړیکي لري او په اصطلاح د طمعې، لمسونې، هڅونې او پارونې اصلي سرچینې یې هم هماغه هېوادونه وي.

دویم ډول هغه اقلیتونه دي چې تر هېواد دننه ژوند کوي، ځانګړې ژبه، تقریباً ځانګړی کلتور لري، خو له بهرنیو هېوادو سره قومي اړیکي او نور ټینګ تماسونه نه لري.

افغاني ټولنې ته د لومړي ډول اقلیتونو د حقوقو مدعیان د زیات خطر او سردردۍ سبب کېږي. په دې لږکیو کې تاجکان، چې د پخواني شوروي له تاجکستان او له ژبني پلوه له ایران، ازبکان چې د پخواني شوروي له ازبکستان او هزاره ګان چې له مذهبي پلوه له ایران سره اړیکي لري، ځینې وختونه په افغانستان کې د خپلو قومي، ژبنیو اومذهبي "حقوقو" د تلف کېدو" چغې پورته کوي.

سره له دې چې افغانستان یو داسې هېواد و چې د اقلیت او اکثریت خبره په کې چندان مطرح نه وه، که ظلم هم شوی نو پر ټولو شوی او که د سوکالۍ لمر هم لګېدلی نو پر ټولو لګېدلی دی. البته

د ځينو واکمنو له خوا بـه د پـردي تـېري د مخنيـوي اوخپـل اقتـدار تـه د خطـرد لـه منځه وړلـو پـه نيـت پرکـوم ځانـګړي اتنيکـي ګروپ فشـار راوړل شوی وي، خـو دا ټول ټال پـه دې مانـا نـه دي چـې ګنـې چا پـر کـوم ځانـګړي اقليـت ظلـم او تعـدی کـړې دي. د نفوسـو پـه انـډول پـه افغـاني ټولنـه کـې تـر ټولـو خـراب ژونـد د پښتنـو و او دی. يـوازې د کـوچيـانو پښتنـو لـه خواريـو ډك ژونـد او د هغـو د وګـړو شـمېر، د افغانسـتان د هـر اول، دويـم او دريـم اقليـت لـه وګـړو څخـه زيـات دی، پـاتې نـور پښتانـه خو لا پرځای پرېږده. لـه دې سـره سـره بيـا هـم پـه افغانسـتان کـې ځينـو اقليتونـو تـه منسـوب اشـخاص پـه قـراره کېنناسـتل او لـه لـرې او نـږدې سـرچينـو سـره يـې اړيکـي ټينـګک کـړل، يـا هغـوی ورسـره اړيکـي وسـاتل او پـه افغانسـتان کـې يـې د "اقلیتونـو" "محرومـو اقليتونـو" "مليتـهای ستمديده" او نـورو پـه نومونـو شـعارونه پورتـه کـړل.

لـه پخـوا زمـانې راهيسـې روسـان پـه دې ګروهـه وو چـې د منځنـۍ اسيا د قومونو تـر ايـل کولـو وروسـته بـه د افغانسـتان ځينې سيمې هـم د همدغـو قومونـو د قومـي اړيکـو پـه واسـطه ايـل کـړي، خـو ځينـې پښتانـه د دوی پـر دې نيتونـو پـوه وو، نـو د روسـانو د احتمـالي او يـا هـم څرګنـد او جـدي خطـر پـر وړانـدې يـې پښتانـه پـه شـمال کـې د يـوه پـولادي دېوال پـه تـوګه ودرول او هـم يـې د هغـه ځای شـاړې ځمکـې پـرې ابـادې کـړې. روسـان هـم ارام کېنناسـتل او خپلـې هڅې يـې پيـل کـړې. کلـه چـې د افغانسـتان پـه اساسـي قـانون (د اعليحضـرت محمـد ظـاهر شـاه د وخـت) کـې پښتـو ژبـه رسمي او ملـي اعـلان شوه، نـو روسـانو د يـوې تبصـرې پـه تـرځ کـې وويـل: "د افغانسـتان د دولـت سياسـت د پښتـو پـالنې پـر لـوري روان دی".(۱)

وروسـته يـې پـه عملـي اقـدام لاس پـورې کـړ، کلـه چـې پـر ۱۳۴۳ل کـال "د خلکـو ډيموکراتيـك ګونـد" جـوړ شـو، نـو "ببرك کـارمل او طـاهر

بدخشـی" چـې یـو یـې کشـمیری او بـل یـې بدخشـی ازبـك و، د کمونیستي فکـر تـر ځنګ ملي نفـاق تـه د لمـن وهلـو پـه فکـر وروزل او کله چې یـې کـارمل د ۱۳۵۸ ل کـال د مرغومـي پـر شـپږمه نـېټه د خپلـو عسـکرو پـه زور پـه کـابل کـې پـر تخـت کېنـاوه، نـو د دې لپـاره چـې د افغانسـتان اکـثريت ټولنـه پـه يـو مبـهم ذهنـي جـال کـې راګيـره کـړي او هـم سـتر تـاريخي مسـوليت پـر پښتنـو راواړوي، نـو کـارمل ځان "پښتـون" معرفـي کـړ، خـو دده مکـاره څېره هغـه وخـت رابرسـېره شـوه چـې د "حقيقـت انقـلاب ثـور" پـه ورځپـانه کـې کـارمل خپـل ځان "پښتـون" معرفـي کـړی و او محمـود بريـالی چـې د کـارمل د پـلار زوی (ورور) و ځان يـې تـاجك ښوولـی و. د اخبـار تـر وېشـل کـېدو او لوسـتلو وروسـته دوی دې تېروتنـې تـه متوجـه شـول. وروسـته يـې د اخبـار د ټولـېدو هـڅه هـم وکـړه، خـو خلـك وختـه پـوه شوي وو. لـه همـدې وجـې ببرك کـارمل تـر پايـه پـورې خپلـه بشـپړه پـېژندنـه چـاپ نـه کـړه، ځکـه چې دده اصل او نسـب پـه کـې ځرګنـدېده.

دده پـه وخـت کـې قومـي او ملـي مسـايلوته پـه پټه پـه ډېر شـدت او ښکـاره پـه احتيـاط لمـن ووهـل شـوه. د کـارمل "صدراعظـم" سـلطان علـي کشـتمند پـه ډاګه د انيـس ورځپـانې د ۱۳۵۹ ل کـال پـه يـوې ګڼې کـې پښتنـو تـه د "اکـثريت بـې فرهنـګ" خطـاب وکـړ، د "مليتونـو" نومونـې دود شـوې، سـتمي فعاليتونـه پـه ښکـاره راڅرګنـد شـول او پـه ډاګه يـې د روسـانو د شـتوالي پلـوی اود پښتنـو د حـاکميت غندنـه کوله. پـه کـابل پوهنتـون کـې لـه يـوه سـتمي سـره د شـديد بحـث پـه تـرڅ کـې د هغـه لـه خولـې دا خـبره راووتلـې چـې: "بـرای مـا بـی تفـاوت اسـت چـه غلامـی روسـها باشـد چـه از پشـتونها. روسـها خـو خـوب اسـت بـرای مـا خـو يـك چيـزی ميتـه، پشـتونها بـرای مـا چـه ميتـه؟"

کله چې ورته وویل شول چې تاسې خو دلته د پښتنو غلامان نه یاست، تاسې ته خو په خپله ژبه د لیك لوست زمینه برابره ده. تاسې خو ټول فرهنګي مرکزونه او هر څه نیولي دي، خو بیا هم هغه د کینې په زهرو لړل شوی و او قناعت یې نه کاوه.

د کارمل په واکمنۍ کې د هغه د یوه همځنګ ملګري د خولې خبره ده چې یو ځوك کارمل ته راغلل او د پښتنو پر وړاندې یې دهغه د سیاست د بدلېدو غوښتنه وکړه. هغه پر هغه ورځ سخت نشه و او د نشې په ترخ کې یې دا خبرې له خولې راووتلې: "پشتونها بسیار مردم مغرور و با غیرت هستند و تنها ما هستیم که غرور و غیرت اینها را شکستانده میتوانیم و بس".

د اقلیت استازو(!) او یا د اقلیت په نوم سیاستوالو دا فکر کاوه چې له پردۍ یارۍ پرته له پښتنو سیاستوالو سره رقابت نه شي کولای او نه واك ته رسېدلای شي، نو د پردیو له غوښتنو سره سم یې خپلې غوښتنې هماهنګ کړې او د هغوی په زور یې ځانونه قدرت ته ورسول. دې عمل ته په پنځوسمو کلونو کې لومړی کارمل لاس وراوږد کړ او کله چې هغه او د هغه راوستونکي د ولس په زور له ماتې سره مخ شول، نو بیا ښاغلي مسعود او رباني د کارمل رول پر غاړه واخیست. روسانو دا ځل د خپلې ماتې د جبران په هیله رباني د کارمل په رول کې میکیاژ او د کابل تر ښاره یې د سازشونو، ائتلافونو اوناچله پیسو په زور راورساوه. مسعود او رباني هغه څه ترسره کړل چې دکارمل لاس لا ورته نه و رسېدلی. د کارمل شاګردانو او پلویانو "فرید احمد مزدك او نجم الدین کاویاني" پر ۱۳۷۱ل کال په مسکو کې د خپلو پلویانو یوې غونډې ته د خبرو په ترخ کې وویل: "موږ په افغانستان کې دوه اساسي کارونه تر سره کړل. یو دا چې قدرت مو له اکثریت نه اقلیت (له پښتنو نه تاجیکو)

ته انتقال کړ او بل مو (جمعیت) له افراطي موضعي نه معتدلې موضوع ته راکش کړ".

د نجم الدین کاویاني او فرید مزدك دا خبرې د هغوی نور لړکي پلویان هم تائیدوي. وايي: [... با دخیل ساختن پای اقای احمد شاه مسعود، جنرال دوستم و عبدالعلی مزاری در مسأله اولاً اسباب سقوط صفحات شمال را فراهم ساخته و بعداً "شورای عالی جهادی افغانستان" که تحت ریاست آقای مسعود و معاونیت عبدالعلی مزاری و جنرال عبدالرشید دوستم در اوایل ماه ثور ۱۳۷۱ در ولایت پروان (جبل السراج) ایجاد شد طرح اشغال کابل را روی دست گرفتند. در شهر کابل که اختیارات نظامی عملاً به دست محمد نبی عظیمی قرار داشته راه دخول بی دردسر قوای نظامی شورا مذکور آماده دیده بود. این امر سبب شد تا دوکتور نجیب الله رو به فرار نهاده، بابرگشت از میدان هوایی کابل در یکی از دفاتر سازمان ملل متحد پناهنده گردد.](۲)

همدا سرچینه د شمال د شوم ائتلاف په جوړېدو کې د جنرال مومن، سید منصور نادري، او د "اتحادیه سمت شمال" رهبر (ازادبیك) رول هم له پامه نه غورځوي.

ځرنګه چې دا ډول ائتلاف د هېواد د لویو ګټو لپاره نه و، یوازې د تنظیمي، سیمه ییزو او د یو شمېر لړکیو د ګټو لپاره و نو ځکه یې ډېر دوام ونه کړ او ټینګ پاتې نه شو، ان له همغه پیله یو پر بل باندې نه باوره وو، کله چې به یې لږ څه دمه وکړه نو بیا به په خپلو منځو کې سره ولګېدل. لومړنی سیاسي سړی چې د هېواد په شمال کې په اصطلاح د ازبکو د حقوقو لپاره یې "اتحادیه سمت شمال" جوړه کړې (ازادبیك) دی چې دوستم یې پر غوږ وواهه چې مسعود سره ائتلاف او دوستي ونه کړي او نه پرې باور وکړي.

ازادبیک به همیشه ویل "پشتونها دشمن خطرناك ترکها نیستند، دشمن اصلی ترکها مسعود است. مسعود مار استین است. مسعود در بین ازبکها و ترکمن ها جا دارد، او قاتل ده ها مجاهد اوزبک و ترکمن است، این جنرال دوستم مثل یك "سوته" در دست اوست، او تا هر وقتیکه بخواهد، باین "سوته" دشمنهای خود را می زند و این "سوته" را در آخر به آسانی می شکند."(۳)

ازادبېك چې له سیاسي پلوه د دوستم په اندول هوښیار ښکارېده او ویل به یې چې: "این جنرال دوستم آدم خام است" دده دا خبره تر یوه بریده درسته هم وه. دوستم د نورو په لمسون د هېواد د



*عکس له خپلو ترکي کوربنو سره د جنرال دوستم، ازادبیك او ملك کتنه ښیي*

اکثریت پر ضد راپورته شو او ډله تپله یې جوړه کړه، ددې ډلې اکثرو غړو له پخوا نه له افغانیت او د هېواد له لوی اکثریت سره کینه او دښمني لرله. د جنرال دوستم ډلې ته یوه نږدې سرچینه د دې ډلې د جوړېدو څرنګوالی او مهال په دې ډول لیکي: "... کمیته تدارک کانگره موسس (جنبش ملی اسلامی افغانستان) که بنابر حکم جنرال دوستم ایجاد گردیده و اشخاص ذیل به صفت اعضای آن

برگزیده شده بود: "انجنیر محمد نسیم مهدی، فضل احمد طغیان، نجیب الله مسیر، نورالله تالقانی، داکتر سردار محمد ارغون، انجنیر احمد، انجنیر ابرار، حاجی مصعب و هلال الدین پیلوت." در زمان کوتاهی وظیفه خویش را به پایان رسانیده و به تاریخ ۱۱ جوزای سال ۱۳۷۱ موفق به تاسیس آن در تعمیر پنج طبقه یی واقع در قسمت غربی باغ حضور گردید. کانگره موصوف که به تاریخ ۱۲ جوزای سال ۱۳۷۱ خاتمه پذیرفت، اشتراک کننده گان آن جنرال دوستم را به صفت رهبر، انجنیر محمد نسیم مهدی از حزب اسلامی، استاد عطا از حزب جمعیت اسلامی، حاجی محمد محقق از حزب وحدت اسلامی و سید حسام الدین حقبین نماینده سید منصور نادری را به صفت معاونین این سازمان جدید التشکیل انتخاب کردند. همچنان در این کانگره اشخاص ذیل به صفت اعضای شورای اجرائیه جنبش معرفی شدند:

۱. دگرجنرال عبدالرشید دوستم
۲. انجنیر سید نسیم مهدی
۳. حاجی محمد محقق
۴. استاد اعطا
۵. رسول پهلوان قوماندان لوی ۵۱۱قومی حکومت دوکتور نجیب الله.
٦. سید منصور نادری رهبر اسمعیلیه مذهبان افغانستان.
۷. غفار پهلوان (اوزبیک) قوماندان لوای ۵۱۰ قومی حکومت دوکتور نجیب الله.
۸. عاشور پهلوان (ترکمن) مربوط اتحادیه اسلامی شمال افغانستان.

۹. مولوی عبدالرحمن حقانی (اوزبیک) مربوط اتحادیه اسلامی شمال افغانستان.

۱۰. داکتر سردار محمد ارغون (اوزبیک) معاون ازادبیک

۱۱. مولوی عبدالقدوس رحمانی (اوزبیک) مربوط اتحادیه اسلامی شمال.

۱۲. سید حسام الدین حقبین (هزاره) نماینده اسمعیلیه مذهبان افغانستان.

۱۳. ریس عبدالرحمن (اوزبیک) مربوط جمعیت اسلامی.

۱۴. مولوی شهاب الدین (اوزبیک) مربوط حزب اسلامی.

۱۵. مولوی ظریف (اوزبیک) مربوط جمعیت اسلامی.

۱٦. سراج الدین خان صیادی (اوزبیک) قوماندان لوای قومی دولت دوکتور نجیب الله و علاقمند به اتحادیه اسلامی شمال.

۱۷. وکیل عبدالوهاب (عرب) قوماندان لوای قومی دوکتور نجیب الله و علاقمند به جمعیت اسلامی.

۱۸. حاجی مصعب (هزاره) مربوط حزب وحدت اسلامی.

۱۹. ریس دین محمد خان (هزاره) مربوط حرکت اسلامی محسینی.

۲۰. مولوی محمد علم (عرب) مربوط جمعیت اسلامی.

۲۱. مولوی محمد عثمان سالکزاده (تاجک) مربوط حرکت مولوی نبی.

۲۲. حفیظ ارباب (اوزبیک) مربوط جمعیت اسلامی.

۲۳. منان مخدوم (ترکمن) مربوط اتحادیه اسلامی شمال افغانستان.

۲۴. عبدالمجید ایشچی (ترکمن) مربوط جناح خلق حزب دیموکراتیک خلق افغانستان.

۲۵. فضل احمد طغیان (تاجکت) یکی از رهبران گروه کار.

۲۶. مولوی عباد (اوزبیک) مربوط حزب اسلامی.

۲۷. تاج محمد خان کوهی (تاجک) مربوط حزب اسلامی.

۲۸. انجنیر ابرابر (تاجک) عضو بیروی سیاسی "سازا" (ستم ملی)

۲۹. نور محمد قرقین (ترکمن) مربوط گرو کار و همکار آزادبیک

۳۰. انجنیر احمد (اوزبیک) مربوط گروه کار.

۳۱. انجنیر احمد (اوزبیک) مربوط گروه کار.

۳۲. محمد عالم رزم (تاجک) پرچمی.

۳۳. عبدالمجید روزی (عرب) پرچمی.

۳۴. هلال الدین پیلوت (تاجک) پرچمی.

۳۵. جنرال مومن (تاجک) خلقی پرچمی شده."(۴)

له پورتني لست څخه څرګندېږي چې دوستم دا ډله ټپله د څه لپاره جوړه کړې وه. ددې بېلابېلو سياسي تنظيمونو د وتلو اشخاصو مشترکه وجه او ګډ ارمان څه شی و؟ د دوی ټولو تر منځ ګډ ټکی هماغه د هېواد د اکثريت پر وړاندې کينه او دښمني وه او بس. نه يوازې د دوستم ډلې ټپلې داسې ملي ضد خصوصيت درلود او له بېلابېلو افغان ضد اشخاصو څخه جوړه شوې وه، بلکې د نظار شوری هم همدا ډول جوړښت درلود. د دوستم په ډله کې د اوزبکو او د مسعود په ډله کې د تاجکو واک و ځواک ډېر ډاګيز و.

د اسدالله ولوالجي په نوم يو ليکوال چې ډېر ځنډ د جنرال دوستم لېوال، مينه وال او همځنګ پاتې شوی، د شمال د موتلفينو له ډېرو رازونو خبر دی او په دې اړه يې درې عنوانه

کتابونه هم خپاره کړي، د نظار شورا د سیاسي برخې په باب وایي:
"بخش سیاسی شورای نظار عملاً از سه گروپ ترکیب یافته بود:
۱- روشن فکران مکتبی وابسته به آقای مسعود.
۲- گروپ الحدیدی ها.
گروپ کجایی ها"(۵)

له پورتنیو یادونو څخه دا ټکي هم ښه څرګندېږي چې روسانو د کارمل او نجیب الله د واکمنۍ پر مهال قومي غونډونه د کومو مقاصدو لپاره جوړ کړي وو؟ ولې منظم پوځ د لږکیو تر منځ پر قومي غونډو وېشل کېده، د هغوی رول ته ولې زیات اهمیت ورکول کېده؟ د دې قومي غونډونو او د افغانستان تجزیه غوښتونکو په ډله کې ځینې داسې کسان هم وو چې اصلاً د افغانستان وو نه او له نورو ځایونو دلته رامهاجر شوي وو. دا څو بېلګې به یې دلته راوړو چې خپله د "شمال" سرچینو راپېژندلې دي:

**غند قومي عبدالرحمن جنګلي:** "در تشکیل رهبری این غند قومی که جنرال متین، عبدل افغان کُش و عبدالروف قرار داشت، غند موصوف علاوه بر حفظ امنیت قسمت وسیعی از شهر کهنه وحصصی از شهر جدید بغلان در قرأ و قصبات چون جوهر تپه، چارشنبه و منطقه حسن تال نیز نفوذ به هم میرساند. عبدالرحمن جنگلی از جمع تاجیکهای مهاجر فرغانه بود"(٦)

**غند قومي ایشان بابا:** "قوماندان این غند را که نورالدین پسرایشان بابا بدوش می کشید- ساحاتی از منطقه حسن تال و شهر کهنهء بغلان در تحت ادارهء آن بود. ایشان بابا تشکیل قطعهء خویش را در ارتباط به سازمان آزادی بخش زحمتکشان افغانستان

(ستم ملـی) ایجـاد کـرده و بـه نفـع ایـن نسازمان بـه مبـارزه میپرداخـت، وی از جمـع مـهاجرین بخـارایی بـود."(۷)

پـه افغانســتـان کـې دغـه ډول کسـان چـې اصـل ریـښه یـې افغـاني نـه وي د هـېواد وېشـنې او پاشـنې تـه زیـات متمـایل دي، د لـرګیو د حقوقـو د مدعیـانو سیاسـي شـخصیت او اخلاقـي ظرفیـت د هغـوی لـه خپلـو ائتلافونـو، بیـا اختلافونـو او بیـا ائتلافونـو څخـه پـه ښه ډول څرګنـد یږي.

دلتـه بـه لـه دوسـتم سـره د ربـاني او مسـعود د سیاسـي چلنـد او معـاملو پـه اړه د هغـوی ځینـې خپـل لاسـوندونه راوړو چـې پـه بېلابېلـو وختونـو کـې مسـعود او ربـاني دوسـتم تـه لېږلـي دي، بیـا وران شـوي او بیـا پخـلا شـوي دي.

«محترم ستر جنرال عبدالرشید دوستم!

با رعایت و تطبیق موادیکه طی موافقت نامه جداگانه روی آن اتفاق شد. جنبش ملی اسلامی را بعنوان یکی از نهاد های و نیروهای مطرح در خدمت به اسلام و مردم متدین افغانستان به رسمیت می شناسم.»

امضاء

پروفیسور برهان الدین ربانی

رئیس جمهور افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

## ریاست دولت اسلامی افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

# فرمان رئیس دولت اسلامی افغانستان

شماره ۱۲۹۲

۱۳۷۱/۱۱/۱۸

درباره تقرر محترم جنرال عبدالرشید دوستم بحیث

معاون وزارت دفاع ملی جمهوری اسلامی افغانستان

---

تقرر محترم جنرال عبدالرشید دوستم

بحیث معاون وزارت دفاع ملی جمهوری اسلامی

افغانستان از تاریخ صدور فرمان منظور است.

استاد برهان الدین ربانی

رئیس دولت اسلامی افغانستان

# جوابهای ربانی به جنرال دوستم ودعوتنامهٔ سفر به کابل

محترم جنرال عبدالرشید دوستم !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته و بعد !

از پیام تبریکی تان به مناسبت حلول سال جدید تشکر میکنم، به ارتباط جواب به خواسته های تان
قبلاً [illegible] خبر داده بودم همه منظور گردیده
و راجع به بقیه اجراآت فرستاده بودم هدایت داده ام تا
کمیسیون مسایل را با شما در میان بگذارند و در
روشنایی آن راجع به کار آن تجدید نظر نمائیم برای
حل همه امور آمدن شما به کابل برای مذاکرات
ضروری می باشد، در این باره هیچ تردید از خود
[illegible] والسلام

[signature]

# ریاست دولت اسلامی افغانستان

برادر محترم جنرال عبدالرشید دوستم [illegible] السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

اما بعد:

برادران مسلح جنرال مؤمن موفقانه در محور جبهه [illegible]

[illegible] نموده، تردیدی در صدور [illegible] ندارد. [illegible]

[illegible] ۲۰ [illegible] که به تعداد [illegible]

را [illegible] تشکیل فرقه نمایند. اطلاع شما رسانیده می‌شود.

[illegible]

برهان الدین ربانی

رئیس جمهور دولت اسلامی

افغانستان

تصویر نامه‌ای به خط آن دوست که می‌خواهند او را نیز
[illegible]

بسم الله الرحمن الرحیم

[illegible]

کاپی خط ربانی به جنرال دوستم بخاطر وقوع حادثهٔ [illegible]

محترم جنرال عبدالرشید دوستم

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته و بعد!

امیدوارم با عموم برادران در صحت و سعادت باشید. مشکل قندوز با سعی و کوشش عملی حل گردید. [illegible] خبر داشتید همکاری که [illegible] ما [illegible] را [illegible] را خود [illegible] بعد از [illegible] اطلاع یافتم تعیین [illegible] موضوع را حل [illegible] گردد.

استاد محمد اسماعیل [illegible] را [illegible] عرض کرده بودم، با ایشان [illegible] با شما [illegible] در نوع همکاری شما [illegible]

والسلام

[illegible]

ایران هم له کلونو کلونو راهیسې د افغانستان قومي وضعه څارله، نو لومړی یې په ایران کې د شیعه ګانو اته ګوندونه سره جوړ او په یوه ګوند "حزب وحدت اسلامې" کې یې سره متحد او بیا یې سیاسي صحنې ته رادننه کړل. کله به یې په دولت کې د ۲۵، کله: ۳۰ او کله هم د ۳۵ فیصدو حقوقو او د شیعه مذهب د رسمي کولو غوښتنه کوله. په لومړي ګام کې خو د اقلیتونو د حقوقو ټول مدعیان په یوه ځېل کې سره ودرېدل "همه علیه پشتونیم" شعارونه راپورته شول. ان خبره تر دې ورسېدله چې د انسانانو په سرونو کې میخونه ټکوهل شول. چا د فدرالي سیستم خبرې پیل کړې، چا ۲۵- ۳۰ فیصده حق غوښته او چا د ټولو اقلیتونو د حقوقو غوښتنه کوله، خو څه وخت لا تېر نه و چې د (اقلیتونو حامي اقلیت) لړ د خپل ۶ کیلومتری حاکمیت مزي ټینګ کړل نو بیا یې په خپلو اقلیتونو پسې پښې رالوځې کړې. په افشارو کې مسعود او رباني هغه څه له هزاره ګانو سره وکړل چې د هېواد تاریخ تر اوسه پورې دا ډول بېلګې نه دي ثبت کړي. د ۱۳۷۲ کال د جدي په جنګونو کې د دوستم ازبک ملېشو له اسیرانو سره هم همدا چلند وشو. د بي بي مهرو غونډۍ تر شا یې په سلګونو ازبکان ووژل او بیا یې پر ۱۳۷۳ل کال په درېیمې او څلورمې کارته او نورو سیمو کې له هزاره ګانو سره هم دا چلند وکړ. په دې برید کې یوازې څلور سوه هزاره ګان لادرکه وو، د کورونو مالونه یې لوټ شول او ان پر ښځو یې تېری وشو. په هغو شپو کې د بي بي سي راډیو دا خبر چې "یو پنجشېری د غلا پر مالونو بار د هزاره ګانو له کورونو راووت" نشر کړ.

عجیبه خبره خو دا وه چې یو وخت رباني جمهور رئیس(!) مسعود د دفاع وزیر(!) او استاد فرید صدراعظم (!) و، خو بیا هم د احمد شاه مسعود له خوا د کابل ښار د عامه کتابتون پر دېوال داسې یو شعار لیکل شوی و: "ما خواهان حقوق اقلیت ها و خواهان

انتخابات به شیوه اسلامی هستیم " نو سړی حیران پاتې شي چې نور نو په هېواد کې کوم مقام پاتې و چې لړکیو ته ورکړ شوی وای. له دې څخه دا خبره ښه څرګندېږي چې د اقلیتونو حقوق ځینو کسانو ته یوازې هسې یوه پلمه وه. کله چې مسعود او رباني په کابل کې د نیمه واك واکوال وو نو اقلیتونو ته یې ښه حقوق ورکړل!

د لړکیو د حقوقو د مدعیانو سیاسي او اخلاقي شخصیت خو به هغه وخت ښه په ډاګه شو چې دوی به یو بل سره د ګټو پر سر وران شول او ټوپك ته به یې لاس کړ. یو خل رباني دوستم خپل ولیعهد او قایم مقام وټاکه او هغه یې د خپلې زوی ولۍ په مهرباني او لورېینې ونازاوه، خو څه موده وروسته یې هغه آق او پلار د زوی پر ضد ستر جهاد اعلان کړ.



په عکس کې "یو ملحد او یو مجاهد" (جنرال دوستم او اسمعیل خان) د خپلو سیاسي ګټو لپاره عقیده یې پولې نړولې او د خپلو ګټو په لټه کې دي.

له درنو جګړو، ښکنځلو او دښمنيو وروسته بېرته پلار د زوی په حضور مشرف شو. پلار د زوی مشري او واك ومانه، ملت تباه شو، خو دوی بېرته غاړه غړي شول.



<u>جنرال دوستم له استاد رباني سره په جنګي کلا کې</u>

د ۱۳۷۱ل کال په بهير کې چې د (جمعيت) او (وحدت) د ډلوملي ضد ائتلاف پر ځای و، نو عبدالعلي مزاري د کابل تلوېزيون له لارې د رباني "اسلامي حکومت" (!) د "محرومو مليتونو"(!) د "حقوقو مدافع ګڼه.خو کال لا وتی نه و چې د "محرومو مليتونو"(!) د"حقوقو مدافعان" (!) په خپلو کې سره ولوېدل. عبدالعلي مزاري ټول هغه رازونه فاش کړل چې د نظار شورى د ستمي ډلې له خوا د هغوی د ائتلاف په وخت کې هغه ته ويل شوي وو.

عبدالعلي مزاري د (حزب اسلامي) له (پيام آزادي) راډيو سره د ۱۳۷۲ ل کال د جدي له جنګونو وروسته د يوې مرکې په ترڅ کې وويل: "مسعود څو ځله ماته هيئت راولېږه او ويې ويل چې مونږ او تاسې ټول محروم مليتونه يو، مونږ بايد ټول سره يو ځای او متحد اوسو او د پښتنو دوه سوه کلن استعمار ته بايد نوره اجازه ورنه کړو، اوس واکمني محرومو مليتونو ته انتقال شوې ده بايد د هغې ساتنه وکړو..."

کله چې د دوستم او مسعود تر منځ اختلاف پيدا شو نو هغوی هم د رباني او مسعود د ملي ضد څېرو په اړه يو شمېر رازونه رسوا کړل.

همدارنګه نظار شورا او جمعيت د کابل راډيو، تلويزون او د خپلو نوروخپرونو له لارې د عبدالعلي مزاري، هزاره ګانو او ازبکو مليشو له ظلمونو او وحشتونو نه پرده پورته کړه. دوی ان يو د بل مخابروي تماسونه ثبت کړل او د يو بل ډول ډول ظلمونه يې ډاګيز کړل. وحدت حزب د هزاره ګانو د عامه وژنې مصور ويديويي تلويزيوني فلم جوړ کړی و، پنجشېريانو او نورو هم د هزاره ګانو د هغو صحنو مستند فلمونه تر لاسه کړي وو چې د مړي نڅا (رقص مرده) يې په کې ثبت کړې وه. کله چې مسعود پر کابل ښار واکمن و د هزاره ګانو د وحدت حزب يوې خپرونې مسعود ته د فاشيست خطاب کړی او په دې باب يې ليکلي دي: "برای فاشيستان، صلح نيز جنگ است. فردی که جنايت کرده است قتل عام کرده است و آگاهانه شعار "هزاره کشی" "ازبک کشی" و "پشتون کشی" داده است چگونه می تواند به صلح تن در دهد که اولين پيمانش انحصار طلبی سياسی و حضور نظامی سکتاريزم فاشيستی است، کابل برای

مسعود حیثیت همان "تخت" را دارد که در پایش "قبر" تخت نشین تعبیه شده است.

موجودیت غیر قانوني و انحصار بیشرمانه و برهنهء فاشیزم کابل، بر هیچکس کمان نیست. هیچکس نمیتواند انکار کند، فاشیستان حاکم بر کابل، نه تنها دشمنی خاینانه با اقشار ملت محروم نموده، بلکه بزرگترین جفا و خیانت سیاسی و اجتماعی را در برابر سرنوشت جامعه خویش نیز مرتکب شده اند. ماهیت تبلیغات جنگی فاشیزم کابل را در برابر احزاب مخالف، صرف تبلیغ در برابر ملیت ها تشکیل میدهد، اگر جنگ با جنبش ملی و اسلامی است، جنگ با ازبک ها تبلیغ میشود و حملات تبلیغاتی از طریق افواه سازی ها بر علیه کرامت و حیثیت انسانی یک ملیت سازماندهی میشود، اگر جنگ با "حزب وحدت اسلامی" است با صراحت "جنگ با هزاره و از هزاره ها انتقام بگیرید" تبلیغ میکنند که حتی خود احمد شاه مسعود، در فلمی که از حمله سه روزه ماه حوت خویش بر غرب کابل تهیه کرده است، لفظ "هزاره و هزاره ها" را صریحانه به‌جای "وحدت" میگذارد و در مخابراتش صدا میزند که "خط هزاره ها...، سنگر هزاره ها..." و وقتی جنگ در برابر "طالبان" است جنگ در برابر "پشتونها" و "پشتونیزم" و حاکمیت دوباره پشتونها تبلیغ میشود." (۱۰)

د "وحدت حزب" یو ویاند له بي بي سي سره په یوه مرکه کې له حکمتیار سره د خپل ائتلاف په باب وویل: "موږ تراوسه پورې دولس څله له مسعود سره پروتوکولونه امضا کړي او دولس څله هغه مات کړي دي، نو ځکه موږ له حکمتیار سره ائتلاف وکړ."

په کابل کې د رباني د څلورنیم کلني واکمنۍ په موده کې د لږکیو د حقوقو مدعیانو په سلګونو ځله یو له بل سره ائتلافونه

وکړل‌شو بیا مات شول او بیا یې جګړې پیل کړې. دوی سره په سیاست کې هېڅ اخلاقي اصول او علمي معیار موجود نه و، چې د هغه له مخې د دوی سیاسي شخصیت ته اخلاقي پرستیژ ورکړي. پر هرې ډلې چې به لړه سخته راغله، نو بېرته به یې له خپلې پخوانۍ دښمنې ډلې سره ائتلاف او سازش وکړ.

د ماشومانو په څېر یې ورځ کې څو ځله جګړې کولې او بیا سره بېرته پخلا کېدل. د دوی په هره نوې دوستۍ او دښمنۍ کې به د منافقت پټ راز پروت و. د دوی په هر نوي ائتلاف او بیا د هغه په رنګېدو سره به زموږ هېواد ته ګڼ شمېر درانه زیانونه واړول شول او بې شمېره هېوادوال به د ژوند له نعمت څخه بې برخې شول.



د استاد رباني کابینه کابل څخه له تېښتې وروسته په مزار کې له د دوستم سره ګوري

د (بچه سقاو) او (کارمل) له تجربو وروسته، له ۱۳۷۱ل کال راهیسې دې ډلو او اشخاصو خپل هویت، سیاسي ظرفیت او کفایت نور هم څرګند کړ. د "اقلیت" په نوم شعار پورته کول او بیا د ټول

هېواد د اداري چارو غوښتل او پر سياسي چارو خپته اچول خپله دوه متضاد فکتورونه دي. کله چې څوك په يو هېواد کې د "اقليت" خبره او د هغو د حقوقو مسئله رامنځته کوي نو بيا خو يوازې په همدې محدود چوکاټ کې د هغه واك او صلاحيت د بحث وړ دی، نو بيا خو پر اکثريت او ټول هېواد باندې دواك خبره په خپله نفې کېږي. دوی له يوې خوا د لږکيو د حقوقو چغې پورته کولې او له بلې خوا يې جمهوري رياست، د دفاع وزارت او اکثره دولتي پوستونه غوښتل. نو چې جمهوري رياست، د دفاع وزارت او نور مهم پوستونه د اقليت حقوق وګڼل شي نو اکثريت ته به څه پاتې شي؟

لکه څنګه چې د مخه يادونه وشوله د ټولنپوهنې له نظره لږکي او بيا د هغوی د حقوقو مدعيان بې ثباته وي او کله کله د خپلو ګټو لپاره پر يو دريمي څواك او بهرني قوت ډډه لګوي، دغسې د پېښو رښتيني واقعيت ته هم غاړه نه ږدي.

په افغانستان کې هغه لږکي چې له کوم بهرني هېواد سره قومي، ژبني او يا هم مذهبي اړيکي لري د هغو مدعيان ډېر زيات فرياد کوي.

"حزب وحدت" او "حرکت اسلامي" چې ځانونه د هزاره ګانو د حقوقو ساتونکي بولي، ډېرې داسې بېلګې په لاس کې شته چې دوی اصلاً د افغانستان شتوالی نه غوښت، دوی په ايران پالنه کې دومره ډوب وو چې اصلاً د افغاني ټولنې واقعيتونه يې نه پېژندل.دوی ته د ايران داسې بې دريغه پوځي مرستې، لمسونې رارسېدلې چې هغو د افغانستان واحد جوړښت ته زيان او خطر متوجه کولای شو. د طالبانو د لوړ کچ د يو مامور په وينا:موږ چې کله عبدالعلي مزاري ونيو د "حزب وحدت" له دفتر څخه ځينې داسې اسناد هم لاسته راغلل چې په هغو کې دوی ته د ايران مرستې ډاګيزه شوې وې. هغه وخت چې مزاري او رباني سره مخالفين وو،

نو ایران هره میاشت لـه مزاري سره (لس میلیونه) ډالـره مرسته کوله.
کله چـې "حزب وحـدت" پر دوو ډلـو (مزاري او اکبري) وویشـل شـو، نـو پنځه میلیونـه ډالـره یـې یـوه تـه ورکـول او پنځه میلیونـه ډالـره بـل تـه!"
ایرانیـانو دغـه راز "حزب وحـدت" تـه د افغانسـتان د ویشـلو دنـده هـم ورکـړې وه. د (اېف پـي) د رپوټ لـه مخـې "پـه کـابل کـې د احمـد شـاه مسعود د نظـار شـورا او حزب وحدت تـر منځ د خونړیـو جګړو پـه تـرخ کـې حـزب وحـدت دافغانسـتان پـه پـایتخت کـابل کـې د "جمـهوري اسـلامي هزارسـتان" یـوه نقشـه خپـره کـړې ده. پـه دې نقشـه کـې افغانسـتان د تاجکسـتان، بلـوچسـتان او "هزارسـتان" پـر سـیمو ویشـل شـوی. پـه دې نقشـه کې یو شعار هم لیـدل کـېږي:
"بـه پیـش بـه طرف ایجـاد سـرزمین بزرگ و مستقل هـزاره"، نقشـه د هزارجـاتو هغـه برخـې چـې لـه ایـران سـره هـم سـرحده دي او د "هزارستان" برخـې ګڼل شـوي، ښکـاره کـوي.
تـر ټولـو جالبـه خـبره دا ده چـې د بلـوڅو، تـاجکو او هـزاره ګانـو د تسلط لـه سیمو پرتـه نـوري پـاتې سـیمې د افغانسـتان برخـې ګڼل شـوي دي" وګورئ پـه خپلـه دا نقشـه:

دولت جمهوری مستقل اسلامی هزارستان
درجوار ایران



Afghanistan/Hazaraistan
Source: Afghanistan: Mirror, published: Tehran

د ایـران او د هـزاره ګانـو د حقوقـو مدعیـانو روابـط وروسـته دومـره تینـګ شـوي وو چـې دوی هـرڅه لـه وسـلو نـه نیولـې تـر پیسـو پـورې نـبغ پـه نبغـه لـه هغـو نـه ترلاسه کـول او هغـوی هـم بـې لـه کومـې پوښتنـې افغانسـتان تـه راتلـل او دوی تـه یـې مرسـتې رسـولې. وګورئ دا لانـدې سـندونه چـې د دوی تـر منـځ انکـار نـه کېدونکـي اړیکـي ښیـي:


حزب وحدت اسلامی افغانستان
شورای تصمیم گیری صفحات شمال

Hezb-e Wahdat-e Islami Afghanistan
Executive Council Northern Areas
Date :
Ref :
Annex :

(۱۱)

بسمه تعالی

برادر گرانقدر جناب [illegible] صاحب نادری　　　　السلام علیکم و رحمة

بعداً

با لطف که در جریان وقایع دگرگونی اخیر در شهر تهاجم وحشیانه طالبان در صفحات شمال قرار دارید که اکنون این دشمن بی فرهنگ بشهر باستانی بلخ را در فاصله ۲۴ کیلومتری شهر نزدیک تهدید مینماید که این تهدید به شاهد تثبیت دیگر طالبان در مجموع افغانستان تلقی میگردد.

بنا مردم با شهامت مزار شریف در کنار نیروهای رزمی جبهه متحد عضو افغان داوطلب و مصمم هستند که با تمام قوا و توان شان از حریم مزار شریف دفاع و پایداری نموده و هم روزه، دسته دسته نیروهای بسیجی غرض مسلح شدن به ریاست نظامی حرکت اسلامی مراجعه مینمایند که متاسفانه با نداشتن امکانات نظامی در برابر این چالش گرم و سوق و وسایل نظامی هیچ شئی داریم لذا از حضرت عالی جداً توقع میرود که اقدام ذیل را هرچه سریعتر غرض تسلیح نیروهای مردمی و کمک کنید؟ از اطراف شهر مزار شریف در اختیار ما قرار داده ممنون سازند:

۱- کلاشینکوف - 500 قبضه
۲- پیکا - 40 قبضه
۳- راکت - 40 قبضه
۴- هاوان 120mm - 6 پایه
۵- مهمات راکت، کلاشینکوف، پیکا، هاوان و توپ 82

از توجه مسئولانه و برادرانه تان متشکرم.

والسلام
[illegible]
رئیس [illegible] حرکت اسلامی

(۴)

(۱۲)

بسمه تعالی

**حزب وحدت اسلامی افغانستان**

شورای تصمیم گیری صفحات شمال

HeZb-e Wahdat-e Islami Afghanistan

Executive Council Northern Areas

تاریخ: [illegible]

شماره: [illegible]

پیوست: ندارد

Date: ........

Ref: ......

Annex: ....

محترم جناب آقای جوادی سفیر جمهوری اسلامی ایران - مزارشریف

السلام علیکم و رحمة

ضمن آرزوی موفقیت و کامیابی شما ذوات محترم، حامل هذا آقای
حاجی جواد خدمت معرفی میگردد تا در مورد مواد [illegible] مساعدت
[illegible] به ایشان تحویل نمائید

والسلام

حاجی محمد محقق

وزیر امور داخله دولت اسلامی افغانستان
و مسئول عمومی صفحات شمال حزب وحدت
اسلامی افغانستان

[illegible]

(۱۳)

د همدغو خوږو اړیکو په ترخ کې یو وخت د هزاره ګانو د حقوقو مدعیان دومره ایران ته نږدې شول او یا هغوی ځان ته نږدې کړل چې یو وخت ایران د افغانستان د بامیانو ولایت خپل یو ولایت ګاڼه، نو ځکه خو په بامیانو کې ځو ځایه داسې لوحې لیکل شوې وې.

جمهوري اسلامي ایران

استان بامیان

جمهوري اسلامي ایران

ولایت بامیان

حزب وحدت په خپل افغان ضد چلند کې دومره افراطي حالت ته رسېدلی و چې ان له (افغان ملت) څخه یې انکار کاوه. دوی د افغانستان اوسېدونکو ته د افغانانو نومونه نه کاروله، افغان ته یې "افغانستاني" او افغانانو ته یې "افغانستانیها" ویل. له "افغانستاني" څخه یې مقصد هغه څوک و چې په افغانستان کې یې ژوند کړی او یا اوسېږي. دوی که د افغانستان هر وګړي ته د افغان خطاب وکړي نو بیا خو د هېواد ټول اوسېدونکي هزاره، اوزبک، تاجك، بلوخ او نور ټول د یو واحد ملت (افغان ملت) په لوښي کې لوېږي، ټول افغانان ګڼل کېږي او د یو واحد او یو موټي ملت د ځواکمنې او غښتلتیا بهیر ګړندی کېږي.

دې ډلې د افغان ضد ځانګړنو له مخې د افغان پر ځای "افغانستاني" نومونه کاروله. دوی دا نومونه په لسګونو، نه په سلګونو نه، بلکې په زرګونو او لسګونو زره ځله په خپلو خپرونو، غونډو او بیانیو کې کارولې ده. د بېلګې په توګه به: "بیانیه ها، اعلامیه ها و طوهارهای حمایت از حزب وحدت اسلامی

افغانستان" په نامه د یوه کتاب یادونه وکړو چې په لسګونو ځایه په کې د یوې کینې له مخې د افغان پر ځای د "افغانستاني" نومونه کارېدلي ده. لکه: اطلاعیه طلاب افغانستانی حوزهء علمیه حضرت عبدالعظیم(ع) در جهت حمایت و پشتیباني از حزب وحدت اسلامی افغانستان.(۱۴) وګورئ دذي کتاب، ۱۸، ۴۴، ۷۷، ۸۹، ۱۰۴، ۱۱۱، ۱۱۴، ۱۲۶، ۱۷۷ او نور مخونه.

په افغانستان کې د لږکیو د حقوقو مدعیانو کله کله په خپلو خبرو کې له دومره افراط څخه کار اخیستی چې ان د هېواد د سترو مسئلو په باب یې هم چې د دوی تر واك او څواکه وتلې خبرې وې، په ډېرې سپین سترګۍ سره څرګندونې کولې. له اکثریت سره د دښمنۍ په خاطر یې پر تاریخي واقعیتونو هم سترګې پټولې. تولو ته څرګنده ده چې انګرېزانو د زور له لارې د ۱۸۹۳ کال په نومبر کې پر امیر عبدالرحمن خان باندې د ډیورند منحوسه کرښه تحمیل کړه، له هغه راهیسې هم افغان ولس او هم له کرښې اخوا پښتنو او هم د افغانستان بېلابېلو خپلواکو او نیمواکو حکومتونو دا کرښه په رسمیت نه ده پېژندلې.

د هزاره ګانو د حقوقو یو مدعي ښاغلی عرفاني وایي:

**"انگلس بعد از اخراج از افغانستان و برچیده شدنش از پاکستان و هندوستان تنها چیزی را که میگذارد همین مسئلهء پشتونستان است تا منطقه بطور همیشه دچار تشنج باشد، این معضله را بوجود آورد تا در آینده هم روی افغانستان و پاکستان اثر بگذارد. البته پشتونستان را یک ایالتی از پاکستان است که مربوط به دولت پاکستان است."**(۱۵)

همدا ښاغلی په افغانستان کې د قومي ظلم و ستم د یوې بېلګې په توګه وایي: "مثلاً یک قوم کوچي از مرز پاکستان گذشته بافغانستان میآمدند و تمامی دارایی یک ملت را که حاصل رنج و زحمات سالانه شان بود را بیغما میبردند و علفزار ها و زراعتشان را بدین شکل استثمار میکردند، اگر این بیچاره ها بحکومتهای محلی شکایت میکردند، نه تنها بشکایت آنها رسیدگی نمیشد که دچار درد سر تازه ای از جانب دولت و حاکم وقت قرار میگرفتند."(١۶)

کومې خبرې چې ښاغلی عرفاني یې یادونه کوي؛ هم د پښتونستان مسئله او هم پر لړکیو د ظلم خبره دواړه داسې نه دي او نه د افغانستان عام خلك په دې اړه داسې نظر لري. دا ټولې د پردیو خبرې دي چې د عرفاني صاحب غوندې کسانو له خولې راوځي.

خپله عرفاني صاحب پر دې خبره اعتراف کوي چې په بهر کې د تحصیل پر وخت یې دې فکر غځونې وکړې.

هغه وایي: "در دوران تحصیل در نجف اشرف با بسیاری از چهره های سیاسی و شخصیتهای مسلمان آشنایی پیدا نمودم و بسیاري از کتابهای سیاسی و انقلابی را مطالعه نمودم و در رابطه با افکار حضرت امام خمینی بخصوص کتاب ولایت فقیه و حکومت اسلامی ایشان، برایم حساسیت و برانگیختگی خاص بوجود آورد و این سوال برایم خلق میشد که یک ملت و ملیتهای که در یک کشور وجود دارند چطور بحقوقشان برسند...؟"(١٧)

ښاغلی عرفاني په همدې ډول د پردیو افکارو تر اغېزې لاندې راغی لکه څنګه چې کارمل د لنین په مینه مست او زیات وخت به

يې د کار د مېز له پاسه د لنين عکس ځوړند و، همداسې عرفاني صاحب د خميني په مينه مست شو. وګورئ عرفاني صاحب د خميني تر وزر لاندې:



هوکې زموږ هېواد کې دغه شان کسان قومي تفرقې ته لمن وهي چې د بل چا تر سيوري او وزر لاندې رالوی شوي وي.

دوی په پردی، مينه دومره مست وو او پردي شخصيتونه يې دومره پالل چې د خپلې مجلې د هرې ګڼې پر دويم مخ به يې د خميني لوی عکس چاپوه او د امام خطاب به يې ورته کاوه، خو د خپل هېواد واکمن او مشران به يې غداران ګڼل. وګورئ د حبل الله مجلې د ۱۳۶۵ ل کال د جدي ګڼه، پرله پسې ګڼه ۳۱مه، د همدې مجلې د پښتې پر دويم مخ د خميني او تر څنګ يې د منتظري عکس د "امام خميني" او آيت الله العظمی منتظري" په القابو چاپ شوي دي. خو د همدې مجلې په ۲۳ مخ کې، شاه زمان، امير

شېرعلي خان، سردار داود خان، ظاهر شاه، غازي محمد نادرخان، او غازي امان الله خان د "چهره های مزدور شاهانی که در افغانستان به تاخت و تاز پرداخته اند" تر سرليك لاندې راوړي دي.

د همدې حبل الله مجلې په ۴۱ مسلسله گڼه کې بيا خپل ځانونه د خميني پيروان گڼي او په افغانستان کې د خميني فکر پلوي کوي.



*دا تصوير په ښه ډول ښيي چې د لرکيو د حقوقو مدعيان له کومه ځايه خروبېدل او له کومه ځايه لا خروبېږي.*

وروستیو تجربو د دربیم خل لپاره دا ثابته کړه- هغه څوك چې په افغانستان کې د اقلیتونو او لږکیو د حقوقو تر چتر لاندې پر افغانستان د حکومت کولو نبت لري، هغه به نه یوازې ناکامېږي، بلکې لکه د (بچه، سقاو، کارمل، رباني، مسعود، خلیلي او مزاري) غوندې به له شرموونکي او خندني برخلیك سره هم مخامخېږي. د رباني او مسعود نیمواکه واکمني د "لږکیو" د حقوقو د مدعیانو د سیاسي شخصیت، کفایت او ظرفیت ښه څرګنده بېلګه ده.

په ټولیز ډول ویل کېدی شي چې په هره ټولنه او له هغې جملې نه زموږ په ټولنه کې د لږکیو د حقوقو مدعیان نه شي کولای له مشخص، څرګند او ناڅرګند بهرني ملاتړ پرته د ټولنې سیاسي انډول او ټولنیز ثبات ته ستر ګواښونه متوجه کړي او یا هم داسې چارو ته لاس واچوي چې په ملي کچه د دوی له ظرفیت او کیفیت څخه لوړ وي. د لږکیو د حقوقو مدعیان کوښښ کوي چې خپله طبیعي کمزوري او سیاسي بې کفایتي د منفي سازشونو، ناوړه ائتلافونو او پر بهرنیو مرستو او سرچینو باندې د ډډې لګولو له لارې پټه کړي، خو عملي تجربو ښودلې ده چې دا ډول اشخاص او ډلې په هېواد کې د اداري او حکومت کولو نه کوم ظرفیت لري او نه هم کفایت څکه چې فکر و خیال یې پر ملي ګټو او محور نه راڅرخي.

# اخځونه


۱- وفا جریده، پېښور، ۱۳۷۵ل کال، ۱۳-۱۴ ګڼه، ۵مخ.

۲- اسدالله ولوالجی، در صفحات شمال چه میګذشت؟ (با تجدید نظر و اضافات) پېښور۱۳۷۸ل کال، پېښور، ۱۶مخ

۳- اسدالله ولوالجی، آغاز و تداوم اختلاقات میان جنرال دوستم و آقای مسعود، در صفحات شمال افغانستان، ۱۳۷۹ل کال، پېښور، ۴۹ مخ

۴- اسدالله ولوالجی، آغاز و تداوم اختلافات میان جنرال دوستم و آقای مسعود، در صفحات شمال افغانستان، ۱۳۷۹ل کال، ۳-۶ مخونه.

۵- پورتنی اثر، ۴۷ مخ

۶- اسدالله ولوالجی، در صفحات شمال افغانستان چه میګذشت؟ بخش دوم، ۱۳۷۸ل کال، ۷مخ

۷- پورتنی اثر، ۷۱مخ.

۸- دا مکتوبونه اکثره د ښاغلي ولوالجي له دوو کتابونو څخه اخیستل شوي دي. یو: در صفحات شمال افغانستان چه میګذشت؟ (با تجدید نظر و اضافات). دوه: در صفحات شمال افغانستان چه میګذشت؟ (بخش دوم) بېلابېل مخونه.

۹- اسدالله ولوالجي، در صفحات شمال افغانستان چه میګذشت (بخش دوم) ۸ مخ.

۱۰- صفحه نو، د "حزب وحدت" خپرونه، پېښور، ۱۳۷۴ل کال د مرغومي ۲۷ نېټه، ۲۱ ګڼه، ۲ مخ.

۱۱- شـریعت جریـده، د افغانسـتان د اسـلامي امـارت نشـراتي ارگان، ۱۳۷۷ل کـال، ۶۲ مـه گنه، ۱ مـخ.
۱۲- // // //
۱۳- // // // ۶۵ مـه گنه، ۴ مـخ.
۱۴- بیانیـه هـا، اعلامیـه هـا و طومارهـای حمـایت از: حـزب وحـدت اسـلامی افغانسـتان، ترتیـب و تنظیـم کمسـیون فرهنـگی حـزب وحـدت اسـلامی افغانسـتان، ایـران چـاپ، ۱۳۶۹ل کـال.
۱۵- حبل الله، ۱۳۶۸ل کال، تله، پرله پسې گنه، ۲۸، ۲۱ مخ
۱۶- پورتنی اثر، ۱۸- ۱۹مخونه
۱۷- پورتنی اثر، ۹ مخ.

# د دربیمې سقاوی د مخنیوي او د افغانستان د ملي یووالي او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په باب څو وړاندیزونه

د ټولنپوهنې علم، عملي ورځنـي ژونـد او کړکـېچونـو سیاسـي، پوځي او اقتصـادي شـرایطو او د دې ترخنـګ بـهرنیو لاسـوهنو دا پـه ډاګه کړې چې لـړکي او د هغـوی د حقوقـو مدعیـان د سـختو بحرانـي شرایطو او له هغو سره د مبارزې تاب نه لري. کله کله داسې هم شي چې هغوی د تلې پلې ته ګوري، هره خوا چې درنه وي په همغه خوا کې ځان اچوي. هرکله چې پر یوې ټولنه بـهرني یرغـل او نـاورین پیلېږي، نو زیات ګوابس او خطر یې د ټولنې اصلي او اساسي رغنده قوم ته متوجه وي. اکثریت په هره ټولنه او هېواد کې د هغه هېواد د ثقل مرکز او د واک د یو اساسي سرچینې حیثیت لري، هر کله چې

په تولنه او هر شي کې د ثقل مرکز له منځه ځي، نو هغه تولنه خپل انډول له لاسه ورکوي. د بهرنیو ځواکونو یو ستر هدف همدا وي چې تر مطلب لاندې تولنه باید بې ثباته، کمزورې او له عمومي انارشۍ سره مخ کړي او بیا پرې د خپل ښکېلاک او زبېښناك جال خور کړي. هر کله چې په یوه تولنه کې د واك د طبیعي، حقوقي او قانوني عنصر پر ځای مصنوعي او لاس جوړي توکي رامنځته شي، نو په تولنه کې په خپله د واك انډول ویجاړ شي. زموږ د هېواد په معاصر تاریخ کې درې ځله په ناطبیعي ډول او د پردیو په همکارۍ او مرسته د سیاسي واك د اصلي سرچینو پرځای د واك د یوې مصنوعي سرچینې د جوړولو هڅه وشوه. دا هڅې درې واره ناکامې شوې، خو هر ځل زموږ هېواد ته دومره زیانونه واړول شول چې رغون یې د ېر زړه چاودن وغوښت او غواړي یې. دې هر ناتار زموږ تولنه د پرمختګ له بهیر او نړیوال تمدن څخه په لسګونو او سلګونو کاله شاته کړه او د ګران افغانستان حیثیت او نړیوال حقوقي شخصیت ته یې درون زیان واړوه. د هېواد په معاصر تاریخ کې د واك مصنوعي او کینه ییز بدلون لومړی پر ۱۳۰۷ل کال په لومړۍ سقاوۍ سره د انګرېزانو په مستقیم ملاتړ او لمسون او د کورنۍ ارتجاع په ملتیا د یوه غله او داړه مار حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) په وجود کې ترسره شو. په افغانستان کې د یو نوي راټوکېدلي تمدن هیلې یې وچې کړې. انګرېزانو په یوه بله بڼه له افغانانو څخه د خپلو تاریخي ماتو غچ واخیست او افغانستان یې د نړیوال تمدن او کلتور له ثمر څخه بې برخې کړ. دې ناتار (۹) میاشتې دوام وکړ او په دې نهو میاشتو کې ټول هېواد د ناامنۍ،

تباهی، کړاو، بدمرغی او بې کلتوری پر رنځ اخته شو. نړدې و چې د افغانستان جوړښت او یووالی هم له سترو ګواښونو سره مخ شي. دا ناتار د افغاني غازیانو او د ملك د ژغورندیه ځواك او د واك د اصلي سرچینو د مدعیانو له خوا ختم شو او هېواد بیا د نړیوال تمدن، پرمختګك او قانوني ژوند مسیر ونیو.

دویم ځل د ۱۳۵۸ل کال د جدي شپږمه نېټه وه چې روسانو د انګرېزانو له تېښت نه په استفادې سره مستقیماً د خپلو عسکرو په زور یو بې هویته شخص (ببرك کارمل) د کابل پر تخت کېناوه او یو ځل بیا ټول هېواد کې هر اړخیزه بې ثباتي رامنځته شوه. له تېرې سقاوي نه د دې ناورین زیانونه لا زیات وو. "د افغانستان په تاریخ کې دا کورټ یو ناورین دی، که له یوې زاویې ځخه ورته وګورو نو په افغانستان کې د شوروي پوځ د لس کلن شته والي (۱۹۷۹-۱۹۸۹) په موده کې هره ورځ څه ناڅه (۴۱۸) تنه افغانان وژل کېدل (یاني دېرش تنه د رژیم ساتندویان، سل کسه مجاهدین او د ښځو، کوچنیانو او سپین ږیرو په ګډون (۲۸۸) تنه غیر پوځیان).

که د پورتنیو وژل شویو کسانو د هر یوه د بدن وینه (۷،۲) لیتره فرض کړو، نو هره ورځ له دریو زرو لیترو ځخه زیاته وینه پر ځمکه تویېدله او (۱۶۸۰) کسه نوي پرغم اخته کېدل چې په دې ډول لږ تر لږه لس لیتره ترمو اوښکو ګرېوانونو ته لاره میندله. (د لستوني مار، د نثار احمد صمد لمنیك، ۵۵ مخ)

افغانانو د ډېرو سترو قربانیو په بدل د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو دا ناورین پر شا وتمبوه او روسي ښکېلاك ته یې پرمخ داسې څپېړه ورکړه چې د خپل تاریخ په اوږدو کې یې خوړلې

نه وه، خو روسانو د لوبې په پای کې یو ځل بیا له شا نه پر افغان ولس ګوزار وکړ او د رباني- مسعود په وجود کې یې دا ځل د دویمې سقاوي په ډول یوه بله غمیزه پر افغانانو وتپله. دې سقاوي له لومړي سقاوي څخه په محتوا او مانا کې دومره توپیر نه درلود، ځکه چې دواړه د پردیو په لمسه، مرسته او لاسوهنه د واك د یو مصنوعي عنصر په توګه رامنځته شوي وې. ټولنیزې او سیاسي بې ثباتي او د افغانستان د حیثیت او د افغان ملت د غرور د پیکه کولو په لاره کې یې ځغلنده منډې وکړې، خو ددې دویمې لوبغاړې په ځینو برخو کې ان تر لومړي سقاوي هم دمخه لاړل. د اکثریت پر وړاندې د دښمني خرګندول او راپارول، د ښارونو او عامه شتمنیو لوټ او تالان، د بهرنیو هېوادونو لپاره د مداخلو د امکاناتو برابرول او په خپله د هغوی د لاس د الې په توګه کار کول، بې ناموسي، لوټ او تالان او نور هغه مسایل وو چې له لومړي سقاوي سره یې نه یوازې انډول برابر نه و، بلکې له هغو څخه درونـد هم و. تر ټولـه بده خبره دا وه چې دوی په شعوري ډول د هېواد وراني، ویجاړي او تجزیې ته ملا تړلې وه، مسعود او رباني ځان د ملت ضد هغو ډلو ټپلو سرلاري او مخکښان ګڼل چې د پردیو په ګډه همکاري یې د افغانستان وېشل او تجزیه کول د تګلارې اساسي ټکي وو. دوی د پردیو په همکاري تر یوه حده د دې امکانات برابر کړي وو چې د هېواد سلامتیا ته خطرونه پېښ کړي، خو افغان ولس په بې ساریو قربانیو د دوی دا نیتونه او هیلې یو ځل بیا نهیل او له ماتې سره مخامخ کړل، خو له دې سره سره بیا هم د وخت په تېرېدو سره د دغو ډلو فزیکي او فکري شتوالی د هېواد سلامتیا، د خاورې

بشپړتیا، اقتصادي ودې او د ټولنیز ژوند بښېزازي ته یو خطر ګڼل کېږي، د دغو او دې ته ورته نورو بالفعل، بالقوه، احتمالي او اټکلیزو خطرونو د مخنیوي او بېخي له منځه وړلو لپاره دغه څو وړاندیزونه وړاندې کېږي:

★ د اسلام سپېڅلی دین د افغانستان د ټولو قومونو تر منځ د وصل د کړۍ حیثیت لري؛ ټول قومونه او وګړي پر اسلامي عقیده راټولېږي، نو په افغانستان کې د اسلامي عقیدې ټینګښت د افغانستان د ملي یووالي د ټینګښت سبب کېږي. د افغانستان د ملي وحدت د ټینګښت لپاره د اسلام د مبین دین، تبلیغ، ترویج او ټینګښت ته اساسي اړتیا ده، دې اصل ته باید نه یوازې زموږ د ولس د دیني فریضې په توګه وکتل شي، بلکې د هېواد د ملي یووالي د اساسي عامل په توګه هم وانګېرل شي.

★ څرنګه چې د افغانستان د نفوس غوڅ اکثریت مسلمانان دي او بیا اکثریت یې د حنفي مذهب پلویان دي، نو د اکثریت د حقوقو په پام کې نیولو سره حنفي مذهب د هېواد د رسمي مذهب په توګه منل په کار دي. ګټه یې دا ده چې د افغانستان د زیات نفوس یانې (پښتنو، لږکیو [تاجکو، ازبکو، ترکمنو، بلوڅو، یو شمېر هزاره ګانو او نورو لږکیو] تر منځ د وصل د کړۍ حیثیت لري. د حنفي مذهب تر څنګ د بل مذهب رسمي کول په هېواد کې مذهبي او قومي اختلافونه زیاتوي او ملي وحدت ته زیان رسوي. البته نور اقلیتونه کولای شي په خپل چوکاټ کې له خپلو مذهبي مراسمو څخه برخمن وي.

★ د دیني او مذهبي یوالي تر څنګ (افغان) او (افغانیت) د هېواد او ولس لپاره داسې الفاظ او مناسب ظروف دي چې هم تاریخي او هم قومي شالید (پسمنظر) لري او هم د هېواد نوم له همدې لفظ څخه رغېدلی دی. هغه هېوادونه چې د قوم په نوم نومول شوي له رواني او سیاسي پلوه له خپل هېواد سره د خلکو د روحي پیوستون او هېوادني مینې ښکارندوي کوي او د هېواد د ملي یووالي لپاره ګټور تمامېږي. نو د افغانستان ټول قومونه د (افغان) ملت په چوکاټ کې راوستل او د افغانیت د مفکورې، تبلیغ او ترویج هم د هېواد او هم د افغانستان د ټولو قومونو لپاره په ګټه دي، نو د افغانیت مفکوره باید د هر افغان په روح او روان، ذهن او فکر کې ترزیق، تبلیغ او ترویج شي. په تېرو سترو انارشیو کې چې مخکې مو یادونه وکړه د (افغانیت) د ملي فکر پر ضد په شعوري او ناشعوري ډول هڅې شوي او دا کړنې لا رواني دي، نو د هېواد د ټولو قومونو د پیوستون لپاره د اسلامیت او افغانیت د مفکورې تبلیغ او ترویج ډېر ضروري دی.

د عقایدو او مذهبونو په برخه کې لکه څنګه چې دود ده داکثریت رایه په پام کې نیول کېږي. په ژبنۍ برخه کې هم په نړیواله کچه همدا دود دی. غوره مثال یې همدا ایران دی چې په افغانستان کې په اصطلاح د لږکیو دحقوق مدعي دی. په ایران کې ګڼ شمېر مذهبونه او قومونه شته، هلته ان قومي او مذهبي انډول داسې دی چې یو بل ته ډېر نږدې دی او داسې قوم هم نه شته لکه د پښتنو په شان چې په افغانستان کې د ټولو لږکیو د مجموعي نفوس له دوو برابر و څخه هم زیات دی. په ایران کې هغه څوک چې د اکثریت

مدعیان دي د هغوی قوم په ډېر کم تفاوت سره له بل هر قوم څخه زیات دی؛ د ټولو قومونو مجموعه له هغه قوم څخه ډېره زیاتېږي چې په ایران کې د واك پر ګدۍ ناست، دی او د اکثریت مدعي دی، خو دې ډېر لږ اکثریت بیا هم په ټول ایران کې یوازې یو شیعه مذهب او یوازې فارسي ژبه رسمي کړې ده. د ایران ملتپال په دې عقیده دي چې د همدغه شیعه مذهب او فارسي ژبې رسمي کېدل او دوديدل د ایران ژوند او بقا تضمین کړې ده. دوی په دې نظر دي چې که هر کله د ایران واکمنو د مذهب او ژبې دغه مزي سست کړل، نو پر همغه وخت به دلږکیو څپه راوپارېږي، ایران به له ژبني او قومي پلوه تجزیه شي. خو په افغانستان کې لا ملتپالنه د ایران په شان پر افراطي بنسټ ولاړه نه ده. دلته پښتانه دټولو لږکیو د مجموعي نفوس له دوه برابرو څخه هم زیات دي، نو په اساسي مانا د دوی د ژبې رسمي کېدل د افغان ملت یو قانوني حق او ضرورت دی. د نورو ورو قومونو لپاره هم دا په ګټه ده چې له اکثریت سره دتفاهم او سالم ژوند لپاره د خپل هېواد ملي ژبه زده کړي او هغه وپالي. د ټول افغانستان په کچه دپښتو ژبې رسمي کېدل، دودېدل او کارېدل د افغانستان له ملي وحدت او د خاورې بشپړتیا ساتلو لپاره ډېره مرسته کوي او دا دمذهب تر څنګ د ملت جوړونې او یووالي لپاره بل اساسي عنصر دی. تجربو ښودلې ده، د افغانستان هغو لږکیو چې دپښتنو په فرهنګي حوزه کې یې د خپلې ژبې تر څنګ پښتو هم زده کړې، نه له پښتو سره کینه ښیي، نه د هېواد د تجزیې خبرې کوي، نه دفدرالیزم او نه هم د بېلتون. خو بر عکس هغه لږکي چې د ځینو شرایطو خصوصاً د پردیو د ژبني، فرهنګي او

سیاسي نفوذ، اغېز او لاسوهنو له کبله له پښتو ژبې څخه لرې ساتل شوي، په هغو کې ځینې داسې اشخاص او ډلې ټپلې راوزېږول شوې چې نه یوازې له پښتو سره خپله کینه ښیي، بلکې افغان، افغانیت او افغانستان هم نه غواړي اود تجزیې او بېلتون په لټه کې دي. د پښتو ژبې عامېدل او دفتري کېدل د لږکیو د ژبو د محوه کولو په مانا نه دي، بلکې لږکي حق لري په خپلو منځوکې خپله ژبه د پوهولو راپوهولو د وسیلې په توګه وکاروي اوتعلیم پرې وکړي، خو کله چې خبره د هېواد کچې ته راوځي نو دوی مجبور دي د اکثریت حقوقي حیثیت ته غاړه کېږدي او هغه قانون ومني چې په نړیواله کچه د هېوادونو د ژبني پرابلم د حل لپاره منل کېږي.

★ د پښتو ژبې دولتي کېدل او دفتري کېدل به د هغې مبتذلې بروکراسۍ مخه هم ونیسي چې د وخت په تېرېدو سره یې د هېواد د اکثریت یوه برخه د اقلیت په ژبني ستم کې ورګډوله او بیا ترې داسې اشخاص جوړېدل چې ذهن او ژبه یې پردي شوي وو او د خپل هېواد پر خلاف د پردیو د لاس الـه ګرځېدل. د پښتو ژبې عامېدل او دفتري کېدل د افغان ملت جوړونې لپاره یو اساسي او ستر عامل دی، چې که عملي شي د وخت په تېرېدو سره به یو واحد ملت جوړ شي او د ژبنیو او نورو قومي ستونزو مخه به ونیول شي.

★ د هېواد د ټولو پرګنو او قومونو د پیوستون او د ملي زنځیر د کړیو د یووالي په خاطر په کار دي هغه ښارې ځمکې چې د هېواد په ختیزو، لویدیزو او جنوبي برخو کې دي د شمال خلکو او

هغه شاري ځمکې چې په شمال کې دي د جنوب، ختیځ او لویدیځ پر بېوزلو خلکو وویشل شي.

★ د کابل ښار د دایمي امنیت په خاطر او د هر ډول ګډوډۍ د مخنیوي لپاره دې د داسې یوې ملي ستراتیژۍ پر جوړولو فکر وشي او تیاره دې شي چې د هغې له مخې د هرې سیاسي او پوځي ډلې له خوا د سیاسي بدلون د پېښېدو پر وخت د ښار د عمومي لوټ او تالان مخه ونیول شي.

★ د هېواد د شمال، جنوب، ختیځ او لوېدیځ ترمنځ دې داسې لویې لارې جوړې شي چې یو شخص، ډله او یا کوم قوم ته منسوب کسان بیا ددې وس ونه لري چې د شمال او جنوب، ختیځ او لویدیځ اړیکې سره غوڅ کړي، د ملت د ترانسپورت او اقتصاد شارګ پرې کړي او په هېواد کې سیاسي او نوره بې ثباتي راولي.

★ له ایران سره په ګډه پوله کې باید د هېواد له بېلابېلو سیمو څخه ځینې خپلونه ځای پر ځای شي. د دې کارګته به دا وي چې دا خلك له ایران سره ځرګند بېلتون لري، د ایران د لاسوهنې امکانات به په دې ډول له منځه لاړ شي.

★ هغه فرهنګي علمي، تاریخي، مذهبي او نور آثار چې له ایران څخه افغانستان ته راځي، باید د یو کمیسیون له خوا وکتل شي او هغه کتابونه او خپرونې چې افغان ضد او د حنفي مذهب ضد مسایل په کې خپاره شوي وي باید داخل ته پرېنښودل شي.

# اورنۍ لسيزه

## د(۱۳۷۰-۱۳۷۹ل کلونو په بهير کې د هېواد مهمې پېښې)

## (کرونولوژي)

(۱۳۷۰-۱۳۷۹ل کلونه) د هېواد د اوسنۍ غميزې د نورو کلونو په څېر د غمونو، دردونو، کړاوونو، ورانيو، مهاجرتونو او وژنو کلونه دي. په دې لسيزه کې هم په لکونو افغانان ووژل شول او په مليونونو نور مهاجرت ته اړ شول. د همدې لسيزې په بهير کې په هېواد کې په سلګونو دردوونکې او ورانوونکې پېښې رامنځته شوې او ټول هېواد يې د غم او وير په لمبو وسيزه.

موږ له دغو سلګونوزرو پېښو څخه ځينې ډېرې مهمې چې بېلابېلو خپرونو پر همغه مهال ثبت کړې، راچاڼ کړې دي. د پېښو څرنګوالي او بدرنګوالي د هغوی په عاملينو پورې اړه لري، موږ په کې د هېچا په پلوي لاسوهنه نه ده کړې، څه چې خپرونو خپاره کړي، تر ژبنې سمون وروسته مو سره اوډلې دي. هيله ده د هېواد ددې لسيزې دپېښو په رڼاوې کې مرسته وکړي او د لوستونکو د پام او ګټې وړ وګرځي.

# ۱۳۷۰ ل کال

**د ۱۳۷۰ ل. کال د وري ۱۱ مه:**

خوست ولایت تر دوو اوونیو سختو جګړو وروسته د مجاهدینو لاسته ورغی.

**د غویي لومړۍ:**

د کابل حکومت د سکارت توغندي د لګېدو له کبله د کونړ په اسد اباد کې درې سوه تنه ووژل شول او تر شپږو سوو ډېر خلك ټپیان شول، دا توغندی د مجاهدینو پر یوې زېرمې لګېدلی و.

**د غویي ۳ مه:**

حکمتیار قسم یاد کړ چې له کابل رژیم څخه به د کونړ ولایت د وژل شویو او ټپي شویو خلکو غچ اخلي.

**د غویي ۴ مه:**

رباني هم په کونړ ولایت کې د کابل رژیم د اظالمانه کار وغانده.

سیاف هم له ملګروملتونو څخه وغوښتل پر روسیې فشار راوړي چې له کابل حکومت سره خپلې سیاسي او پوځي مرستې بندې کړي.

**دغبرګولي ۵ مه:**

د کابل او پاکستان حکومتونو د افغانستان د کشالې په اړه د ملګرو ملتونو پنځه فقره یېزه طرحه وستایله. د مجاهدینو ډېرو مشرانو دا طرحه رد کړه او دایې وویل تر هغه مهاله چې نجیب د واکمنۍ پر ګدۍ ناست وي دا ډول طرحې هېڅ درد نه رغوي.

**د غبرګولي ۱۲ مه:**

حکمتیار په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د ملګروملتونو طرحه یوطرفه او د افغان ملت د روغې جوړې خلاف وبلله او زیاته یې کړه چې د افغانستان پوځ به د کابل حکومت پر ضد پر پاڅون لاس پورې کړي.

**د غبرګولي ۲۸ مه:**

سیاف د یو لیك په ترڅ کې د پاکستان له حکومت څخه غوښتنه وکړه چې د

ماګرو ملتونو طرحه ونه مني او که ددې کار وس نه لري لږترلږه دې چا ته اجازه ورنه کړي چې له خاورې څخه يې ددې طرحې لپاره کار واخلي.

دغبرګولي ۳۰ مه:

ببرك کارمل په روسيه کې تر پنځه کلنې استوګنې وروسته بېرته کابل ته ستون شو.

د چنګاښ ۲۵ مه:

ببرك چې يوه مياشت وړاندې کابل ته ستون شوی و له بي. بي. سي. سره يې په خپله لومړنۍ مرکه کې وويل چې هغه په افغانستان کې د روسي ځواکونو د مداخلې مخالف و، اوس د کابل رژيم په بلنه کابل ته راغلی دی.

د زمري ۲۳ مه:

د روسانو او نظار شورا تر منځ په اشکمش کې خبرې اترې وشوې.

د وږي ٦مه:

تهران چاپ کيهان نومې ورځپاڼې په خپله يوه ګڼه کې وليکل:

حکمتيار د افغانانو د تشتت او پاشلتيا سبب دی او تر روسانو د هغه خطر ډېر دی.

د وږي ۱۸ مه:

په روسيه کې تر روستيو بدلونونو وروسته روسي پلاوی د لومړي ځل لپاره کابل ته راغی او د حکومت له چارواکو سره يې وکتل، هغه د هر ډول پوځي او سياسي مرستې ژمنه وکړه.

د وږي ۲۵مه:

ډاکټر نجيب الله په خپله راډيو تلويزيوني خبرتيا کې له ټولو غاړو ان ظاهر شاه څخه وغوښتل چې د سولې په ټينګښت کې د امريکا او روسيې د تصميم مرسته وکړي او له کورنيو قومندانانو څخه يې وغوښتل چې اوربند مراعت کړي.

د وږي ۲۷ مه:

مجاهدينو د اوربند وړانديز رد کړ او هغه يې دوکه وبلله.

د تلې ۸ مه:

ډاکټر نجيب د يوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې له مجاهدينو څخه

وغوښتل چې تر واك لاندې سيمو كې پر ټاكنو لاس پورې كړي.

د تلې ۱۱ مه:

سياف، رباني او خالص د روسيې ورستۍ طرحه د جهاد پر ضد يوه توطيه وبلله.

دتلې ۱۸ مه:

مجددي لـه امريكا غږ سره په يوه مركه كې وويل چې د افغانستان ۹۹٪ خلك د روسيې ورستۍ طرحه او سياسي حل مني.

د تلې ۲۱ مه:

حكمتيار دروسيې وروستۍ طرحه ردكړه او ويې ويل كه هر چا دا طرحه ومنله نو انجام به يې د نجيب الله غوندې وي.

دلړم۱۳ مه:

ظاهر شاه په يوه پيښنه كې ټپي شو، هغه په خپل كور كې ديوه كس لـه خوا چې ځان يې د خبريال په توګه معرفي كړی و او پرتګالی پاسپورت يې درلود، د چړې په ګوزار ټپي كړای شو.

د لړم ۱۷ مه:

د رباني په رياست د مجاهدينو يوه ډله سعودي عربستان ته لاړه چې له هغې لارې نه مسكو تـه ځانونـه ورسوي، ددې هيـت غـړي وو: محمـدي، محسـني، وقاد،، مسعودخليلي، منهاج، حشمت الله مجددي او احمد ګيلاني.

رباني په اسلام اباد كې يوه مطبوعاتي كنفرانس ته وويل: د افغانستان جګړه له روسيې څخه پيل شوې او همدلته بايد پايته ورسېږي.

د ليندۍ ۵ مه:

حكمتيار په يوه مطبوعاتي كنفرانس كې وويل تر هغه چې دافغانستان لانجې ته د حل لار نه وي پيدا شوې، دې ته چمتو نه دی چې روسي اسيران پرېږي.

د ليندۍ ۱۰ مه:

داسلامي حزب، اسلامي جمعيت او حركت انقلاب اسلامي ګوندونو تر يـو لړ جلسو وروسته يوه پرېكړه وكړه چې جزئيات يې راڅرګند نه شول.

د ليندۍ۱۸ مه:

حكمتيار د يوې مركې په ترڅ كې د نيوكې په ډول وويل: پاكستان غواړي

ظاهر شاه بېرته د واك پر ګدۍ کېنوي.

**د مرغومي ۲۵ مه:**

داکټر نجیب الله د روسانو د وتلو وروسته "د افغانستان ملي نجات ورځ" په نامه ونوموله.

**د سلواغې ۸ مه:**

مجددي د پاکستان د وروستۍ طرحې هرکلی وکړ، خو د پاکستان پر اسلامي جماعت یې نیوکه وکړه چې هغوی د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.

**د سلواغې ۲۳ مه:**

رباني د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې درې تنه روسي اسیران د هغه هېواد پلاوي ته چې د ازبکستان دولت استازي هم په کې ګډون درلود، وسپارل.

**دسلواغې ۲۵ مه:**

د کابل خلکو د لومړي ځل لپاره تر ۱۹۸۰م کال وروسته د روسانو د وتو په مناسبت پر مظاهرو لاس پورې کړ او د هغوی تېرې یې وغانده.

**د کب ۱۰ مه:**

حکمتیار د افغانستان لانجې د غوڅولو په موخه څلور فقره ییزه طرحه وړاندې کړه.

**د کب ۲۷ مه:**

ډاکټر نجیب الله اعلان وکړ چې د ملګرو ملتونو له خوا د یوه لنډمهاله حکومت له جوړېدو سره دی دې ته چمتو دی چې استعفی ورکړي.[1]

# ۱۳۷۱ ل کال

**۱۳۷۱ لمریز کال د وري ۳ مه:**
مزار ښار چې ـ دکابل رژیم لوی مرکز و، د دوستم ځواکونو او د مجاهدینو ائتلاف لاسته ورغی.

**د وري۱٦مه:**
کابل حکومت دپاکستان مرستو لېږلو ته کلی وکړ او هغه یې د افغانستان د ستونزو په غوڅولو کې غوره هڅه وبلله.

**د وري۲٦ مه:**
مجاهدینو له دولتي ډلو سره د ائتلاف له لارې د بګرام هوایي ډګر ونیوه.

**د وري۲۷ مه:**
د ۶۰۰ تنو په شاوخوا کې ازبك ملېشې په الوتکو کې د کابل له شاوخوا څخه مرکزته ولېږدول شوې چې د مجاهدینو د کېدونکي برید مخنیوی وکړي.

**د وري۲۷مه:**
د کابل حکومت جمهور رییس ډاکټر نجیب الله غوښتل له کابله بهر ته ځان وباسي، ویل کېږي چې هغه دشپې پر دوو بجو او پنځله لسو دقیقو غوښتل له کابل څخه ووځي، خو د هغه د مخالفو وسلوالو کسانو له خوا یې مخنیوی وشو، تر هغه وروسته یې د ملګرو ملتونو په یوه دفتر کې پناه واخیسته.

**د وري۲۷مه:**
کابل ګارنیزیون قومندانی کابل ښاریانو ته اعلان وکړ چې نظم او ډسپلین مراعت کړي.

**د وري۲۹ مه:**
اسلامي حزب له دې ناسمې وضعې څخه د وتلو په موخه ځو وړاندیزونه وکړل.

**د وري ۳۰ مه:**
حکمتیار کابل حکومت ته پیغام ولېږه که دولت تر شپږو ورځو پاني د غوبي

تر اوومې وړاندې مجاهدينو ته ورتسليم نه شي نو پر کابل به بريد وکړي.

د وري ۳۱ مه:

بينن سيوان د ملېشو او مجاهدينو له قومندانانو سره د کتنې په موخه مزار ته روان شو.

د غويي دويمه:

احمدشاه مسعود د پاکستان له علماوو څخه هيله وکړه چې پر کابل ښار د حکمتيار د بريد مخنيوی وکړي.

د غويي ۳ مه:

د جمهور ريس مرستيال محمد رفيع د لوګر په محمد اغې ولسوالۍ کې له حکمتيار سره وکتل.

د غويي ٦ مه:

کابل دشنبې پر ورځ د مجاهدينو لاسته ورغی.

د غويي ٦ مه:

د حکمتيار او مسعود تر منځ په کابل ښار کې سخته جګړه روانه ده.

د غويي ۱۰ مه:

احمد شاه مسعود د غويي پر ۹ د مازيګر په شاوخوا کې کابل ته راننوت.

د غويي ۱۳ مه:

د "حرکت انقلاب اسلامي" درې ډلې په پېښور کې ديو مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې سره يو ځای شوې.

د غويي ۱۴ مه:

مجددي خپله کابينه اعلان کړه.

د غويي ۲۱ مه:

کابل مېشتو جهادي مشرانو او حکمتيار تر منځ موافقه وشوه چې جګړې دې بندې شي.

د غويي ۱۸مه:

سياف وويل:حکومت جوړول له کمونيستانو سره د ائتلاف په مانا نه دی.

دغويي ۲۰ مه:

حکمتيار په جلال اباد کې يوه مطبوعاتي کنفرانس ته وويل ګلم جم ملېشې

باید له کابل څخه ووځي.

دغویي ۲۴مه:

د روسیې له بهرنیو چارو وزیر کوزیروف سره د احمدشاه مسعود تر کتنې وروسته یوه اعلامیه خپره شوه چې کمونیزم په کې محکوم شو.

د غویي ۲۷مه:

حکمتیار په سروبي کې د یو مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې وویل چې له کابل حکومت سره موافقې ته رسېدلی دی.

د غویي ۲۹

احمدشاه مسعود له یو شمېر پاکستاني شخصیتونو چې په هغو کې د آی.اس آی مسوول جاوېد ناصر شامل وغوښتل د اردو په انتظام کې ورسره مرسته وکړي.

د غبرګولي ۵ مه:

مجددي په یوه دوره ورځني رسمي سفر پاکستان ته لاړ، چې تر واکمنۍ وروسته یې دا لومړنی سفر و.

د غبرګولي ۸ مه:

هغه الوتکه چې د مجددي په ګډون ۱۰۰ تنه نور هم په کې وو، کابل هوایي ډګر ته نږدې په توغندي وویشتل شوه.

د غبرګولي ۱۱ مه

په چهلستون ماڼۍ کې د جهادي شورا له خوا غونډه وشوه. چې په هغې کې د مجددي پر الوتکې باندې د توغندي ډز د ورانوونکو خلکو کار وبلل شو.

د غبرګولي ۱۲ مه

د وحدت او اتحاد ګوندونو تر منځ نښتنه وشوه.

د غبرګولي ۱۷ مه:

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت دنړۍ نه ټولو هېوادونو په ځانګړې توګه له ګاونډیو او اسلامي هېوادونوڅخه وغوښتل چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه ونه کړي.

د غبرګولي ۲۷ مه

مجددي جهادي مشران په ځانګړي ډول رباني پر دې تورن کړل چې له خپلو

ژمنو څخه اوښتي او د هغه د حکومت تر څنګ يې بل حکومت جوړ کړی دی.

**د چنګاښ لومړی:**

حکمتيار ګواښ وکړ که مجددي پر ټاکل شوې نېټې رباني ته واك ونه سپاري نو پر کابل به يرغل وکړي.

**د چنګاښ ۵ مه:**

په کابل ښار کې د وحدت او جمعيت ګوندتر منځ نښته وشوه.

**د چنګاښ ۸ مه:**

مجددي د چنګاښ پر ۷ نېټه واك جهادي شورا ته وسپاره.

**دچنګاښ ۱۱ مه:**

رباني خپله لومړنۍ راډيو تلويزيوني وينا واوروله.

**د چنګاښ ۳۱ مه.**

استاد فريد په چهاراسياب کې له حکمتيار سره وکتل.

**د زمري ۱۰ مه:**

کابل هوايي ډګر تر سختو توغندي بريدونو لاندی راغی، اسلامي حزب ددې کار مسوليت پر غاړه واخيست.

**د زمري۱۱ مه**

رباني د يو فرمان له مخې مولوي محمدنبي د خپل مرستيال په توګه وټاکه.

**د زمري ۱۸ مه**

د سهار پر **۵** بجو د اسلامي حزب او اسلامي جمعيت ځواکونو تر منځ سختې نښتې وشوې.

**د زمري ۱۹ مه:**

د روسيې پر سفارت د توغندي د لګېدو له کبله ددې سفارت دوه تنه کارکوونکې ووژل شول

**د زمري۲۵مه:**

رباني له نورو هېوادونو څخه وغوښتل چې د اسلامي حزب دفترونه بند کړي او د روسيې سفارت د دوو تنو کارکوونکو د وژل کېدو له امله يې له هغه هېواد څخه عذر وغوښت.

د زمري ۲٦مه:
رباني اعلان وکړ چې حکمتیار تر دې وروسته د قیادي شورا غړی نه دی.
د زمري ۳۱مه:
حکمتیار د بهرنیانو د وتلو لپاره اوربند ته غاړه کېښوده.
د وږي ۸ مه:
حکمتیار هغو کسانو ته چې له کابل څخه وتل وویل تر هغه مهاله دې بېرته نه راځي چې د دوستم ملېشې له ښاره نه وي وتلي.
د وږي۱٦ مه:
تر شلو کلونو وروسته د لومړي ځل لپاره د غلا په تور درې کسه په عام محضر کې اعدام کړای شول.
دوږي۲۸ مه:
حکمتیار او رباني په پغمان کې سره وکتل.
د تلې لومړۍ:
وحدت ګوند د رباني له حکومت سره خپل یووالي اعلان کړ.
دتلې۴ مه:
څلور تنه نور په زرنګار پارک کې اعدام شول.
د تلې۱۳ مه:
کابل دولت پرېکړه وکړه چې په یوه اوونۍ کې به ملېشې له کابله باسي.
د تلې ۲۵ مه:
پر دې ورځ څلورو جهادي مشرانو: حکمتیار، خالص، محمدي او سیاف د ننګرهار سولې له هیت سره په څرخي پله کې ولیدل.
د لړم ۳ مه:
رباني په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې اعلان وکړ چې د لړم پر څلورمه به چې دواك موده یې ختمېږي ټول واك قیادي شورا ته وسپاري.
د لیندۍ۴ مه:
رباني له لوړپوړي روسي پلاوي څخه چې کابل ته راغلی و، وغوښتل چې په کابل کې خپل سفارت پرانیزي.

د لیندۍ ۲۸ مه:
د اهل حل و عقد شورا لومړنۍ غونډه په کابل کې پیل شوه.
د مرغومي ۴ مه:
کابل حکومت د دوستم ملي اسلامي غورځنګ په رسمیت وپېژندہ.(۲)
د مرغومي۷مه:
رباني د "اهل حل وعقد شورا" له خوا د ۱۳۷۱ل کال د جدي پر ۹ نېټه د دوو کلونو لپاره د "جمهور ریس" په توګه وټاکل شو.
د مرغومي ۹مه:
د ملګرومتلونو استازي موسوریس په افغانستان کې د حل و عقد شورا د پرېکړو په اړه خواشیني ښکارنده کړه ځکه چې په دې شورا کې مشران توافق ته نه دي رسېدلي او خلك ددې شورا پلویان نه دي.

دمرغومي ۱۲مه:
د اهل حل وعقد شورې څو پرېکړې وکړې:
۱- ټولې نااسلامي ډلې دې کار او فعالیت ته نه پرېښودل کېږي.
۲-له مسلکي خلکو څخه دې یوه اسلامي اردو جوړه شي.
۳-راډیو ټلویزیون دې خپل پروګرامونه اسلامي کړي.
۴-په دفترونو کې دې کار اسلامي خلکو ته وسپارل شي.
دمرغومي۱۳مه:
استار رباني د"جمهور رئیس" په توګه لوړه وکړه.
دمرغومي ۲۰ مه:
په کابل کې دځینو تنظیمونو ترمنځ جګړه ونښته.

د مرغومي ۲۸مه:
جنرال دوستم غوښتنه وکړه چې په واك کې دې شریك کړل شي.
د سلواغې ٦ مه:
داسلامي حزب او نظار شورا ترمنځ دسختو جګړو په ترځ کې په سلګونو انسانان مړه او ژوبل شول. ښاغلی نوازشریف او دسعودي شاه فهد دجنګ بندولو وړاندیز وکړ.

د سلواغې ۱۰مه:

پخواني پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه دپراخ بنسته حکومت دجوړېدو لپاره دملګرو ملتو ترڅارنې لاندې دلویې جرګې دجوړېدو غوښتنه وکړه اویوه طرحه یې وړاندې کړه.

د سلواغې ۱۴ مه:

دملګرو ملتو د خیریه موسسو څلور غړي په جلال اباد کې ووژل شول.

د سلواغې ۱٦ مه:

د اسلامي حزب ، وحدت حزب او احمدشاه مسعود ترمنځ په جګړو کې په زرګونو تنه مړه او ژوبل شول.

د سلواغې ۲۱ مه:

مولوي منصور له څلورو باډیګارډانو سره په پکتیا کې ووژل شو.

د سلواغې ۲۲ مه:

پاکستانی جنرال حمیدګل لـه خپلو عربي ملګرو سره په دې غرض کابل تـه ولاړ چې قدرت مولوي محمدنبي ته وسپاري.

دکب ۳مه:

پاکستان ته دجنرال دوستم پټ سفر په باب خبرونه خپاره شول.

د کب ۱۱ مه:

استاد رباني له پاکستاني مقاماتو سره د خبرو لپاره پاکستان ته راغی.

د کب ۱۲مه:

دټولو تنظیمونو مشرانو د دوستم دنمایندګانو په ګډون دښاغلي نوازشریف او غلام اسحاق خان په منځګړیتوب په اسلام آباد کې مخامخ خبرې وکړې.

د کب ۱٦ مه:

په اسلام آباد کې دافغان مشرانو ترمنځ روغه وشوه. داغونډه دښاغلي نوازشریف په کور کې په داسې حال کې جوړه شوه چې دسعودي عرب او ایران استازي هم حاضر وو . تنظیمونو له شپږو ورځو بحث وروسته پر تړون لاسلیك وکړ. په دې تړون کې رباني د ۱۸ میاشتو لپاره دجمهور رئیس په تـوګه او حکمتیار یا دهغه نماینده دصدراعظم په توګه وټاکل شول.

د کب ۱۹ مه:

په سعودي عربستان کې له نوازشریف سره یو ځای دتنظیمي لیډرانو دروغې جوړې پر تړون باندې شاه فهد لاسلیك وکړ.

د کب ۲۸ مه:

په کابل ښار کې دښځو مظاهره وشوه او لـه استاد رباني ځخه یې غوښتنه وکړه چې دحکومتي کسانو له لوري دکورونو لوټولو او دخلکو دبې عزته کولو سلسله دې بنده کړای شي.

د کب ۲۳ مه:

نوازشریف له افغان تنظیمي مشرانو سره دایران مرکز تهران ته ورسېد اودایران دجمهور رئیس ښاغلي رفسنجاني سره یې یوځای داسلام آباد پر تړون لاسلیکونه وکړل.

د کب ۲۵ مه:

په جلال اباد کې داسلام اباد دتړون پـه رڼاکې دافغان مشرانو لـه خوا دکابینې دجوړولو کار شروع شو.

د کب ۲۹ مه:

داسلام اباد تړون چلینج کړی شو . استاد رباني داسلام اباد دتړون پـه رابطه وویل چې ټول دفاعي اختیارات لـه دفاع وزیر احمدشاه مسعود سره وي.( ۳)

# ۱۳۷۲ ل کال

**د وري ۵ مه:**
ښاغلي حکمتیار په چاراسیاب کې دصدارت مقر پرانیست.

**د غویي ۴ مه:**
استاد رباني دعلاج لپاره بهرته د ډاکتر نجیب الله تللو په برخه کې دملګرو ملتو غوښتنه ونه منله.

**د غویي ۹ مه:**
ښاغلي حکمتیار وویل چې مسکو دافغانستان بانك له اجازې پرته پنځلس بلیونه افغانۍ چاپ کړي اوداپیسې یې داحمدشاه مسعود په واك کې ورکړي دي.

**د غویي ۲۱ مه:**
تنظیمي مشران دخبرو لپاره جلال اباد کې سره راټول شول ، ددغې غونډې پرمهال دجلال اباد مانۍ مخې ته یوزیات شمېر معیوبینو اومعلولینو مظاهره وکړه اودجګړو دبندیدو غږ یې پورته کړ.

**د غویي ۲۳ مه:**
د نظارشورا او حزب وحدت ترمنځ جګړه کې ۳۰ تنه مړه او ۶۰۰ تنه سخت ټپیان شول.

**د غویي ۲۸ مه:**
پخواني پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه له ملګرو ملتونوڅخه بیا غوښتنه وکړه چې دخلکو دخوښې حکومت دجوړولو په کار کې دې هڅه وکړي، تشه ننداره دې نه کوي.

**د غبرګولي ۲ مه:**
ددفاع وزارت الوتکو د حکمتیار پر مورچلو بمباري وکړه ۱۰تنه ووژل شول او ۴۰ تنه ټپیان شول.

**د غبرګولي ۳ مه:**

ملګرو ملتونو درباني له حکومت سره دمرستې اعلان وکړ.

د غبرګولي ٦ مه:

په زوره له ایران نه د افغان مهاجرو ایستل شروع شول.

د چنګاښ ٩ مه:

دکابل ښار په سبو او مېوو کې دزهرو په ګډولو ، ډېرښاریان ووژل شول او ګڼ شمېر نور روغتونو ته ورسول شول.

د چنګاښ ١٠ مه:

١٦٠٠عربان افغانستان ته ننوتل، دوی له سوډان، مصر،عربستان اوالجزایرڅخه راتبنتیدلي وو.

د چنګاښ ١٦ مه:

جنرال دوستم وویل چې زه له حکمتیار سره دیوه تنظیم دمشر په توګه ګورم نه دصدراعظم په توګه ، بیا یې په چاراسیاب کې یو بل سره لیدنه کتنه وکړه.

د چنګاښ ١٧ مه:

په استانبول کې دافغانستان ، پاکستان اوترکمنستان ترمنځ دریل دپټلیو، هوایې کرښو اواقتصادي ملګرتیا تړون لاسلیك شو.

د چنګاښ ٢٨ مه:

دتاجکستان اوافغانستان پر پوله دروسي پوځیانو اومجاهدینو دنښتې په ترځ کې ١٠٠ تنه مړه او زیات شمېر ټپیان شول.

د زمري ١٣ مه:

پیرسید احمدګیلاني دنوي جمهور رئیس او صدراعظم دټاکلو لپاره دلویې جرګې غوښتنه وکړه.

د زمري ١۴ مه

دپامیر په غرونوکې دتاجك مجاهدینو او حکومتي عسکر ترمنځ په جګړه کې روسي الوتکو د افغانستان شمال بمباري کړ.

د زمري ١٧ مه:

دروسیې جمهور رئیس یلتسن دافغانستان اوتاجکستان پر پوله دشخړو دختمېدو لپاره له افغانستان سره دګډ کنفرانس درابللو غوښتنه وکړه.

د زمري ۲۲ مه:
حکمتيار ، استادرباني اوځينو نورو تنظيمي مشرانو په پغمان کې سره ليدنه وکړه.
د زمري ۲۸ مه:
حکمتيار پاکستان ته راغی اودپاکستان له مشرانو سره يې تړونونه لاسليك کړل.
د زمري ۳۲ مه:
مسعود پر ايران او پاکستان تور ولګاوه چې په افغانستان کې مداخله کوي.
د وږي ۳ مه:
په کندهار کې دحکمتيار او استاد رباني دډلو ترمنځ جګړو کې ۱۵ تنه مړه او ۳۰ ټپيان شول.
د وږي ۷ مه:
دتاجکستان جمهور رئيس امام علی رحمانوف له افغانستان سره داختلافاتو له منځه وړلو په غرض کابل ته راغی.
د وږي ۱۴ مه:
احمدشاه مسعود په جبل السراج کې دټلويزيون دستګاه فعاله کړه، سامان الات يې دکابل له مرکزي ټلويزيون څخه وړي وو.
د وږي ۱۸ مه:
دننګرهار جهادي شورا مرستيال حاجي شمالي خان ووژل شو.
د وږي ۲۰ مه:
ښاغلي حکمتيار اعلان وکړه حاضر يم چې استعفی ورکړم په دې شرط چې استادرباني هم استعفی ورکړي.
د تلې ٦ مه:
مجددي له استادرباني او حکمتيار څخه وغوښتل چې استعفی وکړي.
د تلې ۳۰ مه:
دقوماندان اسماعيل خان او دوستم ځواکونو ترمنځ په بادغيس کې جګړه وشوه چې ۲۰ تنه مړه او ۴۰ په کې ټپيان شول.
د لړم ۵ مه:

قوماندان مسعود بینظیر بوټو ته یو پیغام ولیږه او په پیغام کې یې ویلي، چې ددې کامیابي د بنسټپالو ناکامي ده.

**د لړم ۲٦ مه:**

د نظار شورا څلورو جنګي الوتکو پر سروبي باندې بمباري وکړه، ۵۰تنه شهیدان او ۷۰تنه په کې ټپیان شول، د دوکانونواوکورونو پرورانېدو سربېره یو جومات هم شهید شو.

**دلیندۍ۲٦ مه:**

داسلامي حزب او نظار شورا ترمنځ نښتو کې دنغلو بریښنا بند سره نږدې په بمباریو کې ۳۰ تنه مړه او ژوبل شول.

**د مرغومي۴ مه:**

دکابل پر ښار ۱۵ توغندي راپرېوتل، یو یې په منډیي کې ولګېده چې څلور تنه یې مړه او ۳۰تنه یې ټپیان کړل.

**د مرغومي ۵ مه:**

دتفاهم او ملي یووالي شورا یو شمېرغړو دپاکستان دبهرنیو چارو له وزیرښاغلي اصف احمدعلي سره ولیدل اودافغانستان دمسالې دسوله ییز حل په اړه یې ورسره خبرې وکړې.

**د مرغومي ٦ مه:**

دتفاهم اوملي شورا فعال غړی ولي خان کروخېل داسلام اباد- پېښور پر لار، نوښار سره نږدې ووژل شو(۴)

**د مرغومي ۱۱ مه:**

دهماهنګۍ شورا اوکابل چارواکوترمنځ په جګړه کې سل تنه مړه او درې سوه ټپیان شول.

**د مرغومي۱۵ مه:**

جنګونه تر مزار وروسته شیرخان بندر ته ورسېدل.

**د مرغومي۱٦ مه:**

د جنبش مرستیال جنرال مومن په یوه هوایي پېښه کې مړشو.

**د مرغومي۱۹ مه:**

په کابل کې متحاربو ډلواوربندوکړ، چې دخیریه موسسوغړي اوګڼ شمېر دیپلوماتان له کابله ووځي. پاکستان دافغاني کډوالو پرمخ بندیزونه سخت کړل.

د مرغومي ۲۰ مه:

دملګرو ملتو عمومي منشي او داسلامي هېوادونوکنفرانس په کابل کې داوربند غوښتنه وکړه.

د مرغومي ۲۱ مه:

دکابل دشهزاده سرای وسوځېد اوپه ملیاردونو پیسي یې لوټ شوې.

د مرغومي ۲۳ مه:

دملګرو ملتو دراپور له مخې ۱۰۰۰۰۰ افغاني کډوال پاکستان ته را اوښتي دي.

د مرغومي۲۹ مه:

دافغانستان پخواني پاچاوویل : زه هروخت دولس خدمت ته چمتویم، دافغانستان بحران دې دلویې جرګې له لارې حل شي.

د سلواغې ۱۹ مه:

دملګرو ملتو خاص استازی ستوریس موسورس جلال اباد ته لاړ اوله مولوي خالص سره یې وکتل. همدارنګه داصلاحي شورا مشر قوماندان حقاني داوربند په خاطر ترقوماندانانو وروسته استاد رباني سره وکتل.

د سلواغې ۲۳ مه:

وحدت ګوند هم په دهمزنګ کې د رباني ځواکونو سره په جګړو ورګډ شو.

دسلواغې ۲۴ مه:

محمودمستیري دافغانستان لپاره دملګرو ملتو خاص استازی وټاکل شو.

د سلواغې ۲۶ مه:

داصلاحي شورا مشرمولوي جلال الدین حقاني پر متحاربو ډلو اوه ورځنی اوربند ومانه.

د سلواغې ۲۷ مه:

دکاناډا حکومت له افغاني کډوالو سره د ۷۴ملیونو ډالرو مرستو اعلان وکړ.

د سلواغې ۲۸ مه:
په کابل کې اوربند بېرته مات شو.
د سلواغې ۳۰ مه:
د پاکستان بهرنیو چارو وزیر په جلال اباد کې له حکمتیار، حاجي عبدالقدیر او مولوي حقاني سره جلا جلا لیدنې وکړې.
د کب لومړۍ:
دملګرو ملتو دبشري حقوقو دکمیسیون مشر ارماکورا وویل: دکابل اوسنۍ جګړه په تېرو ۱۴کلونو کې بې ساري ده، دیوې نیمې میاشتې په اوږدو کې له کابله څلور لکه کابلیان وتلو ته اړشوي دي.
د کب ۲ مه:
څوافغانانو دپېښور د یوه لومړني ښوونځي له ۷۴ کوچنیانو او شپږ ښځینه ښوونکو ډك بس اسلام اباد ته وتښتاوه.
د کب ۳ مه:
دپاکستاني کوچنیانو تښتوونکي د پاکستاني کماندویانو دعملیاتو په نتیجه کې ووژل شول.
د کب۴ مه:
پاکستان په افغانستان کې خپل سفارت وتاړه.
د کب ۷ مه:
دپاکستان حکومت دجنرال ضیاءالحق په وخت کې افغانانو ته دورکړل شویو پاسپورټونو دمنسوخولو فیصله وکړه.
د کب ۱۴ مه:
د اسلامي حزب څواکونو کابل ته د ملګرو ملتونو دبشري مرستو کاروان ودراوه. دملګرو ملتو عمومي منشي دغه عمل وغانده.
د کب ۱۸ مه:
دپاکستان دکورنیو چارو وزیر نصیرالله بابر په یوه مرکه کې وویل: دافغانستان په اړه هره خبره کې د اعلیحضرت محمدظاهر شاه ګډون شرط دی(۵)

# ۱۳۷۳ ل کال

د ۱۳۷۳ ل کال د وري لومړۍ:

پر چهار اسياب د حکومتي الوتکو د بمبارۍ په ځواب کې دجنرال دوستم جټ الوتکو پر کابل بمونه واورول، چې په نتيجه کې ۵تنه مړه او ۴ تنه ټپيان شول.

د وري ۱۲ مه:

دملګرو ملتو ديونسکو اداري ووېل ، دنړۍ په بازارونو کې دافغانستان تاريخي اثار زښت زيات شوي . موږ له ټولو سوداګرو غواړوچې دغه اثار وانه خلي.

د وري ۱۴ مه:

دملګرو ملتونو دهيئت مشر ښاغلي مستيري په کابل کې له رباني سره وکتل.

د وري ۱۵ مه:

ښاغلی مستيری په چهاراسياب کې له ښاغلي حکمتيار سره وليدل.

د وري ۲۰ مه:

وروروسته له هغې چې پاکستان له خپلې خاوري دعربانو دايستلو پرېکړه اعلان کړه، له ۲۵۰ څخه زيات عربان افغانستان ته راوښتل.

د وري ۲۶ مه:

ښاغلي حکمتيار ووېل: دکابل حکومت تر ړنګېدو به جګړه بنده نه کړم، ۲۵ کاله نور هم دجنګ توانايي لرم.

د غويي ۹ مه:

دکابل چارواکو د خپلو بهرنيو چارو وزير ښاغلي امين ارسلا ټول بهرني سفرونه او قراردادونه بې اعتباره او غير رسمي وګڼل.

د غويي ۱۳ مه:
دملګرو ملتو خاص استازی مستيري په افغانستان کې د تنظيمونو له مختلفو استازو سره ترليدنې وروسته تهران او مسکو ته لاړ.
د غويي ۱۹ مه:
ښاغلی مستيري په روم کې دافغانستان له پخوانـي پاچامحمدظاهرشاه سره وليدل.
د غويي ۲۰ مه:
دافغانستان په شمال کې دزلزلې لـه امله ۶۶ کسان مړه ، ۱۸۰تنه ژوبل، ۱۸۰۰۰کورونه ، ۸۰ جوماتونه او ۱۵ ښوونځي ړنګ شوي دي.
د غويي ۲۲ مه:
جنرال عبدالرشيد دوستم په يوه مرکه کې وويل :دمستيري دسولې پلان منلو ته تيار يو، خودمولوي جلال الدين حقاني طرحه نه منو.
د چنګاښ ۳ مه:
پـه جـلال ابـاد کـې دځينـو تنظيمـي مشـرانو مجـددي ، حکمتيـار،دوسـتم اودوحدت ګوند استازو غونډه جوړه شوه.
د چنګاښ ۱۱ مه:
عبدالعلي مزاري بيا دوحدت ګوند مشر وټاکل شو.
د غويي ۱۷ مه:
دکونړ ځنګلونو ته دځينو قاچاقبرانو له خوا اور واچول شو چې څو ورځې روان و.
د چنګاښ ۲۲ مه:
ډاکتر حامد الغابد په کابل کې رباني سره وکتل.
د چنګاښ۲۲ مه:
په خيرخانه کې دمتحاربو ډلو ترمنځ په نښته کې ۸ تنه مړل شول.
د چنګاښ ۲۳ مه:
مېرمن رافيل وويل: امريکا دافغانستان په ارتباط په کلکه دملګرو ملتونـود هڅو ملاتړ کوي.

د چنګاښ ۲۹ مه:
په هرات کې یوه غونډه پیل شوه ، چې دسلوپه شاوخوا کې افغانان له بهرنیو هېوادونو څخه ورته راغلي وو.
د زمري ۱ مه:
دپاکستان حکومت او ملاراکټي ترمنځ دیرغمل شویوکسانو تبادله وشوه.
د زمري ۳ مه:
مستیري دهماهنګۍ شورا له استازو پیرسید احمدګیلاني او شیخ اصف محسني سره وکتل.
د زمري ٦ مه:
د اسلامي حزب یومشهور قوماندان ناصرخان په لغمان کې ووژل شو.
د زمري ۱۷ مه:
دبغلان په نهرین کې دنظارشورۍ او هماهنګۍ شورۍ ترمنځ تود جنګ ونښت.
د زمري ۲٦ مه:
له کابله ډیلي ته تلونکې داریانا الوتکه دپاکستان له فضایي حدودو څخه دسرغړونې په تور په پېښور کې راښکته کړای شوه.
د وږي لومړۍ:
دکابل پر خیرخانې سیمه دجنرال دوستم دالوتکو په بمباریو ۱۵ مړه او نور زیات ژوبل شول.
د وږي ۲ مه:
دملګرو ملتو ځانګړي استازي په اسلام آباد کې له مولوي محمدنبي، پیرسید احمدګیلاني ، شیخ اصف محسني، حشمت الله مجددي، ارغندیوال، داکتر طالب ، مسعود خلیلي، علاوالدین اونورو سره وکتل.
د وږي ۴ مه:
پر میدان ښارد رباني الوتکو دبمباریو له امله ۵ تنه مړه او ۱۵ ژوبل شول. همدارنګه په کندهار کې د اسلامي حزب اواسلامي اتحاد دځواکونو ترمنځ جګړه پیل شوه.

د وري ۷ مه:

پر کابل دتوغندیو په برید کې ۳۱ تنه ووژل شول.

د وري ۸ مه:

دجنرال دوستم ځواکونو دخنجانو ځینې برخې ونیولې.

د وري ۱۳ مه:

درباني استازو د دوستم داستازو دموجودیت په پلمه په اسلام آباد کې دمستیرې ترنظارت لاندې کېدونکې غونډه وځنډوله.

د وري ۱٦ مه:

مستیري کندهار ته لاړ.

د وري ۲۷ مه:

د وحدت حزب او اسلامي حرکت ترمنځ په څلور ورځنیو سختو نښتو کې تراوسه ۶۰۰ تنه مړه او ژوبل شوي دي.

د وري ۲۹ مه:

دکابل په جنوب لویدیزه اودمرنجان غونډۍ په جګړوکې له ۹۰ نه زیات کسان ووژل شول.

د وري ۳۰ مه:

د حزب وحدت او حرکت اسلامي ترمنځ په نویو نښتو کې ۲۱ تنه مړه او ګڼ شمېر ژوبل شول.

د تلې ۷ مه:

دپاکستان په کوټې ښار کې دمحمود مستیري په مشرۍ افغاني مشورتي ډلې خپله لومړنۍ غونډه وکړه.

د تلې ۲۰ مه:

دنړیوال سره صلیب منابع وایي چې دروان کال دسپتمبر په میاشت کې د کابل په جګړو کې ۱۱۰۰ کسان مړه ۲۳۰۰۰ ژوبل او ۲۰۰۰۰ دمعمولي درملو تر حاصلولو وروسته له روغتونو رخصت شوي دي. د تلې ۲۲ مه:

د طالبانو په نامه نوي جریان له ۴ ورځنی جنګ وروسته دحزب اسلامي له ځواکونو سپین بولدك ونیو.

دلړم ۴ مه:
دپاکستان دمرستو کاروان په کندهار کې ایسار او ودرول شو.
د لړم ۱۴ مه:
دکندهار په تخته پل کې دطالبانو او ځینو قوماندانانو ترمنځ جګړه هماغسې روانه ده.
د لړم ۱۵ مه:
دملي اسلامي محاذ یو قوماندان حاجي عارف خان دخپلو دوو زامنو اووراره په ګډون دننګرهار په ثمرخېلو کې ووژل شول.
د لړم ۱٦ مه:
منځنۍ اسیا ته دپاکستان تلونکی ایسارشوی کاروان کندهار ته ورسېد.
د لړم ۲۰ مه:
ملګرو ملتونو په افغانستان کې دضروري بشري مرستو په خاطر د ۱۶۰ ملیونو ډالرو غوښتنه وکړه.
د لړم ۲۱ مه:
په اسیایي چارو کې دامریکا دبهرنیو چارو دوزارت مرستیاله مېرمن رابین رافیل جلال اباد ته ورسېده.
دلړم ۲۵ مه:
دسره صلیب شمېرنې وایي : په تېرو درېیو میاشتو جنګ کې په افغانستان کې ۲۰۰۰ تنه وژل شوي دي.
د لیندۍ ۱۱ مه:
دملګرو ملتو عمومي سرمنشي بطروس غالي د کابل له واکمنو څخه د پخواني صدر نجیب الله دپرېښودو هیله وکړه.
د لیندۍ ۳۰مه:
ملګري ملتونه غواړي دسالنګ پر لویه لاړ دخپلومرستو کاروانونه ولېږدوي.
د مرغومې لومړۍ:
ښاغلي حکمتیار او رشید دوستم دپاکستان له صدراعظمې بینظیر بوټو سره وکتل(۶).

د مرغومي ۱۱ مه:
دافغانستان لپاره دملګرو ملتو خاص استازی ستورس مشورس وظیفه پایته ورسېده.
د مرغومي ۱۲ مه:
پر بدخشان باندې دروسي الوتکو په بمبارۍ کې ۸ تنه مړه شول.
د مرغومي۱٦ مه:
مستيري په جلال اباد کې له حکمتيار سره وليدل.
د مرغومي ۱۹مه:
په کندز کې دمتحاربو ډلو ترمنځ په نښتو کې لس کسان مړه او ۱۷ ژوبل شول.
د مرغومي ۲۲ مه:
پربدخشان دروسي الوتکو دخلورمې بمبارۍ‌په لړ کې ۱۵ کسان مړه او له ۳۰ نه زيات ټپيان شول.
د مرغومي ۲۳ مه:
ښاغلي مستيري په کندهار کې له طالبانو سره دسولې دپلان په باب خبرې وکړې.
د مرغومي ۳۱ مه:
په غزني کې د اسلامي حزب او اسلامي جمعيت دقوماندانانو ترمنځ په نښتو کې ۲۵ کسان مړه او ګڼ شمېر ټپيان شول.
د سلواغې لومړۍ:
پرکابل دراکټونو داورېدو له امله ۲۳ تنه عام خلك ووژل شول.
د سلواغې ۷ مه:
په کندز کې دهماهنګۍ شورا او دکابل اداري ترمنځ جنګ ونښته، په دې جنګ کې اووه کسان مړه شول او ۲۰ تنه ژوبل شول.
د سلواغې ۸ مه:
تاجکستان يوه افغاني الوتکه په زورکوزه کړه.
د سلواغې ۱٦ مه:
حزب اسلامي له طالبانو سره خبرې اترې پيل کړې.

د سلواغې ۱۹ مه:
دافغانستان دمعززینو ، قومي مشرانو او کابل ولایت دشوری غړو په ګډون په پېښور کې یوه مظاهره وشوه. دغې مظاهرې خپل پرېکړه لیك دملګرو ملتونو دفتر ته وسپاره.
د سلواغې ۲۲ مه:
طالبانو میدان ښار ونیو.
د سلواغې ۲٦ مه:
حزب اسلامي چهار اسیاب طالبانو ته بایلود.
د سلواغې ۲۷ مه:
طالبانو خوست ونیو.
د کب لومړۍ:
په کابل کې یو شمېر خلکو د ایران دسفارت مخې ته مظاهره وکړه او په افغانستان کې یې د ایران مداخله وغندله.
د کب ۲ مه:
دکابل چارواکو له طالبانو سره دسولې لپاره له مولانا فضل الرحمن څخه مرسته وغوښته.
د کب ۸ مه:
دطالبانو دتحریك مرستیال ملامحمدرباني چې په حاجي معاون مشهور دی له احمدشاه مسعود سره په میدان ښارکې لیده کاته وکړل. دکابل چارواکو له طالبانو سره دملګرتیا تصدیق وکړ.
د کب ۹ مه:
دافغانستان لپاره دملګروملتو دبشرحقوقو ځانګړي استازي فلیکس ارماکورا په ویانا کې ساه ورکړه.
د کب ۱۰ مه:
په کندهار کې شرعي عدالت خپل لومړی پرېکړه لیك واوراوه. دغلاپه الزام یې دهغو درېیو کسانو چې دهلمند په لویه لاره کې یې غلا کوله ښي او لاسونه غوځ کړل.

د کب ۱۵ مه:

ملاراکټي خپله ټوله وسله طالبانو ته ورکړه.

د کب ١٦ مه:

طالبانو دهرات والي اسماعیل خان جنګي الوتکه دفراه ولایت د دلارام په ولسوالۍ کې وویشته.

د کب ۲۰ مه:

دحرکت اسلامي مشر مولوي محمدنبي محمدي دکابل له چارواکو نه خپله لار بېله کړه.

د کب ۲۲ مه:

دحزب وحدت مشر عبدالعلي مزاري طالبانو ونیو او لاس تړلی یې چهاراسیاب ته بوته.

د کب ۲۳ مه:

دحزب وحدت مشر عبدالعلي مزاري ووژل شو.

د کب ۲۸ مه:

طالبانو دنیمروز ولایت ونیو(۷).

# ۱۳۷۴ ل کال

**د ۱۳۷۴ل کال د وري ۲ مه:**
طالبانو دکابل اداري یو جنګي الوتکه راوغورځوله.
**د وري ۸ مه:**
عبدالعلي مزاري په مزارشریف کې ښخ کړی شو.
**د وري ۹ مه:**
دقروغ غر دطالبانو لاس ته ورغی.
**د وري ۱۱ مه:**
له کابل ښار نه دباندې په یو لوی قبر کې ۲۲ مړي چې لاسونه یې شاته تړل شوي وو او پر سرونو باندې په ګولیو ویشتل شوي وو وموندل شول.
طالبانو دشینډنډ درې امنیتي کمربندونه مات کړل.
**د وري ۱۳ مه:**
صبغت الله مجددي دهماهنګۍ شورا رئیس وټاکل شو.
**د وري ۱۶ مه:**
دکابل اداري تر درې کلنې وقفې وروسته دکابل پوهنتون په رسمي توګه پرانیست.
**دوري ۱۷ مه:**
دپنجشېر په زندان کې ۶۱ کسان مړه شول.
**د غویي لومړۍ:**
طالبانو په فراه کې داسماعیل خان پر لومړیو لیکو بریدوکړ.
**د غویي ۳ مه:**
دکابل چارواکو له خان عبدالولي خان نه دافغانستان کرکېچ د هوارۍ لپاره مرسته وغوښته.

د غويي ۸ مه:
افغان کميشنر رستم شاه مومند کابل ته لاړ او د کابل له چارواکو سره دمهاجرينو دبېرته ستنېدو په اړه وغږېده.
دغويي ۱۳ مه:
دايران حکومت دافغانانو دلېږلو کارپيل کړ.
د غويي ۱۴ مه:
هندوستان په کابل کې خپل سفارت بيا پرانيست.
د غويي ۳۰ مه:
دکابل اداري او د دوستم د جنبش ترمنځ د خبرو لپاره ددواړو خواوو هيئتونه دازبکستان مرکز تاشکند ته ولاړل.
د غبرګولي لومړۍ:
دهماهنګۍ شورا مشر ښاغلي مجددي وويل : دوستم زما په مشوره مسکو ته تللی دی.
د غبرګولي ۲ مه:
دباميانو ښار دحزب وحدت (کريم خليلي) ځواکونو ونيوه.
د غبرګولي ۹ مه:
دالمان دبهرنيو چارو وزارت يو هيئت کابل ته لاړ او هلته يې دسفارت دپرانيستو اراده څرګنده کړه.
د غبرګولي ۱۰ مه:
دسعودي عربستان داستخباراتو رئيس جنرال ترکي الفيصل په پاکستان کې دجهادي مشرانو ترليدو وروسته کابل ته ولاړ.
د غبرګولي ۱۲ مه:
دامريکا سفير جانمونجو دحزب اسلامي مشر ښاغلي حکمتيار سره په جلال اباد کې دافغانستان دمسالې په اړه خبرې وکړې.
د غبرګولي ۱۴ مه:
په سالنګ کې دکابل اداري او جنرال دوستم ترمنځ له يوه اوږده اوربند وروسته نښتې وشوې.

د غبرگولي ۱۵ مه:
دحزب وحدت (کریم خلیلي) دبامیانو ښار په پوره توگه تصفیه کړ.
د غبرگولي ۱٦ مه:
دامریکاسفیر جانمونجو کابل ته لاړ او هلته به له رباني ، مسعود ، سیاف او نورو سره خبرې اترې وکړي.
د غبرگولي ۲۷ مه:
دهماهنگۍ شورا الوتکو دکابل پر ارگ او نوي ښار بمبارۍ وکړې ، څلور کسان مړه او گڼ ژوبل شول.
د چنگاښ ۸ مه:
دافغانستان دپخواني پاچا څانگړی استازی سردار عبدالولي پاکستان ته راورسېد اوتودهرکلی یې وشو.
د چنگاښ ۱۸ مه:
دجلال اباد ښار په یوې چاودنه کې پنځه کسان مړه او اوه تنه ژوبل شول.
د چنگاښ ۲٦ مه:
په وردگو کې دطالبانو دوسلو په یوه ډیپو کې چاودنه وشوه.
د زمري ۷ مه:
دملگرو ملتو خاص استازی مستیري په اسلام آباد کې دپخواني پاچا له استازي سردار عبدالولي سره لیدنه وکړه.
د زمري ۱۲ مه:
دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر سردار اصف علي کابل ته ورسېد.
د زمري ۱۳ مه:
طالبانو په کندهار کې د روسیې یوه ترانسپورتي الوتکه چې په نظامي مهماتو بار وه، کوزه کړه.
د زمري ۱۵ مه:
دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر سردار اصف علي له طالبانو سره دخبرو لپاره کندهار ته ولاړ.
د زمري ۱۹ مه:
دکابل د دارالامان، کارته سه او کوټه سنگي پرسیمو دتوغندیو په برید کې

۲۲ کسان مړه شول.
د زمري ۲۱ مه:
دجوزجان ولایت دخرم په سیمه کې دکابل اداري او د دوستم قواوو ترمنځ نښتې وشوې ، چې ددوستم ۴۰ کسان په کې ووژل شول.
د زمري ۲۲ مه:
دکابل اداري له روسیې نه نظامي مرسته وغوښته.
د زمري ۲۵ مه:
دطالبانو او روسیې ترمنځ دراکوزې شوې الوتکې په باب خبرې پیل شوې.
د زمري ۳۱ مه:
تهران او کابل پر اقتصادي همکارۍ متفق شول.
د وږي لومړۍ:
پر کرمه باندې دکابل اداري دالوتکو په بمبارۍ کې یومکتب خراب شو.
د وږي ۵ مه:
دکابل اداري ځواکونو دهلمند ولایت درې ولسوالۍ ونیولې او دګرشک ولسوالۍ ته ورننوتل. بله خوا طالبانو لومړی ځل د دلارام پرسمیه بمباري وکړه.
د وږي ۹ مه:
دکابل اداري اوهند دنظامي مرستو تړون لاسلیک کړ.
د وږي ۱۲ مه:
ددوستم الوتکو دبګرام او هرات پر هوایي ډګرونو بمباري وکړه.
د وږي ۱۲ مه:
په سروبي کې دکابل اداري او اسلامي حزب په نښتوکې دسروبي زیات شمېر اوسېدونکو ننګرهار او پېښور ته کډه وکړه.
طالبانو دشینډنډ هوایي ډګر ونیو، چې ۲۹ جیټ الوتکې او ۶هلیکوپټرې او دتیلو ذخیرې په کې شاملې دي.
د وږي ۱۵ مه:
طالبانو دخپلو بریدونو په لړکې دهرات ښار په بشپړه توګه ونیوه.
د وږي ۱٦ مه:
په کابل کې د رباني اداري په لمسون په زرګونو خلکو دپاکستان پرسفارت

برید وکړ چې په دې برید کې یو تن مړشو او ودانۍ ته زیان ورسېد.
**د وږي ۱۷ مه:**
پاکستان په کابل کې خپل سفارت بند کړ.
**د وږي ۱۸ مه:**
په ډیلي کې ۲۰۰ افغانانو دپاکستان دسفارت مخې ته مظاهره وکړه.
**د وږي ۲۱ مه:**
دجلال آباد په هوایي ډګر کې داریانا افغان هوایي شرکت یوه انتونوف ۲۶ ډوله مسافر وړونکې الوتکه دکوزېدو پر وخت ولوېده، چې درې کسان په کې مړه او ۴۴ کسان په کې ژوبل شول.
**د وږي ۲۵ مه:**
دهرات ولایت مرکز په یوه چاودنه کې دطالبانو دوه تنه ژوبل شول.
**د وږي ۳۱ مه:**
پاکستان ۱۳ افغاني دیپلوماټانو ته دوتو حکم وکړ.
**د تلې ۲ مه:**
حرکت انقلاب اسلامي له طالبانو نه دملاتړ اعلان وکړ.
**د تلې ۵ مه:**
دخوست طالبانو اعلان وکړ چې خارجي موسسې به زموږ په شرطونو کارکوي.
**د تلې ۲۰ مه:**
طالبانو پرکابل باندې دبرید په نتیجه کې چهاراسیاب، خیراباد، دریشخورو فرقه، بني حصار، بګرامي، بتخاك، خرخي پل، دارالامان، چهلستون او دریمي کارتې سیمې ونیولې او دمیدان ښار له لارې شکردرې ته ورسېدل.
**د تلې ۲۲ مه:**
جنرال دوستم وویل: طالبان، رباني او مسعود بنسټپال دي، طالبان که له بنسټپالنې نه لاس وانخلي نو په افغانستان کې به دوه قوتونه (شمال اوجنوب) پاتې شي.
**د تلې ۲۴ مه:**
پر هرات باندې دایران له حدودو نه حمله وشوه.

د تلې ۳۰مه:
دکابل ښار پر مرکزي برخه دتوغنديو دلګېدو لـه امله ۱۳ تنه مړه او ۳۰ تنه ژوبل شول.
دلړم ۴ مه:
دکابل هوايي ډګر دطالبانو له خوا په توغنديو ويشتل شو، چې ۷ توغندي دترمينل دوداني مخې ته ولوېدل.
د لړم ۵ مه:
دکابل اداري دړنګولو لپاره د طالبانو او هماهنګۍ شورا خبرې پيل شوې.
د لړم ۹ مه:
مېرمن رافيل دکابل شمال کې دبګرام په هوايي ډګر کې د نظارشورا لـه مشر احمدشاه مسعود سره وکتل.
دلړم ۱۱ مه:
دافغانستان نامتو شخصيت او دتفاهم اوملي يووالي دشورا عمومي سکرتر جنرال عبدالحکيم کتوازی په پېښورکې دنامعلومو وسله والو کسانو له خوا ووژل شو.
د لړم ۱۳ مه:
دتفاهم اوملي يووالي دشورې غړی وکيل محمدځدراڼ په پېښور کې دنامعلوموکسانو له خوا وژل شو.
د لړم ۱۸ مه:
دپاکستان دبهرنيو چارو وزير سردار اصف علي د دوستم په بلنه دافغانستان شمال ته ورسېد او په شبرغان کې يې د جنرال دوستم ليدنه وکړه.
د لړم ۲۱مه:
دترکمنستان حکومت له طالبانو سره له خبرو اترو وروسته ۸ افغاني بنديان خوشې کړل.
د لړم ۲۴ مه:
دايران دبهرنيو چارو وزير علاوالدين بروجردي له استاد رباني او احمدشاه مسعود سره وليدل.

دلړم ۲٦ مه:

محمود مستیري خپله نوې طرحه ښکاره کړه. په دې کې یې د۲۸ افغانانو دیوې شورى نومونه راښکاره کړل چې داشورى به له رباني نه قدرت اخلي ، په افغانستان کې دنوي پوځي توازن په وجه رباني مجبور شوی چې داقتدار دانتقال نوې طرحه ومني.

د لړم ۲۷ مه:

طالبانو دمحمود مستیري نوې طرحه رد کړه.

د لړم ۲۸ مه:

دهماهنگۍ شورى دمحمود مستیري نوې طرحه رد کړه.

د لیندۍ ۳ مه:

د طالبانو له خوا دځرخي پله زندان تر نیولو وروسته له کابل نه په زرگونو خلکو جلال آباد ته کډه وکړه.

د لیندۍ ۷ مه:

صبغت الله مجددي دهماهنگۍ شورى له مشرۍ نه استعفى وکړه.

د لیندۍ ۱۱ مه:

دکابل دخواجه رواش پر هوایي ډگر باندې نامعلومو الوتکو خلور بمونه وغورځول.

د لیندۍ ۱۴ مه:

دکابل په ارگ کې اور ولگېد چې ددغې تاریخي ودانۍ یوه برخه یې وسوځوله.

د لیندۍ ۱۵ مه:

دطالبانو دپرمختگونو له وېرې دکابل چارواکو دامن دراوستلو لپاره له ملگرو ملتونو سره دامن دنړیوالې ډلې دجوړېدو وړاندیز وکړ.

د لیندۍ ١٦ مه:

دپاکستان حکومت خپل سفارت په موقتي توگه په جلال آباد کې پرانیست.

د لیندۍ ۲۰ مه:

دکابل اداري ویاند عزیز مراد وویل چې : پاکستان دې خپل سفارت په کابل کې پرانیزي.

د لیندۍ ۲۲ مه:

دکابل ادارې دهوايي چلند وزير داکټر عبدالرحمن دوسلو داخيستو لپاره مسکو ته لاړ.

د لیندۍ ۲۳ مه:

دهرات والي ملايارمحمد اخند او هرات کې دايران دکونسل ترمنځ دافغانستان او ايران دارېکو په باب خبروکې طالبانو له ايران څخه په مشهد ښارکې دقونسلګرۍ غوښتنه وکړه.

دلیندۍ ۲۵ مه:

مولوي محمدنبي محمدي په يوه مرکه کې وويل : دکابل ادارې له منځه وړل ضروري دي، ځکه چې ټول قومونه ددوی پرخلاف دي.

د لیندۍ ۲۹ مه:

د جنرال دوستم ځواکونو سالنګ دلويې لارې په اوږدوکې دکابل ادارې پرضد جګړه پيل کړه.

د لیندۍ ۳۰ مه:

دکابل پرښار باندې د ۱۹ توغنديو دبريد له امله ۸ تنه مړه او ۱۵ تنه ژوبل شول.

د مرغومي ۴ مه:

دپېښور صدرکې دموټر دبم له چاودنې نه ۶۹ ساعته وروسته افغان کونسل جنرال محمدموسی ته له پاکستان نه دوتو حکم صادرشو.

د مرغومي ۷ مه:

طالبانو دپکتياوالو په وړانديز دوسلو دټولولو په خبره تيره کېښوده.

دمرغومي ۸ مه:

دايران دبهرنيو چارو وزير علاو الدين بروجردي له دوستم، ډاکټر عبدالرحمن او کريم خليلي سره خبرې وکړې.

د مرغومي ۹ مه:

دکابل ادارې يو پلاوی دجنرال دوستم دملاتړ ترلاسه کولو لپاره شبرغان کې له دوستم سره ليده کاته وکړل(۸)

د مرغومي ۱۳ مه:
پرکابل ښار باندې دراکټونو په یوه حمله کې څلور تنه مړه او ۲۶ نور ژوبل شول. په دغه ډله کې درې تنه د یوکور ماشومان وو.

د مرغومي ۱۴ مه:
دکابل ښار په پل سوخته ، قلعه شاده او کارته سه سیمو کې بې شمېره توغندي راپرېوتل، چې ۲۲ تنه په کې مړه او ۵۲ تنه په کې ټپیان شول.

د مرغومي ۱۵ مه:
دپاکستان صدراعظمې بېنظیر بوټو وویل: دکابل اوسنۍ انتظامیه دټولو افغانانو نماینده نه ده او دغه خانه جنګي ټولې نړۍ ته دهشتګردۍ خوروي. نو ددغې خانه جنګۍ دختمولو او دوسلو د راټولولو لپاره باید افغانستان ته ملګري ملتونه خپل دامن پوځ راولېږي.

د مرغومي ۱٦ مه:
دافغانستان لانجې دهوارۍ لپاره ایران دافغان مشرانو دیو کنفرانس درابللو تجویز وړاندې کړ.

د مرغومي ۱۷ مه:
دملګرو ملتو یو غذایي کاروان په ۹۰ لاریو کې غنم، اوړه، غوړي او نور کابل ته ورسول.

د مرغومي ۲۱ مه:
دافغان لانجې دهوارۍ په اړه د ایران دخارجه وزیر ډاکټر ولایتي په مشرۍ یو هئیت پاکستان ته راغی. پر پاکستاني مقاماتو سربېره یې له پیرسیداحمدګیلاني او مولوي محمد نبي محمدي سره هم ملاقاتونه وکړل.

د مرغومي ۲۴ مه:
دافغانستان لپاره دملګرو ملتو خاص استازي مستیري پر طالبانو غږ وکړ چې دافغان لانجې د حل لپاره باید دسولې لاره خپله کړي ، ځکه چې دجنګ له لارې مسلې نه حلېږي.

د مرغومي ۲۹ مه:
دحزب اسلامي مشرحکمتیار پېښور کې دیو مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې وویل :جګړه به هغه وخت ختمېږي، چې روسان اودهغوی پلویان په افغانستان

کې مداخله بنده کړي، ځکه چې ددوی مداخلې دمنطقې نورطرفونه هم هڅولي دي.

د سلواغې لومړۍ:

جنرال دوستم په لندن کې یوه مرکه کې له کابل رژیم سره داتحاد خبره ردکړه. ده وویل: که چېرې زه له رباني سره ملګری شم نو دا دافغانستان په ګټه نه ده ځکه چې یوطرف ته به پښتانه او بل طرف ته به تاجك او ازبك وي اوافغانستان به پر دوو ډلو ووېشل شي چې دابه ډېره لویه تباهي رامنځته کړي.

د سلواغې ۳ مه:

دکابل اداري له خوا چې یو اړخیز اوربند اعلان شوی و ،دهماهنګۍ شورا او طالبانو له خوا ردشو.

د سلواغې ٦ مه:

په اسلام اباد کې دملګرو ملتونو دخوراکي موادو دپروګرام اداري اعلان وکړ چې پر ۱۹۹۶ کال به ۱۸۰ ټنه غنم افغانستان ته دمرستې په توګه ولېږي.

د سلواغې ۹ مه:

ددې ورځې پر یوولسو بجو پر ارګ باندې پنځه توغندي پرېوتل او دهمدې ورځې پر مازیګر یوې جیټ الوتکې دپل محمودخان پر شاوخوا بمباري وکړه.

د سلواغې ۱۲ مه:

دکابل ښار په جنوب کې د حکومت او طالبانو دځواکونو ترمنځ دډزو له امله لس تنه هغه افغانان چې خپلو کورونو ته یې په بایسکلونو خوراکي مواد رسول ووژل شول.

د سلواغې ۱۳ مه:

دملګرو ملتو خاص استازي محمود مستیري په کندهار کې دطالبانو دعالي شورۍ ځینو غړو اودکندهار والي سره وکتل.

د سلواغې ۱۴ مه:

په کابل ښار کې زرګونو اوسېدونکو دزیاتې قیمتۍ او دخوراکي موادو دنشتوالي له امله مظاهره وکړه. کله چې مظاهره چیان دارګ مخې ته ورسېدل د وسله والو کسانو له خوا وربانديې ډزې وشوې چې په نتیجه کې درې تنه مړه او نورژوبل شول.

د سلواغې ۱۸ مه:

دکندز ولایت دامام صاحب په ولسوالۍ کې دشوری نظار او دملي اسلامي محاذ دقوماندانانو ترمنځ دسختې جګړې له امله ۱۱۰ کسان مړه اوزیات شمېر نور ژوبل شول.

د سلواغې ۱۹ مه:

جنرل دوستم دچارشنبې پر ورځ د لسو ورځو په دوره اسلام اباد ته راورسېد. دی به په پاکستان کې افغان مشرانو، دپاکستان له جمهور رئیس، صدراعظمې او نورو لوړ رتبه مامورینو سره خبرې اترې وکړي.

د سلواغې ۲۲ مه:

په اسلام اباد کې دهماهنګۍ شوری سرمشریزه غونډه وشوه، چې په کې حکمتیار، دوستم، مجددي، کریم خلیلي، محقق او ځینو نورو غړو ګډون کړی و. په دې غونډه کې دخپلمنځي اختلافاتو دلرې کولو او دوروستیو انکشافاتو په پالیسو موافقه وشوه او هم غوښتنه وشوه چې دپاکستان له خوا باید پر طالبانو فشار راوستل شي چې مذاکراتو ته یې تیار شي.

د سلواغې ۲۳ مه:

داستاد رباني اداري په اسلام اباد کې دهماهنګۍ شوری غړو د غونډې مخالفت وکړ. ده وویل: د افغان لانجې دهوارۍ لپاره داسې غونډې هغه وخت موثرېدی شي چې په کابل یادافغانستان په نورو ولایاتوکې وشي.

د سلواغې ۲۷ مه:

دافغانستان مرکز دکابل په ارګ کې دوسلو او باروتو په یوه ذخیره کې دسختې چاودنې له امله شپېتو نه زیات کسان مړه او سوونه کسان ژوبل شول، ویل کېږي چې دچاودنې په وخت کې ښاغلی رباني او نور وزیران په ارګ کې موجود نه وو.

د سلواغې ۲۸ مه:

دملګرو ملتو امنیت شوری په یوه اعلامیه کې دافغانستان له ګاونډیو ملکونو نه غوښتي دي چې په افغانستان کې نوره مداخله بنده کړي او دجنګونو دختمولو لپاره دملګرو ملتونو دکوښښونو پلوي وکړي، ځکه دغه جګړې دسیمې ټولو هېوادونو ته دهشت ګردي او بې ثباتي خپروي.

د کب ۲ مه:

د افغانستان پخوانی پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه په خپل پیغام کې افغانانو ته دکوچني اختر مبارکي ورکړه او پر دې خبره يې خواشيني ځرگنده کړه چې تېرو اوولسو کالو کې دروسانو یرغل نه دراپیدا شوو ناخوالو په نتيجه کې پرافغانانو داختر ښې ورځې په غم تېرېږي. ده پر ملگرو ملتو غږ وکړچې دوسلو پر لېږلو نظارت وکړي او امنيت شورى دې بايد ژر تر ژره د جنگ بندولو کوښښ وکړي.

د کب ۵ مه:

په کابل کې دطالبانو او رباني د ځواکونو ترمنځ سختې نښتې وشوې، درباني الوتکو دطالبانو پر مورچلو درنې بمبارۍ وکړې.

د کب ۹ مه:

پروفيسور مجددي وويل: د حکمتيار او رباني ترمنځ چې کوم مذاکرات روان دي له دې سره زموږ هېڅ تعلق نه شته.

دکب ۱۰ مه:

په نيمروز کې دايران سرحدي واکمنو پرطالبانو ډزې وکړې په مقابل کې طالبانو غبرگون وښود چې له دې امله دايران درې پوستې ونيول شوې او دايران دملېشو گڼ کسان په کې مړه شول.

د کب ۱۳ مه:

په بغلان ولايت کې دحکمتيار او دوستم دځواکونو ترمنځ سخته جگړه وشوه، دغه جگړه دحزب اسلامي ديومخور غړي تروژل کېدو وروسته وشوه.

د کب ۱۳ مه:

دکابل اداري مشر ښاغلی رباني ديوهيئت په مشرۍ په دو ه ورځني سفر ايران ته لاړ.

د کب ۱۴ مه:

دهماهنگۍ شورى دغړو تنظيمونو په يوه غونډه کې دايران ددې عمل غندنه وشوه چې استادرباني ته يې ديو ملك دجمهور رئيس په حيث رسمي بلنه ورکړې وه.

د کب ۱۷ مه:

پیرسیداحمدگیلاني وویل : له ټولو مخالفو ځواکونو نه باید یوه شریکه جبهه جوړه شي. چې استاد رباني باندې سیاسي فشار زیات شي او هغه مجبور شي د منلو وړ یو لنډ مهالي حکومت ته قدرت انتقال کړي.

د کب ۲۴ مه:

دتهران راډیو وویل :د راتلونکې میاشتې په پیل کې به دوه نیم لکه افغانان دترکمنستان په لاره افغانستان ته اړول کېږي او ددوی لپاره به ملګري ملتونه ترانسپورټي امکانات برابروي.

د کب ۲۵ مه:

داروپایي هېوادونو اتحادیې له افغاني ډلو څخه وغوښتل چې خپلمنځي جنګونه بند کړي اوپرېږدي چې خلکو ته بشري مرستې ورسېږي، ځکه چې خلك بشري مرستو ته ډېر زیات ضرورت لري.

د کب ۲٦ مه:

له دوو کالو او دوو میاشتو وروسته دنغلو او ماهیپر دبرق له سټیشنونو نه دکابل ښار ځینو برخو ته برېښنا ورکړل شوه.(۹)

# ۱۳۷۵ ل کال

د۱۳۷۵ ل کال د وري ۸ مه:

دطالبانو يوه ډيپوکې سخته چاودنه وشوه،دطالبانو وياندوويل: په کندهار کې له مختلفو ساحو نه مهمات راټول شوي چې ځينو مرکزونو ته انتقالېدل، په دې کې چاودنه وشوه اومرګ ژوبله نه ده رسېدلې.

د وري ۱۱ مه:

دکابل ښار زرنګار پارك کې درې کسان دخلکو په مخ کې په علني توګه اعدام شول.

د وري ۱۳ مه:

دطالبانو او حزب وحدت (خليلي) ترمنځ په ميدان ښارکې له مذاکراتو وروسته داستاد رباني خلاف دشريکي سياسي اوپوځي جبهې دجوړولو موافقه وشوه. دغه غونډه کې يو کميسيون هم وټاکل شو چې د مزاري دقتل تحقيقات وکړي.

د وري ۲۰ مه:

دامريکا يو هئيت دسناتور براون په مشرۍ کابل او جلال اباد کې دځينو ډلو له مشرانو سره ليدنه کتنه وکړه.

د وري ۲۴ مه:

دملګرو ملتو عمومي منشي د افغان لانجې دحل لپاره د نړيوال کنفرانس د رابللو وړانديز وکړ، ده وويل دډلو مشرانو ته له بهرنيو ملکونو څخه مرستې رسېږي او هغوی يې په خپل منځ کې په جنګ اچولي او حالات يې ډېر خراب کړي دي.

د وري ۲۹ مه:

مېرمن رافيل دپنځو ورځو په دوره اسلام اباد ته راورسېده.

د غويي لومړۍ:
مېرمن رافيل په کابل کې دواکمنو اوکندهار کې دطالبانو او ننګرهار کې له ځينو مشرانو سره ليدنه کتنه وکړه.
د غويي ۱۴ مه:
ملګرو ملتونو په افغانستان کې دماينونو دپاکولو لپاره دپنځوس مليونه ډالرو عاجلو مرستو غوښتنه وکړه.
دغويي ۱۷ مه:
ښاغلي مجددي وويل : دقاضي حسين احمد دروغجن جوړې له کوښښونو نه افغانستان ته هېڅ ګټه نه رسېږي. ده وويل دافغانستان مساله ديو پراخ بنسټه حکومت په جوړولو حل کېږي.
د غويي ۲۸ مه:
مېرمن رافيل وويل : امريکا به افغانستان ته دوسلې دنړيوال بنديز په عملي کولو اودسيمې دهېوادونو جرګې پر جوړولو غور وکړي.
د غويي ۲۴ مه:
دطالبانو مشر ملا محمدعمر وويل: دحکمتيار او رباني اتحاد پرطالبانو هېڅ تاثير نه لري دمسالې حل په دې کې دی چې رباني له قدرت نه لرې شي.
د غبرګولي لومړۍ:
دامريکا په واشنګټن کې د کانګرس اوسترې محکمې دوداني پر وړاندې څه له پاسه دوه سوه افغانانو مظاهره وکړه،ددې مظاهرې اهتمام د ښځنې نړيوال سازمان کړی و.
د غبرګولي ۴ مه:
له څومياشتو مذاکراتو وروسته دکابل دختيزې برخې دماهيپر په سيمه کې دحزب اسلامي او استادرباني ترمنځ يو تړون لاسليك شو، په دې غونډه کې استاد سياف او احمدشاه مسعود هم حاضر وو.
د غبرګولي ۹ مه:
دجنبش وياند وويل :ترڅو پورې چې استاد رباني دجمهور ريس په توګه مطرح وي، حاضر نه يو چې مذاکرات ورسره وکړو. خودجمعيت دمشر په حيث ورسره مذاکراتو ته حاضر يو.

د غبرګولي ۱۰ مه:

طالبانو وويل : ددوی ځواکونو پرون دغور ولايت مرکز چغچران ونيو او خپل بيرغونه يې هلته پورته کړل.

د غبرګولي ۱۱ مه:

جنرل دوستم دحزب اسلامي او کابل حکومت معاهده رد کړه او ويې ويل چې: دې سره حکمتيار اودهغه دګوند ځوغړو ته ځينې مهمې څوکۍ رسيدی شي، خو دافغانستان مساله په دې نه حل کېږي.

د غبرګولي ۱۴ مه:

مولوي محمدنبي او پيرسيد احمد ګيلاني کندهار ته ورسېدل. دې نه مخکې مولوي محمديونس خالص هم کندهار ته تللی و او حضرت صبغت الله مجددي هم ډېر ژر کندهار ته ور روان شو .

د غبرګولي۱٦ مه:

په جلال اباد کې دايران داسلامي جمهوريت قونسلګري پرانيستل شوه.

د غبرګولي ۲۱ مه:

دامريکا دسناغړي سناتور براون دافغان لانجې دبحث لپاره افغان مشرانو ته بلنليکونه ولېږل. دغومشرانو خپل سفر خرڅ خپله ورکړ. دحکمتيار او سياف لپاره بلنليکونه نه وولېږل شوي.

د غبرګولي ۲۹ مه:

دبښنې نړيوال سازمان ايمنستي انترنيشنل وويل چې تېرکال په کابل اوشاوخوا سيمو کې دطالبانو غورځنګ، حزب وحدت او حکومتي ځواکونو ترمنځ جګړو کې يوزر اوپنځه سوه کسان وژل شوي دي.

دچنګاښ ۴ مه:

طالبانو سياستپوهانو، ليکوالو خبريالانو او مشرانو ته خبرداری ورکړ چې په کابل کې دحکمتيار دورتګ دهرکلي په غونډه کې ګډون ونه کړي.

دچنګاښ ٦ مه:

انجنير حکمتيار کابل ته ورننووت له سروبي څخه دده له روانېدو سره سم پر کابل باندې دمخالفينو له خوا دتوغنديو باران شروع شو، چې ددغو توغنديو

زیاته برخه دارگک شاوخوا اوهغه ځای چې دحلف اوچتولو لپاره غوره شوی ولګېدل، په نتیجه کې سخته مرګ ژوبله او ورانې وشوه.

د چنګاښ ٦ مه:

په واشنګټن کې دسناتور براون له خوا رابلل شوی کنفرانس شروع شو. په دغه کنفرانس کې دکابل اداري ،حزب وحدت، جنبش ملي، جبهه‌ء نجات، محاذ ملي، تفاهم شوری،ننګرهارشوری او اعلیحضرت محمدظاهرشاه استازو ګډون کړی وو.

د چنګاښ ١٦ مه:

دافغانستان په جنوب لویدیزو ولایتونوکې دکابل حکومت لوی قوماندان جنرال علاء الدین خان د خپل یو باډیګارډ له خوا له خپلو شپږو نورو پیره دارانو سره دهرات ولایت دپشتون زرغون ولسوالۍ په سپین غره کې ووژل شو.

د چنګاښ ١٨ مه:

دحزب وحدت مشر خبرداری ورکړی دی چې دبامیانو ولایت کې دبودا دوه سترې تاریخي مجسمې د ورانېدو له خطرسره مخامخ دي. په دې هکله ده دنړیوالو مرستو غوښتنه وکړه، چې په بامیانو کې په ناقانوني توګه دکیندنو مخه ونیول شي.

د چنګاښ ٢١ مه:

ملګرو ملتونو دافغانستان لپاره خپل نوی استازی وټاکه. دغه استازی ډاکتر هول دجرمني په بهرنیو چارو وزارت کې دجنوبي اسیا دچارو مسوول پاتې شوی دی.

د چنګاښ ٢٧ مه:

دیوې ملي اسلامي جبهې په جوړولو د ملي محاذ، دننګرهار شوری اوهماهنګۍ شوری غړو تنظیمونو تر منځ موافقه وشوه، چې هرېو تنظیم نه به د درې درې کسانو په شمول یو کمسیون جوړوي.

د زمري لومړۍ:

دبشر حقوقو نړیوال سازمان پر ښارونو باندې دبمبارۍ او راکټي حملو غندنه وکړه، له ملګرو ملتو او نورونړیوالو ټولنو نه یې وغوښتل چې دافغانستان مسالې دحل اود دایمي اوربند لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړي.

د زمري ۱۰ مه:

دافغانستان لپاره دملگرو ملتو خاص استازی ډاکټر هول له طالبانو نه گیله وکړه چې پرکابل یې زما ددورې پر وخت توغندي واورول او زما دمېلمستیا خیال یې ونه ساته.

د زمري ۱۱ مه:

دننگرهار ولایت دهسکې مېنې او روداتو د خلکو ترمنځ دتور راغه پر سر سختې نښتې وشوې، چې ددواړو خواوو په درندو ډزو کې ډېر خلک مړه او ژوبل شول.

د زمري ۱۳ مه:

په ارگون کې دحزب اسلامي ټول مرکزونه دطالبانو له خوا ونیول شول.

د زمري ۱۵ مه:

دملگرو ملتو خاص استازی ډاکټر هول کندهار ته لاړ او دطالبانو له مشرانو سره یې مفصلې خبرې وکړې.

د زمري ۲۱ مه:

دامریکا دسنا غړی هینک براون کابل او کندهار ته ولاړ او هلته یې له مشرانو سره وکتل. ویل کېږي چې حکمتیار له براون سره له ملاقات نه انکار وکړ.

د زمري ۲۳ مه:

جنرال دوستم وویل : حاضر یو دافغاني گوندونو په پراخ بنسټه حکومت کې گډون وکړو، خو نه شو کولای چې یوازې په هغه څه کې برخه واخلو چې یوازې حکمتیار او رباني په کې شامل وي.

د زمري ۲۷ مه:

هغه اووه کسه روسي پیلوټان چې څه دپاسه یو کال نه راپدېخوا طالبانو نیولي وو، د کندهار له هوایي ډگر نه له خپلې الوتکې سره وتښتېدل او متحده عرب اماراتو ته ورسېدل.

د زمري ۲۸ مه:

ډاکټرهول وویل : دامنیت شوری دایمي غړي په دې متفق شوي دي چې دافغان مشرانو غونډه په جلال اباد کې جوړه شي.

د وري ۳ مه:
د درېيو ورځو سختو جنګونو او مرګ ژوبلو وروسته دطالبانو له خوا دحزب اسلامي ترټولو مهم لوی مرکز سپينه شګه ونيول شوه، چې په زرګونو ميله کلاشنيکوفونه ، توغندي، ټانکونه، ثقليه وسايط او نورطالبانو ونيول.
د وري ٦ مه:
دسالنګ لويه لاره چې ددرېيو کالو راهيسې بنده وه دترافيکو پر مخ خلاصه شوه، دادجنبش اودرباني حکومت ترمنځ دشوي تړون پر اساس خلاصه شوه.
د وري ۱۱ مه:
دامريکي دکانګرس غړي بکر د افغانستان او پاکستان له سفر وروسته روم ته دتګ پر وخت وويل:محمد ظاهرشاه په راتګ افغانستان ته امن راتلی شي. له دوستم ، طالبانو ، کابل اداري او پاکستان سره مې په دې اړه خبرې وکړې.
د وري ۱۵ مه:
دالمان دقانونپوهانو يو هيئت کابل ته ورسېد ، چې حالات له نږدې نه وګوري که وکولای شي المان کې مېشته افغان مهاجرين بېرته خپل وطن ته ستنېدو ته تشويق کړي.
د وري ۱٦ مه:
دطالبانو له خوا دلوګر ولايت د ازرې ولسوالۍ ونيول شوه.
د وري ۱۹ مه:
مشرقي شورى قوماندانانو طالبانو ته په حصارك کې لارې ورکولو نه انکار وکړ.
د وري ۲۰ مه:
دننګرهار حصارك ولسوالي د طالبانو له خوا دسيمې دخلکو په بلنه ونيول شوه.
د وري ۲۱ مه:
طالبانو دننګرهار ولايت په مکمله توګه ونيوه.
د وري ۲۳ مه:
دطالبانو اسلامي غورځنګ د جلال اباد ترنيولو وروسته لغمان ولايت په مکمله توګه ونيوه.

د وږي ۲۴ مه:

طالبان کونړ ولایت ته ننوتل.

د وږي ۲۵ مه:

په جلال اباد کې دشاهي قصر ، سپین غر هوټل،هوایي میدان او ښار شاوخواکې دکابل حکومت الوتکو سخته بمباري وکړه او سخته مرګ ژوبله وشوه.

د وږي ۲۸ مه:

دطالبانو اورباني دقواوو ترمنځ دلغمان په علیشنګ، دولتشاه او علینګار کې جنګ روان دی.

د وږي ۲۹ مه:

دافغانستان لپاره دملګرو ملتو خاص استازی ډاکټر هول دوروستیو جګړو له امله افغانستان کې سیاسي حل عاجل ضرورت وباله.

د وږي ۳۰ مه:

دجلال ابادښار شاوخوا علاقو کې درباني اداري جیټ الوتکو سخته بمباري وکړه، ددغو بمباریو له امله دجلال اباد خلك پاکستان ته کډې کولو ته اړ شول.

د وږي ۳۱ مه:

په بامیانو کې درې ولسوالۍ دطالبانو له خوا ونیول شوې.

د تلې لومړۍ:

دطالبانو ځواکونه په وریښمین تنګي ورننوتل او دسروبي پر لوري د پرمختګ په حال کې دي.

د تلې ۳ مه:

دطالبانو ځواکونه دملابورجان او ملا عبدالرزاق په مشرۍ له حصارك، جګدلك او وریښمنین تنګي نه وروسته سروبي ته ورسېدل.

د تلې ۴ مه:

په داسې حال کې چې دکابل سقوط لنډشوی اودطالبانو ځواکونه حربي پوهنتون اوګمرك علاقوته رسېدلي وو او دښار پر لوري سخت جنګ روان و. دملګرو ملتو خاص استازي ډاکټرهول دجګړه کوونکو ډلو ترمنځ داوربند

غوښتنه وکړه اوله افغانستان سره له اړیکو لرونکو هېوادونو نه یې وغوښتل د ملگرو ملتو دسولې پلان سره مرسته وکړي.

**د تلې ٦ مه:**

کابل په مکمله توگه دطالبانو له خوا ونیول شو، دچارو دسمون لپاره سرپرسته شوری وټاکل شوه چې ملا رباني یې مشر شو. استاد رباني، احمدشاه مسعود او دکابیني نور غړي جبل السراج ته وتښتېدل، دپخواني کمونیست حکومت مشر ډاکتر نجیب الله اودهغه ورور شاه پور احمدزی داریانا په څلور لارې کې اعدام شول.

**د تلې ۷ مه:**

چاریکار هم له کوم مقاومت پرته طالبانو ته تسلیم شو.

**د تلې ۸ مه:**

په داسې حال کې چې طالبان د شمال خواته پر خپلو جنگونو اخته وو د دوستم جنبش وویل: طالبان باید شمال ته لاسونه را اوږده نه کړي که نه نو جنبش به په خپل قوت ځواب ورکړي.

**د تلې ۹ مه:**

طالبانو دجبل السراج او کاپیسا ولایت له نیولو وروسته په پنجشیر دره کې ځوکیلو متره پرمختگ وکړ.

**دتلې ۱۱ مه:**

په کابل کې دطالبانو او ملي جنبش دنماینده گانو ترمنځ مذاکرات وشول.

**د تلې ۱۲ مه:**

دپنجشېر اوسېدونکي د طالبانو او مسعود ځواکونو د جنگونو له وېرې نورو محفوظو سیموته دتېښتې په حال کې دي.

**د تلې ۱۳ مه:**

دافغانستان دنویو سیاسي حالاتو په اړه دروس او دمنځنۍ اسیا څلورو هېوادونو غونډه وشوه، دوی دطالبانو له نویو پرمختگونو څخه سخته وېره لري.

**د تلې ۱۴ مه:**

دطالبانو او مسعود ځواکونو ترمنځ په پنجشېر او دگلبهار په څنډو کې سخت

جنګ روان دی.

**د تلې ۱۵ مه:**

دطالبانو حکومت احمدشاه مسعودته دمذاکراتو بلنه ورکړه.

**د تلې ۱۷ مه:**

جنرال دوستم او دلرې کړل شوي حکومت مشر استاد رباني موافقه وکړه چې مزارشریف کې باید دمشرانو غونډه راوبولي، دوی وایي موږ په دې اړه دطالبانو مشرانو، اعلیحضرت محمدظاهرشاه، حکمتیار اونورو سره تماسونه نیولي دي.

**د تلې ۲۰ مه:**

دباګرام هوایي ډګر شاوخوا، جبل السراج، تګاب او نجراب سیمو کې دطالبانو او د رباني ځواکونو ترمنځ سختې نښتې وشوې، دغه جګړه کې ډېره مرګ ژوبله وشوه.

**د تلې ۲۲ مه:**

دقوماندان احمدشاه مسعود ځواکونو له خونړۍ جګړې وروسته جبل السراج او چاریکار له طالبانو څخه ونیول.

**د تلې ۲۳ مه:**

پیرګیلاني وویل: دمزار غونډه چې ددوستم په ابتکار دملګرو ملتو او اسلامي کنفرانس ترسیوري لاندې جوړېږي. په دې کې دپخواني پاچا او طالبانو په شمول ټولو اړخونو ته بلنه ورکړل شوې ده.

استاد رباني او کریم خلیلي هم دا خبره منلې چې پخوانی پاچا یاد هغه نماینده دې په غونډه کې ګډون وکړي.

**د تلې ۲۴ مه:**

پر کابل دطالبانو له قبضې وروسته لومړنی بهرنی مشر د پاکستان دداخله چارو وزیر نصیرالله بابرکابل ته ورسېد او بیا له هغه ځایه مزارشریف ته لاړ او دوستم سره یې دطالبانو د مذاکراتو په اړه خبرې وکړي.

**د تلې ۲۸ مه:**

دکابل شمالي برخه چاریکارو په سیمه کې دطالبانو او دهغوی د مخالفینوترمنځ سخت جنګ روان دی.

د تلې ۲۹ مه:
په کابل کې دطالبانو له خوا ټول ښځینه حمامونه وتړل شول.
دتلې ۳۰ مه:
اسلامي کنفرانس دافغان بحران دحل په اړه داسې طرحه وړاندې کړه چې باید اوربند وشي، دملګروملتونو او اسلامي کنفرانس څارندوی دې امنیت ټینګ کړي. مشران دې په جده کې راغونډ شي. دغو مشرانو کې پخوانی پاچا ته هم بلنه ورکړ شوې او له روس نه علاوه ټولو ګاونډیو هېوادونو ته هم بلنه ورکړ شوې ده چې روان کړکېچ حل شي.
د لړم ۲مه:
دملګرو ملتو خاص استازی ډاکټر هول دمتحاربو ډلو ترمنځ د جنګ او مذاکراتو په هکله تر ډېرو هڅو وروسته خپله نا امیدي څرګنده کړه.
د لړم ۳ مه:
دکابل په شمال دکلکانو پر کلي د طالبانو جیټ الوتکو سخته بمباري وکړه چې دغو بمباریو کې سخته مرګ ژوبله وشوه.
د لړم ۴ مه:
دطالب ځواکونو له خوا دبادغیس دغورماچ، قیصار او مرغاب سیمې په مکمله توګه ونیول شوې ، دمخالفینو الوتکو پر دغو سیمو سختې بمباری وکړې چې ډېر مرګ ژوبله په کې وشوه.
د لړم ۹ مه:
دتهران سیمه ییز کنفرانس په پای کې داسې اعلامیه خپره کړه چې جنګ بندي دې وشي، پراخ بنسټه حکومت دې جوړشي، خارجي مداخلې دې بندې شي او افغان لانجه باید دمذاکراتو له لارې حل شي.
د لړم ۲۰ مه:
دپخوانی حکومت صدراعظم انجنیر حکمتیار وایي چې زه د طالبانو پرضد نظامي ائتلاف کې شامل نه یم او په یوازې توګه به د طالبانو خلاف مبارزه کوم.
د لړم ۲۱ مه:
په بادغیس کې دجنګونو له امله په زرګونو خلك دخپل کور کلي پرېښودو ته

مجبور شوي دي، دغه خلك قلعه نو، هرات اونورو ځايونو ته مهاجر شوي دي.

د لړم ۲۸ مه:

دملګرو ملتو له خوا دافغانستان په اړه لومړني نړيوال کنفرانس کې دنړي دنولسو هېوادونو نماينده ګانو ګډون کړی و. په دغه غونډه کې بطروس غالي وويل چې: افغانستان سره نږدې اړيکي لرونکي قوتونه بايد داوربند په ټينګولو له خپل نفوذ نه کار واخلي.

د ليندۍ ۵ مه:

دافغانستان پخوانی پاچا اعليحضرت محمدظاهرشاه په نومبر کې دملګرو ملتو تر سرپرستۍ لاندې دجوړشوي نړيوال کنفرانس هرکلی وکړ.

دليندۍ ۱۱ مه:

دکابل شمال کې دکلکانو شاوخوا علاقو کې دطالبانو او مخالفينو ترمنځ درنه جګړه روانه وه چې له ځلوېښتو څخه زيات عام خلك په کې ووژل شول او يو زيات شمېر خلك دخپلو کورونو پرېښودلو ته مجبور شول.

دليندۍ ۴ مه:

دطالبانو غورځنګ اعلان وکړ چې ټول هغه لس زريز افغاني نوټونه چې په ۳۳ ياله دي څخه په پورته شمېرو پيلېږي نور ارزښت نه لري او ناچله دي.

دليندۍ ۱۵ مه:

دلرې کړل شوي حکومت مشر استاد رباني په همدا يوه مياشت کې د دويم ځل لپاره دجمهور رئيس رفسنجاني او ايراني لوړ رتبه مامورينو سره دخبرو لپاره ايران ته لاړ.

دليندۍ ۱۸ مه:

احمدشاه مسعود له ډاکټر هول سره په خبرو کې موافقه کړې چې دی به

له طالبانو سره مخامخ مذاکراتو ته کېني.

د لیندۍ ۲۱ مه:

دملګرو ملتو دبشر حقوقو د کمیسیون استازی چون هون پیک ټولې نړۍ ته غږ کړی چې دافغاني لانجې دسوله ییز حل لپاره هلې ځلې وکړي او ټولې ډلې باید دهر افغان وګړي دژوند درناوی وکړي اودبې ګناه خلکو له وژلو نه ډډه وکړي.

دلیندۍ ۲۲ مه:

طالبانو احتجاج کړی چې باید د اسلامي کنفرانس دتنظیم څوکۍ خالي پرېښبودل شي اوطالبانو ته باید ورکړل شي.

د لیندۍ۲۳ مه:

جنرال دوستم له ډاکټر هول سره په خبرو کې تیاری ښودلی چې دی له طالبانو سره خبرو اترو ته تیار دی.

د لیندۍ ۲۵ مه:

دملګرو ملتونو ځانګړي استازي ډاکټر هول په کندهار کې له طالبانو سره داوربند دمنځته راوړلو په اړه مذاکرات وکړل.

د لیندۍ ۲۷ مه:

یو روسي دپلومات ویلي چې امکان لري طالبان شمال لوري ته پرمختګ وکړي چې داروسیې ته د اندېښنې وړ خبره ده.

د لیندۍ ۲۹ مه:

دملګرو ملتو دعمومي ټولنې له خوا په یوه پرېکړه لیک کې افغاني مشرانو باندې غږ شوی چې دفرهنګي شتمنیو دلوټېدو، دمخدره موادو دقاچاق او پر بشري حقوقو دې دتېري مخنیوی وکړي.

د لیندۍ ۳۰ مه:

جنرال دوستم چې دمسکو په سفر تللی په اقتصادي ، تجارتي او دافغان لانجې دحل په اړه یې روسانو سره خبرې وکړې.

دمرغومي لومړی:
په پېښورکې دملګرو ملتو ددفتر مخې ته ګڼو مهاجرو افغانانو احتجاج وکړ او له مقاماتو څخه يې غوښتنه وکړه چې زموږ دخوراك، پوښاك او نور ژوند چارو بندوبست وکړي.
د مرغومي ۲ مه:
نړیوالومرستندویو ادارو اعلان کړی چې دوی په افغانستان کې خپلې مرستې نه بندوي.
د مرغومي ۴ مه:
دطالبانو يو وياند وكيل احمدمتوكل ويلي، چې موږ دسولې پلويان يو اودملګرو ملتو له خوا دامن د روانو کوښښونو ملاتړکوو.
د مرغومي ٦ مه:
دطالبانو وياند وويل: ددوی اود دوستم ترمنځ هېڅ يوه موافقه نه ده لاسليك شوې او نه خو له هغوی سره کومې خبرې رواني دي.
د مرغومي ۸ مه:
طالبانو دوروستيو عملياتو په ترڅ کې له قره باغ وروسته دبګرام هوايي ميدان هم نيولی و، چې اوس بېرته د مخالفينو له خوا ونيول شو، بل خوا قوماندان جلال الدين حقاني وويل: موږ به خپل جنګ ته ترهغه وخته دوام ورکوو چې د دوستم ځواکونه مو له مزار څخه نه وي ايستلي.
د مرغومي ۹ مه:
دطالبانو دمخالفو ځواکونو الوتکو درې ځلې پر کابل هوايي بريدونه وکړل، د خواجه رواش پر هوايي ډګر او دکابل پر ارګ څو بمونه وغورځول شول او هوايي ډګر يو څه زيانمن شو.(۱۰)

د مرغومي ۱۲ مه:

په افغانستان کې د بشر حقوقو د څېړنې لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي چونګ پيك وويل: په افغانستان کې پر ښځو سربېره ماشومان هم له ډېرو ناوړو شرايطو سره مخ دي، د دوی د ښوونې او روزنې مساله له پامه غورځول شوې ده.

د مرغومي ۱٦ مه:

د ايران د بهرنيو چارو وزير ډاکټر ولايتي وويل: ايران غواړي په دې ورځو کې د افغانستان په باب يوه غونډه جوړه کړي، په دې غونډه کې به ټولو افغاني ډلو ته د ګډون بلنه ورکړل شي.

د مرغومي ۲۱ مه:

طالبانو وويل چې د همدې کال د کب پر مياشت به ننګرهار پوهنتون او د ۱۳۷٦ ل کال په پيل کې به کابل پوهنتون پرانيزي.

د مرغومي۲۲ مه:

د ننګرهار چارواکو د ننګرهار پوهنتون د محصلينو د ليليې بسترې پوځي پارکونو ته يووړې او ليليه يې ور څخه تشه کړه.

د مرغومي ۲۴ مه:

طالبانو د هېواد په ځينو سيمو کې د خپلو جنګياليو د زياتولو لپاره په زوره د يو شمېر ځوانانو پر جلب او رانيولو لاس پورې کړ.

د مرغومي ۲٦ مه:

طالبانو په کابل او جلال اباد کې د برېښنا او ټليفون ټکس لوړ کړ.

د سلواغې لومړۍ:

د ملګرو ملتونو له خوا افغانستان ته د بشري مرستو په هکله د ترکمنستان مرکز عشق اباد کې يو کنفرانس جوړ شو، چې د مرستندويو هېوادونو او مرستندويو ادارو تقريبا دوه سوو استازو په کې ګډون کړی و.

د سلواغې ۷ مه:

د کابل په شمال کې د دوو اونیو جګړو له امله په زرګونو کورنۍ مهاجرت ته اړې شوې چې یو زیات شمېر یې کابل ته پناه یوړه.

د سلواغې ۸ مه:

د کابل په شمال او نورو سیمو کې قومندانانو، موټروانو ته په بندولو هغه لس زره ګیز نوټونه ورکړل چې له ۳۲ نه یې سریال نمبر پورته و، دوی له موټر چلوونکو وغوښتل چې داپیسې ورته په کابل کې بدلې کړي.

د سلواغې ۹ مه:

طالبانو په کابل کې د روژې مبارکې میاشتې په مناسبت د مامورینو دوه میاشتني څنډېدلي معاشونه اجرا کړل، خو اکثره پیسې پنځوسګون او سلګون نوټونه وو چې په بازار کې نه چلېږي.

د سلواغې ۱۰ مه:

د هېواد په شمال کې د اوړو نرخونه ډېر لوړ شول، د یو من(۷ کیلو) اوړو بیه دوه لکه و پنځوس زره افغانیو ته پورته شوه.

د سلواغې ۱۰ مه:

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د بشر حقوقو په باب وویل: په افغانستان کې په تېر کال کې د وسلوالو ډلو له خوا سیاسي او بې پوښتنې وژنې، شکنجې، جنسي تېري، یرغمل کول، د عامه شتمنیو لوټونه او باج اخیستنه تر سره شوي دي.

د سلواغې ۱۲ مه:

د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو بیه راټیټه شوه، یوه پاکستانۍ کلداره (۷۵۰) افغانیو ته پورته شوه.

دسلواغې۱۵ مه:

د طالبانو چارواکو له خوا يو تصفيوي کميسيون جوړ شو چې د طالبانو له ليکو نه هغه کسان و باسي چې اسلامي ځانګړني نه لري.

د سلواغې ۲۳ مه:

په کندهار کې د خوراکي موادو نرخونه لوړ شول.

د سلواغې ۲۴ مه:

په کابل کې د مخابراتي او پوستي سيستم ځينې برخې بېرته فعالې شوې.

د کب ۷ مه:

د امربالمعروف او نهی عن المنکر کسانو په داسې حال کې چې په لاسونو کې يې دورې او بياتيانې وې، د وزير اکبرخان روغتون ته ننوتل او د ډاکټرانو ويښتان يې بياتي کړل.

د کب ۹ مه:

دهېواد په ختيزو ولايتونو کې نرخونه نور هم لوړ شول.

د کب ۱۲ مه:

د افغان ښځو ټولنې وويل: په تېرو شلو کلونو کې افغان ښځې تر ډېرو سختو حملو لاندې راغلي او ډېر وحشيانه ظلمونه پرې شوي دي.

د کب ۲۲ مه:

طالبان پر دې بريالي نه شول چې په کونړ ولايت کې د کلدارې پر ځای بيرته افغانۍ دود کړي.

د کب ۲۳ مه:

طالبانو ټولو دولتي کارکوونکو ته اخطار ورکړ چې له لونګۍ او خولۍ سره بايد دندو ته راشي او که سرغړاوی وکړي له دندې به ګوښه شي.

# ۱۳۷۶ ل کال

**د ۱۳۷٦ ل کال د وري ۵ مه:**

د طالبانو د سر پرستۍ شورا مشر ملامحمد رباني په اسلام اباد کې د اسلامي هېوادونو په کنفرانس کې ګډون وکړ.

**د وري ٦ مه:**

د سره صلیب موسسه وايي چې په بادغیس کې د طالبانو او دوستم تر منځ د خونړیو جګړو له امله شل زره تنه خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شوي او هرات ته تللي دي.

**د وري ۱۰ مه:**

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي په کابل کې د طالبانو د سرپرستۍ شورا له مشر سره د افغاني ډلو تر منځ د کنفرانس د رابللو په اړه خبرې وکړې او له دوی څخه يې غوښتنه وکړه چې ستاسو ګډون په دې کنفرانس کې حتمي دی.

**د وري ۱۱ مه:**

د ملګرو ملتونو سرمنشي کوفي عنان وویل: د افغانستان جګړې د ختمولو لپاره به په یوه خوندي ځای کې د جنګي ډلو د یو ځای کېنولو لپاره هڅه وکړي.

**د وري ۲۲ مه:**

طالبانو په بادغیس کې تر بالامرغاب ولسوالۍ وروسته غورماچ هم تر خپلې ولکې لاندې راوسته او د قیصار خوا ته پر جګړو بوخت شول.

**د وري ۲۵ مه:**

د طالبانو مخالفینو د کونړ ولایت پر اسمار، دانګام، ناړې، بریکوټ او پیچدرې او همداراز د لغمان ولایت پر دولتشاه، پراچغان او علیشینګ باندې بریدونه وکړل، چې د دواړو غاړو د سختې مرګ ژوبلې سبب شول.

**د وري ۲۷ مه:**

په شمال کې د طالبانو مخالفو ډلو مشران احمدشاه مسعود، دوستم، خلیلي، نادري او نورو په ګډه پرېکړه وکړه چې د طالبانو پر خلاف به په ګډه عملیات

پيل کړي.

د غويي۲۰مه:

د عيني شاهدانو له خولې هغه خبره چې په کولاب سيمه کې د افغانستان پولو ته نږدې له يوې هوايي اډې نه داحمد شاه مسعود الوتکې الوتنه کوي پر واقعيت بدله شوه، يوې اروپايي ژورناليستې په دې اړه وويل: په دې اډه کې ماخپله د مسعود الوتکې وليدلې.

دغويي۳ مه:

په شمال کې د طالبانو مخالفينو، د جګړې لپاره تر ګډ پلان جوړولو وروسته له ايران څخه په الوتکو کې بار جنګي سامان شمال ته انتقال شو.

د غويي۱۱مه:

د کونړ په روانو جګړو کې ويل کېږي چې د مخالفينو د يوې ډلې مشر چې کشميرخان نومېږي د مسعود دهليکوپټرو په واسطه ورته وسلې او مهمات راوړل کېږي ګډون لري، په دې جګړو کې سالارزي او مشواڼي هم په خپلو کې سره نښتي دي.

د غويي۱۸ مه:

د طالبانو مخالفو ځواکونو په ګډه د جبل السراج د غوربند پر دوه لارې هوايي او ځمکني بريدونه وکړل، مخالفينو ادعا کوله چې موږ پرمختګ کړی، خو طالبانو وويل چې دا بريد مو پر شا تمبولی دی.

د غويي۲۰مه:

ډاکټر نابرټ هول له طالبانو سره تر خبرواترو وروسته وويل: طالبانو ډاډ راکړی چې خپل تولنيز چلند به نرم کړي او په پوهنيز نظام کې به دښځو دبرخې په هکله هڅه وکړي، ډاکټر نابرټ هول وويل چې دی به له پاکستاني مقاماتو نه غوښتنه وکړي چې افغانستان ته د خوراکي موادو پر لېږلو لګېدلی بنديز لرې کړي.

دغويي ۲۳مه:

د مشرقي شورا پخواني ريس حاجي عبدالقدير ته چې له څه مودې راهيسې يې د طالبانو پر خلاف په ځينو مشرقي سيمو کې جنګونه کول، له پاکستان څخه د وتلو حکم صادر شو.

د غويي ۳۱مه:
په شمال کې د جنرال مالك په مشرۍ د جنرال دوستم يو شمېر قومندانانو د ده پر خلاف پاڅون وکړ، ددې پاڅون له امله د فارياب او سمنګان ولايتونه د جنرال دوستم له لاسه ووتل. جنرال مالك وويل چې زه د طالبانو له تحريك سره چې دهېواد زياته برخه يې تر واك لاندې ده يو ځاى شوى يم.
د غبرګولي لومړۍ:
طالبان او دشمال پاڅون کوونکي سرپل، بغلان او فارياب ولايتونو ته ننوتل.
دغبرګولي ۳مه:
جنرال مالك په جګړه کې نيول شوي کسان، چې د هرات پخوانى والي اسمعيل خان هم په کې و، طالبانو ته وسپارل.
د غبرګولي۵:
د طالبانو او جنرال مالك ځواکونه شبرغان او مزارشريف ښار ته ورننوتل او جنرال دوستم ازبکستان ته وتښتېد.
د غبرګولي٦مه:
په کندز او تخار کې سيمه ييزو خلکو د طالبانو په پلوي سپين بيرغونه هسك کړل.
د غبرګولي٦:
پاکستان د طالبانو حکومت په رسميت وپېژنده.
د غبرګولي۷مه:
د طالبانو جګړې د لومړۍ ليکې قومندان ملاعبدالرزاق مزارشريف ته ننووت او له جنرال مالك سره يې وکتل.
د غبرګولي۷مه:
د طالبانو د پرمختګونو پر اساس تر پاکستان وروسته سعودي عربستان د طالبانو حکومت په رسميت وپېژنده.
د غبرګولي۸مه:
دطالبانو مخالفينو د سالنګ پر لوري د هغوى د پرمختګونو د مخنيوي په خاطر د سالنګ تونل يوه برخه دچاودېدونکو موادو په واسطه والوزوله.

د غبرگولي ۹ مه:
په مزار شريف ښار کې د طالبانو پر خلاف د حزب وحدت او جنرال مالك ځواکونو جگړه پيل کړه، کور په کور او کوڅه په کوڅه سخته جگړه ونښته، په زرگونو طالبان چې دې ښار ته ننوتي وو ونيول شول، د دواړو غاړو په سلگونو کسان ووژل شول.
د غبرگولي۱۳ مه:
دطالبانو چارواکو په کابل کې د ايران سفارت وتاړه او کارکوونکو ته يې خبرداری ورکړ چې په اته څلويښتو ساعتونو کې دې له افغانستان څخه ووځي.
د غبرگولي۱۹ مه:
په کابل کې د ايران سفارت د بنديدو له کبله ايران له افغانستان سره خپل ترانزيتي اړيکي ختم کړل او دافغاني سوداگرو راغلي مالونه يې په بندر عباس کې ايسار کړل.
د غبرگولي۲٦ مه:
په مزار شريف کې دپاکستان قونسلگرۍ پر دې تورنه شوه چې د طالبانو ملاتړ کوي.
د غبرگولي۲۸ مه:
طالبانو دسالنگ لويې لارې ختيزې خوا ته د پل متك پر لوري پر مختگ وکړ او په فارياب کې يې د قيصار او المارو ولسوالۍ تر خپل واك لاندې راوستې.
د غبرگولي ۲۹ مه:
په کندز کې طالبانو د بشير بغلاني د ځواکونو په ملتيا او د هغه ځای د خلکو په مرسته دغه ولايت بېرته تر خپل واك لاندې راوست.
د چنگاښ۸ مه:
د ملگرو ملتونو منشي کوفي عنان وويل: يوه افغاني ډله هم په يوازې ځان د ټوپك په زور پر ټول ملت واکمني نه شي کولای، له جگړه مارو نه يې وغوښتل چې د خبرو اترو له لارې اختلافات ختم کړي، ده له بهرنيو هېوادونو څخه غوښتنه وکړه چې پر جنگي ډلو دې پوځي مرستې بندې کړي.
د چنگاښ۱۰ مه:
د ملگرو ملتونو ځانگړي استازي په روم کې له پخواني پاچا اعليحضرت

محمدظاهرشاه سره وکتل، پخواني پاچا هیئت ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې د سولې او امنیت په راوستو کې ونډې اخیستو ته چمتو دی.

د چنګاښ۱۷ مه:

د طالبانو د مخالفینو الوتکو د کابل پر مکرویانو باندې سخته بمباري وکړه چې دعامه وګړو مرګ ژوبله په کې وشوه.

د چنګاښ۱۹ مه:

د شمال ځواکونو یوه الوتکه طالبانو ته تسلیم شوه، د الوتکې پیلوټ ډګر جنرال نقیب الله چې دغه الوتکه یې د جلال اباد ښار په هوایي ډګر کې کېنوله، وویل: په شمال کې ټول خلك د واکمنو له ظلمونو نه په تنګ شوي، ده وویل د تاجکستان له کولاب نه هره ورځ د الوتکو په واسطه مزار ته وسلې او مهمات انتقالېږي.

دچنګاښ۲۱ مه:

دملګروملتونو استازي په کندهار کې له طالبانو سره تر لیدو وروسته په مزار کې له مخالفو مشرانو سره د افغان لانجې دحل په باب خبرې وکړې، اسلام اباد ته دبېرته ستنېدو پر وخت ده وویل: د جنګي ډلو تر منځ بې اعتمادي لاپسې زیاته شوې او یو خوا هم اوربند ته نه حاضرېږي.

د چنګاښ۲۲ مه:

د احمدشاه مسعود ځواکونه د یوې حملې په ترځ کې پر دې بریالي شول چې د چاریکارو او جبل السراج تر منځ سیمه له طالبانو څخه ونیسي.

د چنګاښ۲۶ مه:

په مزار کې د طالبانو مخالف اتحادد مزار شریف ښار د برهان الدین رباني د پر ځول شوي حکومت د مرکز په توګه اعلان کړ او عبدالرحیم غفورزی یې د صدراعظم په توګه وټاکه.

د زمري۲ مه:

د مسعودځواکونو ادعا وکړه چې د حسینکوټ په سیمه کې یې د راکټ څلورمه لوا نیولې، خو طالبانو وویل چې په شکر دره کې مو د مسعود او په وردګو کې مو د حزب وحدت بریدونه پر شا تمبولي دي.

د زمري۱٦ مه:
د جنبش مشر مالك په مزار کې د ملګروملتونو ځانګړي استازي ډاکټر هول سره په خبرو کې وویل: تر هغه مهاله چې شخړه اواره شوې نه وي د طالبانو اسیران نه خوشې کوي.
د زمري۲۳ مه:
د مزار له ېبنې وروسته پر لومړي ځل دشمال اتحاد د رباني، مسعود، خلیلي او مالك په ګډون غونډه وکړه او پر کابل باندې یې د برید پلان جوړ کړ.
د زمري۲۴ مه:
سره صلیب وویل چې شمال اتحاد له بشري حقوقو څخه سرغړونه کوي او دوی ته اجازه نه ورکوي چې له هغو درې زره طالبانو سره وګوري چې له دوی سره بندیان دي.
د زمري۲٦ مه:
د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ابراهیمي اسلام اباد ته ورسېد، دی افغانستان ته ځي، په جګړه کې له اخته ډلو سره د ستونزې د غوځولو په اړه خبرې کوي، بیا به د افغانستان په مسله کې ښکېلو هېوادونو ته هم سفرونه کوي.
د زمري۳۱ مه:
د شمال اتحاد جنګي الوتکو دکابل خیرخانې مېنې پر کوتل او د خواجه رواش د هوايي ډګر پر شاو خوا سیمو باندې بمباری وکړې.
د وږي۱مه:
په شمال کې د برهان الدین داعلان شوي حکومت صدراعظم غفورزي دشمال اتحاد له ځینو نورو غړو سره په الوتکه کې بامیانو ته د کریم خلیلي د کتنې لپاره روران و، کله چې الوتکه د بامیانو په ځغللیکه کښته شوه، اور یې واخیست او په الوتکه کې ټول ناست کسان مړه شول.
د وږي٦ مه:
د ملګروملتونو ځانګړي استازي الخدار ابراهیمي په پېښور کې دتفاهم شورا له غړو او نورو افغانانو سره دلیدنو کتنو پر وخت وویل: په افغانستان کې د ورور وژنې اصلي لامل د ګاونډیو هېوادونولاسوهنه ده.

د وري ۱۰ مه:
د طالبانو ځواکونو ديوې حملې په ترڅ کې دګلدرې په استقامت د فرزې سيمه تر خپل کنترول لاندې راوسته.
د وري ۱۳ مه:
د طالبانو د مخالفينو له خوا چې کوم هيئت پخواني پاچا ته له دوی سره د يو ځای کېدو لپاره تللی و، پخواني پاچا ورته په ځواب کې وويل: زه به هېڅبېرې د يو طرف په بلنه افغانستان ته لاړ نه شم.
د وري ۱۸ مه:
د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي الخدار ابراهيمي د افغانستان، پاکستان، ايران، منځنۍ اسيا او روسيې تر ليدو وروسته په جده کې د اسلامي کنفرانس له مشر سره د افغانستان دمسلې د حل په اړه خبرې وکړې.
د وري ۱۹ مه:
په شمال کې طالبانو د قومندان عارف خان په مرسته د يوې لويې حملې په ترڅ کې د مزارشريف هوايي ډګر په بشپړ ډول ونيو.
د وري ۲۳ مه:
د جنبش پخوانی مشر جنرال عبدالرشيددوستم له څلورو مياشتو وروسته د شمالي سرحد له لارې مزار شريف ښار ته ننووت، ده وويل چې زه د رباني، مسعود او خليلي په بلنه بېرته راغلی يم.
د وري ۲۵ مه:
په مزار شريف کې د جنرال دوستم او جنرال مالك د ځواکونو تر منځ نښتې پيل شوې، په دغو جګړو کې د خليلي ډلې د دوستم پلوي وکړه.
د وري ۲۸ مه:
طالبانو حيرتان بندر تر خپل کنترول لاندې راوست.
د تلې لومړۍ:
د ملګروملتونو ځانګړي استازي الخدار ابراهيمي په روم کې له پخواني پاچا سره د افغانستان د لانجې په اړه خبرې وکړې، پخواني پاچا د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي د هڅو ستاينه وکړه او د بهرنيو لاسوهنو د بندولو په اړه يې له ګاونډيو هېوادونو سره پر دوستۍ او متقابل درناوي ټينګار وکړ.

**د تلې۱۷ مه:**
طالبان له حیرتان څخه ووتل، دوی وایي موږ په تکتیکي توګه دا ځای پرېښود او پر شا شولو.
**دتلې۲۷ مه:**
پخواني پاچا محمدظاهر شاه په یوه اعلامیه کې وویل تر هغه مهاله چې بهرنۍ لاسوهنې نه وي بندې شوي، په هېواد کې سوله نه شي راتلی او پر جګړه کوونکو ډلو یې غږ وکړ چې نور دې له ورور وژنې څخه لاس واخلي.
**د تلې۲۸ مه:**
د شمال متحدې جبهې له هغو مذاکراتو نه چې باید د دوی او طالبانو تر منځ په پاکستان کې شوي وای انکار وکړ، دوی ویل چې: داسې مذاکرات باید په یو ناپېیلي هېواد کې وشي.
**دتلې۳۰ مه:**
د ترکیې په استانبول ښار کې چې د افغانستان دمسالې په اړه غونډه رابلل شوې وه پایته ورسېده، ددې غونډې مشري د عدلیې پخواني وزیر عبدالستار سیرت کوله او موخه یې د سولې دلارې چارې پیدا کول و، په دې غونډه کې دشمال اتحاد استازو هم ګډون درلود.
**دلړم۱۰ مه:**
جنرال مالك دخپل کمزوري حیثیت د بیا پیاوړتیا لپاره له طالبانو سره تماس ونیو، خو طالبانو پرې باور ونه کړ.
**دلړم۲۵ مه:**
طالبانو وویل: د مخالفینو دبندیانو د تبادلې لپاره چمتو یو، د طالبانو او مخالفینو تر منځ په دې خبرو اترو کې د ملګرو ملتونو استازی داکتر هول هم برخه لري.
**د لړم۲۹ مه:**
د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې مېرمن البرایت چې دپاکستان پر سفر بوخته ده وویل: یوه ډله هېڅ وخت په یوازې توګه ټول افغانستان تر خپل کنترول لاندې نه شي راوستی، دې وویل چې امریکا په افغانستان کې دښځو پر کار او زده کړې دبندیز په اړه ډېره اندېښمنه ده.

د لړم ۳۰ مه:
طالبانو په یوه اعلامیه کې له ملګروملتونو څخه غوښتي چې د افغانستان په شمال کې د ډله ییزو وژنو پوښتنه وکړي، په اعلامیه کې راغلي چې طالبانو ته خو تاسو پر عادي مسایلو ګوته نیسئ، خو په مزار کې د طالبانو پر عامه وژنه چوپ یاست.
د لیندۍ۳ مه:
ددوستم ځواکونو دیو لړ عملیاتو په ترځ کې میمنه په بشپړ ډول ونیوله او ټوله سیمه د مالك له لاسه ووتله او خپله جنرال مالك او دهغه ورور ګل محمد پهلوان ترکمنستان ته وتښتېدل.
دلیندۍ۴ مه:
په تهران کې د اسلامي کنفرانس په غونډه کې د افغانستان د څوکۍ په خالي پرېښودلو سره طالبانو غبرګون وښود، دوی وویل د افغانستان زیاته برخه له موږ سره ده، باید چې موږ ته په دې کنفرانس کې د ګډون حق راکړل شي.
د لیندۍ۵ مه:
د افغانستان پخواني پاچا محمد ظاهر شاه په شمال کې پر ډله ییزو وژنو خواشیني څرګنده کړه او د زرګونو هېوادوالو وحشیانه وژل یې په کلکه وغندل.
دلیندۍ۷ مه:
ملګروملتونو غوښتل چې بامیانو ته د ځمکې له لارې نور مواد ولېږي، خو طالبانو وویل چې دوی باید دشمال له لارې دا مواد انتقال کړي، اوس ملګري ملتونه غواړي چې د هوا له لارې دې سیمې ته مواد ولېږدوي.
دلیندۍ۸ مه:
د طالبانو او مخالف اتحاد ترمنځ د بندیانو دتبادلې لړۍ روانه ده او مولوي ترکستاني د همدې لپاره کندهار ته ورسېده.
د لیندۍ۱۱ مه:
طالبانو له ملګروملتونو څخه غوښتنه وکړه چې په شمال کې دې د زرګونو طالبانو قاتل جنرال مالك او دهغه ورور ګل محمدپهلوان دوی ته ورکړل شي.
د لیندۍ۱۳ مه:
د جنرال دوستم له خوا د طالبانو د بندیانو د خوشي کولو په لړۍ کې احمدشاه

مسعود هم د طالبانو پنځوس بندیان خوشې کړل.

د لیندۍ۱۴ مه:

په اصفهان کې چې دافغانانو کومه غونډه له دریېو ورځو راهیسې روانه وه پایته ورسېده، د غونډې په پرېکړه لیک کې له ټولو جګړه مارو ډلو څخه د عاجلې او نامشروطې جنګ بندۍ غوښتنه وشوه او بهرنۍ لاسوهنې وغندل شوې.

د لیندۍ۱۸ مه:

دپرځول شوي حکومت مشر برهان الدین رباني له اسلامي کنفرانس نه وغوښتل چې په کېدونکې غونډه کې دې د افغانستان څوکۍ ده ته ورکړل شي.

د لیندۍ۲۲ مه:

په تهران کې د اسلامي کنفرانس اتمه سرمشریزه غونډه چې له درېیو ورځو را په دېخوا پیل شوې وه، د یو لړ پرېکړو په صادرولو سره پایته ورسېده، په افغانستان کې د ورور وژنې او د یو پراخ بنسټه حکومت پر جوړولو ټینګار وشو.

د لیندۍ۲۳ مه:

د زرو په شا و خوا کې افغانان له بلجیم، هالېنډاو دنمارك نه جرمني ته راغلل او د شمال د ډله ییزو وژنو فاتحې له اخیستلو وروسته یې مظاهره وکړه او د ملګرو ملتونو دفتر ته یې یادښت وسپاره.

د لیندۍ ۲۷ مه:

د ملګروملتونو دبشر حقوقو استازی چې د افغانستان شمال ته د ډله ییزو وژنو د څېړنې لپاره تللی و، وویل: ما په دې قبرونو کې زیات خلك چې لاسونه یې شاته تړل شوي، بیا په کندو کې غورځول شوي او بیا په ګولیو او بمونو ویشتل شوي وو، په خپلو سترګو ولیدل. د مړو د شمېر په هکله یې وویل: اوس دقیق شمېر نه معلومېږي، خو له دوو زرو نه زیات خلك دلته وژل شوي دي.

د لیندۍ۲۸ مه:

ملګروملتونو د امنیت شورا په غونډه کې پرېکړه وکړه، چې د افغانستان د

دایمي امن لپاره دې باید جګړه ماړې ډلې جګړې بندې کړي، ځکه چې اوس افغانستان ته ډېر زیات تاوان رسېدلی او دا جګړه دسیمې هېوادونه هم له خطر سره مخامخوي.

داینډي۳۰ مه:

د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی ډاکتر هول کندهار ته لاړ چې طالبان دې ته حاضر کړي چې د بامیانو لار پرانیزي او د دوستم ایسار کړل شوی استازی مولوي ترکستاني خوشې کړي، طالبانو ورته وویل تر هغه مهاله چې زموږ شرطونه ونه منل شي دې کار ته حاضر نه یو.

د مرغومي۱۰ مه:

د پرخول شوي حکومت مشر برهان الدین رباني له ډېرې مودې وروسته بیا پاکستان ته راغی، بل خوا د بدخشان د ځینو سیمو خلکو د طالبانو په ملاتړ پاخون وکړ.

د مرغومي۱۰ مه:

برهان الدین رباني له پاکستان څخه د بېرته تګ پر وخت په یوه خبري کنفرانس کې له پاکستان څخه غوښتنه وکړه چې د تېرو وختونو خبرې هېرې کړي او له موږ سره د نویو اړیکو په لړ کې طالبانو ته اجازه ورنه کړي چې دپاکستان له مدرسو څخه جنګ ته لاړ شي.

د مرغومي۱۳ مه:

د ملي نجات جبهې مشر حضرت صبغت الله مجددي وویل چې د سولې هڅې مې نه دي پرې ایښي، خو متحاربو ډلو سره یو خوا د امریکا او پاکستان بل خوا دروسیې، هند او ایران له خوا مرسته کېږي.

د مرغومي۲۴ مه:

د ملګروملتونو یو پلاوی کندهار ته لاړ او له طالبانو نه یې غوښتنه وکړه چې دبامیانو پر هوایي ډګر بمباري ونه کړي، طالبانو وویل چې د ایران الوتکې په

پر لـه پسـې تـوګه لـه دې لارې وسـلې راوړې او دا ډګر د نظـامي موخـو لپـاره استعمالېږي.

**د مرغومي۲٦ مه:**

د ملګرو ملتونو منشي کوفي عنان دامنيت شورا ته په خپل کلني ګزارش کې وويل: په افغانستان کې لـه جنګي ډلـو سره لـه بهر نـه لـه ځنډ پرتـه پرلـه پسې مرستې شوي چې د ملګرو ملتو د امنيت شورا له پرېکړه ليکونو څخه څرګنده سرغړونه ده.

**د مرغومي۲۴ مه:**

د اريانا افغان يوې الوتکې چې له کندهار نه هرات تـه دتلو پـه حال کې وه، د هوا د خرابوالي له امله د کوتې - چمن په يوه غرنۍ سيمه کې سقوط وکړ، ددې الوتکې ټول سپاره مساپرين او دالوتکې عمله پنځوس کسان په حق ورسېدل.

**د مرغومي۲۹ مه:**

د طالبـانو غورځنګ مشر ملامحمـد عمـر مجـاهد وويـل: کـه چـېرې امريکـا غواړي چې په افغانستان کې د اروپا غوندې ښځو ته ازادي ورکړل شي نو مونږ داسې کار ته هېڅ حاضر نه يو، مونږ ښځو ته د قران او سنتونو په رڼا کې ازادي ورکوو او په خپلو کورنيو معاملو کې چا ته دلاسوهنې حق نه ورکوو.

**د سلواغې۳ مه:**

طالبانو د ملي اردو د جوړلو کار پيل کړ، د طالبانو ويانـد وکيـل احمـد متوکـل په دې اړه وويـل: چې دا عسـکري يونيفورم بـه دپخوانـي پـوځ پـه شـان وي خـو اسلامي بڼه به لري.

**دسلواغې۹ مه:**

د يونيکـال پـه نـوم هغـه امريکـايي کمپنـۍ چـې غـواړي لـه ترکمنسـتان څخـه د افغانستان له لارې د تېلو او ګاز پايپ لين وغزوي، خپل شرط وړاندې کـړ: تـر هغه مهاله چې په افغانستان کې پراخ بنسټه او ټولو ته د منلو وړ حکومت جوړ نه شي د داسې لوېې پروژې د کار پيل ستونزمن کار دى.

دسلواغې۱۸ مه:

د تخار د روستاق په سیمه کې سخته زلزله وشوه چې د هر کلي -کورونه یې وران کړل او د څلورو زرو په شا و خوا کې خلك د دې زلزلې له امله مړه شول.

د سلواغې۲۴ مه:

د اسلامي جمعیت مشر رباني له خوا طالبانو ته د عالمانو لست وړاندې شو، خو طالبانو ورباندې نیوکې وکړې او ویې ویل چې په دې لست کې زموږ شرطونه نه دي مراعت شوي.

د سلواغې۲۹ مه:

د برهان الدین رباني راپرځول شوي حکومت په شمال کې د بلخ راډیو د افغانستان راډیو په نامه ونوموله.

د کب۱۲ مه:

انجنیر ګلبدین حکمتیار د جنرال دوستم په بلنه له ایران څخه مزار ته لاړ.

د کب۲۳ مه:

طالب چارواکو له خوا په کابل ملي لوبغالي کې یو ځوان طالب د قتل په تور په دار وځړول شو.

د کب ۲۴ مه:

په مزار شریف کې د جنرال دوستم او حزب وحدت تر منځ له سختې جګړې وروسته د دوستم ځواکونو د مزار شریف ښار ځینې مهمې برخې له وحدت حزب څخه ونیولې، له دواړو خواوو نه سخته مرګ ژوبله هم وشوه.(۱۱)

# ۱۳۷۷ ل کال

**د ۱۳۷۷ ل کال د وري ۵ مه:**

د افغان لانجې دحل په اړه په اسلام اباد کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي، اسلامي کنفرانس او په کابل کې دسرپرستۍ شورا ریس ملا محمد رباني تر منځ خبرې اترې وشوې، له طالبانو او پاکستاني مقاماتو سره یې هم پر اړوندو مسایلو خبرې وکړې.

**د وري ۹ مه:**

د ملګروملتونو مشر کوفي عنان د افغان جګړې لامل بهرنۍ لاسوهنه وبلله او ویې ویل تر هغه چې ګاونډي ملکونه له مداخلو نه لاس وانه خلي دلته د امن ټینګېدل ګران دي.

**د وري ۱۴ مه:**

د ترکمنستان مرکز عشق اباد کې د ملګرو ملتونو په هڅو جوړېدونکې غونډې ته شمال اتحاد هیت دغه ښار ته ورسېده.

**دوري ۲۵ مه:**

د ایران ځانګړي استازي بروجردي وویل: طالبان دې پر ټول افغانستان د واکمنۍ خیال له سره وباسي، تر هغې چې دوی له مخالفې جبهې سره د خبرو لپاره چمتو نه شي، په افغانستان کې امن نه شي راتلای.

**د وري ۲۷ مه:**

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ابراهیمي افغانستان، پاکستان، ترکمنستان، ازبکستان او ایران ته په سفرونو د افغان مسلې د حل لپاره دهلو ځلو لومړی پړاو ترسره کړ.

**د وري ۲۸ مه:**

تر شلو کلونو وروسته د امریکا یواستازي بل رچرډسن چې په ملګرو ملتو کې د امریکا نماینده هم دی، افغانستان ته لاړ، په کابل او شبرغان کې یې له سیاسي مشرانو سره خبرې اترې وکړې.

**د غويي ۵ مه:**

د ملګروملتونو او اسلامي کنفرانس تر څارنې لاندې په اسلام اباد کې د طالبانو او مخالفينو غونډه بیاپیل شوه، دواړو خواوو د عالمانو په کمیسیون موافقه وکړه، بل خوا همدغو ډلو په شمال کې یو پر بل بریدونه پیل کړل.

**د غويي ٦ مه:**

د طالبانو او مخالفينو له مذاکراتو سره جهادي مشرانو هم یو لړ خوځښتونه پیل کړل، پیر سیداحمدګیلاني وویل: د دغو مذاکراتو لپاره باید نورو ګوندونو او سیاسي شخصیتونو ته هم بلنه ورکړل شي.

**د غويي ۱۵ مه:**

په اسلام اباد کې ملګروملتونو او داسلامي کنفرانس تر څارنې لاندې د طالبانو او مخالفينو غونډه له یوې اوونۍ خبرو وروسته بې نتیجې پایته ورسېده.

**د غويي۱۹ مه:**

په زابل ولایت کې سېلاوونو تقریباً شل کلي زیانمن کړل او په سلګونو جريبه ځمکې او باغونه یې وران کړل.

**دغويي ۲۰ مه:**

په تخار کې د قومندان مسعود او طالبانو تر منځ تر سختې جګړې وروسته طالبان پر دې بریالي شول چې د اشکمش ولسوالي تر خپل کنټرول لاندې راولي.

**دغويي ۲۲ مه:**

په مزار شریف ښار کې د دوستم او حزب وحدت ځواکونو تر منځ له نښتو

وروسته د دوستم ځواکونو د ښار مهم ځایونه تر خپل واك لاندې راوستل.

د غويي ۲۳ مه:

طالبانو په المان کې د ايکو غونډې ته د برهان الدين رباني ورتګ غير قانوني وباله.

د غويي ۳۰ مه:

د طالبانو جنګي الوتکو د تخار ولايت مرکز(تالقان) بمبارد کړ، سخته مرګ ژوبله يې رامنځته کړه.

د غبرګولي ۴ مه:

د قومندان مسعود ځواکونو د کابل هوايي ډګر سره نږدې سيمو باندې توغندي واورول، چې ډېر کورونه يې وران کړل او مرګ ژوبله هم وشوه.

د غبرګولي ٦ مه:

د خوراك نړيوال پروګرام په ځلوېښتو موټرونو بار خوراکي مواد له څو مياشتو قحطۍ وروسته د ځمکې له لارې باميانو ته واستول.

دغبرګولي۱۲ مه:

د ملګروملتونو ځانګړي استازي ابراهيمي په مزار شريف کې له اکبري سره وکتل.

دغبرګولي ۱۴ مه:

د شمال اتحاد ځواکونو د کابل پر عامه خلکو د اوراګان راکټونه وويشتل چې په بېلابېلو ځايونو کې ۷ کسان مړه او پنځه تنه ټپيان شول.

د غبرګولي ۲۸ مه:

پخوانۍ مشرقي شورا وويل چې دوی د کونړ کامدېش ولسوالۍ نيولې ده.

د غبرګولي ۱۱ مه:

په تخار او بدخشان کې يو ځل بيا زوروره زلزله وشوه، ډېر کلي او کورونه يې ونړول او په زرګونو خلك په کې مړه شول.

د چنګاښ ۴ مه:

د سعودي عربستان داستخباراتو مشر ترکي الفیصل دیو هیت په مشرۍ په کندهار کې له طالبانو سره وکتل.

دچنګاښ ۵ مه:

د ملګروملتونو عمومي منشي کوفي عنان پر افغان جګړه مارو ډلو غږ وکړ چې له جنګونو څخه لاس واخلي، اوس د ملګرو ملتونو مامورین د بې امنۍ له امله مزارشریف ښار ته نه شي تللی او په هزارجاتو کې ډېر خلك له لوږې سره مخ دي.

دچنګاښ ۱۰ مه:

په کابل کې بهرنیو موسسو ته د طالبانو له خوا حکم وشو چې خپل دفترونه له وزیر اکبرخان مېنې څخه دپولیتخنیك ودانۍ ته ولېږدوي.

د چنګاښ ۲۲ مه:

طالبانو د خپلو پرمختګونو په لړ کې د فارياب ولایت مرکز د میمنې ښار ونیو.

د چنګاښ ۳۰ مه:

د جرمني په بن ښار کې د افغانانو غونډه تر څلورو ورځو خبرو اترو او مرکو وروسته پایته ورسېده.

د زمري لومړۍ:

دسره صلیب دنړیوالې اداري په منځګړیتوب د طالبانو او مسعود تر منځ د ۱۴۰ تنو جنګي اسیرانو تبادله وشوه.

د زمري ۹ مه:

په کابل کې د طالبانو او بهرنیو موسسو تر منځ پر راپیداشوې شخړې خبرې وشوې.

د زمري ۱۱ مه:

طالبانو د اندخوی ولسوالۍ په نیولو سره فارياب ولایت په بشپړ ډول تر خپل

کنټرول لاندې راووست.

د زمري ۱۲ مه:

د طالبانو د پرمختګونو په لړ کې د جوزجان مرکز شبرغان هم دوی ته په لاس ورغی، جنرال دوستم کوم نامعلوم ځای ته وتښتېده.

د زمري ۱۴ مه:

طالبانو دسر پل ولایت تر خپل کنټرول لاندې راوست، بله خوا د شمال اتحاد له خوا د ټولو ځواکونو قومانده مسعود ته ورکړل شوه.

د زمري ۱۷ مه:

د ملګرو ملتونو د امنیت شوراپه یوه اعلامیه کې په افغانستان کې پر جنګ اخته ډلو ته د جنګ بندولو غږ وکړ.

د زمري ۲۲ مه:

طالبانو د خپل پرمختګ په لړ کې له تالقانو وروسته نهرین او پلخمري هم ونیول.

د زمري ۲۷ مه:

برهان الدین رباني وویل: زما حکومت حق لري له هر یو بهرني هېواد نه مرسته وغواړي.

د زمري ۲۸ مه:

جنرال اسلم بېګ وویل: امریکا غواړي په افغانستان کې د اسامه بن لادن پر مرکزونو برید وکړي.

د زمري ۲۹ مه:

د قومندان مسعود ځواکونو دبدخشان مرکز ته په تلونکې لار کې پلونه په بمونو والوزول، چې د طالبانو د پرمختګ مخه ونیسي.

د زمري ۳۰ مه:

امریکا پر افغانستان او سوډان د کروز توغندیو برید وکړ، دا راکټونه دخوست ولایت پر ژوره او ځینو نورو ځایونو ولګېدل.

د زمري ۳۱ مه:

په داسې حال کې چې په افغانستان او بهر کې مېشتو افغانانو د امريکا حملې د مظاهرو او غونډو په ترڅ کې وغندلې، برهان الدين رباني د دغو حملو ملاتړ وکړ.

د وږي لومړۍ:

طالبانو د چاريکارو په استقامت دسختې جګړې په نتيجه کې د اوفيان شريف غر تر خپل کنټرول لاندې راوست او هم يې په کيان دره کې د سيد منصوري نادري عمومي مرکزي ونيو.

د وږي ۵ مه:

ايران د افغانستان له پولې سره خپل اويا زرو نه زيات ځمکني او هوايي پوځيان ځای پر ځای کړل او خپل پوځي تمرينونه يې پيل کړل.

د وږي ۹ مه:

په پېښور کې دافغاني پوهنتونونو د بندولو په لړۍ کې څلور پاتې پوهنتونونه هم د محصلينوپر مخ بند شول. په دې پوهنتونونو کې ټاکل څلور زره ښځمنو او نارينه زده کوونکو زده کړه کوله.

د وږي ۱۳ مه:

دشمال اتحاد ځواکونو دکابل ښار پر خواجه رواش او شاو خوا سيمو باندې توغندي وتوغول چې بېګناه خلك يې مړه او ژوبل کړل.

د وږي ۱۷ مه:

امريکا پر ايران غږ وکړ چې له نړيوالو قوانينو څخه خلاف کار دې نه کوي او پر افغانستان دې له پوځي حملې څخه ډډه وکړي.

د وږي ۱۸ مه:

طالبانو دبشري حقوقو د کمېټې هغه ګزارش رد کړ چې په کې راغلي وو: طالبانو په مزار کې عامه وژنه کړې ده.

د وږي ۱۹ مه:
طالبانو اعلان وکړ چې دایران سفارت د نهو ډیپلوماتانو مړي په مزار شریف ښار کې وموندل شول.
د وږي ۲۲ مه:
طالبان له ډېر لږ مقاومت وروسته د بامیانو ولایت تر کنټرول لاندې راوست.
د وږي ۲۸ مه:
د طالبانو مشر ملامحمدعمر مجاهد ایران ته اخطار ورکړ چې خپل پوځونه دې له پولو څخه لرې کړي، ګنې پایله به یې د روسانو په شان وي.
د وږي ۲۹ مه:
قومندان مسعود پر کابل ښار روسي لونا توغندي واورول، په خیرخانه مېنه کې یې له مریم لېسې سره او هم بهارستان سینما سره اټکل ۱۸۰ ښاریان مړه او ژوبل کړل.
د تلې ٦ مه:
د مسعود یوه الوتکه طالبانو ته تسلیم شوه.
د تلې ۸ مه:
د طالبانو الوتکو د کابل شمال کې جبل السراج، پنجشېر او دبګرام هوایي ډګر شاوخوا سیمې بمباري کړې.
د تلې ۱۱ مه:
دایران جنګي الوتکو درې ځلې د افغانستان پر فضایي حدودو تېری وکړ او نیمروز او هرات ولایتونو ته واوښتې.
د تلې ۲۰ مه:
په اسلام اباد کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي ابراهیمي او طالبانو استازي مولوي متوکل تر منځ خبرې اترې وشوې.

**د تلې ۲۱ مه:**

د قرغزستان حکومت له خوا له وسلو او مهماتو نه ډك اورګاډی ونیول شو، دا وسله ایران د افغانستان د شمال ځواکونو لپاره انتقالوله.

**د تلې ۲۳ مه:**

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ابراهیمي په کندهار کې د طالبانو له مشر ملامحمدعمر سره وکتل.

**دتلې ۲۷ مه:**

سره صلیب کابل ته دخپلو مرستو پروازونه بند کړل، دې اداري وویل: دا پروازونه یې پر هوایي ډګر د راکټونو دلګېدو له امله بند کړي دي.

**د تلې ۲۸ مه:**

د قومندان مسعود ځواکونو د یوې جګړې په ترڅ کې د تخار ولایت د تالقانو ښار دویم ځل له طالبانو څخه ونیوه.

**دتلې ۳۰ مه:**

ملګروملتونو د طالبانو حکومت ته د غړیتوب له ورکولو نه یو ځل بیا انکار وکړ او دا څوکۍ یې د یو کال لپاره بیا د رباني استازي ته پرېښوده.

**د لړم ۳ مه:**

د تاجکستان په مرکز دوشنبه کې د ملګروملتونو ځانګړي استازي ابراهیمي او قومندان احمد شاه مسعود د بندو دروازو تر شا ملاقات وکړ.

**د لړم ۸ مه:**

د طالبانو او قومندان مسعود تر منځ د موقتي اوربند په نتیجه کې داسیرانو تبادله پیل شوه، دا اوربند دسیدجلال دهڅو په نتیجه کې شوی و.

**دلړم ۱۵ مه:**

د امریکا حکومت اعلان وکړ چې که هر چا اسامه بن لادن ژوندی ورته وسپاره یایې وواژه، نو هغه سړي ته به پنځه ملیونه ډالره انعام ورکړي.

د لړم ۱۷ مه:

د ملګروملتونو ځانګړي استازي ابراهیمي ووېیل چې د افغانستان د جګړې عاملین پاکستان او ایران دي.

دلړم ۲۱ مه:

په شمال کې اوربند مات او جګړې بیا پیل شوې، طالبانو دسرغړونې پړه پر مسعود واچوله او مسعود پر طالبانو، داسې ویل کېږي چې طالبانو پر تالقانو بمباري هم کړې ده.

د لړم ۲۳مه:

دوحدت حزب مشر اکبري له خپلو ملګرو سره په ورس ولسوالۍ کې طالبانو ته تسلیم شو.

د لړم ۲۵ مه:

د طالبانو مخالفینو ادعا وکړه چې په بغلان کې یې دنهرین ولسوالۍ نیولې، خو طالبانو وویل چې د دوی حملې مو پر شا تمبولي او یوازې د اشکمش ولسوالي دوی ته په لاس ورغلې ده.

د لړم ۲۷ مه:

د قومندان مسعود ځواکونو دسختې جګړې په نتیجه کې دنجراب سیمه ترخپل کنترول لاندې راوستله.

د لړم ۳۰ مه:

د جنوبي اسیا لپاره دامریکا د بهرنیوچارو د وزارت مرستیال کارل اندفرت د افغانستان له پخواني پاچا محمد ظاهر شاه سره وکتل او دافغان لانجې دحل په اړه یې ورسره خبرې وکړې

د لیندۍ ۳مه:

طالبانو د سیدجلال د هلو ځلو په نتیجه کې د ځرخي پلـه لـه زنـدان څخه دشمال اتحاد سل تنه بندیان خوشې کړل.

دلیندۍ۴ مه:
د جنرال دوستم مرستیال نسیم مهدي له خپلو ملګرو سره طالبانو ته ورتسلیم شو.
د لیندۍ۵ مه:
د تفاهم او ملي یووالي شورا هیئت د امریکا له سفیر سره ولیدل او پر روانو حالاتو یې خبرې وکړې.
د لیندۍ ۱۰مه:
له شمال اتحاد نه رااوښتي مشران اکبري، مهدي، عرفاني او نور د طالبانو له خوا په سرپرسې شورا کې شامل کړای شول.
د لیندۍ۱۱مه:
د ننګرهار طب پوهنځي محصلینو پر مظاهرې د طالبانو د منتظره قطعې دېزو له امله درې تنه محصلین مړه او شپږ تنه نور ټپیان شول.
د لیندۍ۱۷ مه:
په توکیو کې له افغانستان سره دمرستې پروګرام په غونډه کې جاپان اعلان وکړ چې د افغان مهاجرینو لپاره به درې نیم ملیونه ډالره مرسته وکړي.
د لیندۍ ۱۹ مه:
د ملګروملتونو امنیت شورا په افغانستان کې پر جګړې اخته ډلو ته د جنګ بندولو اعلان وکړ او دا یې هم وویل چې په افغانستان کې دې د دهشت اچونې روزنیز مرکزونه بند کړای شي.
دلیندۍ۲۰ مه:
په شمال کې دسر پل ولایت دسنګ چارك ولسوالۍ چې دوه اوونۍ وړاندې د طالبانو له لاسه وتلې وه بېرته طالبانو لاسته ورغله.
د لیندۍ۲۳ مه:
د کابل ښار پر بېلابېلو برخو باندې دشمال اتحاد له خوا توغندي وویشتل شول، چې په نتیجه کې ۲۱ تنه بې ګناه ښاریان مړه او ۲۷ تنه نور ژوبل شول.

د لیندۍ۲۵ مه:

په داسې حال کې چې د طالبانو او مخالفینو تر منځ د کندز په خان اباد کې جګړې روانې وې، طالبانو د څرخي پله له زندان څخه د مخالفینو **۲۵** تنه بندیان خوشې کړل.

د لیندۍ۲٦ مه:

د ملګروملتونو ځانګړي استازي ابراهیمي د افغانستان د شخړو داورۍ لپاره ایران ته رسېدلی، چې له ایراني چارواکو سره خبرې وکړي.

دلیندۍ ۲۸ مه:

د ملګروملتونو ځانګړي استازي ابراهیمي او دطالبانو استازي مولوي وکیل احمد متوکل په اسلام اباد کې د افغانستان د روانو شخړو د حل په اړه خبرې اترې وکړې.

د لیندۍ۲۹ مه:

د طالبانو د مخالف اتحاد تر منځ د اختلافونوله کبله دبدخشان والي ووژل شو.

د مرغومي۸ مه:

داسې ویل کېږي چې احمدشاه مسعود په تاجکستان کې د امریکایي استازو تر لیدو وروسته پر طالبانو د حملې لپاره تیاری پیل کړی دی.

د مرغومي۹ مه:

د فارياب د بل څراغ په غرنیو سیمو کې د طالبانو او مخالفینو تر منځ د سختې جګړې په نتیجه کې سخته مرګ ژوبله وشوه.

د مرغومي۱۰ مه:

دشمال اتحاد قومندان احمدشاه مسعود په یوه مرکه کې وویل چې اسامه بن لادن دې نور د افغانستان نوم نه بدوي او ژر تر ژره دې له افغانستان څخه ووزي.

د مرغومي ۱۳ مه:

د کابل ښار دشېرپور په پخواني پوځي قرارګاه کې د يوې چاودنې له امله اووه تنه ماشومان مړه او درې نور ټپيان شول.

د مرغومي ۱۵ مه:

د صبغت الله مجددي او پير سيد احمد ګېلاني له خوا د سولې او يووالي په نوم ټولنه د يومطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې پرانيستل شوه.

د مرغومي ۱٦ مه:

طالبانو وويل: ايران تر اوسه لس زره افغان مهاجرين په زوره له ايران څخه شړلي دي.

د مرغومي ۱۸ مه:

د طالبانو مخالف اتحاد د اوربنداو له طالبانو سره د مذاکراتو وړانديز وکړ.

د مرغومي ۲۲ مه:

انجنير ګلبدين حکمتيار ته د سعودي عربستان له خوا بلنه ورکړل شوه.

د مرغومي ۲۴ مه:

د طالبانو او احمدشاه مسعود تر منځ دجګړې په لومړۍ ليکه شکردره او ګلدره کې يو پر بل د توپونو ډزې وشوې.

د مرغومي ۲۸ مه:

د طالبانو مخالفو ځواکونو ادعا وکړه چې دوی په فارياب کې تر سختو جګړو وروسته دشيرين تګاب ولسوالي نيولې ده.

د سلواغې لومړۍ:

په خوست ولايت کې د طالبانو او ګوربزو د قوم ترمنځ د اختر په مېله کې د هګيو جنګولو پر سر شخړه پيده شوه، دواړو خواوو ته د سر تاوان واوښت.

د سلواغې ۴ مه:

جاپان، له طالبانو او د شمال اتحاد ځواکونو څخه د جنګ بندولو غوښتنه

وکړه.

د سلواغې٦ مه:

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو منتظم په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کارکوونکو د فعالیت پیلولو په موخه له مولوي وکیل احمدمتوکل او د کندهار له والي ملا محمد حسن سره وکتل.

د سلواغې١٢ مه:

طالبانو او د ترکمنستان چارواکو تر منځ د مخدره موادو پر مخنیوي او افغانستان ته د بربښنا پر واردولو خبرې اترې وشوې.

د سلواغې١۴ مه:

د طالبانو لوړ رتبه هئیت د مولوي وکیل احمد په مشرۍ په دوبۍ کې له ایراني چارواکو سره خبرې اترې وکړې.

دسلواغې١۵ مه:

د جنوبي اسیا لپاره دامریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال کارل اندفرت له یو شمېر افغاني روڼ اندو شخصیتونو سره د افغان مسالې د اوارۍ په اړه خبرې اترې وکړې.

د سلواغې ١٦ مه:

کارل اندرفرت له طالبانو سره د اسامه بن لادن او نورو موضوعګانو په هکله خبرې اترې وکړې.

دسلواغې٢٠ مه:

په کابل کې د ملګروملتونو د یو هئیت او طالبانو تر منځ له مذاکراتو وروسته به ملګري ملتونه خپل فعالیت بیا پیل کړي.

د سلواغې٢٣ مه:

د وردګو ولایت مرکز میدانښار، د چك، نرخ او سیداباد ولسوالیو او نورو شا و خوا سیمو کې سخته زلزله وشوه، چې ډېر کورونه وران، خلك مړه او څاروي تباه شول.

**د سلواغې۲۵ مه:**

اسامه بن لادن په افغانستان کې لادرکه شو.

**د سلواغې۳۰ مه:**

د سعودي عربستان پاچا شاه فهد د ملګروملتونو له ځانګړي استازي ابراهیمي سره د افغان شخړې په اړه خبرې وکړې.

**د کب لومړۍ:**

په ختیزو ولایتونو کې د طالبانو له خوا د هیرویین جوړولو ۳۴ فابریکې له منځه یووړل شوې.

**د کب۴ مه:**

په افغانستان کې دننه د پوستې تر فعالېدو وروسته، له نورې نړۍ سره هم د پوستې لېږل پیل شول، دا کار به د اریانا هوایي شرکت له لارې دوبۍ ته او بیا له هغه ځایه نورو هېوادونو ته ترسره کېږي.

**د کب۸ مه:**

طالبانو له یوې ورځې سختې حملې وروسته دیکاولنګ مرکز بېرته ونیوه.

**د کب ۹ مه:**

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ۱۹۹۸ م کال په کلني ګزارش کې د افغانستان د بشري حقوقو په هکله ویل شوي چې د جنګونو له امله له بشري حقوقو څخه سرغړونه کېږي او طالبان ښځو ته د کار کولو او ښوونې حق نه ورکوي.

**د کب۱۰ مه:**

د ملګروملتونو ځانګړي استازي ابراهیمي په کابل کې د سرپرستې شورا له مشر ملارباني سره وکتل.

**د کب ۱٦ مه:**

د قزاقستان د بهرنیو چارو وزیر چې په اسلام اباد کې پر خبرو اترو بوخت و وویل چې د افغان لانجې داوارۍ لپاره دې پراخ بنسټه حکومت جوړ شي، ده وویل چې په افغانستان کې موږ سولې ته ځکه لېواله یو چې د تېلو پایپلاین له دې ځمکې څخه تېر شي.

د کب۱۸ مه:

امریکا یو ځل بیا خبر داری ورکړ چې که چېرې طالبان اسامه له افغانستان څخه ونه باسي، نو پر افغانستان به سختې حملې وکړي.

د کب۲۴ مه:

د ترکمنستان مرکز عشق اباد کې د ملګروملتونو تر څارنې لاندې د افغانستان مخالفو پوځي ډلو تر منځ تر څلور ورځنیو خبرو اترو وروسته پر شریك حکومت، شریکه انتظامیه، شریکه مقننه، د جګړو پر ختمولو، د بندیانو پر تبادلې او نورو مسایلو موافقه وشوه، د دغو مذاکراتو بل پړاو به په افغانستان کې دننه ترسره شي(۱۲)

# ۱۳۷۸ ل کال

**د۱۳۷۸ ل کال د وري لومړۍ:**

د ملګروملتونو استازی ابراهیمي د طالبانو له مشرانو سره د خبرو لپاره کندهار ته لاړ، په دې لیدنه کې به د عشق اباد د خبرو اترو په اړه خبرې وشي.

**د وري-۲ مه:**

دافغان شخړې د حل په اړه ابراهیمي له ملا رباني سره وکتل، هغه ته دکابل په هوایي ډګر کې د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ملا عبدالرحمن زاهد له خوا هر کلی وویل شو.

**د وري-۴ مه:**

د ملګرو ملتونو سرمنشي کوفي عنان وویل چې بهرني هېوادونه دې په افغانستان کې لاسوهنه بنده کړي.

**د وري-۴ مه:**

ابراهیمي په تخار کې د متحدې جبهې له مشرانو سره په وینا کې وویل: غواړم د عشق اباد خبرې اترې له سبوتاژ څخه وژغورم.

**د وري-۵ مه:**

د احمد شاه مسعود ویاند ډاکټر عبدالله وویل:د طالبانو امارت نه منو.

**د وري-۷ مه:**

له طالبانو سره د مذاکراتو تر ناکامۍ وروسته متحده جبهه د متبادلې لارې په لټه کې شوه او د متحدې جبهې مهمو مشرانو په پروان کې غونډه وکړه.

**د وري-۸ مه:**

ملامحمد عمر مجاهد وویل چې افغانستان به کله هم د امریکا حمله ونه زغمي، که امریکا بیا د کروز توغندیو حمله وکړه موږ به مقاومت وکړو.

**د وري-۱۳ مه:**

ملاعبدالحی مطمئن له S.N.A سره په یوه تلیفوني تماس کې وویل چې د امیرالمومنین له مقام څخه تېرېدې نه شو. ملا محمدعمر مجاهد دیو نیم زرو عالمانو له خوا پر دې مقام ټاکل شوی دی.

د وري-۱۹ مه:
د طالباتو پر خلاف د يوې پوځي حملې د پرېکړې په خاطر قومندان مسعود او د روسيې د دفاع وزير ليدنه کتنه وکړه.
د وري-۲۲ مه:
طالبانو په يوه اعلاميه کې روسانو ته ګواښ وکړ چې له افغانستان سره په پوله کې له خپلې پوځي اډې جوړولو څخه ډډه وکړي.
د وري-۲۵ مه:
د ملګرو ملتونو سرمنشي د طالبانو پر هغې پرېکړې خواشيني څرګنده کړه چې ويلي يې دي: موږ د عشق اباد کنفرانس دوام ته چمتو نه يو.
د وري۲٦ مه:
په واشنګټن کې د افغانستان پر موضوع د بحث لپاره د کانګرس له خوا په جوړه شوې غونډه کې سناتور بروان وويل چې امريکا اوس هم د طالبانو مرسته کوي او غواړي په واک کې پاتې شي.
د وري-۲۸ مه:
د روسيې مشر بوريس يلتسن او دتاجکستان مشر آمام علي رحمانوف تر منځ په تاجکستان کې د يوې پوځي اډې د جوړولو موافقه لاسليک شوه، ازبکستان او طالبانو په دې اړه جدي اندېښنه وښوده.
دغويي لومړۍ:
په بدخشان کې د مولوي قيام الدين خردمند تر وژلو وروسته د بدخشان دنوي والي او شورا تر منځ په جګړه کې دارګو، شهرنو، هوايي ډګر او نورې سيمې د قومندان مسعود له واکه ووتلې.
د غويي-۲ مه:
د باميانو ولايت د طالبانو له ۱۲۸ ورځنۍ واکمنۍ وروسته بېرته دشعيه وحدت حزب لاس ته ورغی.
دغويي-۷ مه:
دشمال متحدې جبهې وياند يونس قانوني وويل چې متحدې جبهې د پارلمان جوړولو پرېکړه کړې او په لومړۍ غونډه کې به صدراعظم وټاکي.

دغويي-۱۰ مه:

د پروان په چاريكارو كې د ابوريحان البيروني په نامه د يو پوهنتون د جوړولو هڅه وشوه.

د غويي-۱۱ مه:

د افغانستان پخواني پاچا محمد ظاهر شاه د افغان لاثجې دحل په اړه په روم كې له خپلو مشاورينو سره غونډه وكړه او د غونډې پرېكړه ليك كې ويل شوي چې لويه جرګه به د افغانستان د زعامت مسله حلوي.

د غويي-۱۸ مه:

د طالبانو يو لوړ رتبه پلاوي په عشق اباد كې د تركمنستان له مشرانو سره تر خبرو وروسته وويل چې زموږ خبرې ګټورې وې.

دغويي-۲۰ مه:

طالبانو چې څو ورځې وړاندې د باميان ولايت له لاسه وركړى و، يو ځل بيا پر دې بريالي شول چې دا ولايت بېرته تر خپل كنټرول لاندې راولي.

د غويي- ۲۴ مه:

دعشق اباد تر كنفرانس وروسته ملګروملتونو په ناڅاپي ډول په نيويارك كې د ۶+۲ هېوادونو غونډه راوبلله.

د غويي-۲۵ مه:

دامريكا د بهرنيو چارو وزارت سلاكار د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه د لويې جرګې له جوړولو سره د امريكا مرسته او تاييد اعلان كړل.

د غويي-۲۶ مه:

ايراني ځواكونو د هرات، نيمروز او فراه پر سرحدي كليو باندې د توپونو بريد وكړ، طالبانو د ايران بهرنيو چارو وزارت ته احتجاجليك ولېږه.

دغويي-۳۰ مه:

د شمال اتحاد ځواكونو د كابل ښار پر خيرخانه مېنه باندې توغندي واورول چې يو كس په كې ووژل شو.

د غبرګولي۵ مه:

په کولاب کې د متحدې جبهې سرمشریزه غونډه د نظارشورا، اسلامي جمعیت، اسلامي اتحاد، مشرقي شورا او د اسلامي حزب ناراضي ګروپ تر منځ جوړه شوه.

د غبرګولي-۸ مه:

پتیرتامسن وویل: که افغانان غواړي مشکل یې حل شي، له بهرنیو مداخلو پرته دې په خپلو کې سره جرګه شي او خپله مسـ له دې په خپله حل کړي.

د غبرګولي-۹مه:

استاد رباني په بشکیک کې د قرغزستان له ولس مشر سره لیدنه وکړه.

د غبرګولي-۲۲ مه:

د ازبکستان یو پلاوی ددې هېواد د بهرنیو چارو د وزیر په مشرۍ اسلام اباد ته ورسېد، چې د افغان لانجې د حل په اړه له پاکستاني چارواکو او طالبانو سره خبرې وکړي، د ا هئیت په اسلام اباد کې تر کتنې وروسته کندهار ته لاړ او هلته یې له طالبانو سره د ۶+۲ هېوادونو د غونډې په هکله خبرې اترې وکړې.

د غبرګولي-۱٦ مه:

د افغانستان لانجې د حل په اړه په قبرس کې د ایران په لګښت یوه غونډه جوړه شوه، له پېښور نه دې غونډې ته سیداسحق ګېلاني او ډاکټر رحیم پښتونیار بلل شوي، طالبانو په غونډه کې برخه وانه خیسته.

د غبرګولي-۱٦ مه:

د سره صلیب نړیوالې ادارې په مرسته د طالبانو او مخالفینو تر منځ د جنګي بندیانو تبادله وشوه له هر لوري نه اووه اووه کسان خوشې شول.

د غبرګولي-۲۱ مه:

د طالبانو جنګي الوتکو په بدخشان ولایت کې دخپلو مخالفینو پر پوځي ځایونو بمبارۍ وکړې چې د توپخانې چاونۍ د وسلو لوی ګودام کې اور ولګېد او د چاودنې له امله سخت زیان ور ورسېد.

د غبرګولي-۲٦ مه:

د طالبانو مشر ملامحمد عمر مجاهد دیو فرمان پر بنسټ د مخالف اتحاد ۵۰۰ جنګي بندیان له بنده خوشې کړل.

د غبرګولي-۲۷ مه:
پر جلال اباد ښار باندې له ناځرګند لوري څه له پاسه دوه ویشت توغندي وویشتل شول چې پر بابړیانو کلي، امنیې قومندانۍ او نورو ځایونو ولګېدل، په بابړیانو کلي کې د یو کور درې تنه په دې پېښه کې ووژل شول.
دغبرګولي-۲۹ مه:
د کونړ د پېچ درې په ځنګلونو کې هغه اور چې څو ورځې وړاندې لګېدلی و تر اوسه یې لس کلي سوځولي دي، د اور وژلو هېڅ هڅه نه ده شوې، دغه اور لومړی په غرونو کې و او بیا کلیو ته راکوز شو.
د غبرګولي-۳۰ مه:
پاکستان حکومت په پېښور کې د اسلامي جمعیت ، اسلامي حزب او د ملي نجات جبهې له دفترونو څخه د دوی بې سیم مخابرې راټولې کړې.
د چنګاښ-۲ مه:
پخواني پاچا د عبدالستار سیرت په مشرۍ یو هیئت د سولې د هلو ځلو په لړ کې ایران ته ولېږه، چې هلته ایراني چارواکو او اوسېدونکو افغانانو سره خبرې اترې وکړي.
د چنګاښ-۶ مه:
د پخواني پاچا په مشرۍ د افغان لانجې د حل په اړه د افغاني شخصیتونو غونډه پیل شوه، د طالبانو او متحدې جبهې استازي په غونډه کې نه وو، غونډه د یوې اضطراري لویې جرګې لپاره دلارو چارو د لټون په خاطر رابلل شوې وه.
د چنګاښ-۱۲ مه:
د هېواد په شمال سیمو کې د طالبانو د پرمختګونو د مخنیوي په خاطر دشمال اتحاد ځواکونو د بنګي پل والوزاوه، چې د طالبانو لاره غوځه کړي.
د چنګاښ-۱۵ مه:
د ملګروملتونو عمومي منشي کوفي عنان د افغانستان پر دواړو جنګي ډلو غږ وکړ چې له جنګونو نه دې لاس واخلي او سولې ته دې غاړه کېږدي.

د چنګاښ-۲۰ مه:
دامریکا ولسمشر بل کلنټن وویل چې طالبان د امریکا د ګټو لپاره لوی خطر دی، نو ځکه پر دوی بندیزونه لګوي، دا بندیزونه د ولس خلاف نه، بلکې د طالبانو پر خلاف دي.
د چنګاښ-۲۲ مه:
د طالبانو مشر ملامحمدعمر مجاهد اعلان وکړ، هغه امریکایان چې افغانستان کې اوسېږي د هغوی ژوند ته هېڅ خطر نه شته او طالبان ددوی د امن پوره ضمانت کوي.
د چنګاښ-۲۷ مه:
د افغانستان نومیالی قومي مشر عبدالاحد کرزی د نامعلومو کسانو له خوا په کوټه کې ووژل شو.
د زمري لومړۍ:
په تاشکند کې د طالبانو او متحدې جبهې په ګډون د ۶+۲ هېوادونو غونډه پیل شوه، دا غونډه دوه ورځې وروسته له کومې نتیجې پرته پایته ورسېده.
د زمري-۲ مه:
ابراهیمي د تاشکند تر غونډې وروسته کابل ته لاړ چې د طالبانو له مشرانو سره پر اړوندو مسایلو خبرې وکړي.
د زمري-۲ مه:
دتاشکند تر ناکامې غونډې وروسته په شمال کې د طالبانو او مخالفینو جنګونه ونښتل، قومندان احمدشاه مسعود ازبکستان ته لاړ چې له ازبک مشرانو سره خبرې اترې وکړي.
د زمري-۴ مه:
دخوست ولایت د کونډیو په سیمه کې چې د دوو کانونو پخواني اثار راوتي، په دې باب د دې سیمې خلکو یوه غونډه وکړه.
د زمري-۷ مه:
د کابل پر هوایي ډګر د توغندیو د لګېدو له امله سره صلیب او ملګروملتونو دې ډګر ته خپلې الوتنې وځنډولې.

د زمري-۸ مه:

طالبان د ساپي غره(کوه صافي)،تګاب او نجراب پر محاذونو تر برید وروسته بریالي شول چې د تګاب او نجراب سیمې له خپلو مخالفینو څخه په بشپړ ډول تر خپل کنټرول لاندې راولي.

د زمري-۹ مه:

قزاقستان افغانستان ته اته زره ټنه غنم د مخکښنۍ پریکړې پر بنسټ وسپارل، دغه غنم د تورغونډۍ تر بندره د قزاقستان حکومت په خپلو نقلیه وسایطو انتقال کړل او بیا کابل، هرات او نورو ولایتونو کې وویشل شول.

د زمري-۱۳ مه:

د طالبانو او مخالفینو تر منځ له دوو ورځو نښتو وروسته طالبان بریالي شول چې د پروان او کاپیسا ټولې سیمې په بشپړ ډول تر خپل کنټرول لاندې راولي.

د زمري-۱۴ مه:

طالبانو په کندز کې هم یو لړ پرمختګونه وکړل، شبرخان بندر او امام صاحب ولسوالي او دشت ارچي یې تر خپل کنټرول لاندې راوستل.

د زمري-۱۵ مه:

د کابل له شمالي سیمو څخه د جګړو له کبله ۱۸۰۰ کورنۍ جلال اباد ته مهاجرې شوې او ځینې خلك نورو سیمو ته لاړل.

د زمري۱٦ مه:

د شمال اتحاد ځواکونو وویل چې له طالبانو نه مو ټولې هغه سیمې بېرته ونیولې چې زموږ له لاسه وتلې وې

د زمري-۲۲ مه:

د امریکا حکومت د اریانا افغان هوایي شرکت ټول مربوطات چې په امریکا کې دي ضبط کړل او اخطار یې ورکړ هغه ملکي کمپنۍ چې داسامه بن لادن مرسته کوي د هغوی انجام به هم دا شان وي. طالبانو وویل موږ یې پروا نه لرو.

د زمري۲٦ مه:

د شمال ځواکونو قومندان احمدشاه مسعود د ختیزو سیمو ځینو قومندانانو سره د مرستې په لړ کې پر دې بریالی شو چې د لغمان، کونړ او ننګرهار ځینو غرنیو سیمو کې الګوله پیدا کړي.

د زمري-۲۸ مه:
پاکستان د طالبانو او مخالفو ځواکونو تر منځ د خبرو اترو په خاطر خپل يو پلاوی د رستم شاه مومندپه مشرۍ تاجکستان ته ولېږه، چې هلته د مخالفو ځواکونوله پلاوي سره وګوري او وروسته له طالبانو سره دليدو لپاره کندهار ته لاړ شي، د مخالف اتحاد له ځواکونو سره ددې پلاوي خبرې له ناکامۍ سره مخ شوې.
د وږي-۲ مه:
ملاامیرخان متقي د يونيسف اداري هغه ګزارش وغانده چې ګنې طالبان تنکي ځوانان د جګړې لومړيو کرښو ته استوي، ده وويل چې ملګري ملتونه دې بايد پر طالبانو له دې ډول تورونوڅخه لاس واخلي.
د وږي-۳ مه:
د لغمان ولايت د دولت شاه سيمه چې د مخالفو ځواکونو له خوا نيول شوې وه طالبانو بېرته ونيوله.
د وږي-۵ مه:
په کندهار ښار کې دطالبانو مشر ملامحمدعمر مجاهدد کور په خوا کې يوه زوروره چاودنه وشوه، چاودېدونکي مواد په يوه ګاډي کې ځای پر ځای شوي وو، چاودنه کې لس تنه مړه او دڅلوېښتو په شاوخوا کې خلك ټپان شول. په مړو کې دوه تنه د ملامحمد عمر ساتونکي وو.
د وږي-۷ مه:
د هندوستان حکومت هم د کابل او امرتسر ترمنځ د اريانافغان هوايي شرکت الوتنې وځنډولې.
د وږي-۱۲مه:
د شمال اتحاد متحدينو له يوې درې ورځنۍ غونډې څخه وروسته دربانې حکومت د کابينې جوړولو اعلان وکړ، په غونډه کې رباني، سياف، مسعود، حاجي قدير، قانوني، جنرال فهيم او نور شامل وو.
د وږي-۲۱ مه:
ملګرو ملتونو اعلان وکړ چې سږ کال په افغانستان کې څلور نيم زره مترك ټنه افيون توليد شوي چې دا دنړۍ اويا فيصده افيون جوړوي.

د وږي-۲۲ مه:

د طالبانو یوه هلیکوپتر الوتکه چې له کابل نه کندهار ته روانه وه په لار کې وغورځېده، په کې سواره دیارلس تنه مساپر مړه شول.

د وږي-۲۵ مه:

سیداسحق ګیلاني وویل چې په ملګروملتونو کې دې د افغانستان څوکۍ تر هغه تشه پاتې شي چې په افغانستان کې یو مشروع حکومت نه وي رامنځته شوی.

د وږي-۲٦ مه:

د رستم شاه مومند په مشرۍ پاکستاني پلاوي د درېیم ځل لپاره په تاجکستان کې د شمال اتحاد له مشرانو سره وکتل.

د وږي-۲۷ مه:

په پېښور کې د امریکا د نوي قونسل د معرفي کولولپاره د اتیاوو په شا و خوا کې افغاني شخصیتونو ته بلنه ورکړل شوې وه، په دې غونډه کې پر سیاسي حالاتو هم خبرې اترې وشوې.

د وږي-۲۸ مه:

د طالبانو یو پلاوی د مولوي وکیل احمد متوکل په مشرۍ پاکستان ته راغی او پر اړوندو مسایلو یې له پاکستاني چارواکو سره خبرې اترې وکړې.

د تلې۲ مه:

د قبرس درېیمه غونډه چې له بېلابېلو سیمو څخه ورته افغاني پوهان او مخور غوښتل شوي وو د یو پرېکړه لیك په صادرولو سره پایته ورسېده.

د تلې-۵ مه:

په پلخمري کې د طالبانو له خوا د طالبانو پرضد د دوو قومندانانو پاڅون شنډ شو، طالبانو څلوېښت کسان په دې تور ونیول او دوه قومندانان یې ووژل.

د تلې-۷ مه:

طالبانو د ملګروملتونو په نوم یو احتجاجلیك کې له دغې ټولنې نه وغوښتل چې په ملګروملتونو کې دې افغانستان څوکۍ دوی ته پرېښودل شي، ځکه چې په افغانستان کې ډېره ځمکه د دوی تر واك لاندې ده.

د تلې-۹ مه:

مولوي محمد نبي محمدي وويل چې زه کندهار ته تللی وم او له اميرالمومنين سره مې پخوانی بعيت تجديد کړ، ده له رباني څخه غوښتنه وکړه چې طالبانو ته ورتسليم شي.

د تلې-۱۰ مه:

په شمال کې د سختو نښتو له امله طالبان د تالقان هوايي ډګر، خواجه غار او هزارباغ تر نيولو وروسته د تخار د نيولو هڅې کوي، په دې جګړو کې له دواړو خواوو نه ۱۸ تنه مړه شوي او په لسګونو ټپيان شوي دي.

د تلې-۱۲ مه:

په شمال کې د طالبانو د پرمختګونو له کبله د تاجکستان په کولاب کې د روس، تاجکستان ايران او د شمال اتحاد د مشرانو غونډه جوړه شوه.

د تلې-۱۳ مه:

طالبانو د تاجکستان حکومت ته اخطار ورکړ چې زموږ په کورنيو چارو کې دې لاسوهنه نه کوي او د کولاب هوايي ډګر نه دې مخالفين ګټه نه اخلي.

د تلې-۱۶ مه:

د پاکستان صدراعظم نواز شريف وويل له موږ سره شهادتونه شته چې په پاکستان کې د تر هګرۍ کومې پېښې کېږي، په هغو کې ککړو کسانو ته په افغانستان کې د دهشتګردۍ روزنه ورکول کېږي.

د تلې-۱۸ مه:

د شمال ائتلاف ځواکونه تر پر له پسې جګړو وروسته پر دې بريالي شول چې د خواجه غار سيمه له طالبانو څخه بېرته ونيسي.

دتلې-۲۱ مه:

په پاکستان کې د امريکا په سفارت کې د دې سفارت د سفير په هڅو د افغاني شخصيتونو او پاکستاني چارواکو غونډه راوبلل شوه او د افغانستان پر روانو حالاتو غور وشو.

دتلې-۲۳ مه:
قومندان مسعود دپاکستان نوي قیادت سره د نېکو تعلقاتو هیله څرګنده کړه، ده وویل پاکستان زما دویم کور دی، هلته په رحمن بابا هدیره کې زما مور ښخه ده.
دتلې-۲٦ مه:
دپاکستان نوي ستر منتظم جنرال پروېزمشرف په خپله لومړنۍ وینا کې وویل چې موږ په افغانستان کې یو نماینده او رښتینی حکومت غواړو.
د تلې-۲۹ مه:
د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونوځانګړي استازي ابراهیمي له خپلې دندې څخه استعفی ورکړه، هغه وویل زه ځکه استعفی کوم چې د افغانستان لپاره زما د سولې هڅو هېڅ نتیجه ور نه کړه.
د لړم-۴ مه:
په واشنګټن کې داسامه بن لادن پر موضوع د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال اندرفرټ دطالبانو استازي عبدالحکیم مجاهد او د ملګروملتونو نماینده خبرې اترې وکړې.
د لړم-۷ مه:
په کابل کې د کابینې د وزیرانو په لړ کې، مولوي وکیل احمد متوکل د بهرنیو چارو د وزیر، ملاعبدالرزاق د کورنیو چارو وزیر، مولوي قدرت الله جمال د اطلاعاتو او کلتور وزیر او ملاامیرخان متقي د چارو د اداري ریس په توګه وټاکل شول او یوشمېر نور بدلونونه هم راغلل.
د لړم-۱۱ مه:
د جوزجان او سر پل په سختو جګړو کې دسرپل والي ووژل شو.
د لړم-۱۲ مه:
د ازبك ملېشو مشر دوستم وویل چې په نږدې وختونو کې به په افغانستان کې جدي بدلونونه راشي. دی په مسکو کې و. زیاته یې کړه چې روسانو زما ټول وړاندیزونه منلي دي.

د لړم-۱۹ مه:

د طالبانو مشر ملامحمدعمرمجاهد پر خپل مخالف مشر قومندان مسعود باندې غږ وکړ چې جنګبندۍ ته دې غاړه کېږدي، چې ټول په ګډه د چیچنیا د مجاهدینو مرسته وکړو.

د لړم-۲۰ مه:

په کندهار کې په زرګونو خلکو د امریکا او ملګرو ملتونو دامنیت شورا پر ضد مظاهره وکړه، مظاهره کوونکو د ملګروملتونو دفتر ته د بندیزونو د لرې کولو په اړه یو لیك هم ورکړ.

د لړم -۲۳ مه:

په کابل کې د ملاامیرخان متقي په موټر کې یوه چاودنه وشوه، چې درې تنه په کې ټپیان شول. چاودنه هغه مهال وشوه چې متقي د لمانځه تر ادا کولو وروسته پر لاره روان و.

دلړم- ۲۵ مه:

په کابل کې په زرګونو خلکو پر افغانستان باندې د بندیزونو پر خلاف مظاهره وکړه.

د لیندۍ لومړۍ:

په هرات کې د رضا مشهدي په مشرۍ دایران حکومت یو پلاوي د هرات له والي سره په خبرو کې د اسلام کلابندر او په هرات کې د ایران قونسلګرۍ د پرانیستو په باب خبرې وکړې.

د لیندۍ-۲ مه:

د پخواني پاچا محمدظاهرشاه په مشرۍ په روم کې د افغاني روڼ اندو او مخورو په ګډون د لویې جرګې د رابللو غونډه جوړه شوه.

دلیندۍ-۱۱ مه:

د ملګروملتونو مشر کوفي عنان په خپل کلني ګزارش کې په ډاګه کړه چې په افغانستان کې د ګاونډیو هېوادونو د لاسوهنې له امله تر ننه پورې جګړه روانه ده، که ددې جګړې مخنیوی ونه شي، کېدی شي نورو هېوادونو ته هم سرایت وکړي.

د لیندۍ-۱۲ مه:
ایران د افغانستان له لوري ایران ته د مخدره موادو قاچاق د مخنیوي لپاره له افغانستان سره د خپل لګېدونکي ختیز سرحد د ترلو پرېکړه وکړه.
د لیندۍ-۱۳ مه:
د ایران دبهرنیوچارو وزارت یو پلاوي د طاهر جان په مشرۍ له پروفیسور رباني او د مخالف اتحاد له نورو ډلو سره د افغانستان په شمال کې ملاقاتونه وکړل.
د لیندۍ-۱۴ مه:
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت نطاق جیمز روبن وویل چې موږ د روم د غونډې او نورو هغو نوښتونو هرکلی کوو چې د افغانستان مسلې د حل او د سولې راوستلو لپاره کېږي.
د لیندۍ-۱٦ مه:
روسي ورځپاڼې"ساوودنیا" د پټو ذرایعو په حواله وویل چې د چیچنیا یو هیت طالبانو سره ددې لپاره خبرې اترې کړې دي چې که چېرې پر ګروژنې باندې روسي پوځونو قبضه وکړه نو چیچین حکومت به افغانستان ته انتقال کړای شي.
د لیندۍ-۱۷ مه:
د طالبانو مشرملامحمدعمر مجاهد، له اسلامي کنفرانس نه غوښتنه وکړه چې د روسیې له خوا د چیچنیا پرضد د پوځي بریدونو پر موضوع خپل دریځ ډاګیز کړي.
د لیندۍ-۱۸ مه:
طالبانو د روژې مبارکې میاشتې په درناوي له څرخي پله زندان څخه څلورنیم سوه بندیان خوشې کړل.
دلیندۍ-۱۹ مه:
د ملګرو ملتونو له خوا پر طالبانو د بندیزونو په لړ کې دپاکستان او کویټ په بانکونو کې د طالبانو حسابونه بند کړای شول.
د لیندۍ-۲۰ مه:
طالبانو او د شمال اتحاد موافقه وکړه چې د روژې په مبارکه میاشت کې به

یو بر بل له عملیاتو نه ډډه کوي.

**دلیندۍ-۲۲ مه:**

دازبك ملېشو مشران جنرال دوستم او جنرال مالك په ایران کې تر ملاقات وروسته یو ځل بیا د افغانستان شمال ته راوستل شول.

**د لیندۍ-۲۴ مه:**

طالبانو د امریکا جمهور ریس بل کلنټن مېرمن، هیلري کلنټن ته بلنه ورکړه چې افغانستان ته راشي، د ښځو حقوق له نږدې نه وګوري او له حقایقو نه ځان خبر کړي.

**د لیندۍ-۲۵ مه:**

د افغانستان د اسلامي امارت او ترکمنستان حکومت تر منځ په هرات کې افغانستان ته د برېښنا د غزولو یو پروتوکول لاسلیك شو.

**د لیندۍ-۲۷ مه:**

په پاکستان کې د طالبانو سفیر وویل چې د قزاقستان له لارې په زرګونو ټنه غنم د افغانستان هرات ولایت ته راورسېدل، چې دې سره به د غنمو په بیو کې ډېر کمی راشي.

**د لیندۍ-۲۸ مه:**

پروفیسور رباني دیو پلاوي په مشرۍ ایراني مقاماتو سره د خبرو اترو لپاره ایران ته ورسېد.

**د مرغومي-٦ مه:**

دهندوستان یوه الوتکه چې د نیپال مرکز کتمندو نه ډیلي ته د الوتلو پر وخت نامعلومو کسانو تښتولې وه د کندهار پر هوایي ډګر راکوزه شوه، دملګروملتونو یو هیت له الوتکې تښتوونکو سره خبرې اترې وکړې، په الوتکه کې ۱۵۰ مساپر سواره وو، الوتکې تښتوونکو له هندي چارواکو څخه د خپلو کسانو د خوشې کولو غوښتنه وکړه.

**د مرغومي-۱۱ مه:**

دهندوستان د بهرنیو چارو وزیر جسونت سنګ د الوتکې تښتوونکو د غوښتنې پر بنسټ مولانا مسعود اظهر، مشتاق زرګر او احمد عمر شیخ ځان سره کندهار ته راوستل او الوتکې تښوونکو ته یې وسپارل، تر دې وروسته

يرغمل شوي کسان خوشې شول او الوتکې تښتوونکو ته د طالبانو له خوا له افغانستان څخه د وتلو حکم وشو.

د مرغومي-۱۲ مه:

د بدخشان ولايت د کشم او روستاق ولسواليو کې د اسلامي حزب او نظار شورا تر منځ په نښتو کې د نظارشورا دوه سوه کسان اسلامي حزب ته ور واوښتل.

د مرغومي-۱۳ مه:

د طالبانو د مشر ملامحمدعمر مجاهد د ځانګړي فرمان پر بنسټ دکندهار له محبس څخه **۵۵** تنه سياسي بنديان له بنده خوشې شول.

د مرغومي-۱۳ مه:

طالبانو د چيچنيا حکومت په رسميت وپېژنده، دا کار وروسته تر هغه وشو چې د چيچنيا هيت دسليم خان اندربايوف په مشرۍ د طالبانو مشر ملامحمد عمرمجاهد سره وکتل.

د مرغومي-۱۴ مه:

د پاکستان حکومت پرېکړه وکړه چې د افغانستان دسوداګرو هغه مالونه چې له ډېرې مودې راهيسې په کراچۍ بندر کې بند وو خوشې کړي.

د مرغومي-۱٦ مه:

امير الله او پيرمحمد نومي دوتنه قاتلين چې د طالبانو له خوا نيول شوي وو په جلال اباد ښار کې د خلکو پر وړاندې قصاص کړای شول.

د مرغومي-۱۷ مه:

د هندوستان د بهرنيو چارو وزير جسوت سنګ د افغانستان د بهرنيو چارو وزير مولوي وکيل احمد متوکل ته د هندوستان د دورې بلنه ورکړه. هندي مطبوعاتو وويل چې دا بلنه جسونت سنګ شخصا ورکړې ده.

د مرغومي-۲۱ مه:

دشمال اتحاد د يو قومندان شيرين سالنګی له خپلو پنځو سوو کسانو سره طالبانو ته ورتسليم شو.

د مرغومي-۲۲ مه:

فرانس ويندرل د ابراهيمي پر ځای د افغانستان لپاره دملګرو ملتونود

ځانګړي استازي په توګه وګمارل شو.

د مرغومي-۲۳ مه:

په کابل ښار کې د شازاده سرای چې د پیسو د راکړې ورکړې لوی مارکېټ دی لوټ شو، غلو په شپه کې د دکانونو کولپونه مات او پیسې یې ولوټلې.

دمرغومي-۲۳ مه:

ملاامیرخان متقي او سید محمدحقاني په اسلام اباد کې دامریکا د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال کارل اندر فرټ او د ترهګرۍ د مخنیوي ځانګې مسول مایکل جان شیخان او سفیر مایلم سره د افغانستان پر حالاتو خبرې اترې وکړې.

د مرغومي-۲۵ مه:

د سیاسي ستونزو له کبله له سیمې نه د افغاني شخصیتونو د تېښتې په لړ کې ډاکتر رحیم پښتونیار، ډاکتر یوسف نورستاني، سید محمد علوي او محمد داود په امریکا کې پناه واخیسته.

د مرغومي-۲٦ مه:

دسرپل ولایت په سنګ چارک ولسوالۍ کې د طالبانو او مخالفوځواکونو تر سختې نښتې وروسته طالبان پر دې بریالي شول چې ددې ولسوالۍ مرکز تر خپل کنټرول لاولي.

د سلواغې-۳ مه:

مولوي وکیل احمد متوکل د یو دوه کسیز هیت په مشرۍ اسلام اباد ته ورسېد چې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر سره د امریکا د هغه پلاوي چې د کارل اندرفرټ په مشرۍ پاکستان ته راغلی و خبرې اترې وکړي.

د سلواغې-۴ مه:

مولوي وکیل احمد متوکل په یو مطبوعاتي بیان کې وویل چې موږ هېڅکله هم د امریکا واکمني نه منو او اسامه بن لادن به په هېڅ وجه امریکا ته ور حواله نه کړو.

د سلواغې-٦ مه:

د ایران حکومت له ایران څخه په زوره د افغانانو دایستلو په لړۍ کې نور

۵۳۶ تنه افغانان له خپلې خاورې څخه وایستل. دا کسان داسلام کلا له لارې افغانستان ته واوښتل.

د سلواغې-۱۱ مه:

د افغانستان د سرپرستې شورا مشر ملامحمدرباني د تورخم له لارې پاکستان لاړ.

دسلواغې-۱۲ مه:

د افغانستان د سرپرستې شورا ملامحمدرباني په اسلام اباد کې له پاکستاني مقاماتو سره د خبرو پر وخت وویل موږ د کفارو متابعت نه شو منلای، که ددوی یوه مسله ومنو نو بله رامخې ته کوي.

د سلواغې-۱۴ مه:

د طالبانو یو پلاوی د مولوي عبدالرحمن زاهد په مشرۍ جرمني ته رسېدلی چې له افغانستان سره د مرستو راجلبولو لپاره د جرمني همکاري جلب کړي.

د سلواغې-۱۳ مه:

د ننګرهار ولایت پر جلال اباد ښار باندې له نامعلوم ځای څخه څو پر له پسې توغندي و اورول شول، ځاني زیان یې نه درلود.

د سلواغې-۱٦ مه:

د طالبانو د وزیرانو شورا مشر ملامحمدرباني په پاکستان کې له پرویز مشرف، رفیق تارړ، بهرنیو چارو وزیر او نورو سره تر ملاقات وروسته بېرته کابل ته لاړ.

د سلواغې-۱۷مه:

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو نوی استازی فرانس ویندرل د لومړي ځل لپاره کابل ته لاړ چې پر اړوندو مسایلو له طالب چارواکو سره نېغ په نېغه خبرې اترې وکړي.

د سلواغې-۱۸ مه:

د افغانستان د اریانا افغان هوایي شرکت یوه مسافر وړونکې بوینګ(۷۲۷) ډوله الوتکه له کابل نه د مزارشریف پر لورې د الوتو پر وخت وتښتول شوه.

د سلواغې-۲۰مه:

د افغانستان پخواني پاچا محمد ظاهر شاه د افغانستان د مسلې د حل او

افغانانو ته د منلو وړ حکومت د رامنځته کېدو په غرض د یـو د پرش کسیزې ډلې د(تصمیم نیولو شـورا) اعـلان وکړ. ددې شورا پـه غړو کـې لـهٔ نـورو عـلاوه سردار عبدالولي، سلطان محمـود غـازي، صبغت الله مجددي، حـامد کـرزی، پیرسیداحمد ګیلاني، هدایت الله امین ارسلا، پروفیسور عبدالرسول امین، قومندان عبدالحق، عبدالستار سیرت، انور الحق احدي، نعمت الله شهراني او نـور شـامل وو، دا شورا بـه د اضطراري لویـې جرګې درابللو لپاره د بېلابېلو هېوادونو لیدنه کوي.

دسلواغې-۲۱ مه:

په کابل کې د کورنیو چارو وزارت مخې ته د بم یوه چاودنـه وشوه چې ځاني تلفات یې نه درلـودل، یوازې د ځینو کورونو ښیښې یې مـاتې کړې، طالبانو وویل چې مخالفینو دا کار ځکه کړی چې د ملګرو ملتونو او طالبانو مذاکرات له خنډ سره مخ کړي.

د سلواغې ۲۴ مه:

د افغانستان لپاره دملګرو ملتونو ځانګړی استازی فرانس ویندرل پـه کـابل کې د طالبانو او په تاجکستان کې له مخالفینو سره تر مذاکراتو وروسته تـهران ته ورسېد ، چې هلته هم پر اړوندو مسـایلو خبرې اترې وکړي.

دسلواغې-۲٦ مه:

داریانـا افغـان هوایـي شـرکت د تښتـول شـوې الوتکـې ۷۳ مســاپـر بېرتـه افغـانسـتان تـه راستـانه شـول، پـه کـندهـار هـوایـي ډګـر کـې مولـوي وکیـل احمـد متوکل د دوی هر کلی وکړ.

د سلواغې۲۷ مه:

د جواد ظریف په مشرۍ د اسلامي کنفرانس دتنظیم یو پلاوی د افغانسـتان د مسلې د حل په اړه اسلام اباد ته راورسېد.

د سلواغې-۲۹ مه:

تر ډېرو کلونو وروسـته د افغانستان مرکز کابل ښار کې ملي ګالري بیا

پرانیسـتل شوه ، پـه دې ګالرۍ کـې د بېلابېلو نقاشـانو څه لـه پاسـه دوه سـوه اثار ایښودل شوي دي.

دسلواغې-۳۰ مه:

دتګاب ولسوالۍ د دره مسکن سیمه د طالبانو لـه خوا ونیـول شـوه، ددې سیمې قومندان شکرالله له خپلو دوه سوو جنګیالیو سره طالبانو ته واوښت.

دسلواغې-۳۰ مه:

د شپې پر اتو بجو په کابل ښار کې له کابل هوټل سره نږدې یوه چاودنه وشوه.

د کب لومړۍ:

په اسلام اباد کـې دامریکـا متحـده ایـالاتو پـه لـوی سـفارت کـې دافغـاني شخصیتونویوه غونډه جوړه شوه، په غونـډه کـې د ملګرو ملتونو هڅې وڅېړل شوې او د افغان بحران د حل په اړه او د بهرنیو لاسوهنو دمخنیوي پـه اړه خبرې اترې وشوې.

د کب-۳ مه:

پروفیسور رباني د خپل یو استازي صدیق مومند په ذریعه دپاکستان د ای، این، پي(A.N.P)مشر اجمل خټك ته پیغام لېږلی او غوښتنه یې تـرې کـړې چـې د افغانسـتان د مسـلې پـه اړه دې خپلـه هڅه ترسره کـړي او د شـمال اتحـاد تـر کنټرول لاندې سیمو څخه دې له نږدې لیدنه وکړي.

د کب-۴ مه:

د طالبـانو مشـر ملامحمدعمر مجاهد دفرمـان لـه مخـې ددارالافتـا تـر فتـوی وروسـته قضـایه قـوه د اجرایـه قـوې ریاست الـوزرا او نـورو قـواوو پـه کتـار کـې مستقله اعلان شوه، دا به خپله خپلې چارې په مستقیمه توګه تـر سره کـوي او یوازې به ذ امارت مقام ته ګزارش ورکوي.

د کب-۵ مه:

دمـاهیپر برېښنـا فابریکـه چـې د تنظیمي جګړو پـر وخـت ویجـاړه شـوې وه د افغاني انجنیرانو په واسطه بیاجوړه او د کار لپاره چمتو شوه.

دکب-٦ مه:

د ایران ولس مشر وویل چې د افغـانسـتـان ستونزه نړیوال امن ته لوی خطر دی، باید اسلامي کنفرانس، ملـګري ملتونـه او ۶+۲ دوه هېـوادونـه پـه ګډه د دې مسلې په حل کې مرسته وکړي.

د کب-۷مه:

په اسلام اباد کې د انګلستان لوی سفارت د افغانستان بحران د ختمولو په اړه دافغاني مهمو شخصيتونو او ښکېلو کړيو يوه غونډه رابللې وه، په غونډه کې د لانجې دغوځولو په اړه د ګڼون کوونکو نظريې وغوښتل شوې.

د کب-۸ مه:

پروفيسور رباني دسيداسحق ګيلاني او انجنير صحرايي په ذريعه د پاکستان ستر منتظم جنرال پروېز مشرف ته يو پيغام ولېږه او هيله يې څرګنده کړه چې د افغانستان د سفر پر وخت دې بايد دشمال اتحاد له مشرانو سره هم ليدنه کتنه وکړي، يا دې ما ته دپاکستان دتګ زمينه برابره کړي.

د کب-۱۰ مه:

د افغانستان مسلې دحل په اړه د فرانسې سفير هم له ځينو افغاني شخصيتونو سره په پېښور کې ليدنې کتنې وکړې.

د کب-۱۱ مه:

په کابل ښار کې په ۲۴ ساعتونو کې دوه درنې چاودنې وشوې، يوه چاودنه د خواجه رواش په هوايي ډګر کې وشوه ، چې يوه جېټ الوتکه يې په بشپړ ډول له منځه يووړه او دوو نورو الوتکو ته هم زيان ورسېد او بله چاودنه د اطلاعاتو او کلتور وزارت مخې ته وشوه چې ځاني تلفات په کې نه وو.

د کب-۱۳ مه:

دسولې او نجات اسلامي شورا په نوم يوه بله ډله د شريعتي تر مشرۍ لاندې ډګر ته راووته.

د کب-۱۴ مه:

داريانا افغان هوايي شرکت هغه الوتکه چې څه موده وړاندې تښتول شوې وه بېرته کابل ته راوستل شوه.

د کب-۱۵ مه:

دملګروملتونو دامنيت شورا يو ځل بيا پر طالبانو غږ وکړ چې له جګړو څخه دې لاس واخلي او پرې دې ږدي چې د ملګرو ملتونو هڅې نتيجې ته ورسېږي.

د کب-۱٦ مه:

د افغانستان په شمال کې د طالبانو او متحدې جبهې تر منځ په جګړو کې په

تېرو څلورو ورځو کې چې طالبانو کومې سیمې نیولې وې بېرته د شمال اتحاد د ځواکونو لاسته ورغلې.

د کب-۱۷ مه:

د افغانستان لانجې د حل په اړه داسلامي کنفرانس، د سعودي عربستان په جده کې دښکېلو ډلو، ملګروملتونو او ۶+۲ هېوادونو تر منځ یوه غونډه جوړه کړه، چې په پای کې ترې هېڅ مثبته نتیجه لاسته رانغلله.

د کب-۲۱ مه:

دسالنګ په دره کې د طالبانو او متحدې جبهې تر منځ د سختو جګړو په نتیجه کې له دواړو خواوو څخه څه له پاسه شپېته تنه ووژل شول او طالبانو د دوشاخ سیمه ونیوله.

د کب-۲۲ مه:

افغانستان لانجې د اوارۍ په اړه د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په هڅو په روم کې غونډه پیل شوه، په دې غونډه کې پنځه ویشت تنو افغاني شخصیتونو ګډون وکړ، چې دوه ورځې یې دوام درلود.

دکب۲۷ مه:

د روسي پارلمان پرېکړه کړې چې په افغانستان کې دشمال اتحاد تر واک لاندې سیمو ته بشري مرستې ولېږي(۱۳)

# ۱۳۷۹ ل کال

**د ۱۳۷۹ ل کال ورې لومړۍ:**
سنګ چارك ولسوالي د طالبانو مخالفینو لاسته ورغله.
**د ورې ۲ مه:**
فرانسیس ویندرل وویل: په افغانستان کې به نورې جګړې هم پیل شي.
**د ورې۵ مه:**
امریکا وویل طالبانو جابرانه نظام جوړ کړی، دوی بې له محاکمې خلك وژني، خلك زندانونو ته اچوي او دښځو حقوق تر پښو لاندې کوي.
**د ورې ۷ مه:**
تورن اسمعیل خان د طالبانو له زندان څخه وتښتېد.
**د ورې ۱۰ مه:**
تورن اسمعیل تهران ته ورسېد.
**د ورې ۱۱ مه:**
طالبانو پر ایران غږ وکړ چې اسمعیل خان ته په خپله خاوره کې د استوګنې اجازه ورنه کړي، ګنې اړیکي به یې ورسره خراب شي.
**د ورې ۱۲ مه:**
قوماندان مسعود، جنرال مالك او دوستم د یووالي پریکړه لیك لاسلیك کړ.
**د ورې ۱۳ مه:**
په کندز کې د طالبانو او متحدې جبهې په نښتو کې ۴ طالبان مړه او یو شمېر ټپیان شول، همداراز د طالبانو یو قوماندان ملاشېرمحمد اخند هم مخالفینو ته ورتسلیم شو.
**د ورې ۱۴ مه:**
د هرات پخوانی والي تورن اسمعیل خان تهران ته ورسېد او دایې څرګنده کړه چې جنرال مالك به هېڅکله هم معاف نه کړم، زه یې په دوکه طالبانو ته ورسپارلی وم.

د وري ۱۵ مه:
متحدې جبهې د ظاهرشاه ملاتړ وکړ.
د وري ۱۹ مه:
د کندز ولایت والي محمد عارف خان د پښنور په حیات اباد کې د ناځرګندو کسانو له خوا ووژل شو.
د وري ۱۷ مه:
د جاپان د بهرنیو چارو وزارت پلاوي د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له معین عبدالرحمن زاهد سره اوږدې خبرې وکړې، نوموړی پلاوی به له متحدې جبهې سره هم خبرې اترې کوي.
د وري ۱۹ مه:
په نجراب کې د طالبانو او متحدې جبهې تر منځ سختې جګړې ونښتې، چې دواړو خواوو ته د سر او مال درانه زیانونه واوښتل.
د وري ۲۰ مه:
امنیت شورا طالبانو ته ګواښ وکړ چې اسامه وروسپاري ګنې نور بندیزونه به هم پرې ولګول شي.
د وري ۲۱ مه:
پاکستان د افغانستان پر چارواکو غږ وکړ چې په دې هېواد کې دترهګرۍ روزنیز کمپونه بند کړي.
د بغلان ولایت تاله سیمه د طالبانو له واک څخه ووته.
د وري ۲۲ مه:
طالبانو روسیې ته ګواښ وکړ چې پر افغانستان باندې د برید خوبونه له سره وباسي.
طالبانو په نجراب او کاپیسا کې له پښنو شویو جګړو څخه انکار وکړ.
د وري ۲۳ مه:
ظاهر شاه اعلان وکړ چې د افغان لانجې د غوځېدو لپاره به خپلې هڅې رواني ساتي.

جنرال مشرف وویل چې د ترهګرۍ په اړه به له طالبانو سره خبرې اترې ·وکړم، همدار راز به د اسامه بن لادن پر حساسې موضوع هم لـه طالب چـارواکو سره وغږېږم.

د وري ۲۴ مه:

پرون په کندهار کې د طالبانو یوه جټ الوتکه د تخنیکي عوارضو لـه کبله راولوېده چې دوه تنه په کې مړه شول.

د وري ۲۵ مه:

طالب چاروکو د ملګرو ملتونو ځینې شرطونه ومنل، په دې توګه په کندهار او نورو شاوخوا سیمو کې د ملګروملتونو دفترونه پرانیستل شول.

طالبانو په زرګونو کارکوونکي له خپلو ادارو څخه لرې کړل، په دې ډول پـه وزارتونو کې د مامورینو او کارکوونکو درېیمه برخه کمه شوه.

د وري ۲٦ مه:

امریکا له پاکستان څخه غوښتنه وکړه چې لـه افغانستـان سره خپـل اړیکي غوڅ کړي.

د وري ۲۷ مه:

د طالبانو مخالفینو وویل دوی په غور ولایت کې د تودو جګړو په ترڅ کې لـه طالبانو څخه ۸۰ کلي ونیول او څلور طالب قوماندانان هم ورسره یو شول.

د غويي ۲ مه:

متحدې جبهې دعوه وکړه چې په ګوسفندي ولسوالۍ کې یې د طالبانو ۲۶ تنه وژلي دي.

د غويي ۴ مه:

امریکا اعلان وکړ چې موږ په افغانستان کې یوه نماینده حکومت غواړو.

د غويي ۵ مه:

حکمتیار وویل جنګي ډلې له بهر څخه اکمالېږي.

د غويي ٦ مه:

رباني وویل: د طالبانو جګړه ییزو غوښتنو افغانان په غم اړولي دي.

د غويي ۷ مه:

طالبانو اعلان وکړ چې د مخالفینو پر حملو باندې د ملګرو ملتونو

چوپتیا له اسلام سره د ښمني ده.

دغويي ۱۳ مه:

پاکستان وویل: په افغانستان کې د روسيې له لاسوهنو څخه ترهګرۍ رامنځته شوې ده.

امریکا څرګنده کړه چې په افغانستان کې د تروریستانو روزنیز کمپونه شته.

د غويي ۱۵ مه:

د طالبانو وياند ملا اميرخان متقي زياته کړه: که چېرې د دوی مخالفين له جګړو څخه لاس واخلي او له اسلامي امارت سره يووالی اعلان کړي نو دوی به يې وبښي.

د غويي ۱٦ مه:

امنيت شورا پر طالبانو او متحدې جبهې د اوربند غږ وکړ.

د غويي ۱۷ مه:

نن په جده کې د طالبانو او مخالفينو خبرې اترې ترسره کېږي.

د غويي ۱۸ مه:

د جدې خبرې اترې د يوې ورځې لپاره وځنډول شوې.

د غويي ۱۹ مه:

طالبانو وويل مونږ هېڅکله هم د نېغو خبرو اترو پر نه کولو ټينګار نه دی کړی، د جدې مذاکراتو پايله به وروسته څرګنده شي چې مخالفين څومره په خپلو خبرو کې رښتيني دي.

د غويي ۲۰ مه:

پاکستان د لويې جرګې ملاتړ وکړ.

د غويي ۲۱ مه:

په جده کې د طالبانو او متحدې جبهې تر منځ د خبرو اترو له پايته رسېدو سره سم په غور کې د دوارو غاړو ترمنځ جګړې پيل شوې چې ۳۷۰ تنه په کې مړه او په سلګونو نور ټپيان شول.

د غويي ۲۳ مه:

له يوې اوونۍ راهيسې د کونړ ولايت په ځنګلونو کې لګېدلی اور د باران

اوربدو لـه کبلـه مـړ شـو، پـه دې اور کـې تـر دېرشـو زرو زيـات وهـل شـوي چارتراش او نور ځنګلي څاروي په کې وسوځېدل.

د غويي ۲۴ مه:

تهران راډيو د شمال جبهې د يو وياند محمدمهدي په حواله وويل: طالبانو په سمنګانو کې ۹۵ تنه زلمي وژلي دي.

د غويي ۲۵ مه:

طـالبانو پـه افغانسـتـان کـې د دهشـتـګردۍ لـه روزنـيزو کېمپـونـو څخـه انکـار وکړ.

د غويي ۲٦ مه:

د طالبانو ويـاند وويـل: کـه طالبـان پـه رسميت وپـېژنـدل شـي نـو داسـامـه پـر ستونزې سربېره به نورې لانجې هم غوڅې شي.

د غويي ۲۹ مه:

طالبانو اعلان وکړ چې ازاده بهرنۍ پاليسي لري، خو امريکا چې تولـه نړۍ يې بېلارې کړې بايد په رسميت يې وپېژني.

د غويي ۳۰ مه:

امريکا د ظاهر شاه د سولې پلان ملاتړ وکړ.

طالبانو د بغلان ولايت له دوشي سيمې څخه پر شمالي سالنګ عمليات پيـل کړل، چې د سالنګ ډېرې برخې يې ونيولې.

د غبرګولي ۸ مه:

دطالبـانو مشـرملامحمدعمرمجاهد وويـل: پـر افغانسـتـان بـاندې د روسـيې د حملې غبرګون به ډېر تريخ وي.

امريکا وويل: د افغانستان امن لپاره د هلې ځلې مرسته کوو.

د غبرګولي ۹ مه:

مسعود د طالبانو پرضد د روسيې دولت ته مخ ور واړاوه.

د غبرګولي ۱۰ مه:

طالبان د ازبکستان پر پوله باندې مورچه شول.

د غبرګولي ۱۱ مه:

طالبانو له متحدې جبهې سره د جګړو په لړ کې پر دره صوف هوايي بمبارۍ

وکړې چې ۱۰ تنه په کې مړه شول.

د غبرګولي ۱۲ مه:

حکمتیار وویل موږ د خپل هېواد له لوېشت لوېشت خاورې څخه دفاع کوو، روسان دې خپله ناکامه تجربه بیا نه تکراروي.

د غبرګولي ۱۶ مه:

روس او امریکا د طالبانو پرضد یو بل ته سره نږدې شول.

د غبرګولي ۱۷ مه:

په شمالي سالنګ کې د طالبانو له خوا د متحدې جبهې برید شنډ شو.

د غبرګولي ۲۰ مه:

د متحدې جبهې مشر پروفیسور برهان الدین رباني په تهران کې د ایکو مشرانو په غونډه کې د ګډون په موخه پرون تهران ته ورسېد، هلته یې تود هرکلی وشو، د ایران جمهوررییس خاتمي یې هم هرکلي ته راغلی و.

د غبرګولي ۲۱ مه:

د طالبانو د بهرنیو چارو وزارت له امنیت شورا څخه وغوښتل چې د روس او امریکا لاسپوڅي نه شي او پر افغان ولس دلګول شویو بندیزونو مخه ونیسي.

د غبرګولي ۲۲ مه:

په دې نږدې وختونو کې روسیې مسعود ته ګڼ شمېر جیپ ګاډي، چورلکې الوتکې او ډېرې نورې مهمې وسلې ورروسپارلې دي.

د غبرګولي ۲۵ مه:

روسیې د طالبانو پر پرمختګونو اندېښنه وښوده.

د غبرګولي ۲۶ مه:

طالبانو اعلان وکړ چې ملګري ملتونه او دبښنې نړیوال سازمان له خپل دریځ نه ناوړه استفاده کوي.

د غبرګولي ۲۸ مه:

ازبك الوتکو د حیرتانو پر سرحدي سیمو باندې تېری وکړ؛ امو دریاب ته څېرمه د حیرتانو پله ته نږدې یې بمونه وغورځول.

د غبرګولي ۳۰ مه:

روسیې اعلان وکړ چې افغانستان د ترهګرۍ لوی مرکز دی.

**د چنگاښ لومړۍ:**

د پښتونخوا پاچا استازي په یوه مرکه کې وویل: له پاکستاني چارواکو سره پر خبرو ډاډه یو، د افغانستان کشاله یوازې د لویې جرګې له لارې هوارېدی شي.

**دچنگاښ ۱۱ مه:**

د کابل په شمال کې د دوه سړکې او بګرام په سیمه کې د طالب جنګیالیو او مخالفو ځواکونو تر منځ سختې جګړې ونښتې، په دې جګړو کې چې د طالبانو جنګي جټ الوتکو هم په کې ګډون درلود مخالفو ځواکونو ته سخت زیانونه واوښتل، همدراراز طالبانو ته هم زیات تلفات واوښتل او څلورسوه جنګیالي یې سخت ټپیان شول.

**د چنگاښ ۱۴ مه:**

د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور وزیر مولوي قدرت الله جمال له مخالفینو سره د اسلامي امارت په استازیتوب د خبرو اترو او روغې جوړې لپاره تیاری وښود.

**د چنگاښ ۱۷ مه:**

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا طالبان پر دې تورن کړل چې نړیوال امنیت ته یې خطر پېښ کړی دی.

**د چنگاښ ۱۸ مه:**

مخالفې جبهې د یوې اوونۍ جګړې له امله د ۵۰۰ تنه طالبانو د وژل کېدو خبر ورکړ.

**د چنگاښ ۱۹ مه:**

د کابل په شمال کې د طالب جنګیالیو او مخالفینو تر منځ دجګړو له کبله د مخالفې جبهې د ویاند په وینا له طالب جنګیالیو څخه دجګړې په ډګر کې دوه سوه مړي او ټپیان پاتې دي.

**د چنگاښ ۱۹ مه:**

دپاکستان پوځي مشر جنرال پرویز مشرف له افغانستان څخه چترال ته د سړك تېرولو اعلان وکړ.

**د چنگاښ ۲۰ مه:**

په کابل کې د پاکستان په سفارت کې د بم چاودنه وشوه، که څه هم ځوك په

کې ژوبل نه شول خو د سفارت ودانۍ یې یو څه زیانمنه کړه.

**د چنګاښ ۲۳ مه:**

په نیویارك کې د طالبانو ویاند عبدالحکیم مجاهد ملګري ملتونه او نورې خیریه موسسې پر دې تورنې کړې چې ښځینه کار کوونکي افغانستان ته د جاسوسۍ لپاره لېږي.

**د چنګاښ ۲۴ مه:**

د افغانستان پخواني پاچا د لویې جرګې د جوړېدو په اړه له پاکستان څخه مرسته وغوښته.

**د چنګاښ ۲۸ مه:**

هغه پاکستاني لوبغاړي چې کندهار ته وربلل شوي وو د امربالمعروف کسانو له خوا ونیول شول او سرونه یې ورته وخریل.

**د چنګاښ ۲۲ مه:**

په هېواد کې د سولې او امن د ټینګښت لپاره په لندن کې یوه غونډه وشوه، چې پخوانیو جهادي مشرانو په کې ګډون درلود.

**د چنګاښ ۳۰ مه:**

د پخواني پاچا استازي امین ارسلا د ملګروملتونو له استازي فرانسیس ویندرل سره د لویې جرګې پر طرحې خبرې وکړې.

**د زمري ۲ مه:**

طالبانو امریکا ته ځواب ورکړ چې دافغانان د هیچا واك نه مني، دوی دې پر خپلې ټکنالوژۍ نه ویاړي.

**د زمري ۳ مه:**

په کابل کې د سپین زر هوټل تر څنګ یوه چاودنه وشوه چې یو تن په کې مړ شو.

**د زمري ۴ مه:**

د تخار ولایت په اشکمش ولسوالۍ کې د شمال اتحاد د قومندانانو هر یو سرکاتب، میرعالم او عبدالظاهر تر منځ په نښتو کې ګڼ شمېر کسان مړه او زیات شمېر ټپیان شول.

د زمري ۵ مه:
د چين له خوا په افغانستان کې د يوه پراخ بنسټه حکومت پر جوړولو ټينګار وشو.
په اريانا واټ کې ارګ ته نږدې د شپې له خوا د بم چاودنه وشوه، د اطلاعاتو او کلتور وزير مولوي قدرت الله جمال وويل چې ورانکاران د مخالفينو کسان دي او نيول شوي دي.
د زمري ٦ مه:
طالبانو بشير بغلانی چې پلخمري ته د غونډې لپاره رابللی و، ونيو او ناڅرګند ځای ته يې بوته.
د زمري ۷ مه:
سياف څرګنده کړه چې طالبان به ډېر ژر له منځه لاړ شي.
طالبانو له تاجکستان او ازبکستان سره د خبرواترو لپاره چمتووالي وښود.
د زمري ۸ مه:
د طالبانو مشر ملامحمدعمر مجاهد په خپلو څرګندونو کې وويل زموږ پاليسي بدلېدونکې نه ده.
ملا عمر په افغانستان کې د کوکنارو پر کرنه بنديز ولګاوه.
د زمري ۹ مه:
طالبانو په بغلان ولايت کې د خپلو پرمختګونو په ترخ کې د نهرين زوړ ښار ونيو.
د زمري ۱۰ مه:
د برکي تر نيولو وروسته طالبان تخار ته ورننوتل.
د زمري ۱۱ مه:
جنرال پرويز مشرف له الحيات نومي عربي اخبار سره په خپله مرکه کې وويل: موږ له طالبانو سره د اسامه بن لادن د نيولو په برخه کې کارنده ونډه نه شو اخيستلای.
د زمري ۱۲ مه:
د روسيې په پولو کې پنځه تنه افغان قاچاقوړونکي ووژل شول.

د زمري ۱۳ مه:

په سمنګان او بلخ ولايتونو کې د طالبانو او مخالفينو تر منځ جګړه ونښته چې دد دواړو غاړو کسان په کې ووژل شول.

د زمري ۱۴ مه:

طالبانو اشکمش ولسوالۍ ونيوله له دې کبله تاجکستان ته د پنجشېر غزېدلې لار بنده شوه.

د زمري ۱۵ مه:

د طالبانو ايل۳۹ ډوله الوتکه چې دوه پيلوټان هم په کې سپاره وو د مخالفينو سيمو ته واوښته او هغوی ته ورتسليم شوه، دوی ته دنده ورکړل شوې وه چې د ملامحمد عمر مجاهد د عامې ښښنې فرمانونه خپاره کړي.

د زمري ۱۷ مه:

د تالقانو پر لوري د طالبانو له پرمختګونو سره د طالبانو يوه جنګي الوتکه د بمبارد پر وخت وويشتل شوه او جګړه د تخارو ولايت د مرکز لويديزې خوا پنځه ويشت کيلومترۍ ته ورسېده.

د زمري ۱۸ مه:

طالبانو په تخار کې تر سختو جګړو وروسته د بنګي سيمه ونيوله.

د زمري ۱۹ مه:

متحدې جبهې اعلان وکړ چې خپلې له لاسه ورکړې سيمې به له طالبانو څخه بېرته ونيسي.

د زمري ۲۰ مه:

د تالقانو د نيولو لپاره د طالبانو له خوا سخته جګړه پيل شوه چې په دې توګه طالبان د پل حسن پر غونډۍ واوښتل.

د زمري ۲۱ مه:

د تالقانو په جګړه کې شمال اتحاد د بهارك سيمه ونيوله.

د زمري ۲۳ مه:

د طالبانو مخالفينو ادعا وکړه چې طالبان يې له تالقانو او شاوخوا سيمو څخه پر شا وتمبول.

د زمري ۲۴ مه:
طالبانو په تخار کې تر جګړې وروسته د بهارک سیمه ونیوله.
د زمري ۲۷ مه:
پر تالقانو باندې د بمبارۍ په ترځ کې اووه ماشومان ووژل شول.
د زمري ۳۰ مه:
په تخار کې د یوه بل لوی برید په ترځ کې طالبانو تابوس سیمه ونیوله.
د وږي ۱ مه:
طالبانو دا تورونه رد کړل چې ګواکې په افغانستان کې د دوی تر واک لاندې سیمو کې بهرني روزنيز کمپونه شته.
د وږي ۲ مه:
د طالبانو لوړ پوړي ویاند وکیل احمد متوکل وویل داسامه بن لادن موضوع د زور له لارې نه شي حلېدی.
د وږي ۳ مه:
متحدې جبهې دعوه وکړه چې طالبان پر تالقانو باندې تر اووه ساعته برید وروسته ناکام او پر شا تمبول شوي، په دې ترځ کې ۲۰۰ تنه طالبان وژل شوي او درې نیم سوه نور ټپیان شوي دي.
د وږي ۴ مه:
د طالبانو په اداري سیستم کې یو لړ بدلونونه راغلل، د طالبانو سفیر ملاسید محمدحقاني د چارو د ادارې د مسول او په کابل کې د ټرانسپورټ د ادارې مشر ملاعبدالسلام ضعیف په پاکستان کې د نوي سفیر په توګه او په کابل ښاروالۍ کې یو لوړ رتبه مامور ملاسعدالدین د پلان وزیر او دپلان پخوانی وزیر قاري دین محمد د لوړو زده کړو د وزیر په توګه او د لوړو زده کړو پخوانی وزیر مولوي حمدالله نعماني د کابل ښاروال په توګه وټاکل شول.
د وږي ۵ مه:
د امنیت شورا د اسامه په اړه د طالبانو پر دریځ باندې نیوکه وکړه او ویې ویل چې زموږ لپاره دمنلو وړ نه دی.
د وږي ٦ مه:
د کابل شمال کې بیا جګړې پیل شوې.

د وري ۷ مه:
په تخار، پروان او لغمان کې د طالبانو او مخالفې ډلې تر منځ جګړې پیل شوې، متحدې جبهې د ګڼو بریاوو دعوه وکړه، هغوی د اق مسجد په سیمه کې د پنځه ځلوېښتو طالبانو د وژلو دعوه هم وکړه.
د وري ۸ مه:
متحدې جبهې پر طالبانو باندې د وسلو پر بندیز ټینګار وکړ چې باید عملي شي.
د وري ۹ مه:
شمال اتحاد په لغمان کې تر جګړو وروسته د ننګراج علاقه داري ونیوله.
د وري ۱۳ مه:
متحدې جبهې د طالبانو هغه برید شنډ وباله چې پر نهرین، بهارك او اشکمش ولسوالیو شوی و.
د وري ۱۴ مه:
د ترکمستان د بهرنیو چارو پخوانی وزیر او د افغانستان لپاره ددې هېواد استازي شیخ مرادوف په افغانستان کې د امن ټینګښت د هلو ځلو په ترڅ کې په دوشنبه کې له قومندان احمدشاه مسعود سره وکتل.
د وري ۱۵ مه:
ترکمنستان حکومت له متحدې جبهې څخه وغوښتل چې له طالبانو سره روغه وکړي.
د وري ۱٦ مه:
د طالبانو مشر ملامحمدعمرمجاهد اعلان وکړ چې د اسامه په اړه د طالبانو دریځ نه بدلېدونکی دی.
د وري ۱۸ مه:
طالبانو تر یوه پراخ برید وروسته د تخار ولایت مرکز تالقان تر خپلې ولکې لاندې راوست.
د وري ۱۸ مه:
حکمتیار وویل د تالقانو له سقوط سره په افغانستان کې جګړې نه شي ختمېدی.

د وږي ۱۹ مه:
د اسلامي جبهې يوه مشر سياف ګواښ وکړ چې پر څلورو پنځو ورځو کې به له طالبانو څخه تالقان بېرته ونيسي.
د وږي ۲۰ مه:
په تالقانو کې د طالبانو له پرمختګ سره د روسيې د بهرنيو چارو وزير وويل چې د طالبانو مخالفينو ته لوی زيان ور اوښتی دی.
د وږي ۲۳ مه:
د طالبانو مخالفينو د افغانستان په شمال کې تر سختې ماتې وروسته له روسيې څخه پوځي مرسته وغوښته، ځکه نو څو تنه روسي جنرالان پنجشېر ته راغلل همدا راز يې د جبل السراج، چاريکارو او ګلبهار دوره هم وکړه.
د وږي ۲٦ مه:
۲+۶ هېوادونو پر افغان جنګي غاړو د اوربند غږ وکړ.
د وږي ۳۰ مه:
د کابل په مرکزي قول اردو کې يوه چاودنه وشوه چې تر شلو دقيقو وروسته د وسلو او مهماتو په زېرمه کې يوه بله چاودنه هم وشوه خو ځاني زيان يې نه درلود.
د تلې لومړۍ:
طالبانو پرون له مخالفينو څخه امام صاحب او دشت ارچي ولسوالۍ، شبرخان بندر او ای خانم سيمې ونيولې.
دتلې ۲ مه:
رباني د طالبانو پر خلاف له روسيې څخه مرسته وغوښته.
د تلې ۳ مه:
د طالبانو مخالفي جبهې وويل: د طالبانو دا دعوې ناسمې دي چې ګواکې دوی د خواجه غار ولسوالۍ ټولې سيمې نيولې دي.
د تلې ۵ مه:
په کابل لوبغالي کې دوه تنه چې د بمونو ايښودلو په تور نيول شوي وو اعدام کړای شول.

د تلې ۸ مه:
د اسلامي اتحاد مشر سياف وويل چې طالبان دې پرديو ته د زارۍ پر ځای خبرو اترو ته کېني.
د تلې ۹مه:
طالبانو اعلان وکړ چې روسيه بايد په افغانستان کې لاسوهنه بنده کړي.
د تلې ۱۰ مه:
په امريکا کې د اسامه بن لادن پر موضوع د طالبانو او امريکا خبرې اترې ناکامې شوې.
دتلې ۱۱ مه:
په کندهار کې درې تنه غله اعدام شول.
د تلې ۱۵ مه:
قومندان مسعود اعلان وکړ چې پر ماتو سربېره به له طالبانو سره جګړې روانې ساتي.
دتلې ۱٦ مه:
روس او هند په افغانستان کې د پراخ بنسټه حکومت د جوړولو لپاره ديوې ګډې کمېټې پر جوړولو سره جوړ شوي، دوی به مسعود او رباني ته خپلې پوځي مرستې زياتوي.
د تلې ۲۰ مه:
طالبانو په جبل السراج کې د مسعود پر مرکز باندې دوه ځلې بمبارۍ وکړې.
دتلې ۲۴ مه:
د قومندان مسعود ځواکونه له دفاعي حالت څخه راووتل او د تخار د فرخار په سيمه کې يې پر طالبانو بريدونه وکړل.
د تلې ۲۸ مه:
طالبان په شمال کې د جګړو له کبله له ځينو سيمو څخه پر شا شول.
د تلې ۲٦ مه:
طالبانو ادعا وکړه چې تاجکستان او ايران د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي.

د تلې ۲۷ مه:
د قومندان مسعود ځواکونو په تخار کې چال ولسوالي ونیوله.
د تلې ۲۹ مه:
روس او امریکا دطالبانو پر خلاف سره یو شول.
دتلې ۳۰ مه:
د طالبانو د وروستیو پر مختګونو په ترڅ کې قومندان مسعود له خپل مرکز(پنجشیر) څخه ټول مهم اسناد کولاب ته ولېږدول.
د لړم ۲ مه:
متحدې جبهې د فرخارتنګي د نیول دعوه وکړه.
د لړم ۴ مه:
رباني اعلان وکړ چې د افغانستان دقانوني دولت د مشر په توګه له بهر څخه د وسلو اخیستلو ټول واك لري.
د لړم ۷ مه:
امریکا پر افغانستان باندې دبرید ګواښ وکړ او دا یې څرګنده کړه چې په دې برید کې به د ترکیې خاوره استعمالوي.
د لړم ۹ مه:
روسیې اخطار ورکړ چې که چېرې طالبانو ټولې شمالي سیمې ونیولې نو دوی به پر طالبانو برید کوي.
د لړم ۱۳ مه:
ملګروملتونو د نوي کال لپاره د افغانستان څوکۍ د رباني ادارې ته وسپارله.
د لړم ۱۵ مه:
طالبانو او شمال اتحاد د ملګروملتونو په منځګړتوب د بحران دحل لپاره یوه تړون لاسلیك کړ.
دتلې ۱٦ مه:
روسیې قومندان مسعود ته د پوځي مرستو ژمنه وکړه.
د تلې ۲۰ مه:
د صوبه سرحد حکومت له خوا پر نویو افغان مهاجرینو بندیز ولګېد.

د تلې ۲۲ مه:
حاجي عبدالقدير وويل: طالبان شريعت بدناموي، دوی ته دا دنده ورکړل شوې چې د جهادي قومندانانو تر څنګ شريعت هم بدنام کړي.
د لړم ۲۴ مه:
طالبانو وويل چې له امريکا سره خبرو اترو ته چمتو يو.
د ليندۍ ۱ :
پاکستان د نويو افغان مهاجرينو پر مخ خپلې ټولې پولې وتړلې، خارجه ترجمان په دې اړه وويل چې اوس ددې پولو دپرانيستو امکان نه شته.
د ليندۍ ۳ مه:
حکمتيار وويل: روسيه په افغانستان کې د جګړې دوام غواړي.
د ليندۍ ۴ مه:
د تورې کود تا يو لوی پوځي برخوال اسلم وطنجار په اوکراين کې ومړ.
د ليندۍ ۵ مه:
مسعود له روسيې څخه دپوځي مرستو د تر لاسه کولو په اړه د طالبانو تورونه رد کړل.
د ليندۍ ۷ مه:
امريکا د اسامه بن لادن څارنه نوره هم سخته کړه، ان په انټرنټ کې به دهغه د ټيليفونونو څارنه کېږي.
د ليندۍ ۸ مه:
حکمتيار وويل: افغانستان تر هغه مهاله نه شي ودانېدی چې په کابل کې يو ځواکمن مرکزي حکومت نه وي رامنځته شوی.
د ليندۍ ٦ مه:
طالبانو له چين، انګلستان او فرانسې څخه وغوښتل چې په امنيت شورا کې پر طالبانو باندې پر لګول شوي بنديز غور وکړي.
د ليندۍ ۱۴ مه:
پاکستان حکومت وويل چې له طالبانو سره هېڅ ډول پوځي مرستې نه کوي.
د ليندۍ ۱۷ مه:
امريکا اعلان وکړ چې پر طالبانو باندې تر بنديز لګولو وړاندې به په بهر کې

د هغوی ټول دفترونه وتړل شي.
د لیندۍ ۲۰ مه:
طالبانو او متحدې جبهې د ترکمنستان په مرکز عشق اباد ښار کې خبرې اترې پيل کړې.
د لیندۍ ۲۲ مه:
د افغانستان په شمال کې تر څو ورځنۍ کرارۍ وروسته يو ځل بيا د سمنګانو ولايت په مربوطاتو کې جګړې ونښتې.
د لیندۍ ۲۳ مه:
پر افغانستان باندې اقتصادي بنديزونه ولګول شول.
د لیندۍ ۲۴ مه:
حکمتيار وويل: د طالبانو او د هغو د مخالفينو پر ضد يو بل پاڅون په کار دی.
د لیندۍ ۲۸ مه:
د جلال اباد ښار د محکمې په ودانۍ کې يوه چاودنه وشوه چې دوه تنه په کې سخت ټپيان شول.
دلیندۍ ۲۹ مه:
دطالبانو يوه استخباراتي چارواکي قاري احمدالله وويل: مخالفينو له تخار ولايت نه د تېښتې پر مهال ماينونه ښخ کړي، د اشکمش او کندز تر منځ په دره چونۍ کې د سورليو يو ګاډی پر ماين وخوت، چې د پرش تنه په کې ووژل شول. همدا راز د بهارك په سيمه کې اووه تنه نور هم د ماين له امله وژل شوي دي.
د لیندۍ ۳۰ مه:
ملګرو ملتونو له کابل څخه خپله بهرنۍ عمله وايستله.
دمرغومې لومړۍ:
دامنيت شورا له خوا پر طالبانو نوي بنديزونه ولګول شول.
د مرغومې ۲ مه:
پاکستان پر افغانستان باندې لګول شوي بنديزونه وغندل او له افغانانو سره يې پر مرستو ټينګار وکړ.

د مرغومي ۸ مه:
طالبانو وويل که داسامه بن لادن پرضد د ترهگرۍ کوم ثبوت تر لاسه کړو، نو هغه به محاکمه کړو.
د مرغومي ۱۵ مه:
متحدې جبهې په باميانو کې د يکاولنګ دستراتيژيکې ولسوالۍ تر نيولو وروسته په غور، هرات او بادغيس ولايتونو کې ځينې برياوې تر لاسه کړې، د متحدې جبهې سرچينې وويل: متحدې جبهې د هرات د سارك ولسوالۍ په ځينو سيمو کې د طالبانو پر مورچلونو باندې بريدونه وکړل، د هغوی يو شمېر مړه، ژوبل او د ېرش تنه اسيران شول.
د مرغومي ۱۹ مه:
طالبانو وويل چې يکاولنګ ولسوالي يې له مخالفو ځواکونو څخه بېرته ونيوله.
د مرغومي ۲۲ مه:
د طالبانو مشر ملامحمدعمرمجاهد وويل چې له بنديزونو سره سره موږ دامريکا بدمعاشۍ نه منو.
دمرغومي ۲۴ مه:
طالبانو د تخار ولايت د خواجه غار په سيمه کې د احمدشاه مسعود پرضد پراخ عمليات پيل کړل.
د مرغومي ۲٦ مه:
وکيل احمد متوکل وويل امريکا له زور څخه کار اخلي، اصولي خبرو ته غاړه نه ږدي او يوازې خپله خبره عملي کوي.
د مرغومي ۲۷ مه:
امريکا اعلان وکړ چې افغانستان د ترهگرۍ اډه ده او پر طالبانو يې داسې بنديزونه ولګول چې د دوی په نظر يوازې دوی ترې اغېزمن شي.
د مرغومي ۲۸ مه:
متوکل وويل: په افغانستان کې د هغو پاکستاني مجرمينو لټول روان دی

چې پاکستان يې غوښتنه کړې، که چېرې دا خلك په افغانستان کې ومیندل شي نو پاکستان ته به يې وسپاري.

د مرغومي ۲۹ مه:

د متحدې جبهې قوماندان بسم الله وویل: د کابل په ۵۰ کیلو متری کې د طالبانو او مخالفې ډلې جګړې پیل شوې، د طالبانو جنګي الوتکو د بمبارۍ له وجې څو کورونه وران شول.

د مرغومي ۳۰ مه:

پر افغانستان باندې د ملګروملتونو له خوا لګول شوي بندیز عملي شو، دا پرېکړه يو میاشت وړاندې شوې وه.

د سلواغې ۲ مه:

د تخار ولایت په خواجه غار کې د طالبانو او مخالفو ځواکونو تر منځ سختې جګړې ونښتې، د متحدې جبهې يوه ویاند دعوه وکړه چې د طالب غورځنګ میك ۲۱ ډوله جنګي الوتکه د پرزې په سیمه کې د بمبارۍ پر وخت راوغورځول شوه او له منځه لاړه.

د سلواغې ۴ مه:

وحدت ګوند تر دوه ساعته جګړې وروسته له طالبانو نه د بامیانو یکاولنګ ولسوالۍ ونیوه.

د سلواغې ۵ مه:

پاکستان د اسامه بن لادن په مسله کې له طالبانو سره له خپلې مرستې نه انکار وکړ او داسې يې څرګنده کړه چې دا د امریکا او طالبانو خپلمنځي مسله ده او باید د خبرو اترو له لارې حل شي.

د سلواغې ۷ مه:

له شپږو میاشتو راهیسې د لویې جرګې د جوړولو هڅې روانې دي او پخواني پاچا هوډ کړی چې تر ۲۸ کلن ځنډ وروسته افغانستان ته لاړ شي.

د سلواغې ۱۱ مه:

د طالبانو مخالفو ځواکونو له طالبانو نه کوه صافي سیمه ونیوله.

د سلواغې ۱۵ مه:

د هرات ولایت په کمپونو کې پراته پنځه سوه ماشومان او د پاخه عمر

خاوندان دیخنی او نورو ستونزو له کبله مړه شوي دي.
**د سلواغې ۱۸ مه:**
د طالبانو ویاند متوکل وویل: که چېرې د طالبانو حکومت په رسمیت وپېژندل شي نو دوی به اسامه بن لادن دریېم هېواد ته وسپاري.
**د سلواغې ۲۱ مه:**
دپاکستان د کورنیو چارو وزیر معین الدین حیدر په کندهار کې د طالبانو له مشر ملامحمدعمر مجاهد سره وکتل.
**د سلواغې ۲۴ مه:**
امریکا حکومت له طالبانو څخه وغوښتل چې د ملګروملتونو په غوښتنه په نیویارک کې خپله نمایندګي بنده کړي.
**د سلواغلې ۲۵ مه:**
طالبانو د اسامه بن لادن پر مسلې له امریکا سره د خبرواترو وړاندیز وکړ او له امریکا څخه یې وغوښتل چې ناړې سورې پرېږدي او خبرو ته کېني.
**د سلواغې ۲۸ مه:**
بامیان ولایت د متحدې جبهې لاسته ورغی.
**د سلواغې ۲۹ مه:**
د شمال متحدې جبهې لویه جرګه رد کړه او دا یې د افغانستان ملي عنعنه نه، بلکې یوازې د پښتنو قومونو یو دود وباله.
طالبانو په نیویارک کې خپله نمایندګي بنده کړه.
**د کب لومړی:**
طالبانو تر درې ساعته سختې جګړې وروسته بامیان ولایت بېرته ونیوه.
**د کب ۳ مه:**
هندوستان شمال اتحاد ته د هر ډول مرستو ډاډ ورکړ.
**د کب ۴ مه:**
د بغلان ولایت په اندراب کې د مسعود پلویانو تر منځ سخته جګړه ونښته، چې شپږ تنه مړه او یو شمېر نور په کې ټپیان شول. پر دې مهال طالب ځواکونه اندراب ته ورننوتل.

د کب ۷ مه:

طالبانو وویل چې دوی اوس د ترياکو کرنه بنده کړې او ملګري ملتونه دې لـه ژمنې سره سم درې مليونه ډالره ورکړي.

د کب ۸ مه:

د شمال اتحاد قومندانانو په خپلمنځي جګړو کې ۵۵ تنـه مړه او ۲۲ تنـه نـور ژوبل شول.

د کب ۱۰ مه:

د طالبانو له خوا د بتانو ماتولو حکم وشو.

د کب ۱۳ مه:

د طالبانو له لوري د بتانو پر ماتولو لاس پورې شو، د امربالمعروف کسانو له خوا د هډې فارم، کابل، هرات او غزني په لرغونتونونو کې ګڼ شمېر بتان مات شول.

د کب ۱۵ مه:

د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور وزير قدرت الله جمال وويل: پـه څلورو ورځو کې به د بتانو ماتولو کار بشپړ شي.

د کب ۱۷ مه:

د طالبانو مشر ملامحمدعمرمجاهد وويل: بت شکن يادبدل زموږ لپاره وياړ دی.(۱۴)

# اخځونه


۱- جمیل الرحمن کامګار، حوادث تاریخي افغانستان، ۱۳۷۹ ل کال، ۱۰-۴۴ مخونه(لنډیز) .

۲ جمیل الرحمن کامګار، حوادث تاریخي افغانستان، ۴۴-۹۶ مخونه، (لنډیز) .

۳- میرزا محمد کونړی، وفا جریده، د ازاد افغانستان د لیکوالو خپرونه، (پېښور)، ۱۹۹۳م کال، کالګڼه.

۴- میرزامحمد کونړی، وفاجریده، د ازاد افغانستان دلیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۹۹۳ م کال، کالګڼه.

۵- عبدالوکیل شینواری، وفا جریده، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور۱۹۹۴ م کال-کالګڼه.

۶- عبدالوکیل شینواری، وفا جریده، پېښور، ۱۹۹۴ م کال، کالګڼه.

۷- لال پاچاازمون، وفا جریده، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور ۱۹۹۵ م کال، کالګنه.
۸ - لال پاچا ازمون، وفا جریده، د ازاد افغانستان دلیکوالو ټولنه، ۱۹۹۵ م کال، کالګنه.
۹- محمدظاهر بابړي، وفا جریده، د ازاد افغانستان دلیکوالو ټولنه، ۱۹۹۶ م کال، کالګنه.
۱۰- وفا جریده، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، د۱۳۷۵ل کال، د مرغومي-کب بېلابېلې ګڼې.
۱۱- محمدظاهر بابړي، هیله دوه میاشتنۍ مجله ، ۱۳۷۶ل کال، ۶ مه ګڼه، پر له پسې شپږمه ګڼه (۱۹۱-۲۰۳) مخونه.
۱۲- محمد ظاهر بابړي، هیله دوه میاشتنۍ خپرونه، د ۱۳۷۷ ل کال، شپږمه ګڼه، پرله پسې ګڼه۱۲ مه، ۱۹۲-۲۰۱ مخونه.
۱۳- محمدظاهر بابړي، هیله دوه میاشتنۍ خپرونه، پرله پسې اتلسمه ګڼه، د ۱۳۷۸ لمریز کال(سلواغه-کب) شپږمه ګڼه.(۴۸۸-۵۰۷) مخونه.
۱۴- صالح محمدصالح، وحدت ، سهار وِرځپاڼې او ځینې نورې خپرونې، ۱۳۷۹ل کال-بېلابېلې ګڼې.

# اخځونه


۱) دوکتور خلیل الله وداد بارش: امیر حبیب الله کلکاني مردی در حریق تاریخ، پېښور، ۱۳۷۷ل کال.

۲) مولانا محمد صادق حسین صادق صدیقي: کابلي والا، د پوهندوی عبدالخالق رشید تبصره، هیله مجله، ۱۳۷۶ل کال، ۶مه ګڼه.

۳) مولانا اغا رفیق بلند شهري: رویداد های بغاوت افغانستان، مترجم آراکوزیاوال، کراچی، ۱۳۷۴ کال.

۴) تاریخ معاصر افغانستان، از استرداد استقلال تا انقلاب ثور، کابل.

۵) میر غلام محمد غبار: افغانستان در مسیر تاریخ، کابل، ۱۳۴۶ل کال.

۶) عبدالباري جهاني، هیله مجله، ۱۳۷۸ل کال، ۳ ګڼه.

۷) مارشال شاه ولي خان: یادداشت های من، کابل.

۸) سردار فیض محمد خان زکریا، همدا اثر.

۹) سپه سالار محمد نادر خان // //

۱۰) حبیب الله کلکانی (بچه سقاو) // //

۱۱) پوهنوال ډاکټر زېور الدين زېور: د پښتو معاصرادبيات، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبياتو پوهنځی، پښتو څانګه.
۱۲) محمد اسمعيل يون: د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه، پېښور، ۱۳۷۳ل کال، د پوهاند عبدالشکور رشاد يادښت.
۱۳) عبدالجليل وجدي: افغانستان د لويي لويې ستونځې، د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه پېښور، ۱۳۷۶ ل کال.
۱۴) واك فونډېشن د افغانستان لپاره: د افغانستان قومي جوړښت، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز، پېښور، ۱۳۷۷ل کال.
۱۵) حبل الله مجله، د ايران چاپ، ۱۳۶۵ل کال، ۳۱ پرله پسې ګڼه.
۱۶) وفا جريده، د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۲ل کال، کال ګڼه.
۱۷) ا، هارون: داود خان د کې جي بي په لومو کې، پېښور.
۱۸) پوهاند محمد حسن کاکړ، رڼا او دفاع، د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز، پېښور، ۱۳۷۷ل کال.
۱۹) پلوشه جريده، کابل، ۱۳۷۴ل کال، ۳ ګڼه.
۲۰) ډيوه مجله، لندن، ۱۹۹۵ کال، دسمبر ګڼه.
۲۱) وفا جريده، ۱۳۷۴ل کال، ۴۷- ۴۸ ګڼه.
۲۲) د افغانستان کالنۍ، کابل، ۴۵- ۴۶ (۱۳۵۸- ۵۹کال) ګڼه.
۲۳) وفا جريده، ۱۳۷۴ل کال، کالګڼه.
۲۴) ستر جنرال الکساندر مايوروف، په افغانستان کې ربښتيا څه تېرېدل؟، د محمد داود جنبش ژباړه، ۱۳۷۸ ل کال.
۲۵) افغان ملت جريده، د ۱۳۷۴ل کال د تلې د ۲۵نېټې ګڼه.
۲۶) "د افغانستان د ځوانانو ډيموکراتيك سازمان" د مرکزي کمېټې د يو تن غړي څرګندونې.

۲۷) کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي: افغان ملت جریده، یاده ګڼه.
۲۸) حکمتیار، پټې توطیې، برېنډې څېرې، ۱۳۷۸ل کال.
۲۹) پوهنوال محمد عثمان روستار تره کی، محاکمه جنایتکاران جنګ در افغانستان، پېښور، ۱۳۷۹ل کال.
۳۰) نور البشر نوید، وطن یا کفن، پېښور، ۱۳۷۸کال.
۳۱) برید جنرال الکساندر لیاخوفسکي، ډیوه مجله، یاده ګڼه.
۳۲) سر محقق زلمی هېوادمل، هیله مجله، ۱۳۷۹ل کال ۴ ګڼه.
۳۳) جلا الدین صدیقي، افغانستان در قرن جدیده، د "ا.خ.ډ.ګ" مرکزي کمېټه، کابل، ۱۳۶۹ل.
۳۴) غرجستان مجله، "مرکز انسجام ملیت هزاره" کابل، ۱۳۶۸ل کال، ۹ګڼه.
۳۵) د افغانستان اساسي قانون، د ۱۳۶۹ ل کال، تعدیل او تصویب لومړی فصل، ۸ ماده.
۳۶) شمشاد مجله، ۱۳۷۲ل کال، ۲ ګڼه.
۳۷) یادنامهء محمد طاهر بدخشي، د "سازا" خپرونه، کابل، ۱۳۶۹ل کال.
۳۸) اسدالله ولوالجي، در صفحات شمال افغانستان چه میګذشت؟ (دویمه برخه) پېښور، ۱۳۷۸ل کال
۳۹) کریم میثاق: یادنامه طهر بدخشي.
۴۰) پوهنوال ډاکټر م. روستار تره کی: د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واك جوړښتونه، پېښور، ۱۳۷۷ل کال.
۴۱) د جهان ګل ضمیري مقاله، یادنامه محمد طاهر بدخشي.
۴۲) د محبوب الله کوشاني مقاله // //
۴۳) د سخي غیرت مقاله // //

۴۴) متن کامل، قوانین اساسی افغانستان، "مرکز فرهنگي نویسنده گان افغانستان"، ایران چاپ، ۱۳۷۴ل کال.

۴۵) ډاکټر محمد نادر عمر، دعوت جریده، ناروې، ۱۳۷۶ل کال، پرله پسې ګڼه ۷۹- ۸۰.

۴۶) عبدالجلیل وجدي، د زړونو او دماغونو ماینونه، پېښور، ۱۳۷۹ل کال.

۴۷) ملیت های برادر مجله،کابل، ۱۳۶۸، د دلوې- حوت ګڼه، پرله پسې ګڼه، ۴۰ مه.

۴۸) حبیب الله رفیع: خلافت مجله،کندهار، ۱۳۷۷ل کال، پرله پسې ګڼه، ۵- ۶

۴۹) کابل راډیو، ۱۳۷۵ل کال، د وري ۱۳/۱۴ نېټه.

۵۰) محمد نبي عظیمي اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان، پېښور، ۱۳۷۷ل کال.

۵۱) جنرال عبدالرووف بیګي، افغانستان بعد از پیروزی انقلاب اسلامی تا سقوط شمال بدست طالبان، (۱۹۹۱- ۱۹۹۸) پېښور، ۱۳۷۹ل کال.

۵۲) شهرت ننګیال: وینه په قلم کې، د افغانستان د جهادي خبرونو مرکز، پېښور.

۵۳) عبدالحمید مبارز: حقایق و تحلیل وقایع سیاسي افغانستان از سقوط سلطنت تا ظهور طالبان، پېښور، ۱۳۷۶ ل کال.

۵۴) مولوي محمد نبي محمدي، ننګرهار مجله، ۱۳۷۹ل کال ۲ ګڼه.

۵۵) استاد فرید، پټې توطیې، بربنډې څېرې (د حکمتیار اثر)، ۱۳۷۸ل کال.

۵۶) امید جریده، له امریکا څخه خپرېدونکې، ۲۱۳ ګڼه.

۵۷) بروس ریچارډسن د لستوني مار، پښتو ژباړه، سریزه او لمنلیکونه د نثار احمد صمد، تورنټوکاناډا، ۱۳۷۷ل کال.

۵۸) د بي بي سي راډیو، د یو خبریال څرگندونې.
۵۹) جنرال گروموف: سرې لښکرې په افغانستان کې، د پرديس مساپر ژباړه، پېښور.
۶۰) عبدالحفیظ منصور: پنجشیر در دوران جهاد، پېښور.
۶۱) جنرال لیاخوفسکي، د افغان مېړانه او غمیزه، د محب ژباړه، ۱۳۷۸ل کال.
۶۲) ډاکټر رحمت ربي زیرکیار: دعوت جریده، ۱۳۷۶ ل کال. ۷۷-۷۸ گڼه.
۶۳) پروفیسور انور الحق احدي: هیله مجله، ۱۳۷۶ل کال، ۱ گڼه.
۶۴) د افغانستان د بهرنیو چارووزارت له خوا یو برابر شوی رپوټ.
۶۵) ډاکټر محمد اکبر اکبر: هیله مجله، ۱۳۷۶ل کال ۱ گڼه.
۶۶) هنداره جریده، کابل، ۱۳۷۵ ل کال، د وږي گڼه.
۶۷) محمد نبي فراهي، هیله مجله، ۱۳۷۶ل کال، ۲ گڼه.
۶۸) د ۱۳۷۰ ل کال په لومړي سمستر کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو او انجنیري پوهنځیو د محصلینو څرگندونې.
۶۹) محمد آصف محسني: "پیام جهاد" جریده، د "حرکت اسلامي" خپرنی ارگان، کابل، پرله پسې گڼه ۱۵۲مه.
۷۰) عبدالرحمن پیمان: امید جریده، د امریکا متحده ایالات، ۲۰۹ مه گڼه.
۷۱) غلام حضرت کوشان، // ، ۲۱۰ گڼه.
۷۲) عبدالله سمندر غوریانی، // ، ۱۹۵ گڼه.
۷۳) د کابل پوهنتون د تحریراتو څانگه.
۷۴) د محمد شفیق په نوم ثبت شوی د (۲۵۳) نمبر دپلوم متن.
۷۵) وحدت ورځپانه، پېښور، د ۱۹۹۶ کال د اگست ۱۳ مه نېټه.
۷۶) د راډیو افغانستان ارشیف.

۷۷) د بي بي سي راډیو پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال، د راډیو تلویزیون د یومسول ځرګندوني.

۷۸) شمس الحق اریانفر: نقش وسایل ارتباط جمعي در جامعهء امروز و فردا در افغانستان، کابل، ۱۳۷۴ل کال.

۷۹) د ۱۳۷۶ل کال په بهیر کې د راډیو تلویزیون د مسـولینو برابر شوی رپوټ.

۸۰) د بي بي سي پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال، د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت د یو تن مسول ځرګندوني.

۸۱) میرزا علم حمیدي، د ۱۳۷۰ل کال په اوږدو او د ۱۳۷۱ل کال په لومړیو کې د سوداګرۍ وزارت د ننداړتونونو لوی ریس ځرګندوني.

۸۲) محمد اسمعیل یون: افغانستان تـه اوښتي فرهنګي زیانونـه، د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۵ل کال،

۸۳) وفا جریده، پېښور، ۱۳۷۵ل کال، ۱۳- ۱۴ ګڼه.

۸۴) اسدالله ولوالجي، در صفحات شمال افغانستان چه میګذشت (با تجدید نظر و اضافات) پېښور، ۱۳۷۸ل کال.

۸۵) اسدالله ولوالجي، آغاز و تداوم اختلافات میان جنرال دوستم و آقای مسعود در صفحات شمال افغانستان، پېښور، ۱۳۷۹ل کال.

۸۶) صفحه نـو، د "حـزب وحـدت" خپرونـه، پـېښور، ۱۳۷۴ل کـال د مرغومي ۲۷ نېټه، ۲۱ ګڼه.

۸۷) شـریعت جریـده د افغانسـتان د اسـلامي امـارت نشـراتي ارګان، ۱۳۷۷ ل کال، ۶۲ ګڼه.

۸۸) // // // ۶۵ مه ګڼه.

۸۹) بیانیه ها اعلامیه ها و طومارهـای حمـایت از حزب وحدت اسلامی افغانستان، مرتب، حزب وحدت، ایران چاپ، ۱۳۶۹ل کال.

۹۰) حبل الله مجله، ایران چاپ، ۱۳۶۸ل کال، پرله پسې ګڼه، ۲۸ مه.

۹۱) جمیل الرحمن کامگار حوادث تاریخي افغانستان، پېښور، ۱۳۷۹ل کال.
۹۲) میرزا محمد کونړی، وفا جریده، پېښور، ۱۹۹۳م کال کالګڼه.
۹۳) عبدالوکیل شینواري، وفا جریده، پېښور ۱۹۹۴م کال کالګڼه.
۹۴) لال پاچا آزمون، وفا جریده، پېښور، ۱۹۹۵م کال، کالګڼه.
۹۵) محمد ظاهر بابړی، وفا جریده، پېښور، ۱۹۹۶م کال، کالګڼه.
۹۶) وفا جریده، پېښور، ۱۳۷۵ل کال، مرغومي- کب بېلابېلې ګڼې.
۹۷) محمد ظاهر بابړی، هیله مجله، ۱۳۷۶ل کال، ۶ ګڼه.
۹۸) محمد ظاهر بابړی هیله مجله، ۱۳۷۷ل پرله پسې ګڼه ۱۲مه.
۹۹) محمد ظاهر بابړی هیله مجله، پرله پسې ګڼه ۱۸.
۱۰۰)صالح محمد صالح، وحدت، سهار ورځپاڼې او ځینې نورې خپرونې، ۱۳۷۹ل کال، بېلابېلې ګڼې.

## په دې کتاب کې یې لولئ:

لومړی سقاوی ته یوه کتنه.
په حاکمیت کې محکومیت.
اقلیت د اکثریت په رول کې.
کارمل: پېژندنه او د شخصیت شننه.
پرچمواکي: پښتو او پښتانه.
د ډاکتر نجیب الله حاکمیت او د پښتنو محکومیت.
طاهر بدخشي او دستمیانو جوړښت.
"برابر ملیتونه" او د هغو تعبیرونه.
دویمه سقاوي.
رباني د کارمل په فکري او د بچه سقاو په عملي رول کې.
مسعود د یو اتل په څېره کې یو ګوډاګی او د د ویمې ...
د هېواد اقتصادي ویجاړي او د پیسو انفلاسیون.
ټولنیز حالات.
قومي، سیمه ییزه او ژبنی کینه.
د هېواد فرهنګ ته اړول شوي زیانونه.
اقلیتونه، سیاستونه او سازشونه.
د درېیمې سقاوی مخنیوی او د افغانستان د ملي یووالي...
اورنی لسیزه(د ۱۳۷۰-۱۳۷۹ل. کلونو مهمې پېښې).


د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني
VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونولړ(۱)